بسم الله الرحمن الرحيم

Ketabton.com

# د نوي قاموس ليکنې [illegible] ته يوه کتنه

ليکوال: محمد هارون خپل شعشعي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فهرست


د سر خبري

لغتپوهنه څه ده؟ او لغوي زېرمه څه وبولو؟

قاموس لیکنه او لغتپوهنه

په قاموس لیکنه کې د ناپییلتوب او خپلواکۍ ارزښت

د پوهاند هېسن له نظره د قاموس لیکنې ضروري موضوعات او مسألې

د قاموسو ډولونه

۱- د ژبې له پلوه د قاموسو ډولونه

۲- د محتویاتو له پلوه د قاموسو ډولونه

۳- د چاپ د ګچې یا اندازې له پلوه د قاموس ډولونه

۴- د فزیکي جوړښت یا ځرنګوالي له پلوه د قاموسو ډولونه

۵- د مانا له پلوه د قاموسو ډولونه

۶- د کاروونکو د ځرنګوالي له پلوه د قاموسو ډولونه

۷- د استفاده کوونکو د زده کړې او مهارت له پلوه د قاموسو ډولونه

۸- د کاروَنې یا استعمال له پلوه د قاموسو ډولونه

د عمومي او اختصاصي قاموسو ځینې ځانګړتیاوې

په انګرېزي قاموسو کې د لغوي موضوعاتو او توکو ډولونه

د پښتو قاموسو دوې نه بېلېدونکې زېرمې: دخیل او مفغن ټکې (مفغنات)

الف) دخیل ټکې

ب) مفغن ټکې (مفغنات)

د مفغناتو ډولونه

لومړی: مانوي (معنوي) مفغنات

دوهم: اوښتي مفغنات

دریم: منقلب مفغنات

په قاموسو کې د دخیلو او مفغنو کلیمو تر څنګ د پښتو د سپېڅلو ټکو د پېژندګلوۍ اړتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مفغنو ټکو په املا کې د ګډوډۍ مخنیوی

په قاموس کې د را غونډو سوو کلیمو د سم تلفظ ارزښت او بېلابېلې لارې

د کلیمو په سم او کره وینګ کې د خج ارزښت

د کلیمو له کره وینګ سره د فونیټکې الفبې او خج اړیکې

په قاموس کې د را ټولو سوو ټکو د کره املاوو بېلابېل اړخونه

په پښتو ټکو کې ځای بدلوونکې توري

په پښتو ټکو کې د ځینو تورو د خپلمنځي الیشبدو یا بدلون مسأله

په قاموس کې د کلیمو پر مانا د تورو او لیکدود اغېزه

د کلیمو او ترکیبو املایي وریانتونه

د کلیمو پخوانۍ او اوسنۍ املاوې

په پښتو کې د مشترکو او پردو ټکو لیکدود

د معیاري لیکدود په غوره کولو کې، د فیلالوژیکو ځانګړتیاوو او ټولنیز تړون ارزښت

د کلیمو، ترکیبو او اصطلاحاتو ریښه پېژندنه

په قاموس کې د کلیمو د پېژندنې یا تعریف ځانګړتیاوې

د کلیمو په تعریف او مانا کې د جامعیت او مانعیت اړخونه

د کلیمو د پېژندنې(تعریف )ګرامري جوړښت

په قاموس کې د بېلابېلو ماناوو اوډنه

د کلیمو د بېلابېلو ماناوو د جلا کولو لارې

د کلیمو د بېلابېلو ماناوو اوډنه د هغو د عمومیت یا ډېر استعمال له مخې

د تاریخي بدلونو له مخې د ماناوو اوډنه

په ژبه او ادب کې باید د کلیمو د ډېر یا لږ استعمال مسأله، څنګه روښانه سي؟

په قاموس کې باید د را غونډو سوو کلیمو او اصطلاحاتو د استعمال ډګر څرګند سي

په بېلابېلو ژبو او لهجو کې د کلیمو د مانوي پولو د بدلېدو ځیني بولګې

د طبیعي او غیرطبیعي عواملو پر بنسټ د بېلابېلو ټکو په ماناوو کې بدلونونه: د کلیمو حقیقي، مجازي، کنایي، اصطلاحي او نورو ماناوو ته یوه لنډه کتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

منصوصي او مستنبطي ماناوي

په قاموس ليکنه کي د مشابه، ذومعانين، مترادفو ، متضادو ، متقاربو او اړونده ټکو پېژندنه او ارزښت

په قاموسو کي د بېلابېلو ټکو په ريښو ، شکلي او مانوي جوړښت کي، د بېلابېلو بدلونو روښانه کول

په قاموسو کي د را غونډو سوو کليمو ګرامري ويش او ځانګړتياوي

د بې قاعدې فعلو ، بې قاعدې جمعو ، نادوده ښځينه حالتونو او بې قاعدې صفتو راټولونه او شننه

په قاموسو کي د را غونډو سوو کليمو د بېلابېلو مشتقاتو يادونه

په قاموسو کي د مکررو يا تأکيدي ټکو را غونډول

په قا موسو کي د ځينو ټکو ناسمه کارونَه

د مشهورو تېروتنو د سمو بڼو وړاندي کول

نيولوجيزم او قاموس ليکنه

قاموس ليکوونکي او د نوو ټکو پېژندنه

د نوو ټکو په جوړولو او رواجولو کي د چټکتيا ارزښت

په لغت جوړونَه کي د پښښه ګرۍ زيانونه

څوک بايد د نوو ټکو د جوړولو واک ولري؟

پورټمنټيونونه (Portmanteau/Portmantean)

په قاموس ليکنه کي د کليمو د شکلي يووالي او مانوي بدلون د پېچلتيا بېلابېل اړخونه

١- هومنيمونه يا مشابهات(Homonyms)

الف) هوموفونونه(Homophones)

ب) هوموګرافونه(Homographs)

هيپونيمونه(Hyponyms)او هايپنيمونه(Hypernyms)

کوهيپونيمونه(Co-hyponyms)

هايپانمي او ميرنمي(Hyponymy and Meronymy)

شبه ميرنمي(Quasi-meronymy)

کولوکېشن(Collocation)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کلیمو د مانوي بدلون ځیني نور ډولونه: میټونمي/ میټانمي، سینیکډک/ سینَکډیکي...

د متضادو ټکو یو ځای والی(Combination of Antonyms)

په انګرېزي کې د متضادو ټکو ډولونه

- درجه لرونکي متضاد ټکي(Graded Antonyms)

- متباین یا متمم انټنیمونه(Contradictory/Complement Antonyms)

- سرچپه یا اړولي انټنیمونه(Converse Antonyms)

الف) متممه یا مکمله انټنمي(Complementary Antonymy)

ب) قطبي انټنمي(Polar Antonymy)

ج) اړخ لرونکې انټنمي(Directional Antonymy)

په قاموسو کې د ځینو متلو را غونډول او تشریح کول

په قاموسو کې د ژبنییو اصطلاحاتو، محاورو او عبارتو راوړل او سپړل

په قاموسو کې د متلو، ژبنییو اصطلاحاتو او عامو عبارتو د اوډولو لاري

په قاموسو کې د ترکیبي ټکو د بېلابېلو ډولو را غونډول او شنل

په انګرېزي کې د ترکیبو بېلوَنه

په انګرېزي قاموسو کې د مرکباتو او عبارتو ترمنځ توپیر

په قاموسو کې د منحوتو ټکو را غونډول

په پښتو او پاړسي کې د مرکبو او مخلوطو ټکو د املأ څرنګوالی

د ژبي د زړو یا نابابه ټکو را غونډول او مستند کول

د پښتو د زړو یا متروکو لغتو د راټولو او مستندکولو ګټي

د پخوانییو ټکو د اصلي او نوو ماناوو بېلول او جوَتول

د پښتو د ځینو مستعملو ټکو عامول او رواجول

په قاموسو کې د ځینو سیمو او ځینو ځانګړو ډلو له ژوندانه سره تړلي ټکي

په پښتو ژبه کې، د اشخاصو ځانګړي نومونه

په پښتو قاموسو کې، د افغاني انسابو لنډه پېژندګلوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تاریخي او جغرافیایي ځایو نومونه

د تاریخي اماکنو او انسابو سمي املاوي

د کلیمو لغوي ماناوي او جغرافیایي مفاهیم

په قاموسو کې د افغاني، سیمه ییزو او نړۍ والو مشاهیرو پېژندګلوي

په قاموسو کې زموږ د سیمې د بېلابېلو نژادي او قومي ډلو، دینو، مذهبو، فکري او عرفاني لارو پېژندګلوي

په پښتو او پارسي قاموسو کې، د اسلامي عرفان او فلسفي تفکر د اصطلاحاتو را غونډول او شنل

په قاموسو کې د پېژندل سوو ملي او بین المللي مخففاتو را غونډول او تشریح کول

په قاموسو کې د طبیعي او اقلیمي پیداوارو نومونه او تصویري بیان

ماخذونه او منابع

د لوی څښتن په نامه

## د سر خبري

د کوچنیوالي مې له حقوقو او سیاسي علومو سره مینه وه؛ خو د زماني باد څه موده د انجینرۍ او ټیکنالوژۍ خوا ته بوتلم. د لوی څښتن په پېرزوینه تر لږ ځنډ وروسته بیرته په دې بریالی سوم، چې خپلې خوښي کړې څانګې ته لار پیدا کړم. پلار به مې تل د حقوقو او سیاسي علومو پر کتابو سربېره د ګرامر، ژبپوهني، لغتپوهني، ادبیاتو او تاریخي اثارو مطالعې ته هم هڅولم. هغه به ویل هر حقوقپوه باید د لیکوالۍ په باریکیو او هونرونو هم ښه پوه وي. د کلیمو صریح او ضمني، کُلي او فرعي، حقیقي او مجازي ماناوي مې لومړی ځل د پلار له خولې واروېدې، چې هره یوه به یې د ژوندییو مثالو په وړاندي کولو سره بیانوله؛ د کلیمو په ډول ډول ماناوو او د هغو د استعمال په بېلابېلو مواردو ځان ښه مُلا کول، هغه سپارښتنه وه چې خدای بخښلي به همېشه په ټینګار سره تکراروله؛ او د همدې مقصد له پاره یې له خپل مالي توان سره سم په کور کې، د مختلفو ژبو خورا ډېر عام او اختصاصي قاموسونه هم ایښي وه. لوی رب دې اروا ښاده لري.

په دې توګه، د زده کړې په چارو کې له رنګارنګ قاموسو څخه کار اخیستني، کرار کرار د لغتپوهني له ځینو مهمو موضوعاتو او د قاموس لیکني له مختلفو لارو او دودونو سره اشنا کړم. دا مینه سوکه سوکه زیاته سوه؛ او له هغې سره جوخت په دې خبره هم څه نا څه پوه سوم چې لغتونه، عبارتونه، تعبیرونه او اصطلاحات په واقعیت کې، د هري ژبې د مانوي او فرهنګي زېرمو مهمه او اساسي برخه ده؛ ځکه انساني علوم، مهارتونه او تجربې ګرده د ژبې په مرسته له یوې ټولني څخه بلې ټولني ته لېږدول کیږي؛ او د ژبې دا ټول کمال هم ببله شکه په هغو کلیمو، عبارتو، تعبیرو، اصطلاحاتو او نورو ادبي - فرهنګي ارزښتو کې نغښتی دئ، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لغتپوهنه او قاموس لیکنه یې له څېړنې او شننې سره نیژدې اړېکې لري. له همدې امله او س څوک د دې خبرې له حقانیت څخه نټه نه کوي، چې په هره ژبه کې د پراخو لغتو، ترکیبو او اصطلاحاتو کاروَنه او د کلیمو د شکلي او مانوي(معنوي) ظرافتو استعمال، په واقعیت کې د هغې ژبې د ویوونکو د فکري بلوغ او تخیلي عروج ښکارندوی دئ.

د لغتپوهنې او قاموس لیکنې په چارو کې مې تر ځینو زده کړو او پلټنو وروسته دا اړتیا ولیده، چې د قاموس لیکوونکو د لارښوونې د پاره د « اصول و قواعد فرهنگ نویسی »تر سرلیک لاندې، په پارسي ژبه یوه پراخه علمي او انتقادي مقاله وکاږم. دا دئ نن له هغې لیکنې څخه لږو ډېر دوې نیمې لسیزې تېرېږي. په دې اوږدو کلونو کې د علومو د هرې څانګې په شان، په قاموس لیکنه کې هم ډېر ستر او اریانوونکي پرمختګونه منځ ته راغله. اینټرنیټ او ډیجیټل ټیکنالوژۍ په دې پرمختیایي بهیر کې خورا لویه او ارزښتناکه برخه اخیستې ده؛ او په پوره ډاډ سره به په راتلونکي کې هم د دې بهیر له زیاتې چټکتیا او بشپړتیا سره لویه مرسته وکړي. د دغو علمي او تخنیکي پرمختګو په ترڅ کې، پښتو قاموس لیکنې هم تر یوخوا ډېره وده وکړه. په پښتو کې د ژبې ډېر عام یو ژبیز او دوه ژبیز فرهنګونه ولیکل سوه، چې ځینې یې اوس له نېکه مرغه په ټوله نړۍ کې د اینټرنیټ پر پاڼو، د پښتو ژبې د مینه والو استفادې ته ایښوول سوي دي.

د قاموس لیکنې په برخه کې وروستییو بدلونو او پرمختګو ته په پام سره مې وپتېیل، چې د دې علمي څانګې د مېتودولوژۍ په اړه خپله پخوانۍ لیکنه دا پلا له هراړخیزو زیاتونو او بشپړونو سره، په پښتو ژبه لوستونکو ته وړاندې کړم؛ ځکه د قاموس لیکنې پر تیوریکو بنسټونو علمي او انتقادي بحثونه هغه څه دي، چې په پخوانۍ قاموس لیکنه یې چندان خرک نه لیدل کېده؛ او تر اوسه پورې هم په دې اړه ډېر لږ څه لیکل سوي یا ژباړل سوي دي. د قاموس لیکنې د تنوع او پراخوالي په دې بې ساري عصر کې، د دې څانګې د مېتودولوژۍ سم او دقیق رعایت، د قاموسو د تألیف او ژباړې له خورا مهمو او ضروري شرایطو څخه ګڼل کېږي. نن سبا هغه قاموسونه ګرسره رانیوونکي نه لري، چې په لیکنه یا ژباړه کې یې د دې علمي څانګې نوو اصولو او موازینو ته ټینګ پام نه وي سوی. د همدې اړتیاوو له مخې مو په دې لیکنه کې، د قاموس لیکنې په اړه د ځینو افغانو او بهرنییو لغتپوهانو د نظریو تر څنګ، د مقایسه یي لیکسیکوګرافۍ پر بنسټ ځینې نورې نظریې او قواعد هم وړاندې کړې دي، چې په پښتو قاموس لیکنه کې یې رعایت ډېر ضروري او په زړه پورې بلل کېږي. د دغو نظریو، اصولو او قواعدو په بشپړ تطبیق سره، د ژبې عام او هر اړخیز فرهنګونه د محتوا او شکل له پلوه علمي اساس مومي؛او هر لوستونکی یې د یوې باورې سرچینې په توګه، له کار اخیستنې سره مینه پیدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې له پاره چې پر پښتنو سربېره د نورو ژبو ویونکي او لوستونکي هم له دې ماتي ګوډي لیکنې څخه پوره ګټه واخلي، د قاموس لیکنې د بېلابېلو اصولو او قواعدو په اړه مو د پښتو ژبې تر څنګ د نورو ژبو، په تېره بیا انګرېزي ژبې ځیني قواعد او مثالونه هم، په لنډه بڼه بیان کړي دي.

هېره دې نه وي، چې د دې لیکنې په ځینو برخو کې، ځای ځای د قاموس لیکنې د بېلابېلو اصولو او قواعدو په ارتباط د ځینو قاموسونو یادونه سوې ده؛ خو دا کار په هیڅ ډول د قاموسو د کره کتنې او شننې په مانا نه دئ؛ ځکه په پښتو کې د بېلابېلو قاموسو او لغتنامو تاریخ او کره کتنه ژوره څېړنه غواړي، چې په دې لنډه رساله کې یې هیڅکله حق نسي ادا کېدای.

د ګډوډو مالوماتو او پلټنو دا کوچنۍ او نیمګړې مجموعه مې د مګړی تر دې ځایه را ورسوله. باور لرم چې پښتانه ژبپوهان، لغتپوهان او قاموس لیکوونکي به د خپلو ګټورو نظریو او نوښتونو په رڼا کې، د هغې د بشپړتیا او پرمختیا ډګر تهرا و دانګي؛ او په دې توګه به د ګران هیواد د قاموس لیکنې ځوان پښت ته، د فرهنګونو د تألیف یا ترجمې لاره نوره هم روښانه او اسانه کړي.

محمد هارون خپل شعشعي
لندن، ۲۰۰۹ میلادي کال

## لغتپوهنه څه ده؟ او لغوي زېرمه څه وبولو؟

پروفیسر جګسن او پروفیسر امویــله په خپل ارزښتناک اثر «کلیمې، مانا او لغتــنامه...» کــې د انــګرېزي قاموس له پاره د بېلابېلو کلــیمو پر ځینو توپــیرونو؛ او د لغتپوهــنې او قــاموس لیکنې د بېلولو په اړه په زړه پوري بیان کړی دئ، چې د ځینــو ټکــو یادونه یــې دلــته بــې ګټــې نــه ده. دوی لیــکي: « کېــدای سي لغتپوهــنه(lexicology) په لــنډ ډول د لــغت (lexis)څېړنې ته و وایـــو. د یــوې ژبــې د لغتـــو مجموعې ته په اوروپــایي ژبـــو کــې د (vocabulary)یا (lexicon)ټکي کــاریږي، چــې لکسیکان په خــپل وار ســره لــه یــونــاني(lexis) او (lexikos)څـــخــه اخیســـتــل ســــوی دئ.

په انګــرېزي کې د ”vocabulary“،”lexis“ او”lexicon“پرتــله ښیي، چــې دا درې لغتــونه لـــږ و ډېـــر مترادف ګڼــل کیږي. لومړی تر ډېره حــده غیر رسمــي یا ګفــتــاري(colloquial)شکل، دریم عمدتاً علمي او تخنیــکي بڼه؛ او دوهــم د لومــړي او دریم په منــځ کــې ځای لري. سره له دې هــم بـــاید له یوې خـــوا د ووکابولری، لکسیس او لکسیکان ترمنځ او له بلې خــوا له ډیکـــشینری(dictionary)سره د هغــو توپیر او بېــلوالی لــه پــامه و نــه غورځول سي. په داسې حال کې، چې لومړي درې لغتـــونه ښایي د یوې ژبې لغوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زېرمې ته د اشارې په مفهوم استعمال سي؛ خو ډیکشینرۍ په یوه ټاکلي وخت کې، د همـاغه ځانګړي لغوي زېرمې د ثبتولو په مانا ده.

په دې وروستیيو کلونو کې په انګرېزي کې د جارګن(Jargon)اصطـلاح هم ډېـره تر سترګو کیــږي، چــې مقصد يې هغو لغتنامو یا لغوي پانګو ته اشاره ده، چـې د ځینـو ځانګو ماهران، کارکوونکي او له هغـو سره تــړلي نــور کسان يې په خپــلو ورځنيیو مسلکي چـــارو کي کاروي.»(Jackson and Amvela 149)

پروفیسر جګسن او پروفیسر امویله وروسته د لغت پوهني د موضوع او اړونده علمـي ځانـګو په اړه داسي کاږي:« د طب، حقوقو، کمپیوټر، ورزش او داسي نورو په ګډون هره ځانګه ځـانته داسي خاص ټکي او اصطلاحات لري، چي یا په خپله په ورځنیيو چـارو کـي په بېلابېلو بڼو ور سره مخامخ یو ؛ او یا يې له نورو خلګو اروو.

په دې توګه، لغتپوهنه هغه پوهه ده، چي نه یوازي د ساده ټکو، بلکي د مرکبو او مخلوطو ټکو او د ژبې د مانا داره واحدو په اړه خبري او څېړنه کوي. لغتپوهنه یا د ځینو په اصطلاح ویی پوهــنه( په دې لیکنه کي مو د ویی پوهني پر ځای له یوې مخې د لغتپوهني اصطلاح کارکړې ده؛ ځکه لُغت تر ویی عام، پېژندل سوی او اسانه ټکی دئ.) اساساً پر هغـو مالوماتو ولاړه ده، چي له مانا پېژندني او مارفولوجۍ/ مورفـولوژۍ څخه تر لاسه سـوي وي. په لغتپوهنـــه کـي د خاصي توجه او علاقې دریم ډګر د بېلابېلو کلیمو ریښه پېژنـدنه یا ایتیمولوجي/ ایتیمولوژي ګڼـل کیږي. لغتــپوهــنه باید له قــاموس لیکـني سـره، چي پـه حقــیقت کي د قامـوســو لیـکل یــو ځانـګـړې لاره یـــا تکـنیـک دئ، ګـــډه نسي.»(Jackson and Amvela 2)
په پاړسي کي د لغتنامې په مفهوم د« فرهنګ»کلیمه له ډېرو زمانو څخه کاریږي. دا ترکیبي کلیمه په اصل کي د فر/فره (شان و شوکت، رڼا، روښنايي، پرتم، برم، دبدبه، لويي، غټوالی او داسي نور) او هنګ(له ثنګ له ریښې څخه د کشولو، پوهولو، فرهنـګ او داسي نورو په مانا) له دوو بېلو اوستايي کلیمو څـخه جـوړه ده (عمـید ۳: ۱۸۱۲). دا دوې ترکیبي کلیمــې په ګډه د پوهي، معرفت، عقل، ادب، روزني او پالني، تدبیر ،کلتور/کولتور، په یوه ملت یا قــام پوري د تړلو مادي او مـانوی اثارو او په پای کي د لغتو د کتاب یا لغتـنامې په مانا استعمالیږي، چـي پـه پښتو کي يې د قــاموس، سیند/ سین، دریاب، ویی پانګي، لغـوي پـــانګـي، لغوي زېرمې، ډیکشینرۍ او داسي نـورو په نامه یــادوي(و.ګ. د علامه علـي اکبـر دهخدا پـه لغتنامه، د ډاکټر محمد معین او حسن عمید په فارسـی فرهنګونو کــي د فرهنګ ماده؛ او د محمد حسین بن خلف تبرېزي په «برهــان قاطـع» کي د همدې مادې په اړه ،د ډاکټر محمد معین د حاشې متن).

سره له دې چي په پښتو کي هــم د« پر، پره» او « نګ» کلیــمې ژونـدی دي(لکــه پــه سـروپر، وینګ، کتنګ، لیـدنګ او داسي نورو ترکیبو کي، چي همدا اوس هم د پښتو په لوېدیځه لهجه کـي په پراخه توګه کاریږي؛ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ربښتو او مانا کې له اوستايي« فر »+« هنګ » سره بې تړاوه نه ښکاري)خو دا دوې کليمې د يوه ټکي (فرهنګ)په بڼه د قاموس، لغتنامې، سيند ، لغوي زېرمې، لغوي پانګې، ويي پانګې، ډيکشنرۍ او داسې نورو په مانا ، چندان اوږد تاريخ نه لري. لکه څنګه چې د پښتو قاموس ليکنې تاريخ ښيي، د پښتنو لومړنيو قاموس ليکوونکو خپل فرهنګونه د« رياض المحبت» ،« عجايب اللغات» او داسې نورو په نومونو ياد کړي دي. د پښتو ژبې مخکښو اوروپايي څېړونکو هم په خپلو علمي او تحقيقي اثارو کې د«فرهنګ» کليمه نه ده کارکړې. داسې ښکاري چې په هغو زمانو کې د عربي او پارسي ژبې ترکيبي ټکی(لغتنامه)تر هري بلې کليمې، ډېره عامه او مشهوره وه.

په عربي کې د لغتنامې يا لغوي زېرمې دپاره له اوږدو زمانو راهيسې د«قاموس»او«معجم» ټکي استعماليږي، چې له هغو څخه د«قاموس»لغت پښتو، پارسي او ځينو نورو ژبو ته هم لاره پيدا کړې ده. دا لغت هم په خپل وار سره ګو بېلې او مشخصې ماناوې لري، چې په هغو کې يې دا دوې ډېرې عامې او مشهورې دي:

- د درياب يا سمندر منځ.

- د لغتو کتاب يا لغتنامه، چې د نورو ژبو په دود په پښتو کې هم په خورا ډېرو نومو يادېږي. زموږ ځينو پښتنو قاموس ليکوونکو دا ټکی د «سيند» په مانا ترجمه او استعمال کړی دئ؛ لکه«پښتو سيند»چې لومړی پلا په ۱۳۱۲ش کال کې د مخکښ پښتون قاموس ليکوونکي، ژبپوه او سياستوال - ارواښاد وزير محمد ګل خان(۱۲۷۳- ۱۳۴۳ش)له خوا تأليف سو. وروسته دا ترجمه سوی ټکی سوکه سوکه عام سو ، چې « درياب» ،«سيند»او داسې نور يې مثالونه دي.

## قاموس ليکنه او لغتپوهنه

قاموس ليکنه لکه څنګه چې نوم يې څرګندوي، د قاموسو له تأليف او ليکنې سره سروکار لري. په بله وينا ، قاموس ليکنه عملي او تطبيقي لغت پوهنه ده. قاموس ليکوونکی د لغت پوهنې له اصولو ، قواعدو او نظريو څخه د يوې ژبې د قاموسو په ليکنه او تأليف کې ګټه اخلي. د لغتپوهنې د ژبنيو علمي څانګو (ماناپوهنې او ګرامر)او د قاموس ليکنې د عملي اړخو تر منځ ګډو اړيکو ، د اوسنيو قاموسو د جوړښت او محتوياتو له بشپړتيا سره، په زړه پوري مرسته کړې ده.

د قاموس ليکنې تمرين اوږد او مستقل دود دئ، چې د معاصرو ژبنيو علمي څانګو تر پيدا ېښت پېړۍ پېړۍ اوږد تاريخ لري. قاموس ليکنې، د لغتپوهنې (چې په تېرو څلوېښتو کلونو کې پيل سوې ده )په ګډون د بېلابېلو ژبنيو علمي څانګو پر بډاينه او پرمختګ لويه اغېزه ښندلې ده. د لغتپوهنې اساسات په څرګنده ښيي، چې دا پوهه به په راتلونکي کې د نوو علمي قاموسو په را منځ ته کېدو کې د قاموسو ليکوالو او ژباړونکو ته ډېر څه وړاندې کړي.(Jackson and Amvela 215)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په قاموس لیکنه کې د ناپیيلتوب او بېطرفۍ ارزښت

قاموس لیکوونکي باید د مؤرخانو په شان د حقیقتونو ناپېیلي او بې پرې لیکوونکي و ي. د دې زرین اصل له مخې باید تل کوښښ وکي، چې په ژبنیو مسألو کي هیڅکله د خپلو قومـي، دیني، ژبنیو، سیاسي او ایډیالوژیکي تمایلاتو او شخصي ذوق پر بنسټ کمـې یا زیاتی و نه کړي؛ ځکه په فرهنګو کې د ګوندي، سیاسي، ایډیالوژیکي، نژادي، دینـي او داسي نورو اړیکو، شخصـي ذوق او سلیقې له مخې تعریفونه او ماناوي وړاندي کول، د فرهنګ لیکنې له عمومي قواعدو څخه څرګنده سرغړونه ده. که د توکمیزي جلا ساتنې یا اپارتایټ/ اپارتهایډ د پېژندنې له پاره دغه دوه تعـریفونه، چې دواړه یې د جنوبي افریقا د توکمپال رژیم د واکمنۍ پر مهـال وړاندي سوي دي، په سرسري توګه تر نظر تېر کوو، لـه ورایه دغه راز شخصي او عندي نظریات ګورو:

- په یوه هیواد، په تېره بیا جنوبي افریقا کې د اوروپایانو او غیراوروپایـانو د بېلابېلو توکمونو جلا ساتنه.
- هغه سیستم، چې په جنوبي افریقا کې، د حکومتي نظام له خوا رامنـځ ته سوی ؤ؛ او هدف یې د بېلو توکمو جلا ساتل؛ او په دې ډول سپین پوستو خلګو ته ګـټه رسول وه.

دوهم تعریف لکه څنګه چې لیدل کیږي، سیاسي او ایډیالوژیکي اړخ لري؛ ځکـه چې لومړی تعـریف هم د قضیې اصلي واقعیت ته ګوته نیسي؛ مګر د لومړني تعریف پر ضد دا استـدلال کیږي، چې که د اپارتایټ انګـېزې او موخې روښـانه نسي، نـو دا تعریف په ګـومـه کـي (په ضمني توګه) د توکمـپال رژیم سیله او پلوي کوي. په ځینو حالاتـو کې دا خبـره نامکنه وي، چې څوک د یـوې مسألې یا یوه واقعیت په وړاندي خپل دریځ په روښانه بڼه و نه ښیي. دا خبره عامه ده، چې یو سړی د یـوه له سترګو مجاهد او د بـل له سترګو ترورېسټ یا ترهګر وي. (Atkins and Rundell427-28)

په ټولنیز ژوند کې ډېرې داسي پېښې او مسألې سته، چې د بېلابېلـو فکري او ایډیالوژیکي دریځـو څښتنان یې له یوې زاویې څخه نهویني. لـه دې کبله، که قاموس لیکوونکی هم د دغه راز ایډیالوژیـکي، ګوندي، سیاسي، دینـي، مذهـبي، فکري، ژبنیو او نـورو توپیرونو تر اغېـزې لاندي، د را غـونډو سوو ټکـو او اصطــلاحاتو پېژندنې او ښننې ته ملا وتړي، بیا نو په قاموس لیکنه کې د ناپیيلتوب او بـې پرې والي، ټول مـوازین او معیارونه تر پښـو لاندي کیږي؛ او د قاموسو علمي ارزښت له منځه ځي.

## د پوهاند هېسن له نظره د قاموس لیکنې ضروري موضوعات او مسألې

پوهاند ډیک هېسن «د لغوي څېړنې او قاموس لیکنې د پاره د ژبپوهنې بنسټونه» په نـامـه د خپلې نوښتګرې مقالې په ترڅ کې، تر اتو بېلو سرلیکونو لاندي د قاموس لیکنې ضروري اړخونه داسي بیانوي:

- ږغ پوهنه(Phonology): د یوه ټکي او د هغه د بېلابېلو وریانتونو تلـفظ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– مورفالوجي/ مورفولوژي(Morphology): د يوه لغت د بېلا بېلو برخو(مورفيمو ) جوړښت او ټول بې قاعدې شکلي بدلونونه(Irregular Inflections).

په مورفالوژۍ کي د اسمو د بې قاعدې جمعو او بې قاعدې فعلو پر بېلا بېلو حالتو سربېره، د دې خبري سپيناوى هم کيږي، چي ايا د پام وړ ټکى يوه ساده ريښه لري؛ لکه "long" که اشتقاقي ريښه لري ؛ لکه "longish"او "prolong"او يا هم د ترکيبي ټکي بڼه لري؛ لکه:"long-jumper"او "Year-long"؛ خو په انګرېزي کي کله کله د ځينو ټکو له املا يا تلفظ څخه د هغو ترمنځ مورفيميک اړيکي (morphemic relationship)نه پېژندل کيږي؛ لکه:"Long-length"(Jackson and Amvela 195)

په پښتو کي هم د انګرېزي په څېر مورفالوژي دا خبره را ښيي، چي د مثال په توګه «خرڅ» يوه ساده کليمه ده؛ او يوه ريښه لري. «خرڅه/خرچه»، «خرڅيلاو/خرڅلاو» ، «خرڅاوو»، «خرڅېدونکى» ، «خرڅوونکى» او داسي نوري ،هغه اشتقاقي کليمې دي چي ټولي د «خرڅ» له ريښې څخه را وتلي دي.

- نحوه(Syntax): د کلام د اجزاوو له پلوه د يوه ټکي نوعيت، څرنګوالى او هغه ځانګړي جوړښتونه، چي يو ټکى يې د استعمال په بېلابېلو حالاتو کي جوړوي. نحوه په قاموس ليکنه کي دا را ښيي، چي که د پام وړ ټکى صفت وي، بايد په جومله کي يې ځاى چيري وي؛ مثلاً په پښتو کي « توره تخته» ، په پاړسي کي «خانهء کلان» يا په انګرېزي کي "A large suitcase".

په مخکني پښتو ترکيب کي«توره» ، په پاړسي ترکيب کي«کلان» او په انګرېزي ترکيب کي"large" صفتونه دي؛ نوځکه بايد په جومله کي پر خپل ځاى استعمال سي. نحوه دا خبره هم روښانه کوي، چي کوم اسمونه د شمېرلو وړ(کتابونه) اوکوم اسمونه د شمېرلو وړ نه دي(غنم، اوبه او داسي نور) . (Jackson and Amvela 195)

- مانوي اړخونه(Semantics): د يوه ټکي ډول ډول ماناوي او مانوي جوړښتونه.
- قراين، حالات او احوال(Context): د هغو ټولنيزو حالاتو، قراينو او لارو چارو په اړه محدوديتونه او بنديزونه، چي يو لغت پکښي استعماليږي. لکه څنګه چي پوهېږو، ځيني ټکي د متن او بيان په ځانګړو ډولو يا د استعمال په خاصو شرايطو، موضوعاتو او مناسبتو پوري اړه لري. قاموسونه د دود او دستور له مخي وظيفه لري، په داسي حالاتو کي خپلو لوستونکو ته سمه او روښانه لارښوونه وکي. له همدې امله ګورو، چي په ځانګړو شرايطو، حالاتو او موضوعاتو پوري تړلي مالومات په سيستماتيکه توګه، په فرهنګو کي ځاى مومي. په دغه راز مالوماتو کي رسمي/ دوديز(formal)غير رسمي/ نادوده (informal) ، شفاهي يا ګفتاري (colloquial)، عاميانه (slang)او داسي نور هغه اختصاصي موارد

(c) ketabton.com: The Digital Library

او حالات راځي، چـــې د يوه ټکي شاوخوا پولـــې جوړوي.

فرهنګونه تل شرايطو او ظروفو ته په پام سره د بېـلابېلو ټکو د تصنيف او چاڼ کـــولو پـــه مسأله کي، د ثابتو اصولو او ځـانګړې دريځ پـيروي نه کـــوي. کېـدای ســـې ځيــنـي قاموسونو يو ټکی د غير رسمي يا نادوده لُغت په توګه ياد کړی وي؛ په داسي حال کي چي ځينو نورو هماغه ټکی د شفاهي، عاميانه، زموخـتـه عـاميانه يا مبتـذل(vulgar)او داسي نورو تر سرليکو لاندي اوډلئ وي. د دې تر څنـګ، پـــه فرهنــګو کي لغتــونه د محتـــوا او اغېزمندی پر بنسټ هم پر بېلابېلو ډلو يا کټګوريو ويشل کيږي؛ لکه: د سپـــکاوي او بې آبی ښکارندوی ټکي(derogatory/pejorative)، طنزيه يا خندني کليمات(jocular)، په نــرمـه او پسته بڼه بيانوونکي ټکي(euphemistic)او داسي نور.

- املا(Spelling): د يوه ټکي عادي او اليشېدونکي يا متغير ليکدودونه.
- ريښه پېژندنه(Etymology): د يوه لغت ريښه او تاريخچه.
- استعمال(Usage): د يوه ټکي د استعمال تکرار او دفعات(فريکوينسي) او پـه ځينـو حالاتو کــــي منعه سوي يا نه استعمالېدونکي(taboo)حالتونه. (Hudson 1988)

پوهـــاند هډسن د کليـــمو د استعمـــال محدوديــتونه؛ لکــه د رسـميت مراتــب او د موضـــوع ساحــه (Subject Domain)د شرايطو او مـــواردو تر عنـــوان لاندي راوستي دي. د پروفيسر هــډسن د استعمال (usage)کـتـګوري هغو مـــتفرقه مالومـاتو ته ځانګړې سوې ده، چي ځينو ته يې په فرهنــګو کـــي لږ و ډېر ځای ورکړل سوی دئ. په دې ډله کي لومړني مالومات د يوه ټکي د استعمال د تکرار يا فريکوينسی په اړه دي . تر دې وروستيو کلونو پوري، چي د لــغوي زېرمو د ســاتــنـي او استعمال په مقصد له کمپيوټرو څخه کار اخيستنه نه وه پيل سوې، د کليـــمو د فريکوينسی په باره کي د باور وړ مالوماتو ترلاسه کول ډېــر ګــران ؤ. د پروفيسر هډسن د مالــوماتو په ډله کي دوهم توکی د هغه عُمر يا سِن يادونه ده، چي يو کوچني په هغه کي د يوه ټکي له مفهوم او مانا سره اشنا کيږي. د پاشلو مالوماتو دريـــم توکی د يوه ټکي د استعمـــال د هغو خـــاصو مواردو او مناسبتو پـــه ګـــوته کول دي، چي پـــه کلتوري لحاظ يې ځانګړی ارزښت پيدا کړی وي. دغـــه راز مالومات زياتره په هغو ماخــذونو او شواهدو کي نغښتي وي، چي د يوه ټکي د اِستناد په موخـــه وړانـــدي کيږي. په دغه راز خورو ورو مالوماتو کي ځلرم قلم د هغـــو کليشو(clichés)يـادوَنه ده، چي د پام وړ ټکي د استعـمال موارد بيـــانوي. په پـــای کي د دې مالوماتو پينـځم قلم، د بېلابـېلو ټـکو پـــه اړه د بنـديزونـو او ممـــنوعـــاتو(taboos)ښوول دي.

په لغتپوهنه کي د نحوي(syntax)پر خلاف د کليمو او جوملو مانوي اړخ ته ډېر پام کيږي. په دې مانا چي کېدای سي يو جومله د نحوي د اصولو او قواعدو له پلوه سمه وي؛ خو د لغتپوهني له پلوه بې مانا او ناسمه و بربښي؛ مثلاً « ستا سپين خيـــالونه اوږدې لاري وهي.» يا « دا رنګين ظلمونه به کور په کور ښادي جـوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـړي.» پـــه دې دواړو جوملو کې د نحوي د اصولو له مخې څه تېروتنه نسته؛ فاعل، مفعول او نوري ګرامـري برخې ګرده پر خپلو ځايونو راغلي دي؛ خو د لغتپوهنې د قواعدو له مخې سمې او معقولې نه دي؛ ځکه دواړې جوملې له خپل سم ګرامري جوړښت سره سره بيا هم سمه مانا نه افـاده کوي يا پـــه دې انګـــرېزي جومله کې:
Colourless green ideas sleep furiously.
لکه څنګه چي ليدل کيږي دا جومله هم د انګرېزي ژبې له ګرامر سره بشپړ ســمون لري؛ مګر د لغتپوهنې د اساساتو له مخې د منـلو وړ نه ده. د دې خبرې مانا دا ده، چـــي د لغتپوهنې او نحوي اصـــول يو له بله توپير لري.(Jackson and Amvela 12.)

د پروفيسر هډسن په مقاله کې راغلي موضوعات په واقعيت کې د انګـــرېزي ژبې د عامو قاموسو ځيني مهم اصول او قواعد بيانوي، چي د نړۍ د نورو ژبو له قـــاموسو او لغوي زېرمو سره د موضـوعاتو د ېـلوالي او څرنګوالي پر بنسټ څه نا څه توپير لري؛ ځکه د نړۍ بېلابېلې ژبې د ودې او پرمختګ په يوه پړاو کې نه دي؛ له بله پلوه د هري ټولني خلک له ځينو مشترکو ځانګړتياوو او ضرورتونو تر څنګ خپلو خاصو فکري، فرهنګي، تاريخي، اجتماعي او اقتصادي مشخصاتو ته په پام سره، راز راز اړتياوې او غوښتني لري، چي قاموس ليکوونکي يې بايد په خپلو اثارو کې، په بشپړ دقت او امانت رعايت کړي.

## د قاموسو ډولونه

د ژبو د پرمختګ او بشپړتيا په دې پړاو کې، د قاموسو خورا ډېر ډولونه ليدل کيږي، چي د هر يوه په تدوين او تأليف کې پر ځينو عامو اصولو سربېره، له بېلابېلو مېتودونــو او لارو څخه کار اخيستل کيږي. دلته د پروفيسر آټکينز او پروفيسر رنډيل د ارزښتنــاک اثر(د عملي قاموس ليکني له پاره د آکسفورډ لارښود )په رڼا کې، د قامــوسو د وېـــش او بېلوني په اړه څو لنډ ټکي وړاندي کوو:

### ۱- د ژبې له پلوه د قاموسو ډولونه

الف) يو ژبيز قاموس.

ب) دوه ژبيز قاموس. دا ډول قاموس هم کېدای سي پر دو نورو کوچنيو ډولو وېشل سي:

الف) يو اړخيز دوه ژبيز قاموس(Unidirectional Bilingual Dictionary)

ب) دوه اړخيز دوه ژبيز قاموس(Bidirectional Bilingual Dictionary)

يو اړخيز دوه ژبيز قاموس، لکه څنګه چي له نامه يې ښکاري يو لــوری لري. په دې مانا ، چي په داسي قاموسو کې د راغونډو سوو ټکو تشريح او بيان په يوه ژبه وړاندي کيږي؛ مـثلاً د انګرېزي- فرانسوي دوه ژبيز فرهنګ ، چي يو متن لري؛ او په هغه کې انګرېزي لومړۍ يا اصلي ژبــه (source language )؛ او فـرانسوي دوهمه يا د ترجمې ژبه (target language)ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه اړخیز دوه ژبیز قاموس هم لکه څنګه چې نوم یې په ډاګه کوي، دوه متنه لري؛ او د را ټولو سوو ټکو تشریحات په دوو ژبو بیانوي؛ د مثال په توګه د انګرېزي - فرانسوي په دوه ژبیز قاموس کې اصلاً دوه متنه ځای پر ځای سوي دي، چې په یــوه متــن کې انګرېزي لومړی یا اصلي ژبه او فرانسوي دوهمه یا د ترجمې ژبه ده. په دوهم متن کې یې فرانسوي لومړی یا اصلي ژبه او انګرېزي دوهمــه یا د ترجمــې ژبــه ده. پــه اوروپایي ژبو کې د داسي قاموسو نمونې خورا ډېري دي، چې د یوې ژبې لغــتونه په بله ژبه مانا کوي؛ لکه:

Collins Robert French Dictionary
French-English
English-French
Collins German-English Dictionary

او داسي نور.

په افغانستان کې هم د دوو ژبیزو قاموسو ډېري بولګې لرو، چې په ځــینو کې عربـي او پاړسي ټکي په پښتو مانا سوي دي؛ لکه «ریاض الـمحبت»، «عجـایب اللــغات»، د ډورن، راورټي، بیلو، ګیلبرټسن او نورو اوروپــایي افغان پېژندونکو ببلابـــېل دوه ژبیــز قاموسونه او لارښودونه، «سپېڅلې پښتو»، «افغان قاموس»، «د افغانستان د ځینو ژبو او لهجو قاموس»، د افغانستان د علومو اکاډیمۍ «انګلیسي - پښتو او پښتو - انګلیسي قاموسونه» او په دې وروستیيو کلونو کې له بېلابېلو اوروپایي او اسیایي ژبو څــخه په پښتو او بالعکس له پښتو څخه په اوروپایي او نورو ژبو تألیف ســـوي قاموسونه، چې لوستونکي یې د «قاموسونه ډاټ کام» په ویبپاڼه کې، له پوره متن سره ځیني بولګې کتلای سي.

په پاړسي کې هم د دوو ژبیزو فرهنګو شمېر ډېر زیات دئ، چې په هغو کې کله کله د بهرنییو ژبو لغتونه په پاړسي او کله کله په سرچپه بڼه، د پاړسي لـغتونه په نورو ژبو اړول سوي دي؛ لکه:

فرهنگ دانشگاهی انگلیسی - فارسی تألیف عباس آریانپور و منوچهر آریانپور ( دورهٔ ۲ جلدی یا ۷ جلدی).

فرهنگ انگلیسی - فارسی تألیف سلیمان حییم (۲جلدی، ۱ جلدی)

فرهنگ جامع فارسی - انگلیسی تألیف سلیمان حییم (۲جلدی)

فرهنگ فرانسه - فارسی تألیف استاد سعید نفیسی (۲ جلدی) او داسي نور.

په اوردو کې داسي دوه ژبیز فرهنګونه ډېر دي، چې د یوې ژبې لغتونه یو ځل په خپله اصلي ژبه او بیا په دوهمه ژبه تشریح کوي؛ لکه په دغه قاموس کې چې د انګرېزي ژبې کلیمې او ترکیبونه یې لومړی په انګــرېزي او بیا په اوردو ژبه مانا کړي دي:

English to English and Urdu Dictionary

دا ډول قاموسونه په واقعیت کې د دوو ژبو او دوو متنو په بڼه، د انګرېزي- انګــرېزي او انګرېزي- اوردو دوه ببل قاموسونه په یوه ټوک کې وړاندي کوي، چې د دواړو ژبو مینه والو ته په زړه پوري دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ژبيز فرهنګونه هم د يو ژبيزو قاموسو په شان هم په عامه او هر اړخيزه بڼه او هم په تخصصي يا انتخابي بڼه ليکل سوي دي.

ج) څو ژبيز قاموس (Bilingual Dictionary): هغه قاموس، چي را غونډ سوي ټکي په مختلفو ژبو وړاندي کوي. د شاه عبدالله شاه بدخشي« د افغانستان د ځينو ژبو او لهجو قاموس»د دغه راز قاموسو يوه بېله ده.

### ۲- د محتوياتو له پلوه د قاموسو ډولونه

الف) عمومي ژبه.

ب) پوهنغونډ(دايرة المعارف)او کولتوري مواد.

ج) د اختصاصي اصطلاحاتو سيستم(ټرمينالوجي/ ټرمينالوژي) يا کوچنۍ ژبي؛ د مثال په ډول د حقوقي اصطلاحاتو ، طب، نرسينګ، کمپيوټر، کريکيټ او داسي نورو علمي څانګو د تخصصـــي اصلاحاتو قاموسونه.

### ۳- د چاپ د ګڼي يا اندازې له پلوه د قاموس ډولونه

الف) معياري ګڼه يا د پوهنتونو د بېلابېلو پوهنځيو دپاره ليکل سوی چاپ.

ب) لنډ يا مختصر چاپ.

ج) جېبي چاپ.

### ۴- د فزيکي جوړښت يا څرنګوالي له پلوه د قاموسو ډولونه

الف) د کاغذ پر مخ چاپ سوي قاموسونه.

ب) برېښنايي يا اليکټرونيک قاموسونه(هغه قاموسونه، چي په کمپيوټرو کي د استفادې دپـــاره د CD-ROM ، DVD يا ځانـــګړو ډيجـــيټل وسايلــــو پـــه بـــڼـــه جوړ سوي وي).

د ټيکنالوژۍ په دې پرمختللي عصر کي، د قاموس ليکني د ډول ډول ستونزو د حلولو دپاره، د ډيجـــيټل قامـــوسو جـــوړول او عـــــامول ډېره غـــــوره لاره ده. په دې ډيجيټل قـــاموسو کي تر ټولو لـــوی قـــامــــوس د اکسفورډ انګرېزي قـــاموس(Oxford English Dictionary)دوهـــم چاپ دئ، چي په شل ټوکه کي د کتاب په بڼه هم چاپ سوی دئ. دا ډول قاموسونه چي په حقيقــت کي، د اړونده ژبي دايـرة المعارفـــي (encyclopaedic)قاموسونه بلل کيږي، د ټولي ژبي لغوي، ادبي، تاريخي، جغرافيـــايـــي او نـــوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

علـمي زېـرمي په مفـصله بڼه وړاندې کوي. په ځینو دایرة المعارفي قاموسو کې لغوي زېرمه له فلـسفي، حقوقي، طبي، هونري او داسې نورو تخصصي مالوماتو څخه په بېلو ټوکونو کې ځای پر ځای سوې وي؛ لکه:

The Reader's Digest Great Encyclopaedic Dictionary

کله چې قاموسونه په دوو یا څو ټوکو کې چاپ سوي وي، باید په هر ټوک کې د را غونډو سوو کلیمو لنډ فهرست د هغه پر سربېرن پوښ او بغلي څنډه، په غټو او روښانه تورو کښل سوي وي، چې لوستونکي د اړوند ټکي د لوستو په خاطر نېغ په نېغه د اړتیا وړ ټوک ته مراجعه وکي. په خواشیني سره د افغانستان د علومو اکاډیمۍ د پښتو - پښتــو تشریحي قاموس د میدیوتیک چاپ بېلابېل ټوکونه یوازې د نومرو یا لمبرو (۱، ۲، ۳، ۴) په مرسته بېل سوي دي؛ او د هر ټوک پر مخکني پوښ او عمــودي څنډه د هــغه د محتویاتو یا راغلو ټکو لنډه یادونه نه ده سوې. په بل عبارت، څوک له ورایه نه پوهېږي، چې په جیم، سین، لام یا نورو تورو سره پیل کېدونکي ټکي په کوم کوم ټوک کې راغلي دي؟ که پر هـر ټوک د پرله پسې شمېرو تر څنــګ د را غلو ټکو د سر تورو یادونه هم وسي، دا کار به بې شکه له لوستونکو سره د پام وړ ټکو په اسانه او چټکه موندنه کې ډېر لوی کومــک وکي. سربېره پردې ځینو نوو قاموسو د اړوندو ټکو د اساني او چټکې موندنې په مقصد، د هغو د سر توري د قاموسو د پاڼو پر دننه څنډو هم، په روښانه او غټو تورو لیکلي وي، چې له لوستونکو سره د بې ځایه سرخوږي په له منځه وړلو او وخت بچتولو کې ډېره مرسته کوي. په ایراني فرهنګو کې د «فرهنګ عمید» دري ټوکه دوره او د عباس آریانپور او منوچهر آریانپور «فرهنګ دانشګاهی انګلیسی – فارسی» د دغه ډول قاموسو له ډلې څخه دي.

ج) هغه قاموسونه، چې پر ویبپاڼو یا اینټرنیټپاڼو خپاره سوي وي.

### ۵- د مانا له پلوه د قاموسو ډولونه

الف) هغه قاموسونه، چې کلیمې او ماناوې دواړه پکښې لیکلي سوي وي (تر ټولو عام قاموسونه).

ب) هغه قاموسونه، چې پر قاموسي سرټکو او ماناوو سربېره ځیني نوري کلیمې هم را نغاړي (په دې ډول قاموسو کې د را غونډو سوو سرټکو تر څنګ د هغو ټکو یادونه هم کیږي، چې د مانا له اړخه سره تړلي وي).

### ۶- د کاروونکو د څرنګوالي له پلوه د قاموسو ډولونه

الف) ایا قاموس د هغو کسانو د پاره لیکل سوی دئ، چې ګرده په یوه ژبه خبري کوي؟

ب) ایا قاموس د هغو ځانګړو ډلو ویونکو ته کښل سوی دئ، چې په دوو ژبو خبري کوي؟

ج) ایا قاموس په نړۍ کې د ژبې د ټولو زده کوونکو د استفادې له پاره لیکل سوی دئ؟

### ۷- د استفاده کوونکو د زده کړې او مهارت له پلوه د قاموسو ډولونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف) ژبپوهان او د ژبې نور ماهران.
ب) په لیک لوست پوه غټان (بالغان).
ج) د ښوونځییو زده کوونکي.
د) کوچني هلکان.
هـ) د ژبې نور زده کوونکي.

## ۸- د کارونې یا استعمال له پلوه د قاموسو ډولونه

الف) د ډیکوډینګ (decoding) په بڼه برابر سوي قـاموسونه: یاني په خـپله ژبـه د بهرنۍ ژبې د یوه متن یا ټکي د مانا پوهـېدل.
ب) د اینکوډینګ (encoding) په بڼه برابر سوي قاموسونه: یاني په بهرنۍ ژبه د خپلي ژبې د یوه ټکي یا متن ژباړه؛ د کلیمو سم استعمال او لوست ورکوَنه.(Atkins and Rundell 24-25)

پروفیسر جګسن او پروفیسر امویله په «کلیمې، مانا او لغتنامه...کې» د قاموسو د دغو دوو لویو ډولونو یادونه کوي:
- چاڼ سوي یا انتخابي قاموسونه(Selective Vocabularies)
په دې ډلــه کـــې د ساینس، سپورټ، حقوقو، طب، ټیکنالوژۍ، اقتصاد، اروا پوهني او داسي نورو په څېر اختصاصي قاموسونو نومونه اخلي.
- جامع یا هر اړخیز قاموسونه (Comprehensive Vocabularies) چـي د ژبې عمـومي قامــوسونـه پکښې شامل دي.

## د عمومي او اختصاصي قاموسو څیني ځانګړتیاوي

البته د ژبې عمومي قاموس له هغو اختصاصي یا انتخابي قاموسو څخه ډېر توپیر لري، چي د یوې ځانګړې ځانګې د مشخصو ټکو، ترکیبو، تعبیرو او اصطــلاحاتو د شنني او سپړني له پاره لیکل کیږي. د ژبــې د عمـومي یا هر اړخیزو قامـــوسو پرخـــلاف، په اختصاصـــي یا انتخابي قاموسو کـــي زیـــاتره د اړونـده اصطــلاحاتو او ترکیبو تخصــصي او مسلکي اړخو او د هغو تشریحي بیان ته پام اړول کیږي؛ او د موضوع له پلوه تړلي یا نیژدې اصطلاحات د کراس ریفرینس په مرسته، په بېلابېلو ځایو کي اوډل کیږي. په عامو قاموسو کي د ژبپوهني، په تېره بیا لغتپوهني له عمومي رمزونو او ظرافتــونو سره سروکار وي؛ په داسي حال کــي چي په اختصاصي یا مسلکي قاموسو کي، د را غونډو سوو اصطلاحاتو په اړه د ډېرو دقیقو او تخصصي مالوماتو وړاندي کــولو ته پـــام کیږي. په بله وینا، عام یا هر اړخیز ژبني قاموسونه زیاتره د ژبپوهني او لغت پوهني پر اساساتو متکي وي؛ حال دا چي د تخصصي یا انتخابي قاموسو په لیکنه او تألـیف کي، د ژبپوهني او لغتپوهني د پراخ او دقیق استعمال پر ځای، تر ډېره حده د مربوطـــي ځانګي له تخصصي او مسلکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالوماتو او جزيياتو څخه استفاده کيږي. په دغه راز فرهنګو کي د کليمو او اصطلاحاتو له ګرامري ډول يا کټګورۍ؛ لکه اسم، صفت او داسي نــورو پرته، ډېرو دقيقو او جزيي ګرامري اړخونو ته توجه نه کيږي.
سربېره پر دې، په تخصصي يا انتخــابي قاموسو کې، چي ځينو ژبپوهانو او لغتپوهانو د کوچنۍ يا فرعي ژبي په نامه هم ياد کړي دي، د عامو قاموسو نورو ځانګړتياوو ؛ لکه د کليمو رېښه پېژندني، تلفظ، املايـي ورېانتيونو او داسي نورو مهمو اصولو ته پام نه کيږي. دغه راز فرهنګونه، د عامو ژبنيو فرهنــګونو پر خلاف، چي د عامو خلګو د استفادي په مقصد ليکل کيږي، د ټولنــي د يوې ځانګړي يا مشخصي ډلي د کار اخيستني دپاره برابريږي. په پای کي د دې خبري يادونه ضروري ده، هر څونه چي قاموسونه اختصاصي او مسلکي بڼه پيدا کوي، په هغونه اندازه د قاموس ليکوونکو او لوستونکو تر منځ واټن او ربړ لږيږي؛ ځکه دواړي خواوي په اسانۍ سره يو د بل په بيان، اړتياوو او غوښتنو پوهېږي؛او په دې توګه د کليمو د شکلي او مانوي التباس او راز راز نورو پېچلتياوو ګچه کمېږي. دلته د علومو د ځينو اختصاصي يا انتخابي قاموسو يادونه کوو، چي لوستونکي يې د ژبو له عمومي يا هر اړخيزو قاموسو سره پرتله کړي:

فرهنگ حقوق

ترمينولوژی حقوق

فرهنگ سياسی

واژه نامۀ سياسی و اجتماعی

فرهنگ اصطلاحات نوين

قاموس اقتصاد

لغات عاميانۀ فارسی افغانستان

د افغانستان د ځينو ژبو او لهجو قاموس

فرهنگ ادبيات فارسی دری

Dictionary of Economics
Dictionary of Business
Dictionary of Economic Terms
Dictionary of Sociology
Dictionary of Science and Technology
Dictionary of Proverb
Dictionary of Legal Terms
Law Dictionary
A Dictionary of International Law

او داسي نور.

## په انګرېزي قاموسو کي د لغوي توکو او موضوعاتو ډولونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انګرېزي ژبې ځينو ژبپوهانو په قاموسو کې د لغوي توکو او موضوعاتو ډولونه په دې ډول ښوولي دي:

۱- ساده ټکي(Simple Words) چې هغه هم پر دې ډلو ويشل کيږي:

الف) لغوي کليمې(Lexical Words) لکه اسم، فعل، صفت، قيد، ږغونه (د ږغ توري).

ب) ګرامري ټکي (Grammatical Words) يا وظيفوي کليمې(Function Words) چې په هغو کې ادات، د ارتباط توري، ضميرونه، مرستندويه فعلونه، اشاري ضميرونه او آرټيکلونه شامل دي.

۲- څو کليمه يي محاورې (Multi Words Expressions, MWEs) يا هغه ترکيبونه، چې مانا يې د اجزاوو تر مجموعې پراخه او لويه وي؛ لکه:

Kick the bucket ،kith and kin ،birds of the feather او داسې نور. په داسې حال کې، چې ځيني لغت پوهان ژبنيو اصطلاحاتو (Idioms)ته په همدې صفت قايل دي؛او په هغو کې دغو ډولو ته ځای ورکوي:

الف) عبارتي اصطلاحات (Phrasal Idioms)

ب) مرکبات يا ترکيبونه (Compounds)

ج) عبارتي فعلونه (Phrasal Verbs)

د) د مرستندويه يا کومکي فعلو جوړښتونه (Support Verb Constructions)

هـ) ثابت او ثابت وزمه عبارتونه (Fixed & Semi-Fixed Phrases)

ځيني ثابت عبارتونه لکه: ham & eggs, knives, forks & spoons, kith & kin

او داسې نور، د ترکيبو په څېر هم کارېږي.(Atkins and Rundell 167)

۳- مخففات يا اختصارات، چې هغه هم پر درو ډولو وېشي:

الف) الفبيټيزم(Alphabetism)

ب) اکرېنيمونه(Acronyms)

ج) انقباضونه يا لنډوَني(Contractions)

۴- جزيي يا ټوټه يې ټکي(Partial Words)چې په هغو کې دغه ډولونه شامل دي:

الف) تړلي يا ناخپلواکي موښلوني(Bound Affixes)

لکه impossible ،attainment او داسې نور. په اوسنيو انګرېزي قاموسو کې دغه راز تړلو صرفي ضميمو يا موښلونو ته ډېر لږ د يوه بېل يا خپلواک قاموسي سر ټکي ځای ورکوي.

ب) توليدي موښلوني(Productive Affixes)لکه: Ex-wife ،Ex-mayor او هغه ترکيبونه چې د anti, de, un او داسې نورو مختاړو(prefixes)په مرسته تر لاسه کيږي؛ لکه: undoutful, anti-war, decentralized او داسې نور.

ج) يوځای کوونکي شکلونه (Combining Forms) يا دوه بېل لغتونه، چې د يوه هايفن (-) په مرسته سره يو ځای کيږي؛ لکه: one-eyed, one-legged, heart-stricken ,vinyl-covered او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروفیسر جګسن او پروفیسر امویله "Multiword Verbs" تر عـــنوان لاندي د دغـو فعـلو يـــادونه کړې ده:

الف) هغه فعلونه، چې اضافه توري يې ملګـرى کـوي (Prepositional Verbs) لکـــه:

call for(john), look at(him), ask for, believe in, care for, deal with, refer to او داسي نور. لکه څنګه چې ليدل کيږي، د داسي فعــلو په پاى کي تل د مفعول يــادونه کـــيږي.

ب) عبارتي فعلونه (Phrasal Verbs) چې کېداى سي په پاى کي يې مفعــول راغلئ وي.

داسي فعلونه کېداى سي متعدي (transitive) بڼه ولري؛ لکه:

bring up, look up etc.

يا لازمي بڼه ولري؛ لکه:

give in, sit down etc.

ج) هغه فعلونه، چې د ادات لرونکو فعلو او عبارتي فعلو تر منځ د پُلِه بڼه ولري؛ لکه:

check up on (my friend), get away with (that), stand up for (your rights) etc.
(Jackson and Amvela 75)

## د پښتو قاموسو دوې نه بېلېدونکي زېرمي: دخيل او مفغن ټکي (مفغنات)

### الف) دخيل ټکي

لکه څنګه چې پوهېږو د نړۍ ژبي تل د سياسي، فرهنګي، اجتماعي او اقتصادي بدلونو په ترڅ کي يو پربل ډول ډول اغېزې ښندي. هره ژبه له اړتيا سره سم د نورو ژبو ځيني ټکي، ترکيبونه او اصطلاحات اخلي؛ او په بدل کي يې د خپلي ژبي ځيني نورو ژبو ته ورکوي. د نړۍ د بېلابېلو ژبو او فرهنګي جريانو ترمنځ دا راکړه ورکړه له پېرييو پېرييو څخه روانه ده؛ او تر هغه مهاله به همداسي جاري او ساري وي، چې بېلابېل ملتونه خپل ژوند او موجوديت ته دوام ورکوي. پښتو ژبي ته هم د دې فرهنګي راکړې ورکړې په لړ کي له اوســتا، سنسکريت، هندي، پهلوي، هيندکو، پارسي، تورکي، عربي او نورو ژبو څخه ځيـنـي ټکـي، ترکيبونه او اصطلاحات راغلي دي، چې اوس زموږ په ژبه کي تر ډېر اوږده استعمال وروسته، د پښتو نه بېلېدونکي او ګران بيه پانګه ګڼله کيږي. د پښتو په ګډون بايد د هري ژبي قاموس ليکوونکي د دغه راز ټکو و را غونډولو او خوندي کولو ته ټينګ پام وکي. البته ددې خبري مانا دا نه ده، چې د نورو ژبو نا اشنا او غيرضروري ټکي، تعبيرونه او اصطلاحوي بايد بې دليله په پښتو فرهنګونو را ګډ کړل سي؛ بلکي د دې خبري مانا دا ده، چې د پښتو فرهنګونو مؤلفان بايد هغه دخيل الفاظ، ترکيبونه او اصطلاحات هرومرو راټول او تشريح کړي، چې زموږ د عام و خاص په خبرو او ليکـنو کي په پېڅر استعماليږي لکه دين، مذهب، ايمان، نکاح، طلاق، ميراث، جهاد، قاضي، ملا، سياست، دولت، حکومت، قضا، عکس، ساعت، خان، خاندان، خانم، کومک/کمک، قشله، قاغوش، جرګه، لوټ، وجاړ، شوده، سوډر، ډول، کړکۍ، چنډڼ، ګوبۍ، بينډۍ، پتنوس، سماوار، لابراتوار، موټر، کمپيوټر، پاسپورټ، ويزه، بايسکل، موټرسايکل، راډيو، تلويزون، کپيټاليزم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوسیالیزم ، کلونیالیزم، ګلوبالیزم، میکانیزم او داسي نور ، چي له بېلابېلو ژبو څخه د زمانو په اوږدو کي، پښتو ژبي او ادب ته را ننوتي دي؛ او اوس د دې ژبي نه بېلېدونکي برخه ګڼله کېږي. په دې ډله کي ځينو توکو ته، له پښتو سره د ګډي اريايي ريښې د لرلو په سبب، حتا د پردو توکو په سترګه نه کتل کيږي، نو ځکه يې روزنه او پالنه نور ډېره ضروري بربښي.

## ب) مفغن توکي (مفغنات)

په پښتو قاموسو کي د دې ژبي تر سپېڅلو او دخيلو توکو وروسته، پښتو سوي يا مفغن توکي ډېر لوی ځای لري . مفغنات يا په پښتني کتو کي ايشبدلي کليمې، هغه توکي دي چي په پښتني ټولنه کي يې د خپل اوږده تابعيت پر بنسټ له شکلي او مانوي(معنوي) پلوه لږيا ډېر بدلون موندلئ دئ؛ او اوس د پښتو ژبي د لغوي زېرمي ډېـره ارزښتناکه او نه جلا کېدونکې برخه ده.

## د مفغناتو ډولونه

په پښتو قاموسو کي د مفغناتو د سمـــي پېژندني دپاره بايد د پښتو د بابا-لـوی استاد علامه عبدالحـــي حبيبي( ۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰م–۱۳۶۳ ش/ ۱۹۸۴م) د عالمانه څېړنو په رڼا کي دغو ډولونو ته بشپړ پام وسي:

## لومړی: مانوي(معنوي) مفغنات

مانوي مفغنات هغه پردي توکي دي، چي خپل اصلي حالت يې لږو ډېر ساتلئ وي؛خو مانا يې څه نا څه اوښتې وي. دې ډول توکو په پښتني چاپېر(محيط) کي داسي نوې ماناوي او مفهومونه موندلي دي، چي له خپلي اصلي مانا/ ماناوو سره ټينګ اړيکی يا نيژدې والی لري؛ د مثال په توګه د «بشر»کليمه، چي په عربي ژبه کي د انسان د ظاهري پوست پــه مانا ده؛ خو په پښتو کي دا توکی د انسان د ټول بدن او وجود په مانا کاريږي؛ چي«بشرکی» يې د تصغير بڼه ده (حبيبي، سپېڅلي پښتو کد ـ کهـ). د پښتو په لوېدځه (لوېديزه )لهجه کي د«بشر»کليمه خورا ډېره استعماليږي؛ لکه چي وايي: «ته زما بشر يې !» ياني ته د ځان په شان را ته ګران يې؛ «خدای دي روغ بشر درکي !» ياني خدای دي جوړ او روغ لره؛ «خوار بشری» ياني خوار ځواکه، «بشر دي ومره !» ؛« بشر دي سرخوره سه !» ؛«بشر دي خاوري سه !» ؛او داسي نور، هغه ترکيبونه او تعبيرونه دي، چي د«بشر»کليمه تر عربي ژبي په نسبتاً پراخه او بېله مانا کاريږي(حبيبي، سپېڅلي پښتو کهـ).

## دوهم: اوښتي مفغنات

اړول سوي مفغنات هم په خپل وار سره پر دوه ډوله دي: د اوښتو مفغناتو پــه لــومړی ډلــه کـــي هغه کليمې راځي ، چي يوازي يې ظاهري جوله څه نا څه اوښتې وي؛ خو خپله اصلي مانا يې خوندي ساتلې وي. د دغه راز توکو په ظاهري بدلون کي زياتره د «ش» توري په «ښ» ، د «د» توري په «ل» ، د«چ» توري په «څ» ، د«ج» او«ز»توري په «ځ» ، د «ب» توري په «و» ، د «ن» توري په «ڼ» ، د «ث» توري په «ت» يا خپلو اصلي مخرجو ته په نورو نيژدې ږغونو اوښتي وي؛ لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

آبدست - اودس

اشک - اوښکي/ اوښي

اطاق - هوتاک[اوتاک]

افعي - اپي

بهادر- باتور

بهشت - بهښت

پشت - پښت[نژاد]

تفنگ - توپک/ټوپک

جوان - ځوان

خداوند - خاوند

خرج/ خرچ - خرڅ

خوش- خوښ

روزه- روژه

شاد - ښاد

شادی - ښادي

شور- ښور[ږوږ، غوغا]

شهر - ښهر/[ښار]

فراخ - پراخ

فرشته - پرښته/[پرېښته]

فیروزه - پېروژه

گریبان - گرېوان

مثل - متل

معصوم - ماشوم

میراث - میرات

هیچ - هیڅ

(حبیبي، سپېڅلې پښتو کو ).

د اړول سوو مفغناتو په دوهمه ډله کي هغه ټکي شامل دي، چي هم یې ظاهـــري جوله اوښتي وي؛ او هم یې په مانا کي بدلون راغلئ وي؛ مثـــلاً «اسي» هغه عربي کلیمه ده، چي د عربي له «عاصي» ټکي څخه مفغن سوې ده. عربان دا کلیمه د طـــاغي او گوناکار (گنهگار/گنهکار ) په مفهوم کاروي؛ خو پښتانه دا ټکی د بخیل، شوم، منحـــوس، مـــړاوي او پژمرده په ماناوو استعمالوي؛ او «اسبگی» یې د تصغیر بڼه ده(حبیبي، سپېڅلې پښتو کو ). دغه راز، «عورت» په عربي کي د انسان د وجود هغو ځایو ته وایي، چي پټـول یـې لازم وي؛ خـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتنو له دې ټکي څخه بله کليمه جوړه کړې ده، چې «اورته» نوميږي؛ او د ماينې، مانديني، ښځې، ميرمني، کوروالا، کورودانۍ او داسې نورو په مانا کاريږي. پښتنو وروسته د تورو په اړولو سره له همدې ټکي څخه «اروته» جوړه کړه. ورپسې د همدغو مورفالوژيکو بدلونو په لړ کې، له دې کليمې څخه بل ټکي سر پورته کړ، چې نن يې «ارتينه» بولي. د عربي ژبې «نعره» په پښتو کې په «ناره» واوښته. وروسته له همدې ټکي څخه په پښتو کې داسې اصطلاحوي جوړې سوې، چې له عربي مانا سره يې هيڅ تړاو نه درلود؛ د مثال په توګه د کندهار او شاوخوا سيمو پښتانه وايي: «پلانۍ ناره وکړه.» ياني هغه نجلۍ يا ښځې د مور او پلار د خوښې او پخو ټولنيزو دودونو پر خلاف په خپله د ژوند ملګرى غوره کړ. دغه رنګه په پښتو کې، هغو نظمونو ته هم «نارې» وايي، چې له ملي وزنونو سره سم، د پښتو د ولسي نکلونو په منځ کې ويلې کيږي؛ او زموږ ولسي نکلونو ته لا نوره ښکلا او جذابيت ور بخښي (حبيبي، سپېڅلې پښتو کز).

په دې ډول ګورو، چې له عربي «نعرې» څخه په پښتني چاپېر کې داسې نوي ټکي او اصطلاحات وزېږېدل، چې پر ظاهري جولې سربېره، د مانا له اړخه هم له خپل اصلي عربي ټکي سره، مځکه او اسمان توپير لري.

## دريم: منقلب مفغنات

هغه مفغن ټکي، چې په ترتيب او اوډنه کې يې ډېر بدلون راغلئ وي. د اِبدال، تخفيف، تزييد، حذف او ترخيم له کبله يې اصلي بڼه ببخي اوښتې وي؛ او په پښتو ژبه کې يې نوى رنګ اخيستى وي؛ لکه منځوى، چې د «ميان» او «منځ» له ټکو څخه پيدا سوى دئ؛ صباح او سبا، سحر او سهار (د دې لغت د پاره، د پښتو اصلي ټکى ګهيځ دئ)، فاتحه او پاتا، آويزان او الوېزاند، آزمايش او ازماينښت [ازميښت، ازموينښت يا ازموينه، کاهش او کاهښت، خواهش او خواهښت، خارش او خارښت] او داسې نور، په دې ډله کې دي (حبيبي، سپېڅلې پښتو کز).

ځينو افغان ژبپوهانو په خپلو اثارو کې د بعضو اروپايي ژبپوهانو په پيروۍ د خيلو ټکو ته د پورسوو يا عاريت سوو ټکو (borrowed words) اصطلاح کار کړېده؛ خو لکه څنګه چې له نامه يې ښکاري دا اصطلاح منطقاً دقيقه نه ده؛ ځکه پور يا عاريت يوازې د هغه څه د پاره معقول او منطقي برېښي، چې بيرته ورکول يې لازمي او ضروري وي؛ په داسې حال کې چې په ژبو کې د خيلي کليمې، ترکيبونه او اصطلاحات تر تابعيت موندلو وروسته د اخيستونکي ژبې نه بېلېدونکې برخه ګڼله کيږي. همدا اوس په انګرېزي کې، چې د نړۍ له خورا علمي، بډايو او ارتو ژبو څخه ده، پر بې شمېره يوناني او لاتيني ټکو سربېره، د جرمني، فرانسوي، هالنډي، ناروېژي، اسپانوي، عربي، هندي، پارسي او نورو ژبو په پېڅر کليمې خوندي دي. د انګرېزي ژبې ويوونکي دا کليمې او ترکيبونه په ډېره مينه او وياړ د خپلې ژبې د يوې ژوندۍ او فعالې برخې په توګه په خبرو او ليکنو کې کاروي؛ او هيڅکله د پرديتوب په ګونا د هغو ضايع کولو يا پيکه کولو ته زړه نه ښه کوي. د پور سوو ټکو يا «پور ويونو» اصطلاح لکه څنګه چې ځيني افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبپوهان يې کاروي، له دې امله هم د تأمل وړ ده، چې د پور په اخيستو کې تل د پور اخيستونکي اراده او نيت نغښتی وي؛ حال دا چې د دغو کليمو په راتګ او رواج موندنه کې له نېزي او توپک څخه نيولې بيا تر سياسي، اجتماعي، فکري، فرهنګي او اقتصادي اغېزو پورې ګرده ارزښتناکه ونډه لري. په بله وينا، د دې کليمو په دود بدو کې تل د پور اخيستونکي د غوښتني او هوډ پر ځای د زورورو او پياوړو ملتو ارادې نغښتې دي. د همدې استدلال پر بنسټ، د «پور وييونو» يا «عاريت سوو ټکو» اصطلاح، لکه څنګه چې ځينو نورو اوروپايي ژبپوهانو هم نه ده خوښه کړې، چندان خريدار نه لري.

بېلابېلو ژبو ته ورغلي کليمې، ترکيبونه او اصطلاحوې د زمانې په تېرېدو سره د نوو کليمو په بڼه، پښت پر پښت داسې نوې بچې زېږوي، چې په پای کې د اصلي يا لومړۍ ژبې ويوونکو ته کاملاً نا اشنا برېښي. پښتانه پوهېږي، چې د پارسي «خرج/ خرچ» پښتني چاپېر ته په را ننوتو سره په «خرڅ» واوښت؛ او اوس له همدې مفغن ټکي څخه په پښتو کې د خرڅوونکي (پلورونکي)، خرڅيلاو / خرڅلاو، خرڅه (خرچه، مصرف يا لګښت)، خرڅاوو يا خرڅي (خراج، لاس خلاصی، لګوونکی، مصرف کوونکی)، خرڅښت، خرڅېدنګ، خرڅوَنګ، خرڅېدل، خرڅول، خرڅېده، خرڅګير (په بندرونو کې د ماليې يا محصول مامور)، خرڅون، خرڅونی، خرڅېدونکی (مال، جنس، متاع)، خرڅندويه او داسې نورو په شان راز راز ټکي او ترکيبونه جوړ سوي دي، چې هر يو يې د پښتنو په بېلابېلو سيمو کې، د خلګو په ورځنيو خبرو او محاورو کې کارېږي.

په دې توګه بايد د پښتو قاموس ليکوونکي په خپلو اثارو کې پر «پلورل» سربېره د «خرڅ» له مفغن ټکي څخه جوړ سوی مصدر «خرڅول» او له هغه څخه ټولو راوتلو مشتقاتو ته ځای ورکړي. دا کار نه يوازې د ټولنيز ژوندانه يوه څرګنده او مُبرمه اړتيا ده؛ بلکې د پښتو ژبې د لغوي، ادبي او علمي پانګې د بډايني او بشپړتابه په لار کې، يو ارزښتناک ګام دئ.

قاموس ليکوونکي د هغو احساساتي، تنګ نظرو او متعصبو شاعرانو، ليکوالو او حتا ژبپوهانو په څېر نه دي، چې د ژبې د «سوچه کولو» پر لېوني خره سپاره وي؛ او د خپلې ژبې ډېرې ګران بيه لغوي زېرمه يوازې د پردۍ ريښې په ګونا له پامه غورځوي. لکه څنګه چې مخکې هم دې خبرې ته اشاره وسوه، ژبه د يوه بدلېدونکي ټولنيز موجود په توګه تل د ټولنې له تحولاتو او پرمختګونو څخه رنګ اخلي. د هرې ژبې په وده او پرمختګ کې د خپلو ټولنيزو او طبيعي بدلونو تر څنګ ان د شاو خوا سيمو ژبې او کولتوري جريانونه هم ډېره ارزښتناکه ونډه لري؛ د مثال په ډول د سيمې له بېلابېلو ژبو سره د پښتو نيژدې اړيکې، په حقيقت کې د هغې ګډې ادبي، علمي او فرهنګي جغرافيې په مانا دئ، چې ټولې ژبې او فرهنګي جريانونه يې يو له بله اغېزمن کړي دي. پښتو د همدې فرهنګي راکړې ورکړې په بهير کې ډېر پارسي لغتونه اخيستي دي؛ لکه درخته، سېب، سايه، سبزي، رود، درياب، بيرون، دروازه او ډېر نور، چې اوس د زياترو پښتنو په ورځنيو خبرو، مرکو او ليکنو کې په ډېره مينه او خوښۍ استعمالېږي. افغاني پارسي (دري) هم له پښتنو سره د خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیژدې او تېنــګې فرهـنګي راکړې ورکړې په لړ کې، ډېرې پښتو کلیمې اخیستي دي، چې زموږ ډېرې پارسي ژبې ورونه یې بې تعصب او تنګ نظرۍ په خپلو خبرو او مرکو کې کاروي؛ لکه: «پُت = پَت»، «ګدود = ګډوډ»، «جور = جوړ»، «توته = ټوټه»، «تـوته توته = ټوټه ټوټه»، «دند = ډنډ»، «جګره/ جګـله = جــګړه»، «تکره/ تکله =تکړه»، «اندیــوال =انډیوال»، «چتل=چټل» چمتو، هرومرو... او په سلګونو پښتو نومونه لکه میرویس، زلمی، زمری، زمریالی، ننګیالی، توریالی، سپوږمۍ، ملالۍ، ګلالۍ، تورپېکۍ، خاتول(اصلاً غاټول)، رنا( اصلاً رڼا )، مینه، شغله، پلوشه ، لمبه، ولوله او داسې نور. سربېره پر پرېمانه عربي او پارسي ټکو، له تورکي څخه هم زموږ ژبې ته ځیني کلیمې راننوتي دي؛ لکه کومک، خانم، قشله، قاغوش، جرګه، ولس، خان او داسې نور یا پتنوس، سماوار، پروسه او داسې نور چې له روسي څخه پښتو او دري ته راغلي دي؛ او اوس زموږ په ژبه او ادب کې مزبوتې ریښې لري. پښتنانه قاموس لیکوونکي باید د دغه راز ټکو په راغونډولو او خوندي کولو کې، چې هره ورځ زموږ په خبرو او لیکنو کې استعمالیږي، هراړخیزې هڅې وکړي؛ ریښې او تاریخي بدلونونه یې روښانه کې.

بې شکه چې د علمي او اکاډیمیــــکي فرهنګ لیکنې کار یوازې د دخیلو او مغفنو ټکو په را ټولولو، نه بشپړیږي. د دغه راز ټکو او ترکیبو ریښه پېژندنه او تاریخي بدلونونه هغه بله مهمه او اساسي مسأله ده، چې قاموس لیکوونکی یې باید سپړلو او شنلو ته په ټینګه ځیر سي؛ ځکه ډېرځله د کلیمو شکلي یووالی لوستونکي ناسم لوري ته بیایي؛ او په پای کې یې تېروتني ته اړباسي.

په قاموسو کې د دخیلو او مغفنو کلیمو تر څنګ د پښتو د سپېڅلو ټکو د پېژندګلوۍ اړتیا

په قاموسو کې د دخیلو او مغفنو ټکو د را غونډولو تر څنګ بله مهمه او ضروري خبره د هغو د سپېڅلو او اصیلو پښتو ټکو پېژندګلوي ده. لکه څنګه چې پوهېږو ځیني دخیل ټکي او مغفنات په پښتو کې خپلې سپېڅلې کلیمې هم لري. قاموس لیکوونکو ته ښايي، چې دغه راز ټکي هم د مفغنو ټکو په شرحه کې یاد کړي؛ او هم یې د بېلو قاموسي سرټکو په توګه په خپل اصلي ردیف کې ثبت او تشریح کړي؛ مثلاً د «کمیس» کلیمې په شرحه او بیان کې باید له یوې خوا دا اړخ روښانه سي، چې دا کلیمه د عربي ژبې له « قمیص» څخه مفغن سوې ده؛ او له بلې خوا باید د دې کلیمې تر څنګ د هغې سوچه او سپېڅلې پښتو کلیمه یاني« خت»هم د یوه بېل قاموسي سرټکي په توګه له خپلو ټولو اړونده تشریحاتو او ځانګړتیاوو سره یو ځای، لوستونکو ته ور وپېژندل سي. «سهار» یو بل مثال دئ، چې د عربي د «سحر» ټکي پښتو سوې بڼه ده؛ خو په پښتو کې یې اصیل ټکی«ګهیځ» دئ، چې قاموس لیکوونکی یې باید له یوې خوا د «سهار» په تشریح کې یادونه وکړي؛ او له بلې خوا یې د یوه جلا قاموسي ټکي په توګه له ټولو لازمو توضیحاتو سره ثبت کړي(حبیبي، «د پښتو سیند به څنګه لیکل کیږي؟» ،۲). مزدک/ نمزدک (په پارسي کې مزګت او په کوردي/کُردي کې مزګوت) هم د پښتو اصیل ټکی دئ، چې تر اوسه پوري په مروتو کې کاریږي؛ خو د نورو سیمو پښتنانه اوس د هغه پر ځای د مسجد ، ماجت یا جومات ټکي استعمالوي (رشاد ۱۰۰-۱۰۱). وګړي، هڅه/ هاند/ هلي ځلي، لګښت او داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور هم له دغه راز سپېڅلو پښتو ټکو څخه دي، چي قاموس ليکوونکی يې بايد نه يوازي د مستقلو ټکو په بڼه؛ بلکي د اړونده مفغنو او دخيلو ټکو (خلک/ خلګ، ولس، کوښښ/ تلاښ، خرڅ) ترڅنګ هم د ژونديو نظايرو او لازمو تشريحاتو په وړاندي کولو سره يادونه وکي. په پښتو کي د داسي ټکو، ترکيبو او اصطلاحاتو شمېر تر اند وتلئ دئ.

په قاموسو کي د کراس - ريفرينس په مرسته له مروجو دخيلو يا مفغنو ټکو سره د پښتو د سوچه او اصيلو ټکو يو ځای کول، نه يوازي د پښتو ژبي د لغوي زېرمي په پراخوالي او بډاينه کي لويه برخه اخلي؛ بلکي د دغه راز سپېڅلو ټکو د پيکه کېدو او هېرېدو مخه هم نيسي.

## د مفغنو ټکو په املا کي د ګډوډۍ مخنيوی

د مفغنو او دخيلو ټکو په نوو املاوو کي بايد تر وسه وسه هڅه وسي، چي د خپلي ژبي يا نورو نيژدې ژبو له اصيلو ټکو سره د ګډوډېدو يا البتاس ستونزه پېښه نه کړي؛ لکه قوم/ قام چي موږ يې د عربي«ق»د نه لرلو په سبب د «کام»په بڼه وايو؛ خو د پښتو ژبي له کام (تالو، کومه، حلق)، د پهلوي/ پارسي ژبي له کام (غوښتنه، هيله، موخه، نيت، هدف، مقصد، پلان)، د سنسکريت له کام (غوښتنه، هيله، موخه، هدف، مقصد، نيت، پلان، مينه، محبت، عشق، الفت)، د هندي، اوردو، پنجابي او ځينو نورو هندي الاصله ژبو له کام (کار، کسب، دنده، وظيفه، کاروبار، خواري، غريبي، خدمت، چوپړ او داسي نور) سره ژور التباس پيدا کوي. يا د قانون ټکی که د پښتنو له تلفظ سره سم د «کانون» په بڼه وکښل سي، د پارسي ژبي له کانون (مرکز، کوره، بټۍ او داسي نور) سره د ګډوډېدو لوی سرخوږی او سرګرداني را ولاړوي.

## په قاموسو کي د را غونډېو سوو کليمو د سم تلفظ ارزښت او بېلابېلي لاري

د قاموس ليکني نوي مېتودالوجي/ مېتودولوژي له فرهنګ ليکوونکو دا غواړي، چي په خپلو اثارو کي د راغونډېو سوو ټکو، ترکيبو او اصطلاحاتو د وينګ سمه او کره لاره وښيي. هغه قاموسونه، چي د کليماتو د تلفُظ (وينګ) اسانه او ساده لاره نه وړاندي کوي، بې شکه لوستونکو تــه د کليمو د سم او دقيق تلفُظ د پېژندني په کار کي لوی مُشکلات پېښــوي. په قــاموسو کي د سم او کره تلفُظ ښوول پر پښتو ژبي سربېره، د نرۍ په نورو ژبو کي هم خورا لويه او مهــمه مسأله ده؛ د مثال په توګه په پاړسي ژبه کي د جلد (پوست، پوټکــی، د کتاب يا کتــابچي پوښ) ټکی ډېر پاړسي ژبي خلګ د جيم په پېښ ياني د «جُلد juld»په بڼه تلفظ کوي؛ حــال دا چي سم ډول يې د جيم په زبر (جِلد jild) دئ. همــدغه راز د «عــرفان» عــربي ټکی چــي د پېژندني، خدای پېژندني يا معرفت په مانا دئ، د پاړسي ژبي پر زياترو عامو خلګو سربېره يې ان ځيني لوستي او پوه کسان هم د «ع»په پېښ ياني د «عُرفانurfān» په بڼه تلفظ کــوي؛ په داسي حال کي چي سم ډول يې د «ع»په زېر ياني د «عِرفــانirfān» په بڼه دئ. «هــراس»يوه بله پاړسي کليمه ده، چي زموږ ځيني پاړسي ژبي هيــوادوال يې د «هـ»په زېر ياني د «هِـراس hirās»په بڼه وايي؛حال دا چــي سم شکل يــې د «هـ» په زوَر (هَراس

(c) ketabton.com: The Digital Library

harā́s )دئ. «اناث»عـــربي ټکی هم له همدې ډلې لغتو څخه دئ، چې اصــلاً باید د «الف»په زېرسره وويل ســـي؛ مګـــر ډېری خلګ يې د عربي تلفظ پرخلاف د «الف» په پېښ ياني د «اُنــاثunā́s»په ډول وايـــي. د عربي ژبې ثَـــبات (sabā́t) هم دا حـــالت لري، چې زياتـــره خـــلګ يې د ثُبــات(subā́t)په بڼه تلفظ کوي. ايرانيان د ګومان ټکی، چې اوس په پښتو او پارسي دواړو ژبو کې کـــاريږي، د «ګ»په زْوَر د «ګمان gamā́n» په بڼه وايي. همدغه راز ايرانيان په تېروتني سره د «عراق Irā́q» عربي کليمه، چې پر عربي سربېره په ځينو نورو اريايي ژبو کې هم د عين په زېر(عِراق ) سره ويله کيږي، د عيـــن په زْوَر(عَراق Arā́q )سره وايي. له بله پلوه په پارسي کې د «نخست» کليمه د نون په زْوَر او د نون په پېښ دواړو بڼو سمه ګڼله سوې ده. دغه راز، د «حسب» عربي ټکـــی د سين په زْوَر او سکون دواړو بڼو سم بلل سوی دئ. په اوردو ژبه کې د اُصول، حُکـــومت او حُضور په شان عربي ټکي، د اصلي عربي قاعدې پرخلاف د «اَصولasúl» ، «حَکومتhakumát» او «حَضور hazúr»په بڼه ويل کيږي. سره له دې چې کليمې، عبارتـــونه، ترکيبونه او ژبنـــي اصطلاحات د خپلو تاريخي، محيطي او نورو بدلونو په ترڅ کې، د ژبو او حتا لهـــجو په بېـلوالي سره بېلابېلي بڼې او جولې خپلوي؛ اما فرهنګ ليکوونکی بايد هرومرو په قاموسو کې د دغـه راز ټکو سم او دقيق تلفظ په ډاګه کړي، که نه نو خـلګ به هېښ پېښ وي، چې د دغــــه راز کليمو د کره تلفظ موندلو د پاره د کومې ژبې د ويونکو پر پْله پل کښېږدي؛ ځـــکه «اصـــول» ، «حکومت» ، «حضور» او داسې نور پر عربي سربېره په ډېرو نورو ژبو کې هم کاريږي.

د اوروپايي ژبو، په تېره بيا انګرېزي ژبې په قاموسو کې د کليمو د دقيقو او معياري تلفظو د وړاندې کولو اړتيا تر نورو ژبو هم ډېره زياته جدي ده. لکه څنګه چې پوهېږو په انګرېزي ژبه کې د ځينو ټکو په جوړښت کې بعضې توري صـــامت يا بې ږغه دي؛ مثـــلاً د «ججjudge» او «اکناليج acknowledge»په کليمو کې د «d»توری، په«نبknob» او«نايفknife»ټکو کې د «k» توری، پـه «رايټwrite»ټکي کې د «w»توری، په «اينډايټindict» ټکي کې د «c» توری، په «اُوټمautumn»کې د «n»توری بې ږغه دئ. په انګرېزي کې د کليماتو د سم او کره تلفظ د پېژندنې ستـونزه د دغه راز مثالو په وړاندې کـولو سره نه ختميږي. په دې ژبـه کې سربېره پــــر بې ږغه تورو داسې ټکـــي تر شمېر وتلـــي دي، چې د تلـفظ او امـلا تر منځ يې خورا زيات توپير ليدل کيږي؛ د مثال په ډول د کرنل (هغه عسکري منصبدار، چې موږ يـې په افغانستان کې ډګروال بولو ) کليمه د «colonel»په بڼه ليکي؛ خو د «کرنلKərnal»په ډول يـې وايي. «ستيفنStephen» کليمه د ډېرو انګرېزي او اوروپايي نومو يوه برخه ده؛ خو پـه انــګرېزي کې دا کليمه د املا پر خلاف د «ستيوون Stivan»په بڼه تلفظ کوي. د پارسي ژبې ځينې ايراني او افغاني ژباړونکي په ميډيا کې دا نوم په تېروتنې سره د انګرېزانو د اصلي تلفـظ پر خلاف، د «ايستيفانIstifā́n»په بڼه ليکي او وايي. دغه راز، په انګرېزي ژبه کې ځينې داســي ټکي سته، چې«حالpresent» ، « ماضيpast»او وصفي وجه يا د فعـل دريم حالت « participle past» يې د دې ژبې د ګرامر د عمومي قاعدې پر خلاف په يوه ډول کښل کيږي، چې د ګرامر يا ژبښود له پلوه يې د بې قاعده فعلو په نامه هم يادوي؛ مګر سره له دې املايي يوشان والي هم په يوه راز نه تلفظ کيږي؛ مثلاً د

(c) ketabton.com: The Digital Library

«ریډ read»(ویل،لوستل) ټکــی، چې د فعل دریم حالت یې له حال او ماضي حالتو سره د بشپړ یو رنګ والي سره سره د «ریډ red»په بڼه تلفظ کیږي. د دې ترڅنګ په انګریزي کې ځیني ټکي د صفت په حالت کې د دې ژبې د ماضي فعل د عامي قاعدې پرخلاف، په کاملاً بېله بڼه تلفظ کیږي. پوهېږو چې په انګریزي کـــې معمولاً د عادي فعل ماضي حالت له مصدر سره د «d»یا «ed» وروستاړي پــه زیاتولو سره جوړیږي؛ لکـه «worked»چې له«ورک work» مصــدر سره د «ed»وروســتاړي تر موښلولو ورسته لاسته راځي؛ خو د دې ډول ماضي فعلو تلفظ له هغو ټکو سره په وینـګ یا تلفظ کې ډېر توپیر لري، چې په ګرامري لحاظ د همدې قاعدې له مخې جوړ سوي دي؛اما په خبرو او مکالمو کې د صفت په بڼه کاریږي؛لکه «لرنید learned» (پوه ،پوهاند ،عالِم،لوستی ، بامهذبه، رسېدلئ، هوښیار)چې د «لرن learn»(زده کول) له ټــکي څخــه د «ed» شاونـدي په زیاتولو سره جوړ سوی دئ یا «کروکید crooked »(کوږ،نابرابر،ناهوار،چــمباز، ټګ) چــي لـه «کروک crook» سره د «ed» ورستاړي د یوځای کولو په مرسته جوړ سوی دئ. په انګریزي کې د داسي ټکو شمېر خورا ډېر زیات دئ، چې را ټـولول یې ډېر وخت او لویه څېړنه غواړي.

سربېره پر دې، په انګریزي ژبه کې هم د نړۍ د نورو ژبو په څېر داسي کلیـــمې ډېري دي، چې خلګ یــې پــه بېلابېلو ډولونو تلفظ کوي. بې شکه په داسي شرایطو کې د ژبــي ټول زده کوونکي، په تېره بیا بهرنییان لــه لویو ستونزو سره مخامخ کیږي، چې حل یې باید یوازې د ژبي په علمي او اکاډیمیکو قاموسو کي ولټول سي؛ د مثال په توګه د یـوولس ټکی د اَلیون(alevə́n) او (Ilevə́n)په بڼه؛ د پوښتني یا مسألې په مانا د" issue" کلیمه د ایشو(išú) او ایسو(isú)په بڼه یا د(financial) ټکی چې ځیني یې د فیننشـــل(finanšəl) په بڼه او ځیني نور یې د فـاینِنشل(fā́inanšəl)په ډول تلفظ کوي.

په برتانوی انګریزي کـې د داسي ټکو شمېر لږنه دئ، چې ان د انګلستـان په بېلابېلو سیمو کې هم په جلا جلا ډولونو ویل کیږي. که د تلفظ له دې ستونزې سره د امریکایي، کاناډایي، استرالیایي، هـندي، پاکستاني، هانګانګي، نایجیریایي، جمېـکایي او داسي نورو انګـریزي تلفـظو بېــلوالی او رنګارنګي هم یو ځای کړو، بیا نو یوازې په انګریزي ژبه کې د بېلابـېلو تلفظونو د پېژندني موضوع د یوه لوی کتاب په ګڼه پراخي څېړني او شنني ته اړتیا لري. دلته یوازې د برتانوي او امریکایي انګریزي په تلفظو کې د توپیر څو مثالونه وړاندي کوو:

انګریزان د اعلان یا اشتهار دپاره د اډورټیسمینټ(advertisement)کلیمه استعمالوي؛ خو امریکایان همدا کلــمیه د اډورټایزمینټ په بڼه تلفـظ کـــوي یا آفتین(often)، چـــي انګریزان یې له«ټ»سره وایي ؛ مګر په امریکایي تلـفظ (آفن) کې یـې«ټ» ، حــــذف سوې ده یا شېجوَل(schedule)چې انګــریزان یې د کـــاف پرځای په «ش»تلفظ کوي؛ خـو پـه امریکایي تلفظ کې یې د «ش» پر ځای«ک»ویل کیږي (سکېجوَل).

دلته مو دا څو بولګې او مثالونه د دې دپاره وښوول، چـــې پــه قاموسو کې د کلیمو د سم او کره تلفظ نه ښوول، خلګ له خورا ډېرو سرګردانییو او سرخوږییو سره مخــامخ کوي ؛ او د علمي فرهنګو په مرسته د هري

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبې د کليمو د سم تلفظ پېژندنه، د معاصري قاموس ليکنې له ډېرو ضروري اړخونو او ځانګړتياوو څخه ګڼل کيږي.

د نورو ژبو د قاموسو په شان، د پښتو قاموسو د تأليف له هماغه پيل څخه تر اوسه پوري د کليمو د تلفظ ښوولو د پاره له ځينو لارو چارو ګټه اخيستل سوې ده. ځينو مؤلفانو لکه اروښاد محمد ګل خان مومند (۱۲۷۳- ۱۳۴۳ش) په خپل «پښتو سيند» او محمد ګل نوري په خپل «نور اللغات» کي، چي پښتو ټولني د «پښتو قاموس» په نامه ياد کړی دئ، د عربي قاموسو د تلفظ ښيني مېتود غوره کړی دئ. د تلفظ ښوولو دې لاري عامو لوستونکو ته د را غونډو سوو کليمو د تلفظ پوهېدنه ډېره ګرانه او ستونزمنه کړې ده (و.ګ. «پښتو سيند» او «پښتو قاموس»). د پښتو قاموس ليکني مخکښانو - محبت خان او الله يار خان په خپلو قاموسو کي د بېلابېلو ټکو د تلفظ د افادې د پاره، هغه لاره اخيستې ده، چي په ځينو پخوانيو پاړسي فرهنګونو؛ لکه «برهان قاطع»، «فرهنګ رشيدي»، «فرهنګ آنندراج»، «غياث اللغات» او داسي نورو کي باب وه؛ او تر اوسه هم په ځينو پاړسي قاموسو کي دود ده (و.ګ.: برهان قاطع، فرهنګ رشيدي، فرهنګ آنندراج، غياث اللغات)؛ د مثال په ډول په «رياض المحبت» کي د «الوتل» مصدر د تلفظ ښوولو د پاره داسي ليکل سوي دي: الوتل بالف ممدوده ولام ساکن و واو مفتوح وتای فوقانی مفتوح و لام ساکن (و.ګ. نواب محبت خان برېښ ۷۹ -۸۰). په «عجايب اللغات» کي د «شپون» کليمې د تلفظ د پاره داسي راغلي دي: شپون مفرد بشين منقوطه مشموم - فتح قريب به سکون و با فارسی مضموم و واو معروف و نون ساکن بفارسی (الله يار خان برېښ ۷- ۸).

ځينو قاموس ليکوونکو لکه د ايران حسن عميد، ابو القاسم پرتو او نورو په خپلو اثارو کي د عربي ژبي په پيروی د بېلابېلو ټکو د تلفظ ښوولو د پاره پر ځينو تورو د زْوَر، زېر، پېښ، شد، وړغندي او داسي نورو په شان نخښې ايښې دي؛ مثلاً بازرس(زْرَ)، پيدايش(پَیِ)، پيروز(پِ رُ) او داسي نور(عميد۱: ۳۵۵، ۵۹۲ و ۷۰۰). البته د چاپ او خپرونو په اوسني کمپيوټري پېر کي د کليمو پر بېلابېلو تورو د زْوَر، زېر، پېښ، شد، وړغندي او داسي نورو نخښو ايښوول څه ګران کار نه دئ؛ خو د بېلابېلو ټکو، عبارتو، ترکيبو او اصطلاحاتو په تلفظ ښوولو کي له ځينو اسانتياوو سره سره، د دې لاري لويه نيمګړتيا يې داده، چي نسي کولای د يوه لُغت په تلفظ کي ټول شامل ږغونه، په دقيقه توګه بيان کړي.

ځينو نورو فرهنګ ليکوونکو په خپلو اثارو کي د را غونډو سوو ټکو د تلفظ ښوولو د پاره د هموزنه ټکو يادونه کړې ده؛ د مثال په توګه، شرافت او ولايت، دليل او عليل، عاطل او باطل، لطيف او کثيف او داسي نور. که څه هم د تلفظ ښوولو دا لاره ظاهراً ډېره اسانه او په زړه پوري برېښي؛ خو په عمل کي د دغو دلايلو له مخي چندان د پام وړ نه ده ګرځېدلې:

- په هره ژبه کي داسي ټکي او ترکيبونه خورا ډېر دي، چي د هموزنه ټکو موندنه يې ګرانه يا کاملاً ناممکنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- داسي لغتونه هم په پېخر دي، چي هموزنه ټکي لري؛ خو د هغو تلفظ پېژندنه په خپله لويه معما وي. په دې توګه، که قاموس ليکوونکی مجهول په مجهول سره وښيي، هيڅوک يې په مقصد نه پوهېږي.
- دا لاره هم د هغه مېتود په څېر، چي د را غونډو سوو ټکو بېلابېل توري د تلفظ پــه لحاظ تشريح کوی (لکه د سين په پېښ، د رې په زْوَر، د الف په زېر او داسي نور)، د فرهنګونو د حجم د زياتوالي له بابته، چندان ګټوره او په زړه پوري نه ده.

د لعل محمد کاکړ او لوی استاد- علامه حبيبي په ګډ اثر «سپېڅلې پښتو» کي هم د «فرهنګ عميد» په شان، د پښتو کليمو د تلفظ ښيلو دپاره، ځيني نخښې کار ســوي دي، چي د خپل وخت د معيارونو له مخي ډېر ګټور کارؤ؛ خو د کليمو د کره تلفظ پېژندني له پاره يې څه نوی او پرمختللی مېتود نه ندئ وړاندی کړی. د قلندر مومند او فريد صحرايي په «درياب» کي هم د کليمو د ماناوو او اوډني په برخه کي له ځينو ښېګڼو او ښو اړخونو سره سره، د را غونډو سوو ټکو د تلفظ ښوولو لاره، چندان ګټوره او خونده وره نه ده (و.ګ. درياب). په ډېري خواشينۍ سره، د ځينو نتييو افغان مؤلفانو په فرهنګو کي دکليمو د تلفــظ ښوولو مسألې ته له لويه سره هيڅ پام نه دئ اړول سوی. د عبدالله افغاني نويس«افغـان قاموس»، د پوهاند ډاکټر مجاور احمد زيار «دري- پښتو فرهنګ» او داسي نور له دې ډلــي څخه دي.

د پښتو ژبي اوروپايي فرهنګ ليکوونکو؛ لکه ډاکټربرنارډ ډورن(۱۸۰۵-۱۸۸۱م)، جګړن هنري جورج راورټي (۱۸۲۵-۱۹۰۲م)، جګړن هنري والټر بيلو(۱۸۳۴-۱۸۹۲م)او ډېرو نورو لومړی پلا په خپــلو قاموسو کـــي لـــه ټرانسلېټرېشن (transliteration) او ځيـــنو فونيټيکـــو نخـــښو څخـــه کـــــار اخـــيستی دئ.
د پښتو ټکو د تلفظ ښوولو دپاره د رومي تورواو ځينو فونيټيکو نخښو کارونه، په حقيقت کي نوی ګام او د پښتو ژبي بهرنييو مينه والو ته دکليمو دکره تلفظ وړاندي کولو په لار کي لويه مرسته وه؛ مثلاً د ډاکټر ب. ډورن په لغتنامه کي د «آبادانی»د تلفظ ښوولو دپاره پــه رومي تورو (Roman Script)داسي کښل سوي دي:
ābādānī (ډورن۳۸۹).
د راورټي په پښتو قاموس کي آخښی [اخښی] په لوېديځه او ختيـځه لهجه کي داسي ښوول سوی دئ
آخښی "ākh- khaey(E)"ākh-shaey(W) :
(راورټي۱).
په دې ډول ګورو، چي راورټي لږو ډېر يو نيم سل کاله مخکي، هغه مهال چي په اوسنۍ بڼه د فونيټکي الفبې چندان څرک نه ؤ، د پښتو په لوېديځه او ختيځه لهجه کي د «ښ» او «خ» د دوو بېلو ږغو (فونيمو) د افادې دپاره د انګرېزي ژبي بېل توري کار کــړي دي. لــه څه د پاسه درو نيمو لسيزو راهيسي د پښتو په فونيميکه الفـــبې کي د «ښ» تــوري دپاره تر انګرېزي ايس(s)لاندي يو ټکی او د «خ» دپاره د انګرېزي الــفبې د ايکس (x)توری استعمالوي، چي دا کار د پښتو ژبي په بېلابېلو لهجو کي د يوې کليمې د کره او د قـــيق تلفـــظ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوولو په مقصد ډېر ګټور او ارزښتناک ګام ؤ. لکه څنګه چي «ښ» او «خ» یا «ښ» او «ش» دوه بېل ږغونه دي، «ژ» او «ځ»، «ږ» او «ګ»، «س» او «ث» هم کاملاً بېل اوازونه دي. له دې کبله باید د دوو بېلو فونیټیکو نخښو په وسیــله وښوول سي؛ او هیڅکله سره ګډ نسي.

بیلو په خپــل پښتو - انګرېزي قـــاموس کــي د عربي «ضد» ټکي تلفظ داسي لیکلئ دئ: "zidd" (بیلو ۱۰۹).

دې واقعیت ته په پام سره، چي د پښتو په ګډون د نړۍ په بېلا بېلو ژبو کي د الفبې مــروج توري (ګرافیمونه) د ژبو ټول ږغونه (فونیمونه) یو په یوه نسي افاده کولای، نو ځکه د ټولو ږغو او هجاوو د روښانه افادې دپاره یوازي د فونیټیکي الفبې او نخښو کاروَنه ضروري ګڼل کیږي؛ د مثال په توګه د انګرېزي ژبي اصلي ویوونکي «افغان» د «افګان»، «خان» د «کان»، «ســودان» د «سوډان»، «طالبان» د «ټالیبان» او «افغانستان» د «افګانیسټان» په ډول وایي. علت دا دئ، چي په دې ژبه کي د «خ»، «د»، «ت» او «غ» ږغونه نسته؛ د انګرېزانو غوږونه له کوچنــیوالي څخــه دغه راز ږغونه نه پېژني، نو ځکه په خپله الفبې کي د هغو د افـــادې دپاره ځانګړي توري او نخښي نلري. د هندوستان مشهور پښتون فیلمي ستوری- شاهرُخ خان هندوانو ته د خدای پار نیسي، چي هغه ته د «شاهرخ کهان/کان» پر ځای «شاهرُخ خان» و وایي. د «شاهرخ خان» دا غوښتنه بې ځایه نه ده؛ ځکه په هندي او اردو ژبو کي «کان» غوږ ته ویل کیږي؛ او د هندوانو په دې ناوړه تلفظ سره له «خان» څخه «غوږ» جوړیږي. په دې ډول ګورو چي، په هندي ژبه کي هم دا ستونزه د «خ» ږغ د نسته والي له کبله پېښه ده. د هندي ژبي ویوونکي هر ځای د خپلي ژبي د دې کمزوري جوړښت له مخــي «خ» په «ک» الیشــوي؛ او د همدې اړتیا له مخي هغوی «خانپور» ته هم، چي د یوه ښار نوم دئ، «کهانپور/کانپور» وایي او په خپلو سندرو کي «نخره» په نکهره/نکره» اړوي. موږ هم په پښتو کي له داسي پېچومو او مشکلاتو خلاص نه یو. زموږ د ژبي ځیني ږغونه د هغو تورو په مرسته نسي افاده کېدای، چي د ژبي په اوسني لیکدود کي جال دي. له هــمدې سببه د دغه راز اوازو د سمي او دقیقي پېژندني دپاره د ځانګړو فونیټیکو تورو او نخښو کاروَنــي ته جدي اړتیا ده. موږ په پښتو کي توره (سېلاوه، شمشېر) او توره (تور رنګه، سیاه)، زړه (دل، قلب) او زړه (تېره، پخوانۍ، ګذشته، سابقه)، سور (سور رنګه، سرخ، قرمز)، سور (بر، عرض، پهنایی) او سور (سپور، راکب، سوار) په یوه بڼه لیکو؛ خو په جلا جلا بڼو یې وایو. په پاړسي ژبه کي شــیر (شیدې/شودې) او شېر (زمری/مزری، اسد، غضــنفر)، خاستن (پورته کــېدل، درېــدل) او خواستن (غوښتل)، تیر (غشی) او تېر (پخوانی، ګذشته، ناخبره، ناګاره) او داسي نــور پــه یوه رنګ کاږي؛ اما په بېلو ډولو یې وایي. په اوردو او هندي کي هم سر(د وجـــود پاسنۍ برخه، په پاړسي کي کله)، سِر(راز، پټه خبره) او سُر/د سین په پېښ/(هغه شراب چي له وریجـو یې جوړوي)، سُر/د سین په پېښ/(هغه بوټ چي مخکنۍ برخه یې له تاره اوبي) او سُر/د سین په پېښ/(خوږ آواز، مېلوډي، آهنګ) په لیکنه کي یو ډول؛ مګر په تلفظ کي بېل دي. دا کړکېچن او ستونزمن حالتونه ټول خلګ، په تېره بیا د ژبي نوي زده کوونکي له سرخوږي او سرګنګسي سره مخامخ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو د معاصري قاموس ليکني مخکښ نظريه پرداز - لوی استاد ارواښاد عـــلامه حبيبي (۱۲۸۹ش/۱۹۱۰م – ۱۳۶۳ش/ ۱۹۸۴م) پـه ۱۳۴۵ش کال ياني له نن څخه څه د پاسه څلور لسيزي مخکي په قاموسو کي د فونيټک الفبايي سيستم په اړه داسي کښلي دي: «...بايد ګرده لغتونه په خورا دقت او احتوا او جامعيت سره را ټول کړل سي، مګر دغه ضبط او راټولول هم تر خاصو شرايطو لاندي کېدای سي، چي عمومي شرايط يې دا دي:
۱- د لغاتو حرکات او صوتي خصايص په بين المللي مکمله املأ ضبطول، چي بيا لوستونکي ته صحيح تلفظ کول آسان وي، او په هغه ډول يې و ويلای سي، چي پښتانه يې پخپله لولـــي؛ مثلاً ښه د مخ رنګ ته هم وايي، او د مرغه ښې (پر) ته هم وايي، مګر په حرکاتو او ادأ کي يـــې فرق سته. اوس موږ کله ارو، چي پښتانه نطاقان هم د دغو دوو کلمو فرق نه سي کولای، دا ځکه چي په سيند کي يې د دغو دوو کلمو د تلفظ او آواز فرقونه نه دي ضبط کړي، او دا فقط په بين المللي غوره املأ سره کېدای سي.»(حبيبي، «د پښتو سيند به څنګه ليکل کيږي؟» ، ۴.)

د بين المللي فونيټکي الفبې په مرسته د مندرجو کليمو تلفظونه ښوول په پښتو قـاموس ليکنه کي يو په زړه پوري پرمختګ ؤ، چي نور معاصر قاموس ليکوونکي يې تر هغه مهاله له نامه او ځانګړتياوو سره چندان اشنا نه وه.

په انګرېزي او نورو اوروپايي ژبو کي هم لکه څنګه چي مخکي لنډه يادونه وسوه، ددغــه راز ژبنييو ستونزو او جنجالونو مثالونه خورا ډېر دي. دا ډول مُشکلات او سرګرداني د فونيټيکو تورو او نخښو په کومک په ډېري اساني سره هواريږي؛ خو فونـيټيک توري او نخښـــي هم له ستونزو او کړاونو خالي نه دي. د فونيټيکو نخښو د کارولو لويه ستونزه دا ده، چـــي دغه راز توري او نخښي واحده او ثابته بڼه نه لري. په دې مانا، چي د بېـــلابېـلو علمي او تحقيقي مرکزو ژبپوهانو او قاموس ليکوونکو له خپل ذوق او سپارښتني سره سم د فونيټيکو نخښو په ايجاد او رواجولو لاس پوري کړی دئ. ددې کار له امله نن ګورو، چي حـتا د يوې انګرېزي ژبي په ډېرو مشهورو قاموسو لکه اکسفورډ، کېمبريج، چېمبرز، لانګمېن، ويبسټر، مکمېلن، کولينز او ډېرو نورو کي د فونيټيکو تورو او نخښو ترمنځ چندان ورته والی نه ليدل کيږي. په بله وينا د هر قاموس مؤلفانو د خپلو بومي او ځايي تلفظونو او فينالوژيکو ځانګړتياوو پر بنسټ دلوستونکو د استفادې دپاره، فونيټيک توري او نخښي غوره کړي دي.

پروفيسر جګسن او پروفيسر امويله په خپل پياوړي علمي اثر «کليمې، مانا او لغتـنامه...» کـــي د فونيټکي الفبې د ځينو نيمګړتياوو او کمزوريو په اړه داسي کاږي:
«په زيـاترو او سنييو فرهنـــګو کي د يوه ټکي يا اصـــطلاح د تلفـــظ ښـوولو دپاره له بـــين المـــلـــلي فونيټيکي الفبې(International Phonetic Alphabet) څخه کـــار اخيستل کيـــږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ب.ف.ا.(I.P.A.) پر خلاف دا استدلال کیږي، چي دا الفبې پر داسي نا اشنا نخښنو تکیه کوي، چي د هغو د تفسیر او بیان دپاره ځانګړي چارټ ته اړتیا لیدل کیږي. د مختلفو مؤسسو له خوا په وړاندي سوو فونیټیکو الفباوو کي یې د عین ټکو دپاره بېل بېل سیمبولونه ټاکلي دي. په بله وینا، په دې فونیټیکو الفباوو کي د بېلابېلو لهجوي تلفظو د افادې دپاره جلا جلا نخښني غوره سوي دي، چي دې کار د هغو پېژندنه ډېره ګرانه کړې ده. سره له دې هم، د دغه راز الفبې ښه والی په دې کي دئ، چي د هري ژبي د هر ږغ او هري نخښني تر منځ یو په یو ورته والی وړاندي کوي.» (Jackson and Amvela 194)

مالومیږي، چي د انګرېزي ویوونکو ټولنو تر منځ له ټولو علمي - تخنیکي اړېکو او پرمختګو سره سره، تر اوسه په دې برخه کي د یوه متحدالشکل او منلي معیار رامنځ ته کېدو ته، اوږده واټنونه پراته دي. له بله پلوه لکه څنګه چي پروفیسر جګسن او پروفیسر امویله یادونه کړې ده، زموږ په نالوستې یا لږلوستې ټولنه کي خو څه چي، ان په پرمختللو اوروپایي ټولنو کي هم د فونیټیکو تورو او نخښنو په مانا او سمه کارونه ډېر لږ کسان پوهېږي. مخکنیو بحثونو ته په کتو سره نتیجه اخلو، چي په قاموسو کي د کلیمو د تلفظ ښوولو دپاره هره لاره او طریقه د ځینو ښېګڼو او اسانتیاوو تر څنګ، ځیني کمزورۍ او نیمګړتیاوي هم لري.

په اوسنیو عصري قاموسو کي زیاتره د کلیمو د تلفظ ښوولو دپاره د نورو لارو چارو پر ځای له فونیټیکو تورو او نخښنو څخه کار اخیستل کیږي؛ ځکه یوازي فونیټیک توري او سیمبولونه کولای سي د هري ژبي ټول ږغونه په سم او دقیق ډول وښیي؛ خو د دې کار د بریالي تطبیق دپاره د څو شرطونو په پام کي نیول ډېر ضروري برېښي:

- لومړی دا چي د یوې ژبي هر راز فونیټیکي نخښني باید تر وسه وسه د ژبپوهانو او نورو اړونده پوهانو د نظر د یووالي پربنسټ جوړي سي. په دغه راز تورو او نخښنو کي بدلون او اوښتون هم باید، د اړونده پوهانو او څېړونکو تر علمي شننو او بالاخره ګډي پرېکړي وروسته را منځه سي.
- دوهم شرط دا دئ، چي دغه راز فونیټیک توري او سیمبولونه باید هرومرو له پراخو او ژوندیو مثالو سره د قاموسو په پیل کي بیان او تشریح سي.
- په پای کي باید د عامو خلګو د پوهاوي او اسانه استفادې په مقصد غوره سوي توري او نخښني د هیواد په تعلیمي او تحصیلي نصاب، زیاترو علمي او تحقیقي اثارو، او حتا ورځنیو عامو لیکنو کي په پراخه توګه دود سي، چي د قاموسو د مندرجو تلفظو په پوهېدو کي، له لوستونکو سره لازمه مرسته وکي.

د کمپیوټر او اینټرنیټ په نننۍ زمانه کي د ځینو قاموس لیکوونکو له خوا، د راغونډو سوو کلیمو د تلفظ د لیکلي شکل تر څنګ، د هغو تلفظونه هم په ثبت سوي ږغ کي وړاندي کیږي، چي تر لیکلي ډول ډېر اسانه، ساده او په زړه پوري کار دئ. همدا اوس د ځینو انګلیسي ډیجیټل او اینټرنیټي قاموسو مؤلفانو، د فونیټکو نخښنو په مرسته د کلیمو پر تلفظ ښوولو سربېره، د انګرېزي ژبي د یوه تلفظ پر ځای د برتانوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

امريکايي لهجې دوه معياري تلفظونه وړاندي کړي دي، چي په ريشتيا سره د انګرېزي ژبې په دوو لويو لهجو (برتانوي او امريکايي) کي د بېلابېلو ټکو د معياري تلفظ د اسانه او بې تکـليفه زده کړي دپاره خورا لوی او ارزښتناک ګام ګڼل کيږي (په ځينو انګرېزي قاموسو کي د کلـيمو د ژوندي تلفظ د اورېدو دپاره د غه ډېجيټل او اينټرنيټي قاموسونه وګورئ:

Oxford Talking Dictionary
The American Heritage Dictionary of the English Language
Collins Complete and Unabridged English Dictionary
Longman Dictionary of Contemporary English
Merriam-Webster's Online Dictionary
Random House Dictionary
MACMILLAN DICTIONARY,
Chambers Reference Online, etc.

خدای دي هغه ورځي ژر تر ژره راولي، چي زموږ په هيواد کي هم د پښتو او پارسي ژبو فرهنګونه په خپلو ډېجيټل او اينټرنيټي ډولونو کي د انګرېزي ژبي په شان، د راغــونډو سوو کليمو تلفظونه پر ليکلي ډول سربېره، په ژوندي ږغ کي هم وړاندي کړي. البته د يوه معياري ليکدود په شان بايد د کليمو د معياري تلفظو د پاره هم له پوره زغم او علمي لارو چارو کــار واخيستل سي .

## د کليمو په سم او کره وينګ کي د خج ارزښت

د نورو ژبو په شان بايد په پښتو کي هم د بېلابېلو ټکو د دقيق او کره تلفظ د وړاندي کــولـو دپاره په قاموسو کي د «خج accent/stress»مسألې ته ژور پام وسي؛ ځکه په پښتو ژبه کي هم د نړۍ د ځينو نورو ژبو په شان د ځينو ټکو او عبارتو د ويلو پر مهال پر ځيــنو څپو يــا ځينو برخو ځانګړی ټينګاريا درونډوالي راځي، چي هغه ته د ژبپوهني په اصطلاح خــج وايي. پــه پښتو ژبه کي د غه راز، زُور يا ټينګار د کليمو په بېلابېلو برخو کي ليدل کيږي. ځيـني مهال خج پر لومړی هجا لکه اور، کله کله د منځ پر سېلاب لکه اتلوالی، مېړنوالی، سوروالی او ځــيني وختونه هم پر وروستي سپوڼوي لکه پلوشه، شغله، تماشه او داسي نور. خج په بېـلابېلو ټکو او عبارتو کي د يوې کوچنۍ نخښي په مرسته ښوول کيږي،چي زياتره د يوه کاږه کوچني خط (´ )په ډول وي؛ او د اړونده هجاوو پر سر ورکول کيږي. په خواشينۍ سره تر اوسه پــوري د خج کارول زموږ په چاپي ليکنو کي ډېر لږ تر سترګو کيږي.

ځينو مؤلفانو په پښتو قاموسو کي په يوه يا بل ډول د بېلابېلو لغتو او ترکيبو د تلفــظ ښــوولو دپاره څه لاري چاري کار کړي دي؛ خو له دې امله چي د هري کليمي بېلابېل سېلابونه يې د خج په کارولو سره نه دي ښوولي؛ نو لوستونکي يې په ويلو کي له لويو تېروتنو او کــډوډيو سره مخامخ کيږي. دلته د کليمو د التباس او ګډوډۍ په له منځه وړلو کي د خــج ښوولو څــو مثالونه وړاندي کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

کډه (خج پر لومړۍ څپه )[1]د کورسامان او اسباب.[2]د کور د سامانو او شیانو لېږدونه؛ په پارسي کي کوچ، کوچ کشی.[3]مېرمن، ماینه، ماندینه، کوروالا ، کورودانه، ارتینه ...

کډه (خج یا فشار پر وروستۍ څپه )کنده، ژور ځای، ډب او داسي نور.

واړه (خج پرلومړۍ څپه )ټول،ګرده، درست؛ په پارسي کي همه؛ په عربي کي کُـــل، تمام، قاطبه، کافه...

واړه (خج پروروستۍ څپه )کوچنیان، کمکیان، ماشومان، ووړ یا وړوکی مفرد.

زړه/zṛə/ د انسان او حیواناتو په کوګل کي د وینو پاکولو او وېشلو دستګاه؛ په پارسي کي دِل؛ په عربي کي قلب. زړونه جمع.

زړه (خج پر وروستي سېلاب )/zaṛá/پخـوانۍ، تېره، مخکنۍ، د اوسنۍ پر خلاف؛ پـه پارسي کي ګذشته؛ په عربي سابقه. زړې جمع.

کوټه (په څرګند یا معروف واو ، خج پر لومړۍ څپه )[1]خره، دلۍ، لویه ذخیره، ستره زېرمــــه، انبار/ امبار، ډېران، د راغونډو سوو شیانو نا اوډل سوې مجموعه.[2]ډېر، زیات، لویه اندازه. کوټې جمع.[3]د جنوبي پښتونخوا د مشهور ښار نوم، چي پخوانۍ تاریخي نوم یې شال یا شالکوټ دئ؛ او اوس یې په اوردو او انګرېزي کي کویټه بولي.

کوټه (په اوږد یا مجهول واو ، خج پر وروستۍ څپه )خونه، هوتاک/اوتاک، په تورکي کي اطاق/ اتاق؛ په پارسي کي خانه.

کوټه (په اوږده یا مجهول واو ، خج پر وروستۍ څپه )ناچله، کلپ، له چــلنده لوېدلئ، بـــې ارزښته، بې باوره، ګډسوی، ناخالص؛ په هندي او اوردو کي کھوټا.

کوټه (په څرګندیا معروف واو ، خج پر وروستۍ څپه )د غټو سپو یوځانګړی ډول، چي زیاتره یې د جنګولو یا کور، رمو او کلاوو د ساتني د پاره روزي؛ په عربي کي عقور. د افغانستـــان د عــلومو اکاډیمۍ په پښتو - پښتو تشریحي قاموس کي یې د سپي په مانا د کوټه(kutá )کلـــیمه پـه اوږده یا مجهول واو(kotá )کښلې ده(و.ګ. امرخېل او نور، ۴ټ، ۲۷۰۵. )په داسي حال کي چي د پښتو په لوېدیځه لهجه کي یې په معروف یا څرګند واو تلفظوي. ښایي د پښتو په نورو لهجو کي په مجهول یا اوږده واو هم د دې تلفظ مثالونه او بولګې په لاس کـي وي، چي ما ته یې تر دې دمه څرک نه دئ لګېدلئ؛ خو سره له دې هم باید ، د پښتو د لوېدیځې لهجې تلفظ هیڅکله په قـاموس کي له قلمه نه وای لوېدلئ.

که په پښتو کي د واقعاً معیاري لیکدود را منځ ته کولو له پاره هڅي او کوښښونه کوو ، بیا نو تر هر څه مخکي باید د ژبي په عامو یا هراړخیزو قاموسو کي د بېلابېلو سیمو د اوسېدونکو پښتنو تلفظونه په دقیقه توګه ثبت کړو ، چي وروسته بیا د علمي څېړنو په رڼا کي، د معیاري تلفظ او معیاري لیکدود له پاره استعمال سي.

کوټه/kwáta/(خج پرلومړۍ هجا )کړکه، کوړکه، کړوکه، هغه چرګه چي له هګییو اچولو لوېدلې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو کې د داسي کليمو شمېر په پېخر دئ، چي ماناوي يې د ښېلابېلو ترکيبي برخو د تلفظ د ښېلوالي پر بنسټ، ډېر توپير مومي. د کليمو د سم او کره تلفظ په وسيله د هغو په ماناوو او مفاهيمو کې د ګډوډېيو او التباسو د مخنيوي دپاره، په قاموسو او حتا نورو ليکنو کې د يوې کوچنۍ نخښې(خج)کارول ډېرضرروي او مُهم کار دئ، که نه نو نه يوازي عام خلګ، بلکي لوستي خلګ به هم د دغه راز ټکو په تلفظ کې له ډول ډول پېچومو سره مخامخ وي.

## د کليمو له کره وينګ سره د فونيټکي الفبې او خج اړيکې

د پښتو نوي ژبني قاموسونه بايد د پښتو ټکو د کره املاوو په لړکې د هغو کليمو املاوو ته هم ښه ځير سي، چي د فونيټيکي الفبې او خج په کارولو سره يې په ماناوو کې لويه ګــډوډي رامنځ ته کيږي؛ لکه:
لوټه(خج پرلومړي سېلاب)د وچو ختېو يوه ټوټه؛ په پاړسي کې ګُلوخ.
لوټه(خج پرورروستي سېلاب) د اوبو اخيستلو لوښی، تملوت؛ په هندي، اوردو او ځينو نورو هندي الاصله ژبو کې لوټا.
جګړه(خج پرلومړی هجا )جنګ، منازعه، شخړه. جګړي جمع. دا تلفظ دپښتو په ختيځه لهجه کې باب دئ.
جګړه(خج پر وروستۍ هجا )چي په مخکنيبو ماناوو سره د پښتو په لوېديځه لهجه کــې باب دئ. جګړې جمع. په هندي ژبه کې هم د «جهګړا»کليمه د وروستۍ څپې په خــج سره ويله کيږي.
(و.ګ.: Platt 405; Zaman & Naveed289)
مالوميږي، چي د جګړې اصلي او پخوانۍ تلفظ د پښتو د لوېديځي لهجې په ډول د وروستۍ څپې په فشار سره دئ. اوس نو که څوک د لرغــونتوب او عُموميت په معيارونو پسي ګرځي، بيا نو پر ځای ده، چي دغه تلفظ نه يوازي په روښانه بــڼه په ټولو پښتو قاموسو کې وړاندي سي، بلکي پر لرغونتوب سربېره يې په ښېلابېلو ژبو کــې د پـــراخ استعمال مسألې ته هم ګوته ونيول سي.

دنده(خج پرلومړۍ څپه) وظيفه، کار، کسب، کاروبار، خواري، غريبي. د پښتو په ختيځه لهجه کې د لومړۍ هجا په فشار سره ويله کيږي. دندې جمع.
دنده(خج پرلومړي سېلاب) د تلفظ دا بڼه په مخکنيبو ماناوو سره، د پښتو په لوېديځه کې رواج ده. په هندي او اوردو کې هم دا ټکی کټ مټ د پښتو دلوېديځي لهجې په بڼه ويل کــيږي يانــې په وينګ کې يې خــج پر وروستي سېلاب دئ(دهندا )؛ او «دندې» يې د جمعي حالت دئ. (Platt 547; Zaman & Naveed 401)
شوده(په خرګند يا معروف واو. د افغانستان د علومو اکاډيمۍ پښتو ـ پښتو تشريحي قاموس دا ټکی په اوږده يا مجهول واو ليکلئ دئ)شيدې/ شودې؛ په دري کې شير(بايد هېر نه کوو ، چي په دري کې شيــر= شيدې او شېر= زمری په يوه بڼه ليکي؛ خو په ښېلابېلو ډولو يې تلفظ کوي؛ حال دا چي په ايرانۍ پاړسي کې شير= شيدې او شېر= زمری دواړه هم په يوه ډول ليکي او هم يې په يوه بڼه وايي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوده (په اوږده یا مجهول واو، خج پر دوهمه څپه) بې عقل، کم عقل، احمــق، ساده، چادي، سوډر او داسي نور. د پښتو دا ټکی له زیاترو هندي الاصله ژبو سره ګډه ریښه لري؛ او په هغــه ژبه کي هم د وروستۍ څپې په خج سره ویل کیږي.

که د زړو کلیمو پخوانۍ او اصیل تلفظ تر اوسه د پښتنو په ځینو ویونکو کي ژوندی وي، دا خبره منطقي او علمي ښکاري، چي هماغه پخوانۍ او اصلي تلفظ د ژبي په نورو لهجو کي هم جال سي؛ ځکه هر څونه چي د ژبي لغتونه، ترکیبونه او اصطلاحوي په خپله اصیله اولرغـوني بڼه رواج وي، هغونه د ژبي اصالت او سپېڅلیتا خوندي پاتیږي. البته دا د بېلابېلو ټکو د معیاري توب په مسألې پوري اړه لري، چي دلته یې د بحث ځای نه دئ. دلته یوازي د دې خبري یادونه کافي ګڼو، چي د افغانستان د علومو اکاډیمۍ د پښتو - پښتو تشریحــي قاموس په ګډون، په زیاترو پښتو قاموسو کي د دغه راز ټکو له پاره حتا د پښتو د لوېدیځي لهجې د تلفظ او املا یادونه هم نه ده سوې. له همدې کبله باید محقق او سترګه ور فرهنګ لیکوونکی د خپلو اثارو لوستونکي د دغه راز باریکو مسألو په ریښه او اساس پوه کړي؛ او د پښتو ژبي له بېلابېلو لهجو څخه د رنګارنګ مثالو او نظایرو په وړاندي کولو سره د هغو ذهنونه روښانه کي. ښایي ځیني معترضین استدلال وکړي، چي دغه راز ټکي خو د بېلابېلو تلفظو په لرلو سره، د پښتنو په ټولو لهجو کي یو ډول املا لري، نو ځکه د اند ښښني وړ ستونزه او ګډوډي نه پېښوي. دا خبره سمه ده، چي پښتـانه نن سبا دغه ډول ټکي ټول په یوه متحد الشکل او معیاري لیکدود کاږي؛ مګر ګډوډي او مشکل هغه مهال راولاړیږي، چي د قاموس مؤلف د لیکسیکوګرافۍ له نوي مېتودولوژۍ سره سم په خپلو قاموسو کي د هر ټکي د کره او معیاري تلفظ ښوولو د پاره فونیټیک توري او نخښي وړاندي کړي؛ او د کلیمو په بېلابېلو برخو کي د خج موقعیت څرګند کړي. که په قاموسو کي دې ارزښتناکو مسألو ته پام و نسي، د کلیمو د سم او معیاري تلفظ پېژندنه او زده کړه موږ ټولو ته په لوی رېړ او سرخوږي اوړي. علمي قاموس لیکنه په ټینګه د دې غوښتنه کوي، چي په داسي حالاتو کي باید تل د تنګ نظرییو، تعصبونو او سرسري چال چلند پر ځای ژورو او هر اړخیزو پلټنو ته پام وســي؛او د علمي معیارو له مخي سره او ناسره سره بېل سي.

## په قاموسو کي د را ټولو سوو ټکو د کره املاوو بېلابېل اړخونه

د ننني فرهنګ لیکني بل مهم اصل دا دئ، چي لوستونکو ته په قاموسو کي د بېلابېلو ټکو، ترکیبونو، تعبیرونو او اصطلاحاتو معیاري یا کره املاوي وړاندي کړي. ځیني وختونه په اشعارو او نظمونو کي د قافیې د اړتیا له مخي، د مختلفو ټکو د املاوو ناسمو شکلو ته ځای ور کړل سوی وي. شاعرانو په داسي حالاتو کي اکثراً د وزن او آهنګ پر بنسټ قافیه تړلې وي، نه د ټکو د املایي جوړښت له مخي؛ لکه:

دمظلـوم د آزار غشی رســـا لګي
هیڅ ګوزار یې خطا نه درومي عـبس

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د حمید بابا د دیوان خطي نسخه)

ځیني مهال د کلیمو سمه او کره املأ په شعرونو کي په لنډه یا مخـــففه بڼه راغلي وي؛ لکه: «غه»چي د «هغه»/ «دغه»، «برخ»د «برخه»، «براهیم»د «ابراهـــیم»، «سمـــاعیل» د «اسماعیل/اسمعیل»دپاره په مخففه بڼه کار سوي دي. تر دې شعـــري اړتیـــاوو او مجبوریتو چي تېر سو، د بېلابېلو لهجو په بڼه د کلیمو صرفي تطور او رنګارنګي هــم د ډول ډول لیکدودو او املایي جوړښتو د را منځ ته کېدو ستونزه پېښوي؛ مثلاً: ښنېل، ښینېل، چنېل، چینېل، شکل، چکل، موږ، مونږ، موږ، موږ،موک، میږ، مینګ، میګ، ښېنتن، ښېښتن، چېنتن، چینتن، تېنتن، تېښتن او داسي نور.

## په پښتو ټکو کي ځای بدلوونکي توري

په پښتو کلیمو او ترکیبو کي ځیني توري د بېلابېلو سیمو او لهجو پر اساس خپل ځای اړوي، چي پېژندنه یې د قاموس لیکني په کار کي ډېره ضروري ده. دلته یې یو څو مثالونه او بولګې بې ګټې نه دي:

ز-غ: ازغی-اغزی، مازغه-ماغزه، مزغی-مغزی.

و -ل: ولېدل-لوېدل، ولېشت-لوېشت، سولاغه-سلواغه، ولړه-لوړه.

ځ-م: ځمکه-مځکه، ځمری[زمری]-مځری[مزری].

و - ر: اروي-اوري، روځ-ورځ، واروه-واوره، ورک- روک.

غ-ب: غبرګ-بغرګ، غبرګولی-بغرګولی.

ښ-ک: ښکته-کښته، ښکل-کښل، ښکلی-کښلی.

ړ-و: زړوکی-زوړکی، غړوندی-وړغندی.

خ-س: ماخستن-ماسختن، خسا-سخا، خسنې-سخنې، خوسی-سخی، خسر-سخر.

خ-ښ: خښ-ښخ، خښول-ښخول او ځیني نور لکه: پسرلی-سپرلی، بخره-برخه، سلګی-سګلی، ښینه-ښپه (الفت ۱۷-۱۸).

د اروا ښاد استاد سیدګل پاچا الفت (۱۲۸۷-۱۳۵۲ش) له «لغوي څېړني» څخه مـو دا څو بولګې او مثالونه یوازي د تورو د اوښتو د اثبات دپاره راوړه؛ ځکه په پښتو کي د تورو اوښتو پر بېلابېلو تاریخي او ژبنیو اړخونو خبري، ژوره ایتیمولوژیکه او مورفالوژیکه څېړنه غـواړي، چي په دقیقه توګه د تورو د الیشېدو او اوښتون ټولي ځانګړتیاوي او پراوونه وښیي. له دقیقو اتیمولوژیکو او فیلالوژیکو څېړنو پرته د دې حقیقت زباتول ډېر ګران دئ، چي د بېلابېلو ټکو اصلي او پخوانۍ بڼه کومه ده؛ او د زمانو په تېرېدو سره په کوم شکل یا شکلو اوښتې ده؟

د تورو د الیشېدو تر ځینو نمونو وروسته، په پښتو کي د تورو د لوېدو(حذف کېدو) ځیـــني مثالونه هم وړاندي کیږي، چي پېژندنه یې په پښتو قاموس لیکنه کي ډېره ګټوره او په زړه پوري ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ا: شاربل - شربل، غارمه - غرمه، کولای - کولی، کښېناستل -کښېنستل.
- ب: اوبدل - اودل، بخښل - ښښل، بخښنه- ښښنه.
- پ: پلټوونکی -لټوونکی، پسور - سور، خپور - خور، سپور - سور، خپرول - خورول.
- د: سیند - سین، ځلاند - ځلان، کیندل-کینل.
- ر: تري - تې، پري - پې، برسېره - بسیره، پرېږ- پېږ.
- ړ: پرېږدئ - پرېدئ، کښېږدئ- کېدئ.
- ښ: ښکنځل - کنځل، کښېنستل-کېنستل، کښېښوول -کېښول.
- ک: اوښکي- اوښي، پاتي کیږي - پاتیږي، ویلي کېدل - ویلېدل.
- ن: نمرې - مرې، نمونځ - مونځ، استوګنه - استوګه، نمانځل - مانځل.
- و: وروسته - روسته، ورور- رور، وروست- روست، نوموړی-نومړی، پوزه- پزه، لوڅ -لڅ، روڼا - رڼا ، کوم - کم، ولاړ - لاړ.
ی: ژېړ- ژړ، لیري –لري (الفت ۱۷-۲۱). «وسرې» ، «ګرسره» ، «درنه»او داسي نور هم د دغه راز ټکو په ډله کي دي، چي خلګ يې د ځينو تورو د دروندوالي او ګرانۍ له کبله اوس په خپلو پخوانييو بڼو ( وسترې ،ګردسره، درنده ) نه وايي. داسي بدلونو ته په پام سره باید قاموس لیکوونکي د دغه راز ټکو اصلي او الیشه سوي بڼه دواړه په قاموسو کي را غونډه او تشریح کړي.

## په پښتو ټکو کي د ځینو تورو د خپلمنځي الیشېدو یا بدلون مسأله

پښتو قاموس لیکوونکي باید په ځینو پښتو ټکو کي د تورو د الیشېدو یا بدلون په مسأله ښه پوه وي؛ او په خپلو اثارو کي يې د ژوندییو مثالو په راوړلو سره څرنګوالی روښانه کي. دلته د پښتنو د وتلي شاعر، ادیب او ژبپوه - استاد الـــفت(۱۲۸۷- ۱۳۵۲ش ) د «لغوي څېړني»په رڼا کي، په پښتو ټکو کي د ځینو تورو د اوښتون یو څو مثـــالـــونه وړاندي کوو:
ت - ل: چاته- چاله، ماته - ماله، راته - راله.
ټ - ډ: ارهټ- ارهډ ، وټ - وډ ، لاټو -لاډو.
ث - ت: ثښتن- تښتن، ثښېته - تښېته، ثښتېدل- تښتېدل.
څ - س: سانډو - څانډو ، سرک - څرک، څته- سته، سبرلی - څبرلی.
ش - س: وشو - وسو ، شته- سته، مشر - مسر ، واخیشت -وا خیست، وشاړه - وساړه.
ښ - ک: ښنل - ښکل، ښناک- ښکاک، ښنېدل- ښکېدل.
غ- ګ: کارغه -کارګه، پرتوغاښ- پرتوګاښ.
غ - خ: غاټول- خاټول، ستوغ- ستوخ.
ل- ر: ملګری/[مرګلی]- مرګری، ملغلره- مرغلره.
ل - ړ: شوملي- [شلومبې]/شومړي، شپالس- شپاړس، چپلاخه - چپړاخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

م-و: مينځه-وينځه، مينځل-وينځل، ورغومی-مرغومی.

ن-ل: نمر-لمر، نمسی-لمسی، نونس-نولس، ناړي-لاړي، جنغوزي-جلغوزي.

ن-م: نښتل-مښتل/[موښتل]، نښلول-مښلول/[موښلول]، لندول-لمدول.

ڼ-ړ: ښښګڼه-ښښګړه، چنډڼ-چنډړ، ځپڼه-ځپړه.

و-ب: وياله/واله-بياله، وږه-بږه، وېدېدل-بيدېدل.

هـ-ا: هګۍ-اګۍ، هديره-اديره، هځه-اځه.

ی-و: ميندل-موندل، شيدې-شودې، تاسي-تاسو، سېزل/[سېزځل]-سوزل/[سوځل]، پيشي-پيشو.

برېنډ-برمنډ، بګړۍ-پګړۍ، شوکاري-نوکاري، بډوډي-بډوکي او داسي نور د تورو د اليشېدو ځيني نور مثالونه دي (الفت ۱۲-۱۲).

د تورو د موقعيت اوښتو په شان، دلته هم د دې خبري يادونه ضروري ده، چي په دغه ليست کي د تورو په اوښتـون سره د کليمو د اصلي او اليش سوي ډول مالومول، ژوره ايتيمولوژيکه او مارفولوژيکه شننه غواړي.

## د کليمو پر مانا د تورو او ليکدود اغېزه

قاموس ليکوونکی بايد د ځينو ټکو کره املايي بڼه د توضيحاتو په وړاندي کـولو سره روښـانه کړي؛ مثلاً «ختيځ» او «لوېديځ» هغه دوې کليمې دي، چي نن سـبا په پښتو خپرونو کـي د عربي ژبي د شرق او غرب پر ځای کارېږي. زياتره پښتانه دا دوه ټکي د «ختـيز» او «لوېديز» په بڼو هم وايي او ليکي؛ خو په دغه راز ګړدود او ليکدود سره يې ايتمولوژيک او مورفالوژيک جوړښت لوی زيان رسيږي؛ ځکه د دې دوو ټـکو ترکـيبي جـوړښت اصلاً په دې ډول دئ:

«خت» د «ختل» له مصدر څخه د لمرخـتو په مـانا او د «ځ» وروسـتاړی يا شاوندی (suffix) د ځای په مانا دئ، چي د پښتو په ډېرو ترکيبي ټکو کـارسوی دئ. «لـوېـد» د «لـوېدل» لـه مصدر څخه د لمرلوېدو په مانا او د «ځ» ظرفي وروستاړی د مخکني مثال په شان د ځـای په مانـا دئ، چي په ډېــرو ترکيــبي ټکو کي په مخففه يا اختصاري بڼه کارېږي. په دې توګه بايد په دغه راز کليمو کي د «ز» او «ځ» تر منځ توپير ته پوره پام وسي. ځيني وختونه د دې تورو په ګډوډولو سره د ښلابېـلو ټکو په ماناوو کي لويه ګډوډي او التباس پېښېږي؛ لکه: «ځه!» او «مځه!» کليمې، چي په واقعيت کي امـريه صيغې دي يا «ځه ځه!»، چي د نفي او انکار پر مهال ويـل کيږي يا د «ځوَر» ټکی، چي د «ځورول» له مصدر څخه د ربړولو، کړولو، ازارولو، تنګولو او داسي نورو په مانا خورا ډېر استعماليږي. اوس نو که چيري ياد سوي ټکي د «ځ» پر ځای په «ز» سره وکښل سي، نو به د «ځـه» پر ځای «زه»، د «مځه» پر ځای «مزه»، د «ځه ځه» پر ځای «زه زه» او د «ځوَر» پرځـای «زور» لاس ته راسي، چي هر يو يې د مانا په لحاظ له هغو ټکو څخه کاملاً بېل دئ، چي په «ځ» بايد وليـکل سي. د داسي التباسو شمېر لږ نه دئ.

په خواشيني سره د پښتو په ځينو لهجو کي د دې ستونزي تر څنګ، د «س» او «ښ» د اوازونو تر منځ هم توپير نه کيږي. ګران لوستونکي د سر په سترګو ګوري، چي که «کوښـه»، «ښه»، «ښانګه»، «ښـوک» او داسي نور ټکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په «س» سره و ویل یا وکښل سي، له هغو څخه «کوسه»، «سه»، «سانګه» او «سوک» جوړیږي، چي کاملاً بېلي او جلا کلیمې دي؛ او په استعمالولو سره یې زموږ په خبرو او لیکنو کي د مانوي التباس لو یه ستونزه را ولاړیږي. تاسي وګورئ د دغو ټکو تر منځ د تلفظ ګډوډي او التباس، د استعمال سوو کلیمو په مانا او مفهوم کي څونه لوی ربړونه او کړاونه را منځ ته کوي: «ښادي» په «ښ» سره خوښی او خوشالی ته وايي؛ «شادي» په «ش» سره بیزو (په پاړسي کي میمون) ته وايي؛ او «خادي» (د خاده جمع) کاملاً بېل ټکی دئ یا «شندل» په «ش» سره پاشل (په پاړسي کي پراګندن) ته وايي؛ «ښندل» په «ښ» سره بخښل (په پاړسي کي بخشیدن) ته وايي؛ او «خندل» موسکا یا خندا کولو (په پاړسي کي خندیدن) ته وايي (حبیبي، «لمنلیکونه،» د دارمیستتر پښتو څېړني، ۴).

ښېله شکه که د پښتو ژبي هر ټکی، عبارت، ترکیب او اصطلاح له ګردو لهجه یې وریانتهو سره په جلا جلا ډول قاموسو ته لاره پیدا کړي، دا کار به د پښتو قاموسو لمن دونه لویه او ارته کړي، چي له اقتصادي پلوه به د قاموسو چاپول او رانیول د عامو خلګو تر توان او وس ډېر وتلئ وي. که څه هم د قاموس لیکني په اوسني پرمختللي پېر کي دې هدف ته رسېدل زیاتره د ژبو د لهجه یې قاموسو د تدوین او تألیف له لاري کیږي؛ خو سره له دې هم باید د پښتو ژبي په مفصل او تشریحي قاموس کي د کلیمو د بېلابېلو تلفظو لنډه یادونه له پامه ونه غورځول سي؛ او د هر ټکي جلاجلا وریانتهونه په قاموسو کي د کراس ریفرینس له لاري تر ټولو کره یا معیاري تلفظ ته ارجاع سي؛ د مثال په ډول:

زبه: و.ګ.: ژبه

جبه: و.ګ.: ژبه

او داسي نور.

ژبه د ټولنیز موجود په توګه تل له طبیعي (اقلیمي او جوي بدلونو، مهاجرتو) او غیرطبیعي (سیاسي، اجتماعي، فرهنګي، فکري، اقتصادي او داسي نورو) عواملو سره ګام په ګام څېره اړوي. دا بدلونونه د کلیمو د مانوي (معنوي) پولو پر اوښتو-را اوښتو سربېره، د هغو په وینګ، لیکدود او نورو ځانګړتیاوو کي هم د کتني وړ تحولات او تغییرات را منځ ته کوي. له همدې کبله د نړۍ په زیاترو ژبو کي د بېلابېلو ګړدودو (لهجو) شاهدان یو. په ژبه کي را پیدا سوي لهجې بیا هم د زمانې په تېرېدو سره د ډول ډول طبیعي او غیرطبیعي عواملو پر بنسټ یا د نورو پیاوړو ژبو او فرهنګي جریانونو د اغېزو په سبب د نابودۍ او زوال خواته ګام ږدي یا د خپل جغرافیایي جلاوالي او کلتوري پیاوړتیا په مرسته د یوې نسبتاً بېلي ژبي په بڼه خپل موجودیت ته دوام ور کوي. د لهجه یې کمزورۍ او خورورتیا پر خلاف، د یوې ژبي د بېلابېلو لهجو تر منځ نیژدې والی او ټینګ اړیکی، په پای کي د یوې معیاري ژبي له لاري د بېلابېلو لهجو د ډېرو ښېګڼو د ادغام او اشتراک امکانات برابروي. البته له بېلابېلو لهجو څخه د یوې واحدې معیاري ژبي جوړېدل، ډېر اوږد او تدریجي بهیر دئ، چي پر له پسې هڅو او نه ستړي کېدونکو کوښښونو ته اړتیا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په قاموسو کې د کلیمو او ترکیبو املایي وریانتونه

د بېلابېلو لهجو او ډول ډول لهجه یي وریانتو پراخ استعمال نه یوازي په پښتو، پارسي، عربي او نورو ختیځو ژبو، بلکې په اوروپايي ژبو له هغې ډلې څخه په انګرېزي ژبه کې هم ډېره جدي او په زړه پورې مسأله ده. تر هغه مهاله چې ژبې یوه کره او په بشپړه مانا منلې معیار ته نه وي رسېدلې، تر هغو به په ژبنیو قاموسو، په تېره بیا مفصلو او مشرحو قاموسو کې د بېلابېلو لغتو د لهجوي تلفظو او لهجوي لیکدودو پېژندنه ډېر ضروري او پر ځـای کار وي؛ مثلاً په پښتو ژبه کې ژبه، زبه او جبه؛ ژلۍ/ږلۍ، زلۍ او ګلۍ؛ ژوند، زوند او جوند؛ ژور، زور او جوړ؛ ژوبل، زوبل او جوبل؛ کښلئ، ښکلئ او خکولئ او داسې نور، چې د عینِ کلیمو بېلابېلو تورو او ږغونو د طبیعي او غیرطبیعي عواملو پر اساس، ډول ډول شکلونه اخیستې دي.

د پښتو او پارسي ږغو ترمنځ هم د تبدیلۍ ډېر مثالونه لرو؛ مثلاً د «خانه» له پاره په خراساني لهجه کې «خُنه»، په رازي او پښتو کې «خونه»، په لري او وزیري لهجه کې «خـینه». په دې لهجوي اِمالو کې «و» په «ی» او «الف» په «و» سره اوړي؛ مثلاً موږ وایو: «لار»، دوی وایـي: «لور»، موږ وایو: «اور»، دوی وایي: «ایر» (د بشپړ مالومات د پاره وګورئ: حبیبي، «د پښتـــو لغوي تطور،» کابل، ۱۴۰).

په دې توګه، په قاموسو کې د کلیمو تر معیاري لیکدود لاندې، د لازمو توضیحاتو او مالوماتو تر څنګ د ژبې د لهجوي املاوو او تلفظو یادونه، ګټوره خبره ده. لوی انګرېز افغان پېژندونـکي - جګړن راورټي (۱۸۲۵-۱۹۰۲م) تقریباً یوه نیمه پېړۍ مخکې په خپل پښتو لارښود، پښتو ګرامر او انګرېزي - پښتو قاموس کې د پښتـو د لوېدیځي او ختیځي لهجې تلفظو ته اشاره کړې ده.

لکه څنګه چې مو د تلفظ په اړه په مخکنیو خبرو کې لنډه یادونه وکـړه، په انګرېزي کې هم دا لهجوي تلفظونه او املایي سیستمونه تر اوسه پورې په خپل ټول قوت او شدت سره ژوندي دي. مک آرتر، په خپل مشهور اثر "The English Languages, 1987" کې د انګرېزي ژبـې (۵۹) بېلو لهجو ته اشاره کړې ده، چې د برتانوي انګرېزۍ، امریـکایي انګرېزۍ، کاناډایـي انګرېزۍ، د کارابین انګرېزۍ، افریقایي انګرېزۍ، د جنوبي اسیا د انګرېزۍ، د ختیځـي اسیـا د انګرېزۍ او د استرالیایي انګرېزۍ په لویو ډلو پورې اړه لـري. (Jackson and Amvela 141)

د انګرېزانو او امریکایانو ترمنځ د بې شمېره ټکو په تلفظ، لیکدود او ماناوو کې دا اختلافـونه د نامتو انګرېز لیکوال او ډرامه لیکوونکي - جورج برنارډ شا او آیرلنډي لیکوال - اوسکار وایلډ پــه عالمانه خبرو کې په خورا ښه بڼه بیان سوي دي. برنارډ شا وایي: «انګـلستان او امریکا دوه داسې هیوادونه دي، چې د یوې ژبې (انګرېزي) په وسیله سره بېل سوي دي.» وایلډ لیکي: «په ریشتیا سره د انګرېزانو او امریـکایانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر منځ، بې ژبې نور ډېــر څــه کــېږ دي. » (د بشپړ مــــالومات د پـــاره و.ګ.: www.afgazad.com معـــــروفي)

په خوښۍ سره د لروبر پښتنو په لیکدود کې پخواني توپیرونه اوس د افغانانو د نیژدې اړیکو په برکت تر زیاتې کچې لږ سوي دي؛ او د هري ورځې په تېرېدو سره د لا لږېدو په حال کې دي. معاصر قاموس لیکوونکی باید هرومرو داسې توپیرونو ته پام وکي؛ او له د خپلو قاموسو له لستونکو سره د ځینو ضروري ژبنیو او ادبي مسألو په حل کی مرسته وکړي. البته لهجوي قاموسونه ځانته خپل ځای لري، چې د لهجوي توپیرونو د شنني او څېړني دپاره ډېر ګټور مالومات وړاندي کوي؛ خو د کلیمو د معـیاري لیکدود تر څنګ د لهجوي وریانتېونو پېژندنه هم د قاموسو لوستونکو ته له دلچسپۍ خالـي نه ده (په افغانستان کې د لهجوي قاموس د یوې نمونې له پاره و.ګ.: د شاه عبدالله بدخشـــي «د افغانستان د ځینو ژبو او لهجو قاموس»). د پارسي ژبې په پخوانیيو فرهنګو کې، د سید محمد علي داعي الاسلام «فرهنګ نظام» هم د پارسي ژبې ځیني لهجوي تلفظونه را غونډ کړي دي.

## د کلیمو پخوانۍ او اوسنۍ املاوي

د پښتو ژبې اوسني قاموس لیکوونکي باید د یوه ټکي د ښلابېلو املایي وریانتېو تر څنګ د یوې کلـیمې پخوانۍ او اوسنۍ بڼې هم په ګوته کې؛ مثلاً «بخره» او «برخه»، « مزرې» او «زمــرى» ، «نمازدیګر» ، «مازدیګر» ، «مازیګر/ماځیګر» ، «نمازپښین» ، «ماپښین/ ماسپخین» ، «معنی» ، « معنا» ، «مانا» ، «شهر» ، «ښهر» ، «ښار» ، «پاتو» ، «پاته/ پاتي» ، «اروېدل/ اورېدل» ، «وهـېر» ، «هـېر/ وېر» او په لسګونو نور ټکي، چې د تورو د ابدال او تقلیب له امله یې د زمانو په تېرېـدو سره، املایي جوړښت او جولې هم الیشي سوي دي. د پښتو ادب د منځنـۍ دورې په زیاترو اثارو کې د مخکنییو ټکو پخوانۍ بڼې داسې راغلي دي:

چه د عمر و رفتن ته څـــوک نظـــر کا

دا به وائی چه آفتاب د *نمازدیګر* دئ

(د رحمان بابا د دیوان خطي نسخه)

لېــونی به لېونــی نهٔ عالــــــمه !

که ئې *بخره* وای له عقل و فرهنګه

(د خوشال خان خټک د دیوان خطي نسخه)

زه خو شرابي یم شېــــخه څه را سره جنګ کړې !

*بخرې* ازلي دي کاشکې مـا د ځان په رنګ کړې !

(د خوشال خان خټک د دیوان خطي نسخه)

*مزرې* کله پرهېـــــزګــار دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو راغلي په خپل ښکار دي
(د خوشال خان ختک د ديوان خطي نسخه)

موږ باید د طبیعت او ټولنې د بدلون او پرمختګ له قوانینو سره سم، په دې خبره سر خلاص کوو، چې د زمانو په تېرېدو سره د کلیمو په مانوي او شکلي پولو کې راز راز بدلونونه راځي. ځینې کلیمې له هر ډول طبیعي او غیرطبیعي بدلونو سره سره تر پېړیو پېړیو پورې خپل اصلي شکلونه خوندي ساتي؛ خو ځینې نورې بیا د ډول ډول تغییراتو پر بنسټ پخوانۍ خبرې څه ناڅه اړوي. په پای کې خلګ هغه څه د معیار په توګه مني، چې دبلاغت او فصاحت غوښتنو ته مثبت جواب ووايي. په بل عبارت، د کلیمو او ترکیبو هغه شکلونه د معیار په توګه منل کیږي چې ساده، اسانه، ښکلي او مانادار وي؛ اماد يوه دقيق او سترګه ور قاموس لیکوونکي رسالت او مسوولیت دادئ، چې خپلو لوستونکو ته د راغونډو سوو ټکو پر معیاري یا ډېرو مروَجو املاوو سربېره، د هغو بېلابېل ډولونه او وریانتونه هم وښيي. دا کار په نوو قاموسو کې د کراس ریفرینس په مرسته کیږي، چې مخکې مو د لهجوي تلفظونو په بحث کې هم يادونه وکړه.

## په پښتو کې د مشترکو او پردو ټکو لیکدود

په پښتو ژبه او ادب کې کله کله ځینې داسې ټکي هم کاریږي، چې یا له سنسکریت، هندي، پنجابي او نورو هندي الاصله ژبو سره ګډه ریښه لري یا د هغو ژبو له لارې زموږ ژبې ته راننوتي دي؛ لکه: میا، جګړه، سیکړه، اتکړه/ اتکړی، بېړی، منج، ساد، سادو، ډُول، ډنډوره، ګوبی، دوبي، سړک، ټګ، کنګال، شوده (په اوږده یا مجهول واو)، سوډر او داسې نور. ښېتانه قاموس لیکوونکي باید د دغه راز ټکو املا کټ مټ له هغه تلفظ سره سم ولیکي، چې په پښتني محیط کې دود ده نه د داسې ټکو د بهرنیو استعمالوونکو د تلفظ یا تلفظونو له مخې، چې زموږ د ژبې له فینالوژیکي ارزښتونو او ځانګړتیاوو سره سمون نه لري. دلته دا خبره هم د یادونې وړ ده، چې د اروپايي ټکو په ګډون باید له هغو ټکو او ترکیبو سره هم د همدې قاعدې له مخې چال چلند وسي، چې له نورو پردو ژبو څخه راغلي وي؛ ځکه د کلیمو په ایتیمولوژیکه څېړنه او شننه کې زیاتره له داسې مواردو او حالاتو سره مخامخ کیږو، چې ځینو کلیمو بېلابېلو ژبو ته د ننوتو پر مهال څو واره څېره اړولې وي؛ د مثال په توګه په انګرېزي کې داسې کلیمې ډېرې دي، چې دې ژبې ته وروستی ځل له زړې فرانسوي، یا جرمني او هالنډي ژبو څخه ننوتي دي؛ خو تر لږ پلټنې او تحقیق وروسته مالومیږي، چې دا ټکي په اصل کې له لاتین ژبې څخه زړې فرانسوي، جرمني، هالنډي او ځینو نورو ژبو ته ورغلي دي. که د همدغو ټکو په تېرو نیکه ګانو پسې یو څه نوره پلټنه او ګروېږنه هم وسي، نو په پای کې دا حقیقت هم تر ګوتو کیږي، چې اوسنۍ انګرېزي ته ځینې ورغلي ټکي اساساً له یونانۍ ژبې څخه لاتین، بیا زړې فرانسوي، انګلوساکسن او نورو ژبو ته ننوتي او تر ډېرو پړاونو وروسته، په نسبتاً بېله بڼه اوسنۍ انګلیسي ته رسېدلي دي. له دې کبله چې پخواني تلفظونه او لیکدودونه د زمانو په تېرېدو سره تر ډېره حده اوښتي دي، نو ځکه دا خبره منطقي برېښي، چې د دغه راز ټکو، ترکیبو او اصطلاحاتو په څو پښته پخوانیو ریښو او زړو تلفظو پسې سر خوږ نه کوو. له

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله پلوه، مونږ د خپلو ځانګړو فینالوژیکو ارزښتونو او اړتیاوو په لرلو سره، له لویه سره د نورو ژبو د ځینو ټکو اصلي تلفظ ته جوړ نه یو. له دې سببه باید هغه تلفظ معیار وګرځوو، چې زمونږ عامو خلکو ته اسانه، لنډ او خوږ وي؛ او په دې جنجالو ځانونه ستړي نه کوو، چې د پلاني ټکي پلار او نیکه په اصل کې له انګرېزي یا فرانسوي څخه نه، بلکې له لاتیني یا یوناني څخه را ټوکېدلي دي؛ او له دې کبله یې باید هرومرو د لاتیني یا یوناني ژبو د ویوونکو په شان تلفظ کوو؛ مثلاً زمونږ ځیني ژبپوهان د «ډاکټر» کلیمه، چې په عام ډول د طبیب او په خاص ډول د پي ایچ ډي ډیګرۍ د څښتن له پاره استعمالیږي، د «دوکتور» په بڼه لیکي؛ اما په دې خبره سر نه خلاصوي، چې دا ټکی زمونږ ژبې ته له لاتیني یا یوناني څخه نه، بلکې له انګرېزي ژبې څخه راغلئ دئ؛ او زمونږ ټول پښتانه یې هم د «ډاکټر» په بڼه وایي. د دې خبرې په ریښتیاوالي کې هم شک نسته، چې هر نوی تر زاړه او هر نیژدې تر لیرې غوره دئ. ایرانیانو ته دا ټکی د خپلو ژبنیو ځانګړتیاوو له مخې د «دکتر» په بڼه ساده او اسانه دئ، نو ځکه یې د تلفظ او املا دپاره همدا لاره غوره کړې ده، چې معقول او پر ځای کار دئ؛ خو مونږ ته هیڅکله نه ښایي، چې په دې کار کې د هغو پېښې وکوو. پښتانه د ایرانیانو او نورو پارسي ژبو پر خلاف د «ټ»، «څ»، «ځ»، «ډ»، «ړ»، «ښ» او داسې نورو ږغونو په وینګ کې هیڅ راز ستونزه او پېچومه نه لري. له دې امله مجبور نه دي د اوروپایي او نړۍ والو ټکو په تلفظ او املا کې د هغو پر پله پل کښېږدي.

لکه څنګه چې د پښتو او نورو هندي الاصله ژبو د ځینو مشترکو ټکو په اړه اشاره وسوه، د پارسي ټکو په املا کې هم باید هغه لاره غوره سي، چې زمونږ له ژبنیو ځانګړتیاوو سره سمون ولري. په بله وینا لکه څنګه چې پښتانه مجبور نه دي «میاږ»، «جګړه»، «کنګال» او داسې نور ټکي د هندیانو په څېر ولیکي، په همدې ډول مجبور نه دي، چې د پارسي ژبې ځیني ټکي هم هرومرو د پارسي ویوونکو په شان وکاږي. مونږ باید په خپل لیکدود کې تر هر څه مخکې د خپلو خلکو د اسانتیا اړخ په پام کې ونیسو.

### د معیاري لیکدود په غوره کولو کې د فینالوژیکو ځانګړتیاوو او ټولنیز تړون ارزښت

د ښوونې او روزنې اسانه او ساده لار دا ده، چې د هرې ژبې لیکدود د ږغپوهنې د قواعدو له مخې وټاکل سي. دا خبره هر چا ته روښانه ده، چې په هره ژبه کې د شیانو او پېښو د ښوولو او پېژندلو دپاره ځانګړي ږغونه کارېږي، چې د هغو په پیدا ایښت او بدلون کې بېلابېل عوامل او سببونه لاس لري. د کلیمو د وینګ او لیکدود په چارو کې د ږغپوهنې یا فینالوژۍ(Phonology) له قواعدو او لارښوونو څخه لیرې والی د ژبې په زده کړه کې ډېرې لویې ستونزې او کړاونه را منځ ته کوي. د یوه پښتانه کوچني ذهن په هیڅ ډول دا نسي منلای، چې د مورني تلفظ له مخې په خوله «غورمه»، «مالوم»، «الوا» او «تالیب» وایي؛ خو په لیکنه کې یې «قورمه»، «معلوم»، «حلوا» او «طالب» ولیکي. البته د دې کار علت او سبب، لکه څنګه چې مخکې هم اشاره وسوه، دا دئ چې مونږ په خپله ژبه کې د «ق»، «ع»، «ح»، «ط» او داسې نورو په څېر ږغونه نه لرو، نو ځکه مجبور یو، چې د ټولو انسانانو د طبیعي او غریزي عکس العمل په څېر یې، په خپله مورنۍ ژبه کې، په ورته یا نیژدې مخرجو واړوو. د نړۍ په ګردو ژبو کې د دې ستونزې ډول ډول مثالونه ګورو. په پارسي کې په خوله «روستم»،

(c) ketabton.com: The Digital Library

«سوهراب»، «هونر»، «ګونا» او «ګومان»...وايي؛ خو په ليکنه کي يې د «رستم»، «سهراب»، «هنر»، «ګناه»او «ګمان» په بڼه کارېږي يا د «پښتون»، «ږغ»، «جګړه»، «څارنوال»، «ځلمی»او داسي نورو په شان کليمې د «پشتون »، «ژغ»، «جګله/ جګره»، «سارنوال»، «زلمی» او داسي نورو نيژدي مخرجو ته اړوي. په عربي کي هم د تلفظ او ليکدود تر منځ د توپير او بېلوالي له امله د «تلوېزيون»، «ويکټوريا»، «کمپيوټر»، «پاور»او داسي نوري کليمې د «تلفيزيون» ، «فيکتوريا»، «کمبيوتر» او «باور»... په بڼه وايي. په انګرېزي کي مو هم مخکي د کليمو د تلفظ او املا په اړه ځينـي مثالونه او بولګې وښوولې، چي ټولي يې د ږغپوهني له پلوه د يوه ليکدود د کمزورۍ او نيمګړتيا په مانا دي. هره څونه چي د يوې ژبي ليکدود د هغې له ږغو او اوازو سره سمون يا نيژدې والی ولري، په هغونه اندازه د ښووني او روزني او خپلمنځي پوهاوي په کار کي اساني او پرمختګ پېښيږي. البته سره له دې علمي دلايلو، د ږغپوهني له لارښوونو او قواعدو سره سم هم د ژبي د ليکدود غوره کول له بېلابېلو ربړو او کړاوو خالي نه دئ. تر ټولو مخکي، که د ژبي ليکدود د هري سيمي يا هري لهجې د خاصو فينالوژيکو ارزښتو او اړتياوو لـه مخي وټاکل سي، بيا نو د يوې معياري ژبي او يوه معياري ليکدود د را منځ ته کولو په لار کي لويي ستونزي او پېچومي پيدا کيږي؛ د مثال په توګه د ږغپوهني له قواعدو سره سم هغه څوک چي د خپل لهجوي تلفظ پر اساس په خوله «مونګ»، «ګـيره»، «جـبه»، «اوخ»او داسي نور وايي، بايد په ليکنه کي يـې هم د «موږ»، «ږيره»، «ژبه»، «اوښ»او داسي نورو په شان و نه کاږي، چي اوس د زياترو افغانانو په منځ کي د ژبنيو قواعدو، ټولنيز تړون او اوږده طبيعي پرمختګ پربنسټ د معيار په توګه منل سوي دي. د فينـالوژيکو قواعدو او لارښوونو لـه مخي ژبي ته د ليکدود ټاکل، له ژبپوهانو دا هم غواړي، چي په ليـکلو کي د سور/په معروف يا لنډ واو/(قرمز، سرخ، شنګرف)، سور/په مجهول يا اوږده واو/(بر، پلنوالی ، عرض) او داسي نورو مشابه ټکو تر منځ هم د بېلولو له پاره څه لاره ولټوي؛ ځکه داسي کليمې په ليکـنه کي يو راز کښل کيږي؛ خو د وينګ او مانا له پلوه ډېر توپير لري. د داسي ټکو شمېر په پښتو کي خورا زيات دئ، چي ژبپوهان او قاموس ليکوونکي يې بايد د نه ګډوډېدو د پاره د ږغپوهني له قواعدو سره سم اساسي چاره وکي. البته،د هري لهجې ويوونکو ته د کليمو تلفظ او ليکدود د خپل لهجوي يا سيمه ييز تلفـظ يا خپلو فينالوژيکي ځانګړتياوو او ارزښتونو له مخـي ډېر اسانه او بې تکلـيفه کار دئ؛ خو پـه خواشينۍ سره چـي دا سادګي او اساني د نـورو لهجـو ويوونکو ته ډېره سخته او ګرانه پرېوزي. له بله پلوه، دا خبره هم د غوَر او څېړني وړ ده، چي په تلفظ کي تغييرات موقتي او تېرېدونکي بڼه لري. له دې امله که د ژبي ليکدود د موقتي او لنډ مهاله بدلونو تابع سي، دا کار به هرومرو په ژبه کي ډېرو ګډوډييو او التباسو ته لاره هواره کړي. سربېره پردې کله کله په ورځنيو محـارو او مکـالمو کي د کليمو، عبارتو او ترکيبو تلفظونه ډېر لنډيږي، چي دا په خپله هم د ږغپوهني د اساساتو له مخي د ليکدود د غوره کولو يوه بل ستونزمن اړه ته پام اړوي.

د همدې استدلال پر اساس بايد، د ژبي د معياري ليکدود په غوره کولو کي د ږغپوهنـي د لارښوونو او ټولنيز تړون تر منځ توازون او انډول ته پام وسي. د دې خبري مانا دا ده،چي د يوې ژبي د ليکدود په غوره کولو کي بايد اساساً د ږغپوهني قواعد او لارښووني په پام کي ونيـول سي؛ ځکه د خلګو په ژبه کي بېلابېل ږغونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژبې د لیکدود علمي او معقــول تــاداو دئ؛ خو که د ږغپوهنې په مرسته د ستونزې لیرې کولو ته څه لاره پیدا نه سوه، بیا نو د ناچارۍ له مخــې بــاید د تولنیز قرارداد له اصولو ګټه واخیستله سي. په بېلابېلو لهجه یي تلفظو کې د اسانۍ، سادګۍ، ښکلا او عمومیت پر بنسټ د یوه تلفظ غوره کول، په حقیقت کې د فینالوژیکو ارزښتو او ټولنیز- فرهنګي ترړون ژوندی مثال دئ. البته دلته دا خبره هم باید جوَته کړو، چې ټولنیز ترړون هم یوازې د څو ادیبانو، لیکوالو او ژبپوهانو د وچو پرېکړو او فرمانو مانا نه لري؛بلکې د ژبې د ودې او پرمختګ ټول مسوولین باید په ګډه د خلګو سیاسي، اجتماعي، فکـري، فرهنګي، او اقتصادي اړېکو ته په پام سره، دې ستونزې ته د حل څه معقوله او علمي لاره ومومي. په بله وینا، د ټولنیز ترړون را منځ ته کول، د فرهنګیانو تر لوی او مخکښ رول مخکې، د ټولنیزو قوانینو تابع دئ. خلګ به د اسانۍ، سادګۍ، ښکلا او سلیم عقل په رڼا کې، نــاوړه پرېږدي او ښه به اخلي.

ټولنیز ترړون او فرهنګي دودونه که څه هم د یوه معیاري لیکدود په غوره کولو او رواجولو کې د یوه مېخانیکي او سرسري حل په توګه عمل کوي؛ خو سره له دې هم د ژبې د بېلابېلو ویوونکو او لیکوونکو تر منځ د کلیمو د ویلو او لیکلو په چارو کې د یو رنګۍ، جوړجاړۍ او پایښت له را منځ ته کولو سره لو یه مرسته کوي. د نړۍ په ځینو ژبو کې د دغه راز زړو او پیاوړو ټولنیزو ترونو او کلتوري رواجونو له برکته، پراخ ادبي او علمي پرمختګونه منځ ته راغلي دي؛ مثلاً پارسي ویوونکو نه د ږغپوهنې د اساساتو ؛ بلکې د یوه فرهنګي- اجتماعي قرارداد یا دود پر بنسټ دا منلې ده، چې په خپله ژبه کې به مثلاً په خوله هونر، ګونا، ګومان او داسې نور وایي؛ خو په لیکنه کې به یې د هنر، ګناه، ګمان او داسې نورو په شان کاږي. په انګرېزي او نورو بهرنییو ژبو کې هم د دغه راز فرهنګي- اجتماعي ترون پر اساس په سلګونو داسې ټکي منل سوي دي، چې په لیکلو کې د ږغپوهنې له اساساتو او اصولو سره هیڅ سمون نه لري.

د دې مسألې ټولو اړخو ته په یوه عمومي او کُلي نظر اچولو سره داسې برېښي، چې د هرې ژبې د یوه معیاري لیکدود په غوره کولو کې د دې دواړو عناصرو رول ډېر ارزښتناک او مهم دئ. شک نسته، چې فرهنګي دود یا ټولنیز ترړون هم باید په خپل وار سره کرار کرار د ږغپوهنې د لارښوونو او اصولو پیروي وکي، که نه نو د یوه همېشني اساسي حل او لنډ مهالي مېخانیکي حل تر منځ به تل تر تله ټکرونه او مخالفتونه روان وي.

### د کلیمو، ترکیبو او اصطلاحاتو ریښه پېژندنه

دکلیمو د مانا/ماناوو په سپړلو کې د دې مسألې څېړنه هم ډېره په زړه پوري ده، چې په قاموس کې وړاندې سوی سرټکی له کومې ریښې څخه راوتلئ دئ؛ د مثال په توګه د «شېرپېره» کلیمه د «پیړا»له مادې څخه، چې یو ډول حلوا ده، جوړه سوې ده(دارمیستتر۱۲). یا «واده»کلیمه، چې د ودې او نشو نما په مانا د «ود»له ریښې څخه راوتلې ده یا د غل او غدوی کلیمې، چې ښایي د «ګده»، «ګدی» او «غدی» له ریښې څخه راټوکېدلي وي؛ ځکه غدی او ګدی د غلو او حمله کوونکو ټولی ته وایي(حبیبي،«لمنلیکونه،»د دارمیستتر پښتو څېړنې ۱۸). په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پارسي کي هم داسي ټکي خورا ډېر دي، چي په تاريخي لحاظ له يوې بلي ريښې څخه راوتلي دي؛ د مثال په ډول«اخترکاويان/ اخترکاويانی»، «درفش کاويان/درفش کاويانی» ټول په حقيقت کي د «کاوه» نومي ټټار له نامه څخه راپيدا اسوي دي، چي د آريايي افسانو او اسطورو له مخي يې د ضحاک(سهاک)په زمانه کي پاڅون وکړ؛ او فريدون يې پاچهي ته ورساوه؛ اما ځيني څېړونکي د کاوه نومي آهنګر يا ټټار نوم د «کوي» له ټکي څخه راوتلئ ګڼي، چي د شازاده (شهزاده)په مانا ؤ. په دې توګه«درفش کاويان/ درفش کاويانی»د پاچهي بيرغ په مانا بولي(عميد ،۱: ۱۱۳). په انګرېزي کي هم بې شمېره ټکي د کليماتو له تاريخي بدلون او اوښتون څخه را زېږېدلي دي؛ لکه ماډلين(maudlin)ټکی چي اوس د نشه،بې مانا غمجن، خواشيني، ژړندويه، احساساتي او عاطفي کس په مانا کاريږي، اصلاً په څورلسمه مېلادي پېړۍ کي له فرانسوي ټکي ماډلېن(Madelaine) څخه اخيستل سوی دئ، چي هغه هم په خپل وار سره د مګډلينا (Magdalena) له لاتيني کليمي څخه راوتلئ دئ. د اِنجيل له متن څخه داسي ښکاري،چي دا ټکی په حقيقت کي د مېري مګډلين(Mary Magdalene)له نامه سره نېغ په نېغه اړيکی ولري، چي په اِنجيل کي يې څو ځايه يادونه سوې ده. د اِنجيل له روايت سره سم، دې ښځي(چي وروسته د حضرت عيسا (ع) له سرسپارلو مخلصانو او خواخوږو څخه وه)په ژوندانه کي د خپلو پخوانيو ناوړه عملونو د پښېماني په وجه، د اوږدې مودې دپاره ژړل. په دې توګه اوس ګورو ، چي په انګرېزي کي د «ماډلين»کليمه د همدې ښځي له نامه او شخصيت سره ايتمولوژيکي اړيکی لري.(Robinson 847) په دې برخه کي د نورو مالومات له پاره وګورئ:

Online Etymology Dictionary(www.etymonline.com)
Matthew 27, Mark 15-16, Luke 8 & 24, John 19, Bible, New International Version (www.biblegateway.com)

«داموکليس توره» چي د يوې ژبنۍ اصطلاح په توګه په قاموسو کي راوړل کيږي هم ځانته خاصه ريښه لري. قاموس ليکوونکی بايد د دې اصطلاح تر توضيح او شنني مخکي، د داموکليس(Damocles)له نامه سره د هغې تړاو ته، ګوته ونيسي. دغه راز،دولبي پرولوجيک (Dolby Prologic) هغه تخنيکي اصطلاح ده ، چي په اوسنيو های فای(Hi Fi)سيستمو کي د ناوړه اوازو د له منځه وړلو دپاره، د شلمې پېړۍ په شپېتمو کلو کي، د امريکايي اينجنير ريمنډ ډولبي(Raymond Dolby)له نامه سره ارتباط لري. (Robinson 392)

پروفيسر جګسن او پروفيسر امويله، په فرهنګو کي د را غونډ سوو ټکو ريښه پېژندنه د لغتپوهني له درو مهمو برخو(مارفولوژي، مانا پېژندنه او ريښه پېژندنه)څخه يوه برخه ګڼي، چي قاموس ليکوونکي بايد په خپلو اثارو کي هغې ته پام وکي.(Jackson and Amvela 2)

لکه څنګه چي لوی استاد- اروانباد علامه حبيبي( ۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰م– ۱۳۶۳ ش/ ۱۹۸۴م ) د خپلو ژورو او مستندو لغوي څېړنو په لړ کي کاږي: «سدرۍ له عربي کلمې صدری څخه مفغنه نه ده، بلکي ريښه يې زردشتي قديمه کلمه سدره ده. تپوس له عربي څخه نه دئ راغلئ، بلکي د تپ،تپا ،تپېدل له ريښې څخه د پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لغاتو له جوړښت سره سم جوړ سوی دئ. ښاغلی، شاقلی نه دئ، بلکي «ښه»+«آغلی» دئ، او پښتو لغت دئ (حبيبي، «د پښتو سيند به څنګه ليکل کيږي؟» ،۵. ) زموږ قاموس ليکوونکي هم بايد په خپلو ژورو او هر اړخيزو علمي څېړنو سره، د بېلابېلو ټکو د سمي پېژندني په اړه د لوستونکو ذهنونه روښانه کړي.

د علامه حبيبي له ژورو تاريخي او ايتيمولوژيکو شننو سره سم «اپـت»، «اتبـار»، «انبر»، « کنبلئ/ ښکلئ » ، «چندڼ» هم د عربي ژبي د «آفت»، «اعتبار»، «عـنبر»، «شکـيل» او « صندل» مفغن شکلونه نه دي؛ ځکه چي دغه هره کليمه په سنسکريت او نورو آريايي ژبو کي ژوري ريښې لري(حبيبي، «د پښتو لغاتو د تحقيق لاري، » ، ۲-۴ ). سربېره پر دې، قاموس ليکوونکي بايد په لوی لاس خپلي پخوانۍ سپېڅلي کليمې هم په نورو ژبو کي د هغو د استعمال په ګونا پردۍ نه کي؛ د مثال په توګه«کواره»، «کوټ»، «کوټوال»، «شيين»، «کټ» او په لسګونو نور ټکي د پښتو هغه اصيل او سپڅلي ټکي دي، چي بايد په تېروتني او غلطۍ سره په پاړسي يا کومي بلي ژبـي پوري و نـه تړل سي. د پاړسي ژبي په پخوانيو اثارو کي د دغو ټکو او ترکيبو استعمال په هيڅ وجه دا مانا نه لري، چي ګوندي دا ټکي هرومرو له پاړسي څخه پښتو ته راغلي دي؛ ځکه پښتو پر پاړسي، شغني، واخي، شنګليچي، اشکاشمي، منجي، پشه يي او داسي نورو ژبو سربېره له سنسکريت، هندي او نورو هندو آريايي ژبو سره هم په ډېرو ټکو کي شکلي او مانويا شتراک لري.

همدغه راز، لکه څنګه چي د پښتو مدقق او باريکبين لغتپوه -لوی استاد اروابناد علامه حبيبي(۱۲۸۹ش/۱۹۱۰م – ۱۳۶۳ ش/ ۱۹۸۴م )کاږي، قاموس ليکوونکی بايد لوستونکو ته دا اړخونه روښانه کي، چي د عربي ژبي«جماعت» څنګه په پښتو کي«جومات»سو ؛ او د اصلي مانا څخه څنګه د مسجد په مانا تغيير ور پېښ سو ، يا «صاحب» چي په عربي کي د صحبت له مادې څخه د صحبت کوونکي په مانا ؤ ، مګر پښتو ته د «ساب»په تلفظ له مانوي بدلون سره راغی، چي د احترام او درناوي کليمه ده(حبيبي، «د پښتو سيند به څنګه ليکل کيږي؟» ،۴ ).

په قاموس ليکنه کي د کليمو د ريښې پېژندني اصل هم د نورو اصولو او قواعدو په څېر، يوه بنه نه لري. په ځينو عصري قاموسو کي د زياترو ټکو، په تېره بيا دخيلو ټکو منشأ او ريښې پېژندني ته لازم پام سوی دئ. په بله وينا د کليمو پلار او نيکه د هغو له اصلي تلفظ، د زوکړي له زمانــې او بېلابېلو تاريخي بدلونو سره، په روښانه توګه بيان سوي دي. د دې دود پرخلاف، ځينو نورو مؤلفانو په قاموسو کي د راغونډو سوو کليمو ايتيمولوجۍ/ ايتيمولوژۍ او د کليمو په شکلي جوړښت کي، ډول ډول تاريخي بدلونو ته چندان توجه نه ده کړې. ځينو نورو قاموس ليکوونکو بيا يوازي دې خبري ته اشاره کړې ده، چي په قاموسو کي يې را غونډ کړي دخيل ټکي په کومو ژبو پوري اړه لري؛ او د دې مقصد د پاره يې له ځينو مخففو تورو څخه کار اخيستی دئ؛ مثلاً«س»د سنسکريت، «ع»د عربي، «پ»د پاړسي، «ر»د روسي، «ف»د فـرانسوي او «ا»د انګرېزي د پاره. حسن عميد په خپل فارسی فرهنګ کي د دخيلو کليمو د ريښې پېژندني له پاره همدا لاره غوره کړې ده. ځـينو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو پارسي فرهنګ لیکوونکو هم د را غونډ سوو ټکو د پلار او نیکه په اړه څه ناڅه یادونې کړې دي. په پښتو قاموس لیکنه کې له هماغه پیل(و.ګ. «ریاض المحبت» او «عجایب اللغات» )څخه د پردو کلیمو د پېژندنې د پاره له اختصاري تورو کار اخیستل سوی دئ. په «افغان قاموس» او د پېښور پوهنتون د پښتو اکاډیمۍ په خپاره سوي قاموس(۱۹۷۰م) کې، چې «پښتو ژبه» نومیږي، هم ټولي را غونډې سوی دخیلي کلیمې د مخففو تورو په کارولو سره ښوول سوي دي. ځینو اوروپايي افغان پېژندونکو هم په خپلو فرهنګو کې د راغونډو سوو کلیمو ایتیمولوژیکي څېړنې ته څه ناڅه پام کړی دئ. په دې برخه کې تر ټولو ستر او ارزښتناک ګام د نومیالي ناروېژي ژبپوه او افغان پېژاند - پوهاند جورج مارګنستیرن (Georg Valentin von Munthe af Morgenstierne) له خوا واخیستل سو. دې سترګه ور ژبپوهاند (۱۸۹۲-۱۹۷۸م) په ۱۹۲۷م کال کې د پښتو ایتیمولوژیکه لغتنامه (An Etymological Vocabulary of Pashto) خپره کړه، چې وروسته د ډ. ن. مکینزي (D.N. Mackenzie) له خوا بشپړه سوه. په دې لاره کې بل مهم ګام د ج. ایلفینبین(J.Elfenbein) او س. ن.ویلیمز(N.S.Williams) له خوا پورته سو، چې په۲۰۰۳م کال کې یې د پښتو نوې ایتیمولوژیکه لغتنامه (A New Etymological Vocabulary of Pashto) خپره کړه.

په مجموعي توګه د پښتو په هغو قاموسو کې، چې د نوي لیکسیکوګرافۍ له اصولو او قواعدو سره سم نه دي لیکل سوي، د راټولو سوو کلیمو ایتیمولوژۍ ته اساساً هیڅ یا لازمه توجه نه ده سوې. له بده مرغه د پښتو ژبې په تر ټولو عصري، غني او اکاډیمیک قاموس کې، چې د «پښتو - پښتو تشریحي قاموس» په نامه د افغانستان د علومو اکاډیمۍ له خوا د ۱۳۵۸-۱۳۲۵کلو په ترځ کې، په څلورو ټوکو کې چاپ سوی دئ، هم د کلیمو د ریښو او تاریخي تحولاتو مسألې ته هیڅ پام نه دئ سوی. د کلیمو له ریښه پېژندنې مخ اړول ، بې شکه د قاموس لیکنې په دې نوې او پرمختللې دوَر کې، د دغه ارزښتناک او شتمن قاموس ډېره لویه نیمګړتیا ګڼله کیږي. د پښتو او پارسي ژبو د زیاترو قاموسو پر خلاف، د اوروپايي ژبو، په تېره بیا انګرېزي ژبې په مفصلو او تشریحي معیاري قاموسو کې داسې قاموسونه ډېر لږ پیدا کیږي، چې د راغونډو سوو کلیمو، ترکیبو، او اصطلاحاتو ریښو؛ او ان تاریخي بدلونو ته یې څه نا څه اشاره نه وي کړې.

د قاموسي ټکو د ریښه پېژندنې ارزښت ته په پام سره، د پښتو ژبې قاموس لیکوونکي ته د کلیمو د ایتیمولوژۍ په برخه کې د یادونې څو مهمې او اساسي مشورې داسې را لنډوو:

- پوهېږو چې ځینې ټکي، ترکیبونه، عبارتونه او اصطلاحوې په یو وخت کې په څو نیژدو ژبو کې کاریږي. د پښتو قاموسو لیکوونکي باید ښېله څېړنې او پلټنې د هغو په لیدو سره سمدلاسه و نه انګېري، چې دا ټکي هرومرو له نورو ژبو څخه پښتو ته راغلي دي؛ او په دې توګه هغو ته حق او ناحق سنسکریت، هندي، پهلوي، پارسي، عربي، تورکي او داسې نوري ریښې و تراشي. د دې ناوړه او غیرعلمي کار نتیجه به داوي، چې ځینې تازه کار او ناروغه سوچه پال لیکوال به ښېله ګروېږنې او سپړنې د هغو له کاروَنې لاس واخلي؛ او له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنگ نظره چال چلند څخه به په پای کې د پښتو لغوي زېرمې ته لوی او نه جبران کېدونکی زیان ورسیږي. د داسي مشترکو ټکو شمېر دونه ډېر دئ، چې له لغوي څېړني او مقایسه یې ادبي نظایرو څخه یې یو بېل قاموس جوړېدای سي (ما په خپله له سنسکریت، هندي، پنجابي او نورو هندي الاصـــله ژبو سره د پښتو د ځیـــنو مشترکو ټکو یوه لغوي او ادبي زېرمه راغونډه کړې ده، چې انشاالله په یوه مناسب وخت کې به یې د پښتو قاموسو او ادب مینه والو ته وړاندي کړم). دلته د بولګې په بڼه یوازي د څو ټکو نوم اخلو، چې مخکې مو هم په بېلابېلو ځایو کې یادونه کړې ده: جګړه (په هندي کې جهګړا)، شیین (په پارسي کې شاهین)، کواره (په پارسي کې کبار)، کټ (په پارسي کې کت)، ډول (په هندي کې ډهول؛ په پارسي کې دُهل)، اوجاړ (په هندي کې اوجړ، اوجاړنا، اوجړه او داسي نـور)، بخره/ برخه (په پهلوي کې بخر، په دري کې برخ)، هډ (په هندي کې هډي)، کړکۍ (په هندي کې کهړکي)، کوټ (په هندي کې ګوټهـ/ګوټ؛ په پارسي کې کوت)، کـوټۍ (په هنـدي کې کهوټي؛ په پارسي کې کوتی)، جارو (په هندي کې جهاړو؛ په پارسي کې جارو) او په سلګونو نور مشترک ټکي.

پښتو ژبې د آریایي ژبو ډېر پخواني ټکي او ترکیبونه تر او سه پـوري په بشپړ اصـالت سره خوندي کړي دي. دلته د لوی استاد - علامه حبیبي (۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰م – ۱۳۶۳ ش/ ۱۹۸۴م) د لغوي او ادبي څېړنو په رڼا کې د دغه راز آریایي ټکو د څو بولګو یادونه کوو، چې یو وخت په پـارسي ادب کې هم په پراخه ګچه کارېده؛ خو د زمانو په تېرېدو سره اوس په هغه ژبه کې د متروکو او نابابه ټکـو په بڼه، له استعماله لوېدلي دي.

- «کباره» هغه ټکی دئ، چې د پارسي مشهور شاعر- ناصر خسرو بلخي قبادیاني (۳۹۴-۴۸۱ هـ ق) یې په یوه بیت کې داسي یادونه کړې ده:

ترا این تن یکی خانهٔ سپنجست

مزوربل مغــــربــل چو **کـــباره**

(حبیبي، «د پښتو ژوندي کلمات په پخوانۍ فارسي کښې،» کابل ۳۱، ۲۴).

په پارسي کې اوس دا ټکی څوک نه وایي او نه یې لیکي؛ ځکه ځای یې د «سبد» په نامه بل ټکي نیولئ دئ؛ خو د پښتو په لوېدیځه لهجه کې همدا اوس هم د «کواره» په بڼه د عامو او خاصو په خبرو کې، په پراخه توګه کارېږي.

- «خه = ښه» د تحسین داسي کلیمه ده، چې اوس هم په پښتو کـــې ډېره زیاته استعمالیږي، خو په پارسي کې یې نور ژوندی مثال نه ګورو. شهید بلخي د رودکي په ستاینه کښې وایي:

شاعرانـــرا **خه** و احسنت مـدیح

رودکی را **خه** و احسنت هجیست

(حبیبي، «د پښتو ژوندي کلمات په پخوانۍ فارسي کښې،» کابل ۳۱، ۲۴).

- «ګرم» کلیمه د پارسي شعر د مخکښ شاعر - رودکي په یوه بیت کې داسي راغلې ده:

هرکه سر از پند شـــهریار بپچید

(c) ketabton.com: The Digital Library

پای طرب را به دام گرم در افگند

ابوالقاسم فردوسي دا کليمه داسي راوړې ده:

زچنگال یوزان همه دشت غرم

دریده برو دل پُر از داغ و گــرم

همدا «گرم» کليمه همدا اوس هم په پښتو کې د «ګروم» په بڼه کارېږي، چې د ویر، غم، دوک او ماتم مانا لري؛ خو په پارسي د هغه ځای نورو ټکو نیولئ دئ.

(حبيبي، «د پښتو ژوندي کلمات په پخوانۍ فارسي کښې،» کابل۳۱، ۲۳).

- «کت» کليمه د بوشکور بلخي په يوه بيت کې، چې د ۳۰۰ هـ په شاوخوا کي يې ويلئ دئ، داسي لولو:

زورا رمز ز دست شاهـان دزی!

بر کت شاهی نشین و باده خور

فرخي سیستانی د سلطان محمود په ستاينه کې دا ټکی داسی راوړی دئ:

که بر خون برانم کــت و افسرت

برم زی سر اندیب بی تن سرت

(حبيبي، «د پښتو ژوندي کلمات په پخوانۍ فارسي کښې،» کابل۳۱، ۲۲).

په پارسي ادب کې د زمانو په تېرېدو سره د «کت» پرځای د «تخت» کليمـــه ودرېده؛ مګر د پښتنو په غرو او مېرو کې لا تر اوسه ژوندۍ ده. په پای کې بايد دا خبره هم له یاده و نباسو، چې ځیني آريايي کليمې د بېلابېلو طبيعي او غیرطبيعي عواملو له کبله اوس په پارسي او پښتو ادب دواړو کې له استعماله لوېدلي دي؛ لکه: کوتوال/ کوټوال، کوتوالی/کوټوالي او داسي نور.

- په پښتو ادب کې ځيني داسي ټکي سته، چې زموږ ځيني ليکوال يې په تېروتني سره په عربي او نورو پردو ژبو پوري تړي؛ لکه اتيات (چې له عربي احتياط ځخه يې راوتلئ بولي)، انبر (چې د عربي ژبې د عنبر پښتو سوې بڼه يې ګڼي يا کنبلئ/ ښکلئ (چې ريښه يــې د عربي ژبې «شکيل» کليمې ته رسوي؛ په داسي حال کې چې دغه راز ټکي په سنسکريت او هندي ژبو کې ژوري ريښې لري؛ او له عربي ځخه پښتو ته نه دي راغلي (د نورو مالومــاتو دپاره و.ګ: حبيبي، «د پښتو لغاتو د تحقيــق لاري،» کابل۲، ۲-۴). د دې مځکي له ځيــنو تاريخي او جغرافيايي نومو سره هم همدا سي ناسم چال چلند سوی دئ؛ مثـــلاً ډېرو مؤرخانو د «قندهار» په ليکدود سره «کــندهار» ته عربي بڼه ورکړې ده). زوندا ور/ زيندا ور ته زموږ د هيواد ډېرو مؤرخـــانو د ځينو عــــرب مؤرخـــانو د «ارض داور» د ناسمي ترجمې پر بنسټ د «زميندا ور» شـــکل ورکـــړی دئ؛ حـــال دا چـــې «زين» يا «زون» کليمه اصلاً د لمــر په مانا ده، چې د انګرېزي ژبې sun (لمر) هم له همدې ريښې ځـــخه را وتلئ دئ؛ او د کابل شاهـانو په نومو کـــې هــم د مخوندي په بڼه ليدل کيــږي. د دې استـــدلال پر بنسټ له داور ســره د «ارض» يا «زمين» ټکی هيڅ مانا نه ورکوي. «غرستان» چې عرب مؤرخانو په «غــرجستان» اړولئ دئ؛ سيستان يا سکستان، چې د عرب مؤرخانو او جغرافيا ليکوونکو په پيروی، زموږ د ځينو ليکوالو او مؤرخانو په اثارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي د «سجستان» په بڼه راغلئ دئ یا ځیني پښتني قبیلي لکه ساپی، چي تر او سه د صافی په بڼه کښل کیږي؛ او په تېروتني سره عربي رنګ ورکول سوی دئ یا ساکزی(چي ځینو پاړسي ژبو مؤرخانو اسحاقزی ځیني جوړ کړی دئ یا پوپلزی، چي حتا د پوپلزو قبیلي یو مشهور خطاط او مؤرخ - اروانښاد عزیزالدین وکیلي پوپلزي (۱۹۱۹- ۲۰۰۸م)لا هم په خپل تاریخ کي د «فوفلزائی» عربي شکل ور کړی دئ. په دې ډله کي په سلګونو نور نـومـونه هـم راځي، چي په وړاندي بحثو کي یې هم له ځینو جزییاتو سره یادونه وسوه.

په دې ډول باید قاموس لیکوونکی د لغتو په ریښه موندلو کي د باوري سرچینو په اسـتنـاد د کلیمو مارفولوژیک، فینالوژیک او سیمانتیک بدلونونه په ځیر سره وګـوري؛ او تر هــر اړخیزي څېړني وروسته په خپلو اثارو کي، د را غونډو سوو ټکو پلار او نیکه ته ګوته ونیسي. دا کار بې شکه سختی او کړاونه لري؛ خو ناممکن نه دئ.

- زیاتره قاموسونه د مندرجو ټکو د ریښې پېژندني په اړه یوازي د هغــو د نیــژدو ریښو په اړه مالومات وړاندي کوي؛ او یوازي د هغي ژبي یادونه کوي، چي د پام وړ ټکی یې په یوه ټاکلې او مشخصه دوره کي ملي ژبي ته ننوتی وي. ځیني نور قـاموسونه بیا تر وروستی ریښې او منشأ پوري، د بېلابېلو ټکو د پخوانو پښتونو پلټېنه او شننه کوي. د دې اصل له مخي تر هغــه ځایه، چي د کلیمــو د ریښــې پېژندني پوهه اجــازه ورکوي، په مختلفو ژبو کي د را غـونډو سوو ټکو د ریښو او تاریخي بدلونو په اړه مالومات وړاندي کیږي؛ مثــلاً د اکسفـورډ د کوچني قاموس په نهم چاپ(Concise Oxford Dictionary9)کي، چي د سي ډي رام

په بڼه چمـتو سوی دئ، د"Camomile"کلیمې د ریښې پېژندني په اړه، دا سي کښل سوي دي:

[Middle English via Old French Camomille and late Latin Camomilla or Camomilla from Greek Khamaimelon 'earth-apple'(from the apple-smell of its flowers)] (Jackson and Amvela 201).

یا د ډیموکراسی کلیمې څو پښته ریښې د ریښه پېژندني په آن لاین قاموس کي دا سي بیان سوي دي:

**democracy**

1570s, from M.Fr. *democratie*, from M.L. *democratia* (13c.), from Gk. *demokratia*, from *demos* "common people," originally "district" (see *demotic*), + *kratos* "rule, strength" (see *–cracy*).

لکه څنګه چي ګورو، د ډیموکراسی کلیمه وروستی پلا په ۱۵۷۰مو کلو کي له منځنی فرانسوي څخه اخیستل سوې ده. په دېرلسمه مېلادي پېړۍ کي له منځنی لاتین ژبي څخه منځنی فرانسوي ته ورغلې ده؛ او په پای کي منځنی لاتین ژبي هم دا ټکی د یوناني ژبي له «دیموکراتیا» کلیمې څخه اخیستی دئ، چي د «دیموس» او «کراتوس»له دوو بېلو برخو څخه جوړ سوی دئ. د ریښه پېژندني په دې مثال کي، نه یوازي د ډیموکراسی پخوانیو تاریخي تګلورو، بلکي د کلیمې شکلي او مانوي بدلونو ته هم ګوته نیول سوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې مثال څخه په ځرګنده ښکاري، چې په انګرېزي کې او س د کليمو ريښه پېژندنه د يوې خپلواکې علمي او اختصاصي څانګې پړاو ته رسېدلې ده. لوستونکي کولای سي د دې ژبې د هرې مروجې کليمې په اړه د دقيقو او مفصلو فيلالوژيکو مالوماتو له پاره، د ريښه پېژندنې آن لاين ډيکشينرۍ ته مراجعه وکړي؛ او په يوه کليک سره د هر مروج ټکي پلار و نيکه وپېژني.

د افغان معاصري قاموس ليکنې په تاريخ کې تر ټولو وتلي او منلي ليکوال - لوی استاد ارواښاد علامه حبيبي (۱۲۸۹ش/۱۹۱۰م – ۱۳۶۳ ش/۱۹۸۴م ) خو لسيزې مخکې په خپله ارزښتناکه مقاله کې د مقايسه يي فيلالوژۍ له پلوه د قاموسي ټکو د ريښو مالومولو او د مانا او لفظ له اړخه د هغو د تاريخي تحول اصل ته اشاره کړې ده (و.ګ: حبيبي، «د پښتو سيند به څنګه ليکل کيږي؟»، ۵ ).

## په قاموسو کې د کليمو د پېژندنې يا تعريف څانګړتياوې

د نوي قاموس ليکنې بل مهم اصل دا دئ، چې قاموس ليکوونکی بايد د کليمو، ترکيبو، محارو، اصطلاحاتو او نورو راغونډو سوو ټکو داسې ماناوې او تعريفونه غوره کړي، چې له هر اړخه مانع او جامع وي. په بله وينا، وراندې سوې ماناوې بايد له خپل ټول لنډوالي سره سره داسې ښه ولري، چې هر لوستونکی يې په اسانۍ سره وپېژني؛ د مثال په توګه که قاموس ليکوونکی د «زردالو»د پېژندنې دپاره وليکي: زردالو هغه مېوه ده، چې ژړ رنګ، بيضوي شکل، خوږ خوند لري؛ او د افغانستان پرځينو سيمو سربېره د نړۍ په ځينو نورو هيوادو کې هم پيدا کيږي. داسې تعريف يا پېژندنه چندان په دردنه خوري؛ ځکه ډېرې داسې مېوې سته چې ژړ رنګ، بيضوي شکل او خوږ خوند لري؛ خو زردالو نه دي. له بله پلوه د افغانستان په ځينو سيمو او د نړۍ په ځينو هيوادو کې ډېرې داسې مېوې پيدا کيږي، چې له زردالو سره په ځينو خصوصياتو کې ګډوالی لري؛ اما سره له هغه هم هر يو زردالو نه دئ. قاموس ليکوونکی بايد د زردالو د خوند، فزيکي جوړښت، کيمياوي او طبي ځانګړتياوو، د مېوې پخېدو د موسم او ځينو مهمو ډولونو لکه چارمغز، سرده يي، نري، شکرپاره او داسې نورو په اړه هم څه نا څه توضيحات او مالومات وړاندې کړي. که فرهنګ ليکوونکی د «کونې کبر»په پېژندنه کې وکاږي: «کونی کبر»هغه حيوان دئ، چې اوږدې منګولې لري؛او په اوبو او لندو ځمکو کې ژوند کوي. دا پېژندنه بشپړه او ګټوره نه ده؛ ځکه ډېر حيوانات سته، چې ښايي د «کونې کبر»په شان اوږدې منګولې ولري؛ او په همداسې اقليمي او جوي چاپېر کې ژوند وکې. د داسې تعريف په ليدو سره د قاموس لوستونکي په ذهن کې د بېلابېلو ورتو حيواناتو تصويرونه تداعي کيږي. د دې ګډوډۍ او التباس په نتيجه کې لوستونکی د «کونې کبر»شکل او جوړښت په دقيقه توګه نسي پېژندلای. په داسې حالاتو او مواردو کې که د دغه حيوان له مخکنې تعريف سره د چونګاښ/چنګاښ ټکی هم وکښل سي، بيا نو هرلوستونکي ته په اسانۍ سره د پوهېدو وړ دئ؛ او په دې ډول لوستونکي ته د پام وړ حيوان د پېژندنې ژوندی او عملي انځور په لاس ورکول کيږي. په دې ډول ګورو، چې مترادف ټکي د پېچلو او نا اشنا تعريفو د اسانه پېژندنې په کار کې مرسته کوي. البته مترادف ټکي په ټولو حالاتو کې نسي کولای د يوه اسانه، ساده او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر اړخيز تعريف ځای ونيسي. پروفيسر آټکينز او پروفيسر رنډيل د تعريف پر عمومي ځانګړتياوو سربېره، د ښه او ناوړه تعريف ځيني اړخونه داسي بيانوي:

«تعريفونه هغه مهال د منلو وړ وي، چي دغه دوې لوېي ځانګړتياوي ولري:

- د محتوا سموالی.

- د شکل سموالی.

که يو تعريف هغه مالومات وړاندي نه کړي، چي لوستونکي يې اړتيا لري؛ او وړاندي سوي مالومات هم په داسي ښه نه وي وړاندي سوي، چي هغوی يې په اسانۍ سره هضم کړای سي، نو داسي تعريف په حقيقت کي نه يوازي کمزوری، بلکي بې ګټي او ناکامه تعريف دئ؛ مثلاً هغه تعريف چي يوازي د مترادفو ټکو په مرسته سوی وي، ښايي د لوستلو دپاره اسانه وي؛ خو په زياتره حالاتو کي د تعريف د محتوياتو او خصوصياتو په اړه پوره توضيحات وړاندي نه کړي. له بله پلوه هغه تعريف، چي په دقيقه تخنيکي ژبه د ديوه ټکي د محتوياتو په باره کي مالومات ورکوي، تر هغه مهاله چندان ارزښت نه لري، چي د قاموس د استفاده کوونکو خاصي ډلي ته د پوهېدو وړ نه وي.»(Atkins and Rundell 450)پروفيسر آټکينز او پروفيسر رنډيل په همدې اړه د ځينو قاموس ليکوونکو د نظريو په وړاندي کولو سره، زياتوي:« مه يې تعريفوئ، توضيح او تشريح ورکئ.» قاموس ليکوونکی بايد لوستونکو ته په روښانه ټکو و وايي:کله چي خلګ يوه کليمه استعمالوي، د هغوی مقصد او مفهوم څه دئ؟ په دې برخه کي د قاموس ليکوونکو عامه تېروتنه دا ده، چي د مانا د شنني او سپړني پر ځای د لغت رېښه پېژندني ته پام اړوي. ډېرو کسانو ته ښايي تعريف سوی مفهوم مخکي لا اشنا وي، نو ځکه يې په ډېري اسانۍ سره، په کره او دقيقه پېژندنه سر خلاصيږي . په بل عبارت لوستونکي بايد په اسانۍ سره وکړای سي، چي تعريف سوی ټکی له خپلي تصوري يا اِدرکي حافظې څخه تر لاسه کي. دا اصل د هغو عامو مفاهيمو دپاره کارېږي، چي د بالِغو زده کوونکو په قاموسو کي ثبت سوي وي؛ مثلاً: بايسکل يا پاراشوټ چي غټان يې په مانا ښه پوهېږي؛ خو يوازي يې د هغو انګرېزي لغتونه پر ژبه نه ورځي. پروفيسر آټکينز او پروفيسر رنډيل وروسته د يوه ښه او معقول تعريف د ځينو خصوصيتو او اړتياوو په اړه داسي کاږي:

«- يو تعريف بايد تر اړتيا زياتي کليمې ونه لري. په بله ژبه بايد د سادګۍ يا افهام او تفهيم له غوښتنو سره سم، ليکل سوی وي.

- بايد په ياد ولرو، چي د يوه ټکي د تعريف ليکلو د وخت او د لوستونکو له خوا د هغه د عملي استفادې تر منځ نسبتاً اوږد واټن پروت دئ. له دې امله، هر څونه چي قاموس ليکوونکی د دغه راز واټن د لنډولو کوښښ وکي، په هغونه اندازه د قاموسو د استعمالونکو ربړونه او کړاونه لږېږي. د دې استدلال له مخي بايد تعريفونه د محتوا او شکل دواړو له پلوه تل د نوو اړتياوو او غوښتنو پر بنسټ جوړ سوي وي.

- که کوچنۍ يا لنډه کليمه د پام وړ مفهوم ادا کولای سي، هيڅکله اوږد لغت يا کليمه مه کاروئ. تل هڅه وکئ، چي له امکاناتو سره سم، اوږده لغتونه يا ترکيبونه په خپل منځ کي سره بېل کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هیځکله د مالومي جوملې پر ځای نامالومه (مجهوله) جوملـه مه کاروئ. ښه تعریفونه هغـه دي، چي د لنډوالي، بشپړتیا او سادګۍ ځانګړتیاوي ولري. واضح او روښانه فکر کول د ژبي ماهرانه او محتاط استعمال ته اړتیا لري. په پای کي د دې خبري یـادونه ډېـره ضروري ده، چي د تعریفونو لیـکل په قاموس لیکنه کي، لوی هـونر او کمال دئ.»

- کوښښ مه کوئ، چي په تعریف کي د یوه ټکي، ترکیب یا اصطلاح په اړه د هر فکر کېدونکي شي یا موضوع یادونه وکئ. د دې خبري مانا دا ده، چي اوږده تعریفونه د لوستونکو پر اوږو دروند پېټی ږدي. له دې سببه قاموس لیکوونکي مسوولیت لري، چـي د یوه ټکي د پېژندني په اړه اساسي او محوري خبري، له حاشیو او فروعاتو څخه بېلي کړي.

- که د راغونډ سوو ټکو تعریفونه پېچلي او مبهم وي، لوستونکو ته هیـڅ ګـټه نـه رسوي.

- باید د یوه ټکي د پېژندني په باره کي تر ټولو ضروري او اساسي مالومات وړاندي سي؛ خو تعریف باید په راغونډو سوو مالوماتو کي رامنځ ته سوي تنوع او رنګارنګي په ښه ډول بیـان کړای سي.

- باید تعـریف پر ژبنیبو مسألو سربـېره ځیـني نور پیغـامـونه؛ لکه پراګمـاټیکـس (Pragmatics)، حسـاسیتونــه (Sensitivities) او کـانــوټېشن (Connotation) هم په څرګنده منعـــکس کـړي.

- په پای کي باید د بېلابېلو ټکو په تعریف او پېژندنه کي، د لـوستونکو اړتیا وي دقیقاً په پـام کـي ونیولي سي، چي هغوی څه غـواړي او څـه ته اړتیا لري؟ (Atkins and Rundell 452)

## د کلیمو په تعریف او مانا کي د جامعیت او مانعیت اړخونه

لکه مخکي چي هم و ویل وسوه، په قاموسو کي د را غونــډو سوو کـلیمو، ترکـیبـو او اصطلاحاتو تعریفونه باید په داسي ښه وړاندي سي، چي له یوې خوا ټـــول همـــډوله او همجنسه شیان په ځان کي شامل کړي؛ او له بلي خوا ګرده هغه شیان له ځانه لیري کړي، چي د مانا او مفهوم له پلوه تو پییر ور سره ولري (جامعیت او مانعیت). په خواشینۍ سره ځیني نوي کلیمې او ترکیبونه د جامعیت او مانعیت له ځانګړتیاوو څخه بې برخي دي؛ د مثال په توګه ایرانیـانو د هوایي ډګر یا هوایي میـــدان دئ (airport) د پاره د «فرودګاه» ترکـیب جوړ کړی؛ خو لکه څنګه چي ګورو دا نوی ترکیب هغه مفهوم په بشپړه توګه نسي افـاده کولای، چـي پــه «هوایي ډګر یا هوایي میدان» کي نغښتی دئ؛ ځکه «فرودګاه» د حقیقي مانا له مخي د کښته کېدو ځای ته ویل کیږي. د «فرود» کلیمه د پارسي په پخــوانیبو متنو کي د هغــه ځــای په مفـــهوم استعمال سوې ده، چي کاروانیان به د هوساینې یا نورو اړتیاوو د لیري کولو د پاره هورې کښته کېده. د «فرودګاه» مفهوم د لغوي مانا پر اساس ډېر عام او ارت دئ؛ ځـــکه د دې ترکـــیب په لوستلو سره، ځوک وار دواره نه پوهـېږي، چي د کښېنستو له ځـای څخه، ایا د انسانـانو کښته کېده مُراد دي که د ښاروییو، مرغانو او یا نـورو موجوداتو؟ سربېره پر دې که «فرودګاه» د الوتکو د کښته کېدو په مانا و هم منل سي، سره له هغه هم د ایــراني لغت جوړونـکو په دې ترکیب کي د الوتکو یا طیارو د الوتو د ځای (چي په پارسي کي یې پروازګــاه، فرازګـاه یا برخاستګاه بللای سو) هیڅ درک نه مالومیږي؛ په داسي حال کي چي په هوایي ډګر یا هوایي مـــیدان کي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

الوتکو د کښېنستو تر څنګ، د هغو د الوتځي (پروازګاه) مفهوم هم نغښتی دئ. په دې توګه ګورو، چې د هوايي ډګر یا هوايي میدان دپاره د «فرودګاه» مانا نیمګړې او ناموزونه ده. دغه راز، ایرانیان عکس اخیستونکي آلې یا د انګرېزي ژبې کېمرې(camera) ته «دوربین وایي»؛ حال دا چې دوربین(binoculars) یا لیرلید(لیري+لیدونکی) کاملاً بېله وسیله ده. کیمره/ کامره د عکس یا تصویر اخیستو آله ده، چې د «دوربین» یا «لیري لید» په مانا یې استعمال سم او پر ځای نه بربښي. هر څوک پوهېږي، چې کېمره/ کامره اصلاً د لیري شي یا لیري ځای د لیدو په خاطر نه کارېږي. دوربین/ لیري لید عموماً د نسبتاً لیري شیانو او منظرو د لیدو دپاره او د ډېرو لیري شیانو لکه ستورو، سپوږمۍ او نورو سماوي جسمونو د لیدو په موخه له ټیلیسکوپ(telescope) څخه استفاده کیږي. بالعکس، ایرانیان هغه څه ته چې موږ یې دوربین یا لیري لید بولو، د «دو چشمه، دوچشمی، دوربین دو چشمه» ټکي کاروي. (Aryanpur, Abbas & M. Aryanpur 199)

ګرانو لوستونکو ته به څرګنده وي، چې ایرانیانو د ایمیل(e-mail) د نړۍ والي ترکیبي کلیمې پر ځای د «پست/ پوست الیکترونیک» ترکیب غوره کړی دئ. سړی هیڅ نه پوهېږي، چې ایرانیانو د کوم منطق او تعقل له مخې د یوې لنډې، ساده، اسانه او عامي کلیمې پر ځای داسې ترکیب وضعه کړ، چې د عمومیت پر ځای نامأنوس، د سادګۍ او اسانۍ پر ځای ګران او په پای کې د لنډوالي پر ځای اوږد دئ. عجبه خو لا دا چې ایرانیانو د ایمیل انګرېزي ترکیب ته دا ځل ولې د خپلې متعصبې کړنلارې پر خلاف، د کوم جعل کړې پارسي ترکیب پر ځای، بیرته انګرېزي ترکیب غوره کړ؟ ایا څوک له داسې لغت جوړوني سره موافقه کولای سي، چې انګرېزي ټکو ته پارسي، پښتو یا داسې نورو ژبو کې بیرته انګرېزي ټکي وضعه کوي؟

د همدې استدلال پر بنسټ د «هوايي ډګر یا هوايي میدان» دپاره د ایرانیانو «فرودګاه»، د کامرې دپاره «دوربین» او د ایمیل دپاره د «پست/ پوست الیکترونیک» نه د مانا د جامعیت او مانعِیت له پلوه د منلو وړ دي؛ او نه هم د پام وړ ماناوو د افاده کولو له پلوه، وړ او موزون. «دوست دختر»، «دخترخانم»، «صدا و سیما» او داسې نور هم له هغو ترکیبو څخه دي، چې د جامعیت او مانعیت اصل تر پښو لاندې کوي. د «نیولوجیزم او قاموس لیکنه» تر سرلیک لاندې په دې اړه څو نور ټکي هم وړاندې کوو.

په پښتو قاموسو کې هم د نیمګړو او ناسمو تعریفو مثالونه خورا ډېر دي؛ مثلاً د افغانستان د علومو اکاډیمۍ په پښتو-پښتو تشریحي قاموس کې د «هندو» ټکي ته دغه ماناوې کښل سوي دي:
[1]د غیر مسلم قوم نوم، د هندوستان او سېدونکی.[2]تور خال (امرخېل او نور، ۴:۳۰۵۲).
د «هندو» دپاره په مخکښي تعریف کې دواړې ماناوې په ډېرې کمزورۍ سره بیان سوې دي. لومړۍ مانا د غیر مسلم قوم غړی او د هندوستان او سېدونکی «هندو» بولي؛ په داسې حال کې چې په غیر مسلمانو قومو کې یهود، نصارا، زردشتي (چې د هند په ټوله نیمه وچه کې یې 'فارسي' بولي)، سیکهـ او ډېر نور هم شامل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بله پلوه د هندوستان هر اوسېدونکی هم هندو نه دئ. بې شکه چي په هندوستان کي د وګړو لويه برخه هندوان دي؛ خو د هندوانو تر څنګ، په لسګونو نور قومونه او نژادي ډلي هم ژوند کوي. سربېره پر دې، ښايي په پښتو ادب کي چيري «هندو» کليمه د تور خال په مجازي مفهوم راغلې وي؛ خو دا مانا عامه او مشهوره نه ده. له دې امله بايد د معتبرو شواهدو او مدارکو په ښوولو سره مستنده سوې واى، تر څو په دې ډول د قاموس لوستونکو ته مالومه سوې واى، چي «هندو» کليمه واقعاً هم په اړونده ادبي، علمي يا تاريخي متن کي د تور خال په مفهوم استعمال سوې ده. دغه راز، د پښتو - پښتو تشريحي قاموس د(ب) د برخي ليکوال د «ببر» د په پېژندنه کي داسي کاږي: « هغه زمری، چي په غاړه او اورمېږ يې لوی لوی وېښته وی.»(امرخېل او نور،۱: ۱۹۲). دا تعريف هم د هايپانمي له نظره دقيق او معقول نه دئ؛ ځکه ليکوال په څرګنده «ببر»او «زمری» دواړه يو حيوان ګڼي؛ ځکه د ده د تعريف له مخي«ببر»د «زمري» هغه ډول دئ، چي پر غاړه لوي وېښتان ولري.حال دا چي «ببر»او«زمری» د پيشي د کورنۍ دوه بېل حيوانات دي. زمری(lion) نه يوازي پر غاړه، څټ او اوږو ژړ- نسواري رنګه وېښتان لري، بلکي لکۍ يې هم تر ببر(tiger) ببره وي. حتا زمرۍ چي د وېښتو له پلوه تر نر زمري لغړه ښکاري، هم په ټول وجود کي تر «ببر» زيات وېښتان لري. «ببر» د «زمري» پر خلاف په غاړه، څټ او لکۍ کي وېښتان نه لري؛ خو د وجود پر عمدتاً نارنجي رنګه پوستکي يې په ټولو برخو کي په بره اوږدې توري او سپيني ليکي(د ځينو سيمو ببر پر سپين پوست په بره توري اوږدې ليکي لري )ليدل کيږي. «زمری» زياتره په افريقا او جنوب - لوېديځه آسيا ؛ په داسي حال کي چي«ببر» زياتره په سوهيلي او ختيځو اسيايي هيوادو کي پيدا کيږي.«ببر» د اوږدوالي او غټوالي له پلوه تر«زمري» يو څه اوږد او غټ دئ. د پيشي د کورنۍ د دې دوو بېلو حيواناتو تر منځ په ډېرو نورو ځانګړتياوو او مشخصاتو کي هم توپيرونه سته، چي بايد په روښانه او واضح ټکو کي بيان سي. زموږ په ژبه او ادب کي د مجازي ماناوو له اړخه، «زمری» زياتره د زړور، مېړني، غښتلي، پياوړي، نه ماتېدونکي، پر شانه تلوونکي، بې باکه او داسي نورو په مفهوم کاريږي؛ حال دا چي«ببر» په ځينو اوروپايي او ختيځو ژبو کي د وحشي، ظالم، بې رحمه، بې عاطفې، سخت زړي او داسي نور په مفهوم، پراخ استعمال لري. په دې توګه، په پښتو - پښتو تشريحي قاموس کي د «ببر» تعريف لوستونکو ته سم او کره مالومات نه وړاندي کوي. د داسي ټکو شمېر په پاړسي، پښتو او نورو ژبو کي تر انده پاس دئ، چي را ټولول او څېړل يې د دې ليکني تر حوصلې وتلئ کار دئ.

په قاموس ليکنه کي د تعريفو د جامعيت او مانعيت په اړه د دې ټکي يادونه هم ضروري ده، چي کله کله د پردو لغتو او اصطلاحاتو بېلابېلي ماناوي او استنباطات، د پښتو يا پاړسي په يوه ځانګړې کليمه کي نه ځاييږي. په بل عبارت په پښتو، پاړسي يا بله دوهمه ژبه کي يوې پردۍ کليمې يا ترکيب ته داسي ټکی نه موندل کيږي، چي د هغې ټولي ماناوي په دقيقه توګه روښانه کړي. په داسي حالاتو او مواردو کي بايد د دغه راز پردو ټکو د مانا بېلابېل اړخونه د نورو ټکو او ترکيبو په مرسته روښانه سي؛ لکه د انګرېزي ژبي "abandon" کليمه، چي د پرېښوولو، تشولو، لاس اخيستلو، درولو او بې پروايۍ په څېر کاملاً بېلي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلا ماناوي لري؛ او د پښتو يوه يا دوې ماناوې نسي کولای د دې انګرېزي ټکي ټولې ماناوې په ژوره او هراړخيزه توګه بيان کړي.(Gilmour 1)بالعکس، په پارسي او پښتو کې هم داسې ټکي په پېښ دي، چې ګرده ماناوې يې د دوهمې ژبې د يوه ټکي په مرسته نسي افاده کېدای؛ مثلاً د پښتو «تور»کليمه، چې ماناوې يې په پارسي کې يوازې په«سياه» ټکي کې نه خلاصه کېږي. پښتانه دا ټکی پر تور(سياه )رنګ سربېره د تومت/تهمت،تومتي،تورن،جال او ببري په ماناوو هم کاروي. په پارسي کې د «درد»کليمه د عذاب، تکليف، سوزش، الم او داسې نورو په مفهوم کارېږي؛ خو په پښتو کې همدا «درد»پر يادو سوو ماناوو سربېره د قهر، خروښ،خښم، غوسې،غضب او داسې نورو په مفهوم هم کارېږي؛ مثلاً ويل کېږي: «پلاني ته درد ورغلئ دئ.» په داسې مواردو او حالاتو کې د پښتو د «درد» کليمې مانا په پارسي کې يوازې د تکليف، رنځ، عذاب، سوزش، الم او داسې نورو په يادولو سره نه د بشپړېږي.

د همدې دلايلو پر اساس که د يوې کليمې يا اصطلاح ګرده ماناوې د لومړۍ يا دوهمې ژبې په يوه ټکي يا يوه ترکيب کې دبيان وړ نه وي، نو قاموس ليکوونکي ته ښايي، چې د هغه ټکي بېلابېل اړخونه او ماناوې په جلاجلا ټکو او عبارتو کې وښيي.

## د کليمو د پېژندنې(تعريف)ګرامري جوړښت

تعريف زياتره له يوه عبارت څخه جوړ وي، چې په ټاکلو شرايطو او حالاتو کې له همغه تعريف سوي ټکي سره د اېشولو وړ وي. د دې مانا دا ده، چې که تعريف سوی لغت اسم وي، نو د داسې ټکي د تعريف مرکزي برخه به هم د اسم(noun) په بڼه يو عبارت وي؛ مثلاً د اکسفورډ په کوچني قاموس (COD9) کې، جُرم داسې تعريف سوی دئ:

«جُرم هغه جدي پړه يا ناوړه چلند دئ، چې د قانون له خوا د سزا وړ وي.» [دلته ليدل کېږي، چې جُرم د بل اسم ياني پړې يا ناوړه چلند په وسيله بيان سوی دئ.] په همدې ډول که په قاموس کې راغونډ سوی ټکی فعل وي ، نو د هغه د تعريف د غوره سوي عبارت مرکزي ټکی به هم فعل وي. په کوچنيو قاموسو کې تعريفونه زياتره د مترادفو ټکو په بڼه بيانېږي؛ په داسې حال کې، چې په لويو قاموسو کې تر زياتي ګچې تحليلي او تفصيلي بڼه لري. (Jackson and Amvela 210-11)

## په قاموسو کې د بېلابېلو ماناوو اوډنه

د کليمو د رازراز ماناوو او استنباطاتو تر را غونډولو وروسته، بله اساسي پوښتنه دا ده چې د کليمو بېلابېلې ماناوې بايد څنګه و اوډلې سي؟

قاموس ليکوونکي د کليمو د بېلابېلو ماناوو د لومړيتوب او وروستي توب(تقدم او تأخُر) په اوډنه کې يا د هغو د عموميت(ډېر او پراخ استعمال) معيار په پام کې نيسي؛ او يا هم د هغو د تاريخي تګلوري او مختلفو مانوي بدلونو پر بنسټ عمل کوي. څرګنده ده، چې عبارتونه او اصطلاحات د زمانې په تېرېدو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي ماناوي او مفاهيم مومي. کله کله يې د ژبو او لهجو په رنګارنګ بدلونو کې، ځينې پخوانۍ ماناوي له منځه ځي؛ او پر ځای يې نوي ماناوي تر لاسه کوي؛ او کله کله د پخوانيو ماناوو پر خوندي کولو سربېره، ځينې نوي ماناوي هم اخلي. له دې کبله، په فرهنګو کې د راغونډو سوو ټکو، عبارتو او اصطلاحاتو د رازراز ماناوو د معقولې او منطقي اوډنې مسأله خورا ارزښتناکه ده.

## د کليمو د بېلابېلو ماناوو د جلاکولو لارې

مؤلفانو په قاموسو کې د کليمو د بېلابېلو ماناوو د جلاکولو دپاره ډول ډول لارې غوره کړې دي. ځينو د کليمو بېلابېلې ماناوې د سېمي کولن (؛)، دش (-) يانورو بېلوونکو نخښو په مرسته جلاکړې دي؛ خو د مترادفو ټکو د بېلولو په مقصد يې زياتره له کامې څخه کار اخيستی دئ. د فرهنګو ځينو نورو مؤلفانو د لغتو، ترکيبو او اصطلاحاتو د جلا ماناوو د بېلولو په مقصد د ۱، ۲، ۳ په شان پرله پسې نومرې استعمال کړې دي؛ او مترادفې کليمې يې د کامې په کارولو سره، يو له بله بېلې کړې دي. البته په قاموس ليکنه کې دا خبره مهمه نه ده، چې د راغونډو سوو ټکو بېلابېلې ماناوې بايد په څه ډول او د کومو نخښو په مرسته سره بېلې سي. هغه څه چې هيڅوک يې په قاموس ليکنه کې له ارزښته انکار نسي کولای، د دې حقيقت پېژندنه ده، چې قاموس ليکوونکی بايد د کليمو بېلابېلې ماناوې په يوه ممکنه وسيله يو له بله جلا کړي، تر څو په دې توګه د بېلو ماناوو له ګډوډېدو څخه ډډه وسي. بې شکه، چې حسابي عددونه په ښه توګه کولای سي د فرهنګو د اقتصادي توب اړخ ته په پام سره، د راټولو سوو ټکو د بېلابېلو ماناوو په جلاکولو کې ښه او اغېزمن کار ورکړي.

## د کليمو د بېلابېلو ماناوو اوډنه د هغو د عموميت يا ډېر استعمال له مخې

د عموميت يا زيات استعمال له اصل سره سم، په قاموسو کې د راټولو سوو ټکو هغو ماناوو ته د لومړيتوب ځای ورکول کيږي، چې خلک يې په ويلو او ليکلو کې ډېر کاروي. تر هغو وروسته بيا په وار سره هغه ماناوې اوډل کيږي، چې عام خلک يې له ماناوو سره ډېره اشنايي ونه لري. په دې برخه کې د کليمو اختصاصي، اصطلاحي، مجازي او کنايي ماناوې راځي؛ د مثال په توګه د افغانستان د علومو اکاډيمۍ په «پښتو - پښتو تشريحي» قاموس کې د «بسيا» ټکي ته دغه ماناوې کښل سوي دي:

[1]استوګن، دېره، مېشت.[2]کافي، ډېر، پوره، بس.[3]صبرناک، بې لايحه[؟].[4]مشغول، اخته، لګيا (امرخېل او نور ۲۲۳).

په دې څلورو ماناوو کې لکه څنګه چې ښکاري، لومړۍ او دوهمه مانا ډېره مروَجه او مشهوره ده، نو ځکه د ټولو په سرکې راغلې ده. دغه رنګه د «هيواد» کليمه، چې په پښتو ادب کې په دوو نسبتاً بېلو ماناوو کارسوې ده:[1]مېنه، ټاټوبی، استوګنځی، وطن، ملک، مملکت، ماموا او داسې نور.[2]ليري، بعيد، پر ډېره فاصله پروت، د نيژدې خلاف او داسې نور. مالومېږي، چې د «هيواد» لومړۍ مانا په خلګو کې عامه او مشهوره ده؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دوهمه مانايې په خواشينۍ سره د خلکو په اوسنيو محاورو کې مړه؛ او يوازې د پښتو ادب په ځينو زړو متنو کې خوندي پاته ده. دې ټکي پر مانوي بدلون سربېره له شکلي پلوه هم څه ناڅه ښـېره اړولې ده؛ ځکه د اوسني ليکدود پرخلاف د پښتو په پخواني ادب کې، د «ايواد»په بڼه راغـلې ده. د غوري دربار لوی شاعر- ښکارندوی په خپله نامتو پسرلنۍ بولــله (قصيده ) کې دا کليمه داسې استعمال کړې ده:

د ښندو اور يې درست *ايواد* زرغون کړ
له قصــداره تر ديبـله يې يــونـــونه
(هوتک ۵۴ )

يا به وران کــا بودتونونه د بمېڼو
يا به سره کاندي په وينو *ايوادونه*
(هوتک ۵۸ )

د احمد شاه بابا د دربار لوی شاعر، اديب او ګرامر پوه - پير محمد کاکړ د «هيواد» ټکی د ليري يا بعيد په مانا داسې راوړی دئ:

مورږ له *هيواده* تنها راغـلي يو
د بڼ توتيان يو په دام وتلي يو
(حبيبي،«د پښتو سيند به څنګه ليکل کيږي؟» ،۵. )

«کالي»کليمه په اوسنۍ پښتو ، په تېره بيا لوېديځه لهجه کې د جامو ، پوښاک يا لباس په مانا ډېر پراخ استعمال لري؛ خو دا ټکی د پښتو ادب د منځنۍ دورې په اثارو کې، د سامانو ، اسبابو ، اجناسو (توکو ) ، شيانو ، تجارتي متاع، لوښو ، ګاڼې، زېور يا پسول په ماناوو راغلئ دئ؛ د مثال په ډول:

-د سامانو ، اجناسو يا اسبابو په مانا:«...اوښان، يا آس يا اسپې *کالي* دي.»(خيرالبيان۱۰۲ الف ) يا « ... زه هغه بې پروا يم، چې هر چار تل بې شريکه، بې مله، بې *کالي* کړم. نشته زمــا محتاجي و شريک، و مل و *کالي* و نه لکه آدميان.»(روښان۱۲۰ب؛ رشاد ،«دخيرالبيان ليکدود او لغتنامه،»۷۴).

دخوشال خان ختک په يوه بيت کې همدا مانا داسې راغلې ده:

ماخوشحال يې سودا کړې نادېده ده
که *کــــالي* په بهانه ځي بې نموده

په اوسنۍ پارسي کې هم دا ټکی د «کالا» په بڼه د تجارتي متاع، اسبابو ، اجناسو او جامو په مانا کاريږي.

- د زېور، ګاڼې يا پسول په مانا:

په کاليو سره مخ ښايسته کــيږي
ستا په مخ ښايسته د مخ *کالي* دي
(رشاد ،«د خيرالبيان ليکدود او لغتنامه،» ۷۵. )

(c) ketabton.com: The Digital Library

«مرسته»د پښتو يوه بله پخوانۍ کليمه ده، چې پخوا د هيلي، آرزو، طلب، غوښتني، لټون، تلاښ،هڅي، کوښښ، اشتياق، شوق، خواهش او داسي نورو په مانا کارېده. د خوشال خان خټک (۱۰۲۲-۱۱۰۰ هـ ق) په دوو بيتو کي يې بولګې دا دي:

اوس مي بيا مونده په کور کي
چه دا يــــم يې وم په **مرسته**
(دخوشال خان خټک د ديوان خطي نسخه)

د مقصود ګوهر په لوی درياب کـــي پر بوت
غـواصان په کـــي غوټې وهي په **مرسته**
(د خوشال خان خټک د ديوان خطي نسخه)

په خواشينۍ سره، د مرستي پخوانۍ مانا اوس د خلګو په ورځنيو خبرو او مرکو کي کاملاً مړه ده؛ او ځای يې په بشپړه توګه نورو مترادفو يا متقارقو ټکو؛ لکه کومک، بسپنه، لاس نيوی، اعانه، چنده، امداد، تعاون ، معاونت او داسي نورو ) ونيوه. ښايي د افغانستان د علومو اکاډيمۍ د پښتو- پښتو تشريحي قاموس د «ميم» د برخي ليکوال هم د مرستي د اوسنۍ مانا د پراخ رواج له کبله، د هغي پخوانۍ مانا له ياده ايستلي وي؟!. ښه خبره به دا وای، چي ښاغلي قاموس ليکوونکي په دغه راز لغوي او ادبي مسألو کي د تقليد او سرسري اقتباس پر ځای د ژوري څېړني او پلټني لاره غوره کړې وای؛ او په دې توګه يې د خپلي ژبي د لغوي شتمنۍ او فرهنګي ميراثونو ساتنه کړې وای. عجبه خو لا دا چي زموږ تنګ نظرو او متعصبو سوچه پالو بيا اوس په ناپوهۍ سره د پرديتوب په ګونا د مرستي ګرده مترادفي يا متقاربي ماناوي هم له پامه غورځولي دي؛ او د دې کار له لاري يې د پښتو ژبي لغوي زيرمي ته، چي د پېړيو پيړيو په ترڅ کي جوړه سوې ده او د دې ژبي لويه مانوي پانګه ده، لوی زيان رسولئ دئ. په دغه راز حالاتو کي بايد د کليمو د ماناوو د عموميت او ډېر استعمال له اصل سره سم ، ترټولو مخکي لـــومړۍ مروَجه او مأنوسه مانا او بيا په روڼ سره لږ پېژندل سوي او نابابې مانـــاوي و اوډل ســي.

### د تاريخي بدلونو له مخي د ماناوو اوډنه

د تاريخي معيار له مخي د ماناوو اوډنه لکه څنګه چي له نامه يې ښکاري د کليمو د بېلابېلو ماناوو د تاريخي تسلسُل پر اساس کيږي. ياني لومړۍ هغي مانا ته ځای ورکول کيږي، چي له تاريخي پلوه زوړوالی يا قدامت ولري؛ او بيا په وار سره د نورو ماناوو يـــادونه کيږي؛ مثلاً «بړېڅ»تر هر څه مخکي د پښتنو يوه مشهوره قبيله ده. وروسته پـه دې قبيله کي د «فتـح خان/پتې خان بړيڅ»په نامه يو څوک پيدا سو. دا سړی له خپلو شپېتو سرتېرو ملګرو سره هندوستان ته ولاړ. د پتې خان بړيڅ ملګرو په هندوستان کي ډېري مړاني او سرښندني وکړې. له دې تـاريخي پېښو سره د «بړيڅ»ټکي، چي پخوا يوازي د پښتنو د يوې ځانګړي قبيلې د پاره استعمالېده، وروسته يوه بله مانا هم ومونده، چي په مجازي ډول د تېروني يار، ملګري او همکار په مانا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

(حبیبي، «د پښتو لغوي تطور،»کابل ۱۲۸). «شاهد» په عربي ژبه کې د«شهود» له ريښې څخــه د ليدونکي په مانا دئ. په پارسي کې يې وروسته دمعشوق او محبوب مفهوم ومومند. لکه څنګه چې خواجه شمس الدين محمد حافظ شيرازي (په۷۹۱ هـ ق کې مړ) د«شاهد»کليمې همدا مانا داسې بيانوي:

در کار گل و گلاب حُــکم ازلی این بــود

کان *شاهد* بازاری و این پرده نشین باشد

(حبیــبي،«د پښتو لغوي تطور،»کابل۱۲۸).

البته د«شاهد»شرعي اوفقهي هم مانابېله ده.

د لوی استاد - اروانباد علامه حبيبي( ۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰م–۱۳۶۳ ش/ ۱۹۸۴م )له لغوي څېړنو سره سم، په پارسي کې د«دهقان» ټکی د مغولو تر عصره پر آريايي نجيب زادګانو او د ځمکو او کلو پرمشرانو اطلاقېده؛ او د هر ځای مشرته به يې«دهګان»وايه. لکه څنګه چې ابو القاسم فردوسی په شاهنامه کې د «دهقان»کليمه په همدې مانا راوړې ده:

زګفــتار *دهــقان* بیاراستــم

بدین خویشتن را نشان خواستم

عربو ايران ته په ورتګ سره، ځايي ملوک الطوايف د«دهاقين» په نامه يادکړه؛ ځکه چې همدا ملوک الطوايف د ځمکو خاوندان وه. وروسته ګورو چې دا کليمــه پرمطلــق کښتګـــرو يا کروندګرو هــم اطلاق سوه. په پارسي کې اوس د«دهقان» دوهمه مانا (بزګر، زارع، کښتګر، کروندګر) ډېره مشهوره ده. لوی استاد وروسته په پښتو کې د«دهــقان» دکليمــې مانـــوي تطور ته داسې اشاره کوي: «ځکه چې پارسي ويوونکي خلک اکثر زارع وه، او هـــم دهقانان د دوی مشران وه،او دوی به پارسي ويله،نو په پښتو کې دا کلمه مفغنه سوه هـــم صورتاً هم معناً. پښتنو د پارسي 'دهګان 'او د عربي 'دهقان '، 'دېګان 'کړ. جمع 'دېګــانان '. دوی اوس دېګان مطلق پارسي زبان بولي، او هرڅوک چې پارسو وايي،دوی وايي دېګان دئ. دپښتنو دغه مخصوصه معنا ګويا ددې کلمې دريم تطور دئ.» (حبيــبي،«د پښتو لغوي تطــور،» کابل ۱۲۹).

«نماز» او «لمونځ»هم په پيل کې د تعظيم او درناوي په مفهوم وه، چې وروسته دصلاة په مانا استعمال سوي دي؛ د مثال په توګه د فردوسي په دې بيت کې د احترام او تکريم په مانا:

زمین را ببوسید و بردش *نماز*

همــی بود پیشش زمــان دراز

عبدالحي ګرديزي (دپينځمي هجري پيړۍ د لومړۍ نيمايي نوميالي مؤرخ)په «زين الاخبار» کې راوړې دي:

«چون امير را بديدند همه *نماز* بردند...»

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمونځ یا نمونځ د خوشال خان ختک (۱۰۲۲-۱۱۰۰هـ ق) د دې بیت په لومړۍ میسره کې د فعل په بڼه د احترام او تعظیم په مانا او په دوهمه میسره کې د اسم په بڼه د لمانځه یا صلاة په مانا د اسې راغلئ دئ:

خــدای هغه په دواړو کــونو دي ***نمنځلي***
چې په ورځ یې عدل و داد، په شپه ***نمنځونه***

د دوست محمد کاکړ په دې بیت کې د لمانځه یا صلاة په مانا:

شپې یې تېرې په ***لمانځووي***
پــه ژړا او پـــه نــاروو وي
***
یوه ورځ جهاد افضل
ترکلو کلو ***لــمانځل***
(حبیــبي، «د پښتو لغوي تطور،» کابل ۱۳۰).

د «موخی/مُخی» ټکی د پښتو ادب د منځنۍ دورې په زیاترو اثارو کې د برابر، سیال، ساری، نظیر، جوړه، مانند، مثال او د اسې نورو په ماناوو راغلئ دئ؛ لکه د خوشال خان ختک په دې بیت کې:

که هرڅو ښایسته یې نه یوسف یې د کـنعان
که هرڅو ډېر هوښیار یې نه ***مُخی*** یې د لُقمان
(د خوشال خان ختک د دیوان خطي نسخه)

په دې بیت کې له ورایه ښکاري، چې د «موخی» کلیمه د نارینه د پاره کارسوې ده؛ اما همدا کلیمه اوس د پښتو په لوېدیځه لهجه کې د «موخی» په بڼه یوازې د هغو ښځو د پاره استعمالیږي، چې په خپله کورنۍ کې د یوې واده سوې ښځې په عوض کې د هغې خپلوانو ته ودیږي؛ مثلاً کندهارۍ ښځې وایي: «پلانۍ یې د وربنداري په موخۍ کې ورکړې ده» یا «پلانۍ د بیستانۍ موخۍ ده». له دغو جوملو څخه څرګندیږي، چې د «موخی» ټکی هیڅکله د سیال، ساري، جوړه او د اسې نورو په مانا د نارینه وو د پاره نه کــاریږي. د کلیمې په مانا کې دا بدلون یو تاریخي بدلون دئ، چې یو عام او کُلي مانا یې په یوې ټاکلې او مشخصې ډلې پورې محدوده کړې ده. قاموس لیکوونکي باید په خپلو اثارو کې د تاریخي قدامت پر بنسټ د ځینو ټکو په مانوي پولو کې د بدلون او اوښتون دغه راز مثالونه، په غوَر سره رعایت کړي.

په اوسنیو فرهنګو کې زیاتره کوښښ کیږي چې د کلیمو، ترکیبو او اصطلاحاتو د مانــاوو له اوډنې سره د هغو د منطقي ارتباط او پرمختګ د اصولو په رڼا کې، چال چلند وکړي. د پرمختګ اصل په دې مانا، چې له مرکزي او محوري ماناوو څخه د نا اشنا او نامأنوسو ماناوو یــا له ډېرو مشخصو او پېژندل سوو ماناوو څخه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرو انتزاعي او مجازي ماناوو پر لور پرمختګ وسي. دغه راز پرمختګ عمدتاً د کليمــو د تاريخي بدلونو او د مانا د تکرارېدونکي استعــمال دوه ګوني اړخونه منعـــکسوي.(Jackson and Amvela 207)

## په ژبه او ادب کي بايد ، د کليمو د ډېريا لږ استعمال مسأله، څنګه روښانه سي؟

له ډېرو وختو راهيسي په ځينو ژبو کي د احصاييوي قاموسو تأليف دود سوی دئ، چي د ژبو د عامو قاموسو مؤلفان د کليمو د لږيا زيات استعمال د مالومولو په مقصد له هغو څخـــه ګټه اخلي. په پښتو کي هم د نړۍ د نورو پرمختللو ژبو په څېر څو لسيزي مخکي د احصاييـــوي قاموس تاداو اينبوول سوی دئ؛ خو داسي قاموسونه تر هغه مهاله د بشپړ ډاډ او باور وړ نه دي، چي په هغو کي را غونډ ي سوي احصاييې او مالومات پر د قيقو کمپيوټري پروګرامو متکي نه وي.

## په قاموسو کي بايد د را غونډو سوو کليمو او اصطلاحاتو د استعمال ډګر څرګند سي

لکه څنګه چي په تېرو بحثو کي هم يادونه وسوه، په ژبه کي ډېر څله داسي ټکي پيدا کيږي ، چي د مانا پېژندني يا سيمانټيکس(semantics)له پلــوه ډول ډول بدلونـونه مومي. د دې دپاره، چي د قاموسو لوستونکي د يوه ټکي په بېلابېلو ماناوو کي ځانونه ورک نه کي، نو لغت ليکوونکي ته ښايي، چي د هري ځانګړي مانا د استعمال ساحه په اختصاري نخښو روښانه کړي؛ مثلاً موږ ټول د کار له دوديز مفـهوم (وظيفه، دنده، کِسب، کاروبار، شغل) سره بشپړه اشنايي لرو؛ خو د هغه له علمي او مسلکي ماناوو سره چندان سروکار نه لرو. د کار مفهوم په فزيک او اقتصاد کي کاملاً اختصاصي بڼه لري، چي په ځينو اړخونو کي له عام مفهوم څخه بېل او په ځينو اړخو کي تر هغه دقيقه او مسلکي مانا لري. فزيکپوه کار دې ته وايي، چي يوه قوه له يوه ځايه بل ځای ته يووړل سي؛ او فـارمول يې داسي کاږي:

کار= قوه x فاصله

په داسي حال کي چي اقتصادپوهان، په تېره بيا د مارکسيستي نظريو پيروان، کار د مادي نعمتو د توليد يا يوه ټاکلي اقتصادي هدف له پاره د انسان د زيار او کوښښ په مانا کــاروي. عموماً هر ګيردي يا مُدوَر شي ته په انګليسي ژبه کي ډيسک(disc/disk)ويل کيږي؛ خو په کمپيوټر پوهنه کي هغه وسيله ده، چي ډول ډول اطـلاعـات او فـايـلونه پـکښي خـوندي کيږي. هارډ ډيسک(hard disk)، فلاپي ډيسک(floppy disk) او داسي نور يې ډولــونه دي. ټانجينټ(tangent)داسي کليمه ده، چي پر انګرېزي ژبي سربېره يې موږ هــم په رياضـــي، هندسه او مثلثاتو کي په پراخه توګه استعمالو و. ټــانجينټ په هندسه او مثلثاتو کي، پـــه يوه نقطه کي د يوه مستقيم او منحني خط هغه ترښت يا تماس ته ويل کيږي، چي تر يو و بل وا نوړي؛ خو د انګرېزي ژبي په عامو محاورو کي د ځينو نورو ماناوو تر څنګ، په عـــام ډول د هغي مسألي يا خبـرو په مــانا کارېږي، چــــي له اصــلي موضــوع سره چنــــد ان اړيـــکی و نــــه لــــري (off a topic). پــــه انګــــرېـــزي کـــي "port", "reboot","screen","search"او داسي نور هغه ټکي او اصطـلاحات دي، چي پر نـــورو ماناوو سربېره د کمپيوټر په ساحه کي ځانګړی استعمال لري. له دې امله يې بايد تل په قاموسو کي د استعمال ساحه

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړته سي، چي د پام وړ مـانا د د لوستو له پاره، بې سرګرداني او وخت ضايع کولو، نېـغ پـه نېغـه د هغې تـه مراجعه وکي(Jackson and Amvela 119-200) .

په پارسي او عربي کي هم لکه څنګه چي مخکي اشاره وسوه د شاهد، صنم، اجتهاد، جرح او ډېرو نورو ټکو لغوي او اصطلاحي ماناوي يو له بله ډېر توپير لري. محــاوره يي او اصطلاحي مانا د حقيقي مانا پر خلاف، يوازي په يوه مشخصه ډله، مشخصه سيمه يا ځانګړو حالاتو کي کارېږي؛ او ماناوي يې د وخــت، ځاى او حالاتو پر بنسټ بدلون مومي. پـه ژبو کي دا سي مثالونه ډېر دي، چي ځيني ټکي د يوې يا څو عامو ماناوو تر څنګ، د علومو په يوه ځانګړې څانګه کي کارېدونکي اختصاصي ماناوي لري.

پروفيسر آټکينز او پروفيسر رنډيل د ژبي په لغوي زېرمه کي، د کليمو د عمومي او اختصاصـي استعمال په اړه يوې په زړه پوري مسألې ته ګوته نيولې ده، چي يادونه يې په څو لنډو ټکو کي بې ګټې نه ده. هغوی ليکي: «کله چي د يوې ژبــي د لغـــوي زېرمي په اړه سوچ کوو، دا خـــبره ګټوره او ارزښتناکه ده، چي د يوه ټـــکي د عمومــي او فرعي يا اصلي او اختـصاصي استعمال تر منځ دقيــق توپــير وکــوو؛ د مثــال په تــوګه ګــول (goal)، کورنر/کارنر (corner) او دا سي نور د فوټبال اختصاصـي اصطـلاحات دي (که څــه هم د ژبــي پــه ورځـنيو خبرو او مرکو کي هم پراخ استعــمال لري) مګر ښه، بد، لږ، ډېر، ارزښتمن، بې ارزښته او دا سي نور د ژبي د اصلي يا مرکزي لغوي زېرمي يوه برخه ده.» هغوی وروسته د ژبي په عمومي قاموس کي د اختصاصي يا اصطلاحي ټکو په باره کي، دا درې نظريې وړاندي کوي:
- وړې يا فرعي ژبي يا په بله وينا اختصاصي/ اصطلاحي کليمې بايد د ژبي په عمومي قاموس کي شاملي نسي (دا نظر بې شکه د ژبي لغوي او ادبي فقر ته لاره هواروي).
- د ټولو اختصاصي يا فرعي ژبو اصطلاحات بايد د ژبو په عمومي قاموس کي هم شامل سي (خو دلته دا پوښتنه طرحه کيږي، چي دا اختصاصي يا فرعي ژبي کومي دي؛ او د کومو نـورو په موندنه پسي هم بايد پلټنه وسي؟)
- د اختصاصي يا فرعي ژبو يوازي ځيني ټکي بايد د ژبي په عمومي قاموس کي مدغم سـي (لکه څنګه چي ښکاري دا لار د لـومړۍ او دوهمي نظـريې تر مـنځ د اعتـــدال يا پخلاينـــي لاره ده).
(Atkins and Rundell 73)

قـاموس ليکوونکي بايد د کليمو او عـبارتو دغه راز مانــاوي دلنډو تــورو يا نخـښو په کارولـو سره روښانه کـي. سربېره پــر دې د نـوي قاموس ليکني په زړه پوري ځانګړتيا دا ده، چي را غــونډ سوي ټکي د لــرغوني (archaic)، ادبي(literary)، شاعـرانه(poetical)، عامــيانه(slang)او دا سي نورو ډولونو په څرګندولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره، لوستونکو ته ور په ګوته کړي. په اوروپـــايـي قاموسو کې د مخففاتو په استعمالولو سره د کليمو دغه راز ښېلوني او چاڼ کولو ته ځـــانګړې پام کيږي. متأسفانه په پښتو قاموسو کې تر اوسه دې ځانګړتيا ته چندان توجه نـه ده سوې. که پښتو قاموس ليکوونکي ورشو، او ډېچه، اوجاړ او داسې نورو ټکو ته د «لر=لرغوني» مخففـه نخښه وکاروي يا په پارسي فرهنګ کې ګوشنه/ګشنه (چې ادبي رسمي او ادبي بڼـــه يې ګرسنه ده) او شيشته (چې ادبي بڼه يې نشسته ده) کليمـــو ته د «عا=عاميانه» مخففـي نخښې استعمال کړي، نو لوستونکو ته د لغتو د شکلي خرنګوالي په اړه ارزښتناک مالومات وړاندي کيږي. «منګر»، «منګس»، «اوميند» او داسې نور هم هغـه عاميانه تلفظـونه دي، چې قاموس ليکوونکي يې بايد په خپلو اثارو کې د معياري او کره بڼو تر څنګ په روښانه ټکو سره وښيي.

په هره ژبه له هغو څخه په انګرېزي ژبه کې عامـــيانه ټکي خورا ډېر دي؛ او ورځ په ورځ يـې شمېر مخ پر زياتېدو دئ. د عاميانه ټکو په برخه کې له پښتو او پارسي سره د انګرېزي ژبـې توپير په دې کې دئ، چې په انګرېزي کې د عاميانه کليمو او اصطلاحوو په رواج موندني سره سمدستي داسې ټکي او ترکيبونه د ژبې نوو قاموسو ته لاره پيدا کوي؛ او په دې توګـه يې خلګ کرار کرار له مانا سره اشنا کيږي. په دې ژبه کې، د عاميانه او غير رسمي ټکو لمن دونه پراخه ده، چې سړی ګومان کوي د ښوونځيو، پوهنتونو او رسمي ادارو د معياري ژبـــې تر څنګ، د کوڅو او باڼډو يوه بله ژبه هم جاري ده. د کتابو په بازار کې حتا د عاميانه او غـــير رسمي ټکو له پاره ځانته بېل قاموسونه پلورل کيږي. د ځينـو آن لاين بڼو له پاره يې دغه لينکونه وګورئ:

http://onlineslangdictionary.com/
http://www.peevish.co.uk/slang/
http://www.cockneyrhymingslang.co.uk/
http://www.probertencyclopaedia.com/slang.htm

د وخت په تېرېدو سره همدا عاميانه ټکي او ترکيبونه، چې د اشنا خلګو تر منځ په غير رسمي خبرو او مرکو کې استعماليږي، ورو ورو د معياري ټکو په ډله کـې ځـای نيسي؛ د مثـال پـه توګه په برتـــانوی انګـرېزي کـــې "bog"او "loo"د "lavatory"يـا"toilet"، "boob"د"breast" او "bums"د"buttocks" پر ځـــای پــه عاميانه او غـــير رسمـــي بڼـــه کـــاريږي.(Jackson and Amvela 162)

په خواشينۍ سره په پښتو کې د عاميانه او غير رسمي ټکو را ټولو او رواجولو ته ډېر لږ پـــام اړول سوی دئ. د پښتو عاميانه ټکي د عام ولس ژبه ده، چې تل د بدلون او پرمختګ په حال کې ده. په دې برخه کې ډېرو پلټنو او څېړنو ته اړتيا سته. په پارسي کـې د پښتو او پارسي ژبو ليکوال او قاموس ليکوونکي - اروابناد عبدالله افغاني نويس (په۱۳۲۷ش کې زېږېدلـــئ) د خپل دوه ژبيز «افغان قاموس» تر څنګ د «لغات عاميانهٔ فارسي افغانستان» په نامه بېل قاموس کښلئ هم دئ، چې په خپل ذات کې ډېر ارزښتناک اثر دئ (و.ګ. افغانی نويس، افغـــان قاموس او افغانی نويس، لغات عاميانهٔ فارسی افغانستان). په ايران کې هم د «فرهنګ فارسی عاميانه» تر سرليک لاندي، په دوو ټوکو کې يو ځانګړی قاموس تأليف سوی دئ؛ خو د پارسي ژبې د ټولو لهجو پر ځای يې يوازې د اوسنۍ ايرانۍ پارسي عاميانه ټکي را وړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په بېلابېلو ژبو او لهجو کې، د کليمو د مانوي پولو د بدلېدو ځيني بولګې

په دوه ژبيزو يا څو ژبيزو قاموسو کې د کليمو د ماناوو په اړه د دې خبـــري سپيناوی هم ډېر ضروري دئ، چې د ژبو او لهجو په بدلېدو سره د ځينو ټکو په ماناوو کې هم خورا ژور بدلونونه پېښيږي. کله کله يوه کليمه په يوه ځانګړې ژبه يا لهجه کې ډېري ماناوي افاده کوي؛ خو بلې ژبې يا لهجې ته په ننوتو سره خپلې ډېري پخوانۍ مانـــاوي له لاسه ورکوي. يـــا بالعکس په نوې ژبه يا نوې لهجه کې نوي ماناوي او مفاهيم مومي؛ د مثال په توګه حيوان د پښتو په لوېديځه لهجه کې د سپي، پيشي، پسه، خره، آس، غويي او داسي نورو ځارويو په مانا کاريږي؛ په داسي حال کې چي همدا ټکی د پښتو په ختيځه لهـــجه، په تېـره بيـــا لغمانيانو کې د کوچني، کمکي، وړکي، وړ يا ماشوم په مانا استعماليږي. ګاډی په اوردو ژبـه او زموږ د کښته پښتنو په پښتو لهجه کې د موټر په مانا کاريږي؛ خو د دې خوا په پښتنو کې د «ګاډی» په بڼه هغې دوه ارابه ييزي نقليه وسيلې ته وايي، چـــي د آس، خره، اوښ يا بـــل حيوان پـه زور کشيږي. د «ماشين» ټکـی په ايرانۍ پارسي کـي د موټر(car) په مانا استعمـــاليږي؛ حال دا چي همدا ټکی په افغاني پښتو او افغاني پارسي(دري) کي د هغه صنعتي دستګاه په مـــانا کاريږي، چي په مېخانيکي يا برقي ډول کار کوي؛لکه د چاپ ماشين، د کالو ګنډلو يا پرېمينځلو ماشين او داسي نور؛ اما ايرانيان زموږ پر خلاف د انګرېزي ژبې د موټر همدا کليمه د « موتـــور» په بڼه د ماشين آلاتو دپاره کاروي. همدغه راز، په افغاني پښتو او دري کـــي د مـــور ورور ته « ماما» وايي؛ خو په ايرانۍ پارسي کي«دايي»ورته ويـــل کيږي. د ايرانيانو پر خلاف، مـــوږ د«دايي» ټکـــی د قابلې (midwife)په مفهوم کاروو ؛په داسي حال کي چي ايرانيان د «قابلې» دپاره د«ماما» کليمه استعمـــالوي.

ايـــرانيان زمـــوږ پر خـــلاف « انګليس» د انګلستـــان، « فرانسه»د فرانسوي ژبې او «ګره »د کوريا په مانا کاروي؛ په داسي حال کـــي چي افغانـــان« انګليس»د انګرېز تبعه په مفهوم، « فرانسه»د فرانسې او «کُره » د مځکي د کُرې په مانا استعمالوي. ايرانيان« صندلي»د چوکۍ/څوکۍ په مانا کاروي؛ خو افغـــانان په پښتـــو او دري کي«صندلي» ته د هغه مستطيل ډوله مېز په مفهوم ګوري، چي لوی تلتک يا بړستن پر اچوي؛ او په سړو سيمو کي يې د ژمي په موسم کي د ځان تودولو دپاره کاروي. «سال»په پارسي کي د«کال»په مانا دئ، حال دا چي همدا کليمه د پښتو په لرغوني ادب کي د ميده رېګ پــه مفهوم راغلې ده. «د سالو وږمه» د ابو محمد هـــاشم سرواني(په ۲۲۳ هـ ق کي زېږېدلئ ) ادبي اثر دئ، چي محمد هوتک په خپل مشهور اثر«پټـــه خزانه»کي ياد کړی دئ(هوتک ۵۸ ). «فارسي»کليمه په افغانستان او ايران دواړو کي د ژبې په مفهوم استعمـــاليږي؛ په داسي حال کي چي په هند او پاکستان کي د اورپالوونکي، زردشتي يا مجوسي په مانا ويل کيږي. البته په دې ځای کي د زردشت پالني او پارسي ژبې تر منځ هم يو تاريخي اړېکی تر سترګو کيږي. په پارسي کي د«آيين»کليمه زياتره په دوو مفهـــومو کاريږي:[۱] دستور، رَوِش، رَسم، عادت، نظم، قاعده، سُنّت، دين.[۲] ښکلا، ښايست، زېب او زينـــت(عميد۱: ۸۱). همـــدا کليمـــه د اوردو ژبې پـه پـه ورځينيو مکالمو کي عمـــدتاً د اساسي قانون يا قانون، لايحـــې، مقـــررې او قـــاعـــدې په ماناوو کـــاريږي. (Platt 115)

په دې ډول ګورو ، چي په اوردو او پارسي کي د«آيين»دکليمې د ماناوو د پراخوالي او نـــورو ځانګړتياوو ترمنځ ډېر توپير ليدل کيږي؛ مثلاً په افغانستان کي هيڅکله نه وايي، چي د آيين په پلانۍ ماده کي داسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلي دي. د دې دود پرخلاف، په پاکستان کي ځوک د «آيين» کليمه د دين او مذهب په مانا نه کاروي. حال داچي په پاړسي او پښتو کي، دا ټکی د دين او مذهب په مانا پراخ استعمال لري.

په عربي ژبه کي مکان د ځای په مانا دئ؛ په اوردو ژبه کي د کور يا استوګنځي په مانا استعماليږي؛ خو همدغه ټکی په افغاني پښتو، په تېره بيا لـوېديځه لهجــه کي د بيت الخلأ، حاجتځي، کِناراب يا تشناب په مانا ډېر عام دئ. د «طوايف» کليمه په عربي، پاړسي او حتا پښتو کي د «طايفه» د جمعي په مفهوم کاريږي، چي د ټبرونو، توکمونو، قومو، قبيلو، عشيرو، خېـلو او داسي نورو مانا لري؛ خو په هندي او اوردو ژبو کي د جمعي دا صيغه د يوه شخص له پاره د مفردي صيغې په بڼه، د رقاصې (نڅېدونکي ښځي)، مسلۍ يا بدلمني ښځي په مانا استعماليږي چي له عربي، پاړسي او پښـتو سره نه يوازي په مانا، بلکي په ګرامري نوعيت کي هم توپير او جلا والی ښيي. د «کمين/ کمينه» کليمه د دې خوا په پښتو او دري کي تـــل په ښه مانا کاريږي؛ په داسي حال کي چي همدا ټکی په هندي او اوردو کـــي د ښکنـــځلو او سپکو سپورو په توګه د بې همته، بې غيرته، رذيل، ټيټ، فرومايه او داسي نورو په مفهوم استعماليږي. «نبات» کليمه په عربي کي د بوټي (plant) خو په دري کي د ميسرييو (يو ډول شرينۍ) پــه مانا استعماليږي. په کښته پښتنو کي سوأ (د سين په زېر) عربي ټکی د ډېر، زيات، کوټه په مفهوم کاريږي؛ خو همدا ټکی په پاړسي کي د وسط، ميانه، يو ډول، برابر او همدغــه راز د استثنأ د کليمې په بڼه د غير، جزء، مګر، ليکن او داسي نورو په مانا کاريږي (عمــيد۲: ۱۴۷۴). په برو پښتنو کي هم دا ټکی د «ماسِوا» (د سين په زېر) په بڼه د استثنأ د کليمې په توګه کاريږي. د کوزي پښتونخوا پښتانه «نری» د کوچني يا واړه په مانا کاروي؛ لکه نری فـريج، نری ګاډی، نری کمپيوټر او داسي نور؛ حال دا چي بر پښتانه يې يوازي د هغــه شـي د پاره کاروي، چي بر يا سور يې کوچنی وي (کم بره). ځيني کښته پښتننانه «ډنګر» کليمه د «خره» په مفهوم استعمالوي؛ حال دا چي دا خوا پښتانه يې د خوار ځواکه، کمزوري، کم جانه، ضعيف البينه او داسي نـورو په مانا کاروي. په عربي او پاړسي کي د «عُمده» کليمه د کُلي، مجـموعي، ټوليز په مـانــا استعماليږي؛ مګر په اوردو کي د ښه، اعلی، باکيفيته او داسي نورو په شان ماناوي لري.

په انګرېزي کي هم د ژبو او لهجو په بدلون سره، د کليمو په مانوي پولو کي د اوښتـون خورا ډېر مثالونه سته، چي يو يې د چانسلر (Chancellor) کليمه ده. په انګلستان کي دا ټکـــی د ماليې وزير يا د يوه پوهـــــنتون د نااستوګن او افتخاري رييس په مـانا کاريږي؛ حـال دا چي دا ټـکی په نورو اوروپايي هيـــوادو، په تېـــره بيا جرمني کي د صدراعظـم (Prime Minister) پــه مانا استعماليږي.(Thomson 218) همدغه راز، د ټېـــپ (tape) انګرېزي کليـمه په دې ژبـه کي د اوازي يا تصويري فيتې/کسيټ (cassette)، نرۍ او دل سوي پټـــۍ يا سريښناکه پلاسټيکي پټۍ په مانا استعماليږي؛ خو په پښتو او دري کي د هغه برقي آلې په مفهوم کاريږي، چي موسيقي يا نور ثبت سوي ږغونه وايي. په دې توګه د ټېپ دا مفهوم په پښتو او دري کي له هغه مفهوم سره ډېر توپير لري، چي خلګ يې په انګرېزي ژبه کي کاروي. په بېلابېلو ژبو او لهجو کي د کليمو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماناوو او انګېرنو د اختلاف مثالونه تر حساب تېر دي، چي هر پوه او هوښيار کس يې بايد تر وسه وسه له ګډوډولو څخه ډډه وکړي؛ خو دا لوړ هدف يوازي هغه مهال تر لاسه کېدای سي، چي د کليمو په مانوي پولو کي دا ډول بدلونونه تر هر چا مخکي، د قاموس ليکوونکو لــه پامه پټ نه وي.

## د طبيعي او غيرطبيعي عواملو پر بنسټ د بېلابېلو ټکو په ماناوو کي راز راز بدلونونه: د کليمو حقيقي، مجازي، کنايي، اصطلاحي او نورو ماناوو ته يوه لنډه کتنه

مخکي مو د يوه منلي اصل په توګه يادونه وکړه، چي کليمې د بېلابېلو طبيعي (د وخت تېرېدو ، جوي او اقليمي حالاتو ) او غيرطبيعي (سياسي، اجتماعي، فرهنګي، فکري او اقتصادي )تحولاتو په ترڅ کي کله کله پخوانۍ ماناوي له لاسه ورکوي؛ او پرځای يې نوي ماناوي پيدا کوي؛ مثلاً «يزته» په اوستا کي هغه پرېښته/ پريشته وه، چي د خير او ښېګڼې عامله ګڼل کېده. دا مانا اوس مړه ده؛ خو اوس يې د همدې ټکي په اخير کي د «ته»پر ځای د «دان» ورستاړی ور موښلولئ دئ؛ او د «يزدان» يا خدای تعالی په مانا يې کاروي.«دروغ» هم په پخوا کي د يوه دېب/ ديو نوم ؤ، چي اوس د ريشتيا پر ضد استعمالېږي (حبيبي، «د پښتو لغوي تطور،»کابل، ۱۴۳). ځيني وختونه لغتونه پخوانۍ ماناوي هم ساتي؛ او نوي ماناوي هم خپلوي. دغه راز نوي ماناوي زياتره مجازي، کنايي او اصطلاحي بڼه لري. دکليمو نوي ماناوي په حقيقت کي د هغو طبيعي او ټولنيزو بدلونو زېږنده دي، چي هره ورځ په طبيعت او ټولنه کي پېښېږي؛ او د ژبي بېلابېل ټکي، ترکيبونه او اصطلاحات هم له هغو سره ګام پرګام تغيير او تحول مومي. په داسي شرايطو او حالاتو کي بايد قاموس ليکوونکی د بېلابېلو ټکو او ترکيبو په راز راز ماناوو او مفهومو کي د هغو حقيقي، اصطلاحي، مجازي، کنايي او نوري ماناوي، په روښانه ډول تفکيک او تشخيص کړي؛ د مثال په توګه «شاهد»کليمه، لکه څنګه چي مخکي هم اشاره وسوه، د حقيقي مانا له پلوه کتوونکي يا لېدونکي ته وايي؛ خو په پارسي شاعرۍ کي زيـاتره پـه مجازي بڼه د معشوق، محبوب، جانان، يار، نګار او داسي نورو په مانا راغلې ده. همدغه رنګه «صنم»ټکی چي په لغت کي اصلاً بت، مجسمې، تمثال اوداسي نورو ته وايي؛ خو په مجازي بڼه د معشوق، محبوب، نګار، جانان، معبود او داسي نورو په مانا استعمال سوی دئ. په اسلامي فقه کي«شاهد»د يوې بېلي اصطلاح په توګه هغه چا ته ويل کېږي، چي د يوې دعوې د اثبات يا رد دپاره په محکمه کي شاهدي ورکوي.«ملت» هغه عربي ټکی دئ، چي پخوانۍ مانا يې هم ژوندۍ ده؛ خو د زمانو په تېرېدو سره يې نوې مانا هم پيدا کړې ده. دغې نوې مانا په پيل کي مجازي بڼه لرله، چي ورو سته سو که سوکه د حقيقي مفهوم پر ځای ودرېده. پوهېږو ، چي«ملت» پخوا د شريعت په مانا استعـمالېده؛ مثلاً په قران مجيد کي د «ملت ابراهيم» ستاينه سوې ده. خواجه شمس الدين محمد حافظ شيرازي (په ۷۹۱ هـ ق کي مړ )په خپل ديوان کي وايي:

جنګ هفتاد و دو ***ملت*** را همه عـذر بنه

چو نديدند حقيقت همه ره افسانه زدند

مګر نن موږ همدا «ملت» ټکی د خلګو يا وګړو په مانا کاروو(د نورو توضيحاتو له پاره و.ګ. حبيبي، «د پښتو لغوي تطور،»کابل، ۱۴۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پارسي کي «رويين تن» ، «ګلرخ» ، «بدلګام» او داسي نور ترکيبي ټکي د حقيقي او مجازي ماناوو له پلوه ډېر توپير لري. «رويين تن» په حقيقي مانا هغه چا ته ويل کيږي، چي بدن يې له رويي (شين بخونه سپين فِلز )څخه جوړ سوی وي؛ خو په مجازي مانا قوي، غښتلي، پياوړي، زورور او داسي نورو ته وايي. « بدلګام »د حقيقي مانا له پلوه د هغه آس په مانا دئ، چي قيضې ته خوله نږدي؛ خو په مجازي بڼه د هغه انسان د صفت په توګه کاريږي چي سرکښ، عصيانګر، باغي، متمرد او نافـرمانه طبيعت ولري(عميد١: ٣٨٥ ) . البته دا ترکيبي ټکي ټول په مجازي په بڼه کاريږي.

په عربي کي«وقف»کليمه له لغوي اړخه د دربدو يا توقف په مانا ده؛ خو په فقهي او حقوقـي اصطلاح هغه حالت ته وايي، چي کوم فزيکي يا حُکمي شخصيت د پام وړ مال(عين )په خپل واک کي وساتي؛ او له هغه څخه تر لاسه کېدونکې ګټه په هغو چارو کي ولګوي، چـي واقف(وقف کوونکي ) ټاکلې وي. اوقاف يې دجمعي حالت دئ. «جرح»د حقيقي مانا لـــه اړخه وجود ځېرلو ، ټپ يا پرهر ته وايي؛ خو په حقوقي اصطلاح د شهادت بطلان يا ردولو ، سمـولو او اصلاح کولو ته وايي (حبيم١:٥٤٠ او عميد١: ٨٠٩ ). «اجتهاد» په لغوي لحاظ کـوښښ او جد و جهد ته وايي؛ خو په فقهي اصطلاح له اسلامي منابعو او مصادرو(قراني ايتونو ، نبوي حديثونو ، اجماع او قياس )څخه د شرعـي حُکمونو استخراج ته وايي. د «کتاب»کليمه په عـــامه مـانـا (دفتر ، بياض، صحيفه )ټولو خلګو ته څرګنده ده؛ خو په اسلامي علومو کي د هغه اختصاصـي مانا ، قرآن شريف ته اشاره ده. لکه څنګه چي په ځينو مبارکو آياتو کي قرآن مجيد د «کتـــاب مبين» په نامه ياد سوی دئ.
«ذکر»کليمه هم په عامه او خاصه مانا بېل استعمال لـــري. د «ذکر»عام مفهوم(د خدای ياد ، د الله تعالی د اسمأالحسنی يادونه...) هر چا ته ښکاره ده؛ خو په خاص مفهوم يې ښايي بېله مسلکي او اختصاصي کسانو څوک پوه نسي. د «ذکـــر» ټکی په خاصه او ضمني مانا هم د«کتاب»په څېر ، قرآن کريم يا قرآني لارښوونو ته اشاره ده؛ ځکه د مسلـمانانـو دې سپېڅلي کتاب ته په ځينو آياتو کي د «ذکر» په نامه هم ګوته نيول سوې ده.

په انګرېزي کي هم د داسي کليمو شمېر خورا ډېر دئ، چي حقيقي، مجـــازي، کنـايي او اصطلاحي مانـاوي يې يوله بله بېلي دي؛ مثلاً "fabulous" کليمه د چي د اتيمـولوژيکي اړخه لـه"fable" ټکي څخه د تصـوري، افسانه يي، خيالي، افسانې، اسطورې، نکل، کيسې او داسي نورو په مانا اخيستل سوې ده؛ خو د خلګو په ورځنيو محاورو کي په اصطـلاحي بڼه د عالي، لوی، بـاورنه کېدونـکي، اريانوونـکي، پـــرتمين اوداسي نورو په مانا کـاريږي يا"gut" کليمه چي د حقيقي مانا له پلوه نس، کولمو ، د غرايزو د احساس مرکز ،د وجود دننـه برخي، ضروري برخي، اقتباس کولو ، د ودانۍ سوځولو او ورانولو تـه وايي؛ خو په ورځينيو محـــاورو او مـــرکو کي اصـطلاحاً د جمعــي په بڼه (guts) د روحيې، زړورتيا ، مړاني، غيرت او داسي نورو په مانا کاريږي. د"tiger"ټکی له لغوي پلوه د ببر(حيوان )په مانا دئ؛ مګر پـه مجازي بڼه د وحشي، بې رحمه او ظالم انسان په مانا استعمالـيږي."gay" کليـمه په انګرېزي کي اصـلاً د خوښ، خوشاله او داسي نورو په مـانا ده؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو نن سبا همــدې ټکي په خلګو کي يوه بله مـــانا هم موندلې ده، چي تر خپلي پخوانۍ مـــانا ډېره عـــامه او مشهوره ده. په نوې مانا دا ټکی د هغه نارينه دپاره کاريـــږي، چي له بـــل نارينه سره جنسي اړيـــکی ولـــري. "giant"کليمه د حقيقي مانا له اړخه د روميانو د افسانوي اتل يـــا ديو/ دېب په مانا ده؛ خو په مجازي بـــڼه د لوی، ستر، غټ، پياوړي، عظيم، غول پيکر او داسي نورو په مانا استعماليږي. د"sick" کليمې عامه مانا (ناروغ) او اصطلاحي مانا(عالي، ډېر ښه) ډېر توپيـــر لـــري. "cool" کليمه هم له همدې ډلي څخه ده، چي رسمي(سوړ، يخ) او اصطـــلاحي (عـــالي، ډېـــر ښه) ماناوي يې يو له بـــله ډېر فرق لري.

د نورو ژبو په څېر په پښتو کي هم د داسي ټکو شمېر تر انده پاس دئ، چي د زمـــانو پـــه بېلابېلو پړاونو او د خلګو په مختلفو طبقو او ډلو کي، په جلا جلا ماناوو(حقيقي، مجازي، کنايي ، اصطلاحي او نورو ) استعمـــال سوي دي؛ مثلاً په کندهار کي د «چغال» ټکی د بې زړه، بې غيرته، بګېل او نامرده سړي دپاره او «روستم» د زړور، مېړه، غښلي،پياوړي، غيرتمن او داسي نورو پـه کنايي ماناوو کاريږي. په کندهار کي د «وينهٔ» [خج پر دوهمه څپه] ټکی، چي په حقيقي مانـــا د حشراتو له کورنۍ څخه يو کوچنی حيوان دئ؛ په مجازي او کنـــايي مانا د مضـــر، موذي، اپتي، ورانوونکي، سراښ، طامع، اروا وږي او داسي نورو په مفهوم استعمالوي. يا لکه څنګه چي په پاړسي کـــي وايي: «فلانی برق لُچ است.»دلته د «برق لُچ»ترکيب د کنايي په ډول د تېز، چالاک، تېر ايستوونکي، چمباز، ټګ، ټګمار، فريبکار، مُزوِر او داسي نورو په مانا استعمـــال سوی دئ. سربېـــره پـــردې مواردو او حالاتو، کله کله ځيني ټکي د ټوکو يا سپکاوي له پاره، په معکوسه يا متضـــاده(ironic) مـــانا استعماليږي؛ لکه په کندهار کي، چي يک يا بې وښتو سړي ته په سر چپـــه بڼه«څـــونه وَر» وايـــي. له کليمو او ترکيبو څخه بېلابېلي ماناوي او مفهومونه اخيستل، په واقعيت کي د يوې ټولني يا يوې ځانـــګړې ډلي د فکري او ذهني پرمختيا ښکارندوی دئ. په هره ژبه کي، چي د داسي لغـــتو زېرمه پراخه او لويه وي، په هغه اندازه بډايه او مهذبه ګڼله کيږي. پر ولسي خبرو او مرکو سربېره په پښتـــو ادب کي هم ددغه راز ماناوو بولګې خورا ډېري دي؛ مثلاً په دې بيت کي، چي د ادبي فنونو له مخي يې«مدح مايشبه الذم» بولي، د « عادل او عدل»ټکي هم په معکـــوسه مانا کارسوي دي:

يو عادل بادشاه پيدا شو اورنګ شاه د دين غمخور
خپل پلار ترې په عدل په فتـــوا وژني خپـــل وررور

په پښتو ادب کي ډېر ځله «نمرود» او«فرعون» د جابر، جلاد، ظالم، بې رحمه، متکـــبر، ځـــان غوښتونکي او داسي نورو په مجازي ماناوو ؛«ابوجهل» د مشرک، کـــاپير(کافر)، بې ايـــمانه، خرافاتي، سرټمبه او داسي نورو په مجازي ماناوو ؛«زاهد» د ځانښودي، رياکا ر، فضل فروش او«رند»د عارف، صوفي، بې ريا ، مخـــلص او داسي نورو په مجازي ماناوو سوي دي. د بلي هري ژبې په څـــېر په پښتو ادب کي هم د دغه راز سيمبولونو، مجازي او کنايي ماناوو استعمـــال خورا ډېر دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زياترو پارسي فرهنګونو هم د کليمو، ترکيبو او عبارتو کنايي مانــاوو ته ژور پام کــړی دئ. په «فرهنګ لغات و تعبيرات مثنوی» کې د «آب حيات» د عامو او دودیزو مفــاهيمو تر بيان وروسته داسي لولو: «در اصطلاح شعر کنايه شده است از کلام فصيح و دهان معشوق و سخن ګوئی او. - عرفا آنرا کنايه کرده اند از محبت باريتعالی که هر کس را جرعه ای از چشمه فيــاض آن بنوشانند معدوم و فانی نګردند. و نيز کنايه است از سخنان اولياء الله و مردان کامل که حيات بخش است» (ګوهرين ج۱:۷). د «فرهنګ آنندراج» مؤلف د «آب مريم» د مانا په بيان کې داسي کښلي دي: «کنايه از عصمت و طهارت و راستګاری. و نيز شيرهٔ انګور» (شاد ج۳۱:۱).

په دې ډول ګورو، چې په آيرونيک بيانونو کې ظاهراً يو څه ويل کيږي؛ خو د بلې مانا يا بل مفهوم د پوهېدو هڅه کيږي. که څوک ووايي: «ژر سئ ډوډۍ راوړئ، چې مرم.» دلتــه د مرګ د کليمې استعمال د لوړې د سختوالي او زياتوالي په مقصد ويل سوی دئ، نه د واقعــي مرګ په مــانا. له دې امله د بېلابېــلو ټــکو د اغېزمنتيا او تأثير لــوړول، ټول په حقيــقت کــې د کلام د مانــوي اړېکو زېږنده دئ. د کليــمو مجــازي (metaphorical /figurative) ماناوې د هــرې ژبې په شعر او هونــري نــثر کې ډېر پراخ استعــمال لــري.

په پښتو قاموس ليکنه کې تر اوسه د کليمو مجازي او کنايي ماناوې په بشپړه او منظمه بڼـه نه دي را غونډې سوي. په زرونو داسي ټکي او ترکيبونه سته، چې د پښتو د بېلابېلو لهجو ويونکي يې په خپلو ورځنيو خبرو او مرکو کې کاروي؛ خو له بده مرغه چــې تر اوسه يې هم په پښتــو قاموسو کې راغونډولو او تشريح کولو ته چندان پام نه دئ سوی. پښتنو لغتپوهانو، اديبانو او څېړونکو ته ښايي، چې د پښتو پرګـړدو علمي او ادبي اثارو سربېره، د خلګو له ورځنيو محاورو او مکالمو څخه هــم دغه راز ټکي راټول کړي؛ او د روښانه مثالو په وړاندي کولــو سره يې لوستونکو ته مانــاوې او د استعمال ځايونه وښيي.

## د کليمو منصوصي او مستنبطي ماناوې

د اوسنۍ قاموس ليکنې د اصولو له مخي بايد د کليمو، عبارتو، ترکيبو او اصطلاحاتو په تشريح او بيان کې د منصوصو او مستنبطو ماناوو توپير ته ټينګ پام وسي؛ ځکه ډېر ځــله په ژبنيــو قاموسو کې داسي اختصاصي ټکي، ترکيبونه او اصطلاحات راغــونډيږي، چــې قــاموس ليکوونکي يې بايد يوازي د منصوصو او اختصاصي ماناوو په يادونه بسنه وکي؛ د مثال په تــوګه جرم/ جريمه، جنايت، جنحه، قباحت، تعزير، قتل، قصاص، جرح، ديت، نکاح، مهر، طلاق، عدت، مبيعه، ثمن، ميراث، اختلاس، رشوت او داسي نور د حقوقو او اسلامي فقهي داسي اصطلاحات دي، چې قاموس ليکوونکي بايد د يوه مهم اصل په توګه د هغو په اړه له شخصي نظريو او قياسونو څخه ډډه وکي؛ خو له دې کبله چې ژبه د يوه ټولنيز موجود په توګه تل د بدلون او اوښتون په بهير کې ده، د قاموسو مؤلفان کــولای سي د دغه راز کليمو، ترکيبو او اصطلاحاتو په تعريف او ځرګندونه کې ادبي او علمي نيمګړتياوې له منځه يوسي؛ او د نوو علمي پرمختګو په رڼا کې د هغو پخواني مفاهيم بشپړ او غني کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د منصوصو او مستنبطو ټکو په اړه د بحث پر مهال باید دا مسأله هم هېره نه کوو، چي که د ځینو ټکو او اصطلاحاتو په حقوقي تعریفو کي د بېلابېلو مفکرانو او حقوقپوهانو تر منځ اختلاف او جنجال ولیدل سي، بیا نو قاموس لیکوونکو ته نښايي، چي تر هر څه مخکي د خپل هیواد په نافذو قوانینو کي تسجیل سوو تعریفو ته د لومړي توب حق ورکړي. په دې توګه، قاموس لیکوونکی نه یوازي، د یوې حقوقي یا فقهي مسألې په اړه د هغې تیوریک اړخونه تشریح کوي؛ بلکي د خپل هیواد د نافذو قوانینو رسمي دریځ هم بیانوي. که چیري د مقنن په تعریفو کي تېروتنه، کمزوري او نیمګړتیا و لیدله سي، بیا نو لازمه ده چي د علمي نظریو په رڼا کي د هغو پر بېلابېلو اړخو هم تبصره وکي.

په قاموس لیکنه کي د مشابه، ذومعانین، مترادفو، متضادو، متقاربو او اړونده ټکو پېژندنه او ارزښت

لکه څنګه چي په قاموس لیکنه کي د هومنیمو، هوموفونو، هموګرافو او پالیسمیس ټکو پېژندنه او را غونډونه ډېر ارزښت لري، د مترادفو (synonyms)، متضادو (antonyms)، اړونده ټکو (related words)، نیژدې یا متقاربو ټکو (nearby words) حتا اړونده پلټنو (related searches) پېژندل او را ټولول هم، ډېره په زړه پوري موضوع ده.

په هره ژبه کي داسي لغتونه خورا ډېر دي، چي د یوه نیمګړي، پېچلي او غامض تعریف پر ځای د مترادفو او متضادو ټکو په مرسته خورا په اسانۍ او چټکۍ سره پېژندل کیږي؛ د مثال په توګه ماینه/ ماندینه، مېرمن، کډه، کوروالا، کورودانه، ښځه، عورته/ اورته/ اروته، ارتینه، خانمه، بېګمه او داسي نور یا کوچنی، کمکی، ووړ، وړکی، ماشوم، حیوان، طفل او داسي نور ټولي هغه مترادفي کلیمې دي، چي د پښتنو په بېلابېلو لهجو او سیمو کي د یوه واحد مفهوم د بیان دپاره کارېږي. په پارسي او عربي کي راه، روش، شګرد، راستا، وتیره، نهج، اسلوب، طریقه او داسي نور ټول د مانا په لحاظ یو رنګي یا نیژدې والی لري.

په دې توګه، سیننیمونه یا مترادف ټکي، هغه کلیمې دي چي یو راز ماناوي افاده کوي؛ او د بېلابېلو ټکو تر منځ د ماناوو دغه راز یو شانتي والی او یو رنګي په لغتپوهنه کي د سینانیمي (synonymy) په نامه یادیږي؛ لکه په امریکایي انګرېزي کي "sidewalk" او په برتانوي انګرېزي کي "pavement" ټکي یا "shut" او "close"، "beseech" او "implore"، "glitter" او "sparkle"، "native" او "indigenous" کلیمې، چي په ډېرو ځایو کي مترادفي ماناوي لري.

د هري بلي ژبي په شان، په انګرېزي ژبه کي د مترادفو ټکو په ماناوو او انګېرنو کي د یو رنګۍ او بېلوالي خورا ظریف او حساس اړخونه نغښتي وي، چي قاموس لیکوونکي باید ښه په خبر وي؛ مثلاً

(c) ketabton.com: The Digital Library

"supplicate, implore, beseech, entreat, beg" او "importune" ټکـي ګـرده د هغـي غوښتني په مانا دي، چي له مخالفت یا اعتراض سره مخـامخ وي. څوک د هغـه څه د ترلاسه کـولو دپاره د "beg" کلیمه استعمالوي، چي د یوه منلي حق په توګه یې غوښتنه نسي کولای. په بله ژبه، د "beg" ټکی د اخلاص، ټینګار او کله کله عاجزۍ او کمینې مراتب څرګندوي. د "entreat" کلیمه هغه مهال کـاريږي، چي څـوک د صمیمانه غوښتني او خواخوږۍ له لاري بل څـوک د یوه کار کولـو یا نه کـولو ته اړ بـاسي. دواړه "beseech" او "implore" داسي اندېښنه یا تلوسه افاده کـوي، چي خواخوږي او زړسـوی را پـاروي. ښـایي "implore" د ژړا، اوښکو او ښکاره درد په بیانولو سره په مـانا کي تر "beseech" یو څه پیاوړی او ځواکمـن وي. "supplicate" له "entreat" سره د عاجزۍ، ښوزلۍ او دوعا کولو فکر ملګری کوي؛ او په پای کي "importune" د ازار او ځورولو تر پولي پر خپله غوښتنه د یوه چا د ټینګار او درېـدو په مانا دئ. (Jackson and Amvela 108)

د هغو مشخصو شیانو له نومو پرته، چي په دوو بېلو کولـتورو یا کولتوري حوزو کي ګډ وي، په ژبو کي د سوچه یا نګه مترادفو ټکو مـوندنه ډېره ګـرانه ده، نو ځکه یې ژوندۍ او غوره بولګې په ډېري سختۍ سره پیدا کیږي. حـتا کـه د مترادفاتو په نامه ځیني و هم موندل سي، بیا هم په هغو کي د مانا له پلوه څه نا څه تـوپیر لیدل کیږي. مترادفو ټـکو ته نیژدې ټکي د مترادف وزمـه یا شبه متـرادف(pseudo-synonym) په نامـه یادیږي.(Jackson and Amvela 108)

ځیني ژبپوهان د بشپړو یا مطلقو مترادفاتو او نرمو یا اسانه مترادفاتو ترمنځ د تـوپیر او بېلوالي خبره کوي. په بشپړه یا مطلقه مانا باید دوه مترادف ټکي د استعمال په ټولو ممکنو شرایطو او حالاتو کي، یو په بل د اوښتو را اوښتو وړتیا ولري. ویوونکي او لیکوونکي باید په ټاکلو شرایطو او حالاتو کي د یوه یا بل ټکي په کارونه کي، د انتخاب پوره ازادي ولري؛ او دا خپلواک غـوراوی بـاید د هغه څه پر مانا، سبک او مانوي استنباط څه اغـېزه و نکړي، چي ویل کیږي یا لیـکل کیـږي.

لکه څنګه چي مخکی یادونه وسوه، ځیني ژبپوهان باور لري چي د مطلقو مترادفاتو موندنه اصلاً ډېره ګرانه ده. که چیري یو ونیم و هم موندل سي، نو هغه یوازي د مانوي بدلون د پېښېدو له امله دئ. په دې توګه، کټ مټ یا مطلق مترادفات، په یوه ژبه کي د ډېرو ټکو د غورځولو یا بې استفادې پرېښوولو خوا ته لاره هواروي؛ حال دا چي د یوه ځانګړي حالت یا موضوع دپاره د دوو ټکو ترمنځ د غوره کـولو په کار کي د پراخ او ازاد لاس لرل داسي ښېګڼه ده، چي ښېله هغې په وینا او لیکنه کي، له ډول ډول ستونزو او پېچومو سره مخامخ کېږو.

له تاریخي پلوه ښایي داسي و برېښي، چي د پام وړ دوه ټکي د مطلقو مترادفاتو له خطر سره مخامخ سوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ياني دا چي له دوو مترادفو ټکو څخه يوه په يوه بڼه خپله مانا اړولې يا له استعماله لوېدلې ده؛د مثال په توګه کله چي د"sky" کليمه له زړې ناروېژۍ ژبي(Norse)څخه انګرېزي ته ننوته، نو د بومـــي انګرېـــزي ژبـــي د"heaven"کليمې سره د سيالۍ په ډګر کي ودرېده. دواړو ټکو پر فزيکي اسمان سربېره، د خدای او ملايکو د روحاني عالم پر ماناوو دلالت کاوه. د زمانې په تېرېدو سره"sky" د فزيکي اسمان او "heaven" د روحاني يا عرفـاني اسمان په مفهوم استعمال سو. که څه هـم تر اوسه پوري دواړه کله کله د يو بـل پر ځـای کـاريږي.

دغـــه راز، کـله چي د روح(spirit)لاتيني کليـــمه د فرانسوي ژبـــي له لاري واخــيستل سوه، نو د بومي ژبي (انګرېزي) له"ghost"کليمې سره په مقابله کي ودرېـده؛ لکه د"Holy Ghost" او "Holy Spirit" په عبارتونو کي. وروسته "spirit" کليمې د يوه داسي ټکي په توګه ځای ونيو، چي عام او پراخ مفهوم يې لره؛ او"ghost" لږو ډېر د روحاني او غيرمادي مانا په دايره کي محدود پاته سو.
(Jackson and Amvela 109)

کله چي د مترادفاتو خبره کيږي، مقصد د اسانه او نرمو مترادفو ټکو بېلابېلي درجې دي، چي په هغـو کي نه يوازي د دوو کليمو تر منځ د مانا له پلوه څه تېر و بېر؛ بلکي د شرايطو او حالاتو څه نا څه توپير هم ليدل کيږي؛ خو سره له دي خصوصيتو هم کېدای سي يو د بـــل پر ځای استعمال سي. د دغه راز مترادفو ټکو اړوونکی يا عوضي استعمال يوازي هغه مهال سم او معقـول نه برېښي، چي د دوو يا څو مترادفو ټکو په منځ کی مشترکه مانا د هغو تر ګډې يا مشترکي ساحې دباندي پرېـوزي؛ د مثال په توګهdiscover(تر هر چا مخکي د يوه شي مـــوندنـــه يا حقيقـــت پېژندنـــه) اوfind(په يـــوه ډول يـــا يـــــوه بـڼـــه د يـــــوه شـــــي مـــــونـدل).
(Jackson and Amvela 109)

ځيني مترادف ټکي د يوې ژبي له بېلابېلو لهجو سره د اړېکي پر بنسټ يو له بله بېليږي؛ مثلاً په برتانوي انګرېزي او امريکايي انګرېزي کي، د څو مترادفو ټکو بولګې په دې ډول دي:
windscreen, pavement, lift, lawyer, farm, caravan, bonnet(car)
windshield, sidewalk, elevator, attorney, ranch, trailer, hood
لومړی ليکه د برتانوي انګرېزي او دوهمه ليکه يې د امريکايي انګرېزي ځيني ټکي ښيي.
کله کله په يوه هيواد کي هم د يوې ژبي د بېلابېلو لهجو، معياري، شفـــاهي او عاميانه ژبو او مختـلفو مانوي استنباطاتو پر بنسټ، د مترادفو ټکو استعـــمال او بالاخـــره رواج کـېدو تـــه شرايـــط او امکانات برابريږي.
(Jackson and Amvela110-111)
انګرېزي ژبه د مترادفو ټکو له پلوه ډېره غني او ارته ده، چي لومړنی دليل يې د دې ژبـــي په تاريخ او له نورو ژبو لکه فرانسوي او لاتيني څخه د پراخو ټکو په اخيستني او استعمال پـوري اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نړۍ د زیاترو ژبو په شان په پښتو کې هم د مترادفو ټکو د مانوي پولو ترمنځ ډېر حساس او باریک توپیرونه لیدل کیږي، چې قاموس لیکوونکي یې باید په پېژندنه او روښانولو کې ژور پام وکړي. دلته د پښتو د نومیالي شاعر او لیکوال - استاد سید ګـل پاچا الفت (۱۲۸۷- ۱۳۵۲ش) له «لغوي څېړني»څخه څو مثالونه او بولګې را اخلو:

ځوان او ځلمی تقریباً یوه مانا لري؛ خو د ځلمي/ زلمي کلیمه د آس یا نورو حیواناتو دپاره نه استعمالیږي. په داسي حال کي، چي دواړي کلیمې د سړي دپاره بې توپیره کارېدای سي. زموږ خلک وایي: پلانی ځوان سوی دئ یا بیستانی ځلمی سوی دئ؛ اما هیڅکله داسي نه وایي، چي د پلاني آس ځلمی سوی دئ.

ووړ او لوی د کشر او مشر له ټکو سره مانوي اړیکي لري؛ مګر سره له دې هم هیڅ یو د حیوان دپاره نسي استعمالېدای؛ د مثال په توګه خلک نه وایـي، چـي آس یا غویی مي کشر یا مشر دئ؛ بلکي د دې پر ځای د ځوان، زوړ او داسي نورو ټکي کاروي (الفت ۳۲).

په پارسي ژبه کي د «دختر»ټکي د لور او نجلۍ دواړو په مانا استعمالیږي؛ په داسي حال کي چي په پښتو او انګرېزۍ کي دا دوې کلیمې مانوي توپیرونه لري. په پارسي کي که و وایو: «او دختر، دختر احمد است.» یاني «هغه نجلۍ د احمد لور ده.» هرومرو باید په جومله کي د «دختر»ټکی دوه ځله تکـــرار سي، چي دا لفظي او مانوي تکرار د بې خوندۍ او التباس سبب کیږي؛ حال دا چي په پښتو، انګرېزي او ځینو نورو ژبو کـــي دا لفظي او مانـــوي تکرار نسته.

ځیږ او لواړ سل په سل کي مترادف نه دي. که وو ایو ډېره ځیږه ده. دا خبره سمه ده. که و وایو وریجي لواړي دي. دا جومله هم سمه ده. په ځینو ځایو کي یو د بل پر ځای استعمالیږي؛ لکه: «دا اوړه لواړ دي.»، «دا اوړه ځیږه دي.» پوست او خوړین هم مترادف نه دي (الفت ۳۸).

خوړینه غوښه، پسته نهالۍ، پوست ټوکر، خوړین شفتالو/ شوتالو او داسي نور زیاتره نورو ژبو ته د یوې کلیمې په بڼه ترجمه کیږي؛ ځکه په هغو ژبو کي کېدای سي په همدغو دوو بېلو ماناوو دوه بېل لغتونه نه وي؛ لکه پوست او نرم چي په پارسي کي په نرم ترجمه کیږي. کله کله هم د قاموس لیکوونکو د بې پروایۍ او بې توجهۍ له امله په یوه لغت ترجمه کیږي (الفت ۴۱).

داړل او چیچل زیاتره په ګزیدن ترجمه کیږي؛ په داسي حال کي چي دا دوه ټکي د مانا په لحاظ کاملاً یو نه دي؛ مثلاً موږ وایو: «احمد لړم چیچلئ دئ. داسي نه وایو، چي احمد لړم داړلئ دئ.» مګر د سپي دپاره بیا د «داړلو» فعل کاروو. دلته ګورو، چي ځیني ټکي د حیواناتو په یوه ځانګړې ډله پوري اړه لري. اچول او غورځول هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مانا کي فرق لري؛ مثلاً وايـــو: « اوبه په لوښي کي واچوه !» داسي نه وايو، چي « اوبه په لوښي کي و غورځوه !» (الفت ۴۱ ).

له مخکنييو مثالو څخه څرګنديږي، چي په پښتو کي هم د نورو ژبو په څېر د خالصو مترادفاتو موندل ډېر ګران دي. په دې مانا چي په پښتو کي هم د انګرېزي ژبي په څېر کله کله د دوو يا څو ټکو تر منځ په ځينو اړخو کي يو شانوالى او په ځينو نورو کي بېلوالى او توپيرونه تر سترګو کيږي؛ لکه:« شکول» او « شلول». «شکول» زياتره د پرې کولو، غوڅولو، چور کولو، لوټولو او داسي نورو په مانا کاريږي؛ خو «شلول» زياتره د پرې کولو، غوڅولو، قطع کولو، جلا کولو، بېلولو او داسي نورو په مفهوم استعماليږي.

د مترادفو ټکو تر منځ د افتراق او بېلوالي اړخونه، د حقيقي مانا په پرتله په مجازي ماناوو کـي ډېر ليدل کيږي؛ مثلاً د چورولو يا لوټولو په مانا د «شکول»استعمال، په واقعيت کي د دې ټکــي مجازي مانا ده. هر مترادف ټکی په بېــل حالت، ځانګــړې جوملهاو جلا ځــای کــي استعماليږي، چي قاموس ليکوونکی يې بايد د لازمو توضيحاتو او مثالو په وړاندي کولو سره، د ګډوډۍ او التباس مخه ونيسي.

هغه ټکي، چي د ټولو اړخونو له نظره د مترادفو ټکو ځانګړتـياوي پوره نه کړي، د متقــاربو او اړونده ټکو په توګه ظهور کوي. په دې ډول ټکو کي، لکه څنګه چي يادونه وسوه، د مـــانا په ځينو برخو کي يو شانوالى او په ځينو نورو کي، جلاوالى او توپيرونه ليدل کيږي.

د پښتو ژبي په بېلابېلو لهجو(ګړدودو ) کي داسي لغتونه، ترکيبونه او اصطلاحات خورا ډېر دي، چي که د قاموس ليکوونکي له خوا په پوره زيار او زړه سوي خوندي نسي، بېله شکه تر دوو- درو پښتونو وروسته د هېرېدو اوبالاخره نابودۍ له خطر سره مخامخ کيږي. له دې امله بايد قاموس ليکوونکی نه يوازي د ژبي علمي او ادبي لمن پراخه کړي؛ بلکي د خپلو ادبي، علمي او فرهنګي ميراثو په ساتنه کي هم د ستايني وړ برخه اخلي. مترادفات د هري ژبي د مـانوي ښکلا او بډاينې لويه او ارزښتناکه زېرمه ده. په واقعيت کي همدا مترادف ټکي دي چي په خبرو، ليکنه او خاصتاً شاعري کي د کليمو د تکرار، بې خوندۍ او ګډوډۍ مخه نيسي.

د مترادفو ټکو په شان متضاد ټکي(سپين د تور ضد، خپــلواکي د مـرييتوب ضد، سخـاوت د کنجوسۍ ضد او داسي نور ) هم په قاموس ليکنه کي ډېره لويه ونډه لري. د نړۍ د زياترو ژبو په څېر، په پښتو کي هم د مترادفو او متضادو ټکو خورا ستره زېرمه سته؛ خو په خواشينۍ سره، چي د مترادفو او متضادو ټکو دا پراخه او بډايه زېرمه تر اوسه په بشپړه توګه نه ده راغونډه سوې. دا کار د پښتنو په غرو او رغو کي اوږدو او پرله پسې پلټنو ته اړتـــيا لري. د ځينو پښتو فرهنګونو مؤلفانو تر خپله وسه په قاموسو کي مترادفو او متضادو ټکو ته ځـــای ورکړی دئ، چي په دې ډله کي د افغانستان د علومو اکاډيمۍ«پښتو - پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشریحي قاموس»تر ټولو لوړ ځای لري؛ مګر سره له دې هم په هیڅ وجه بشپړ نه دئ. په پښتو کـــې داسې مترادفي یا متقاربې کلیمې خورا ډېرې دي، چي زموږ له تاریخ، تاریخي جغرافیایي او ادب سره نیژدې اړیکی لري؛ خو تر اوسه یې د ژبې مفصلو او مشرحو قاموسو ته لاره نه ده پیدا کړې؛ مثلاً ایکی، تنګه/ ټنګه، غجری، اشرپی، کابلی، ولسکیزه، دوه کیزه، درې کیزه، پیسه، روپی، تومن، او داسې نوري هغه نیژدې یا اړونده کلیمې دي، چي زموږ د هیواد د تاریخ په بېلابېلو پړاوو کـــې د مروجو پیسو د مختلفو واحدونو په توګه استعمالېدې. د پښتو ژبې قاموس لیکوونکي باید د دغــه راز کلیمو په راغونډولو سره د هغو د بېلابېلو ژبنیو، تاریخي، جغرافیایي او اقتصادي اړخو په روښانــولو کـې مرسته وکړي.

په فرهنګو کې د راغونډو سوو ټکو د تشریح او بیان دپاره د مترادفو او متضادو ټکو کــاروَنه نه یوازې له لوستونکو سره د پام وړ ټکو په اسانه پېژندنه کې کومک کوي؛ بلکې په هــره ژبه کې د بېلابېلو لهجو د ښې پېژندنې او له دې لارې د یوه اسانه، کره او معیاري ژبې د را منځ کېدو له طبیعي بهیر سره هم ګټوره مرسته کوي؛ ځکه په هر هیواد کې د یوې کره او معیاري ژبې د دودولو تر ټولو مهم او اساسي شرط، د هماغه ژبې د بېلابېلو ویوونکو او لیکوونکو ترمــنځ په ټولنیز ژوندانه کې، ژور او هر اړخیز اړیکی دئ. هرڅونه چي دا اړیکــې َارَت او غښتلئ وي، په هغونه اندازه ژبه د سمون، کره والي او معیار پر لور ګام ږدي. که د بېلابېلو پېچومو له کبله د یوې ژبې د ویوونکو تر منځ فزیکي تماسونه او تعلقات ګران وي، نو په قاموسو کې د یو بـــل په مروَجو ټــکو او ترکیبو پوهېدنه، د دې نیمګړتیا د بشپړولو دپاره، ډېر ضروري او په زړه پوري کار ګڼل کیږي. د همدې استدلال له مخې باید زموږ پښتو قاموسونه د ټولو لروبر پښتنو مروجې کلیمې او ترکیبونه، په علمي بنه را غونډ او تشریح کړي.

د انګرېزي ژبې په ځینو عصري قاموسو کې مترادفو او متضادو ټکو ته د قاموس د یوې بېلې برخې په توګه ځای ورکړل سوی دئ. قاموس لیکوونکي د یوې کلیمې د بېلابېلو ځانګړتیاوو تر پېژندنې او شننې وروسته، لوستونکي د هغې مترادفو او متضادو ټکو ته رهنمایي کوي؛ لکه په دغو او داسې نورو انګرېزي قاموسو کې :

Collins English Dictionary & Thesaurus
http://www.merriam-webster.com
http://dictionary.reference.com
http://www.thefreedictionary.com

د انګرېزي ژبې په ځینو آن لاین قاموسو کې پر مترادفو او متضادو ټکو سربېره حتا د نیژدې یا متقاربو ټکو او اړونده یا مربوطو پلټنو تر سرلیک لاندې هم ، د هغو کلیمو لیست کښل سوی دئ، چي د پام وړ ټکي له بېلابېلو اړخو سره د مانا له پلوه نیژدې والی یا ارتباط لري. دغه راز ټکي د کراس - ریفرینس یا خو ځایه یادونې په بڼه په خپلو منځو کې اړیکی لري؛ او لوستونکو ته د یوې کلیمې په بشپړه او هر اړخیزه پېژندنه کې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پراخ او ګټور مواد وړاندي کوي. «ډيکشينري ډاټ ريفرينس ډاټ کام» له دغه راز آن لاين قاموسو له ډلي څخه يو ګټور او په زړه پوري اينټرنيټي قاموس دئ.

په نوي قاموس ليکنه کي د قاموس ليکوونکي مسووليت او رسالت يوازي د پام وړ ټکي په معرفي کولو او مانا ليکلو سره نه بشپړيږي؛ بلکي نوي او عصري قاموس ليکنه له مؤلفانو څخه غواړي، چي د بېلابېلو قاموسي سرټکو تر څنګ د مترادفو، متضادو، متقاربو او اړوند ټکو په وړاندي کولو سره، د لوستونکو ادبي او علمي اړتياوي پوره کړي.

## په قاموسو کي د بېلابېلو ټکو په ريښو، شکلي او مانوي جوړښت کي د بدلونو روښانه کول

لکه څنګه چي په تېرو بحثو کي هم يادونه وسوه، دژبي د ودي او پرمختګ په بېلابېلو پړاوو کي دلغتو، ترکيبو او اصطلاحاتو په جوړښت کي راز راز شکلي او مانوي بدلونونه پېښيږي. ځيني کليمې د ابـدال، تقليب او اختصار له کبله خپله ظاهري جوله اړوي؛ لکه پښه، ښپه او خپه؛ ژبه، زبه او جبه؛ عـورته، اورته، اروته او ارتينه؛ ژلۍ/ږلۍ، زلۍ او ګلۍ؛ ژوند، زوند او جوند؛ چه او چي، معنی، معنا او مانا؛ خوشحال او خوشال؛ معلوم او مالوم او داسي نور، چي په ځينو کليمو او عبارتو کي درانه توري د ګرانۍ په سبب يا په بشپړه توګه له تلفظ څخه لوېدلي دي يا په نيژدې مخرجونو اوښتي دي؛ لکه اوسرۍ (اوسرۍ خور= جمادی الآخر) چي په حقيقت کي د «ت» توري په لوېدو سره د «اوستری»لنډه بڼه ده. ګرسره (چي د «ګرد سره» لنډه بڼه ده؛ او «د»توری يې په وينګ کي د سختۍ او دروندوالي له امله غورځول سوی دئ) يا «درنه/ درانه» چي د وروستي«د» په حذفولو سره د «درنده/ درانده» لنډ شکلونه دي. ځيني ټکي د دوو بېلو ټکو له يو ځای کېدو څخه جوړ سوي دي؛ لکه« ښاغلی»، چي د «ښه» او «آغلی» له يو ځای کېدو څخه تر لاسه سوی دئ. د «ښه» وروستی زورکی، چي په پښتو کي عموماً د «ه» په بڼه کښل کيږي، په وينګ کي د دروندوالي او ګرانۍ په وجه له تلفظ څخه لوېدلئ دئ يا «مازيګر» چي په اصل کي د «نماز» او «ديګر» له دوو بېلو کليمو څخه ترکيب سوی دئ، په پښتو کي لومړی د «مازديګر» او بيا د «د» توري په غورځېدو سره د «مازيګر/ ماځيګر» په ډول اختصار سوی دئ. د «ماپښين» ترکيبي ټکي هم همداسي پړاونه وهلي دي. دا ترکيب لومړی د پاړسي د دوو بېلو ټکو «نماز» او «پيشين» له امتزاج څخه جوړ سوی دئ. په پيل کي په«مازپښين/مازپخين /ماسپخين» اوښتی دئ؛ او دا دئ اوس ګورو، چي په تلفظ کي يې د «ز»د توري تر لوېدو وروسته، د « ماپښين/مازپخين/ ماسپخين»بڼه اخيستې ده. «هديره» يو بل مثال دئ، چي په حقيقت کي د «هډ» او «دېره»له دوو جلا ټکو څخه جوړه سوې ده. د زمانې په تېرېدو سره يې د «ډ» توری په تلفظ کي د دروندوالي او سختۍ له امله حذف سوی دئ؛ او اوس ګورو چي د «هديره» او «اديره»په شکل پاته ده. خداخه(خدای خبر دئ)، خـدانبکه(خدای ښه پوهيږي که)، نـبخه(نه يم خبر) او داسي نور ټول په دې ډله کي دي. د کندهار«مالهجات»هم په اصل کي له «مـحل» او «نجــات» څـخه جوړ سوی دئ، چي ځيني ثقيل توري يې په وينګ کي لوېدلي او د ځينو نورو رږغونه يې خپلو نيژدې مـخرجو ته اوښتي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نورو ژبو کې هم د امتزاج(blending)او ترخیم(shortening) خورا ډېر مثالونه او بولګې تر سترګو کیږي؛ مثلاً په پارسي کې د «شهپر» ترکیبي ټکی په واقعیت کې د «شاه» او «پر» له یوځای والي څخه جوړ سوی دئ، چې اوس د «الف» په لوېدو سره په او سنۍ بڼه (شهپر) اوښتی دئ. شهبال (شاه + بال)، سرفراز (سر + افراز)، مچم(من، چه، میدانم)، خدام (خدا، میداند )او داسې نور یا په انګرېزي کې د ډیموکراسۍ(democracy) ټکی، چې په حقیقت کې د"demos"(د یونان د ښاري دولتو عام وګړي) او"kratos"(حکومت، واکمني)له دوو یوناني ټکو څخه جوړ سوی؛ او د "demokratia"له الیشې سوي بڼې څخه نن په انګرېزي ژبه کې د ډیموکراسۍ په بڼه اوښتی دئ. سایکالوجي/ سایکالوژي، ټیلفون، ټیلیګرام، ټیلیګراف، ټیلیسکوپ، مایکروسکوپ او په سلګونو نوري کلیمې ، چې په واقعیت کې له دوو بېلو کلیمو څخه ترکیب سوي دي؛ او اوس د شکلي بدلونو له امله د یوې کلیمې په بڼه ښکاري، هم ګرده په دې ډله کې راځي.

مرسته، کالي، دهګان، دهقان، دېګان، برېخ، شاهد، صنم او په سلګونو نور، لکه څنګه چې مخکې هم لنډه یادونه وسوه، د هغو ټکو له ډلې څخه دي، چې د بېلابېلو عواملو پر بنسټ، له مانوي اړخه اوښتي دي.

د قاموسو مؤلفان باید د دغه راز ټکو د راغونډولو او لیکلو پر مهال د هغو د امتزاج، ترخیم او نحت څرنګوالی په روښانه ټکو وښیي. د بېلابېلو ټکو، ترکیبو او اصطلاحاتو په جوړښت کې داسې بدلون د هغو د ریښو، مورفالوژۍ او مانا په پېژندنه کې ارزښتناکه مرسته کوي، چې قاموس لیکوونکی باید ټینګه ورته ځیر وي.

## په قاموسو کې د را غونډېدو سوو کلیمو ګرامري وېش او ځانګړتیاوې

په قاموس لیکنه، په تېره بیا د ژبې په عامو او هر اړخیزو قاموسو کې بل ډېر مهم او د غور وړ ټکی د کلام د بېلابېلو برخو د وېش له پلوه د را غونډېدو سوو کلیمو د بېلولو مسأله ده، چې په انګرېزي کې یې (word classes /parts of speech) بولي. د قاموسو لیکوونکي باید پوه سي، چې د پام وړ ټکي د کلام د اجزاوو د ګرامري وېش له اړخه په کومه ډله کې راځي. په بېلابېلو ژبو کې د کلام د اجزاوو پر نوعیت، څرنګوالي او شمېر اوږدې خبري سوي دي؛ مګر سره له دې هم، څه ثابت او منلئ معیار نه تر سترګو کیږي. په دې مانا، چې اوروپایي ژبپوهانو او ګرامر پوهانو د کلام برخې په یوه ډول وېشلي دي؛ د عربي ژبو ګرامر پوهانو په دې وېشنه کې بله لار غوره کړې ده؛ او په ځینو هندي الاصله ژبو کې د کلام د برخو وېش جلا رنګ او بڼه لري. په پښتو کې هم ژبپوهانو او ګرامر پوهانو د بېلابېلو لارو پیروي کړې ده. د دې پراخ بحث ځانګو او ښاخو ته لاس اچول، ښایي دې لنډې لیکنې ته د ګرامر ښووني رنګ ورکړي، چې طرحه کول یې دلته پر ځای نه بریښي. دلته یوازې دونه یادونه کافي ګڼو، چې په ننییو پښتو قاموسو کې د کلام د خپلواکو یا ناخپلواکو اجزاوو په توګه د اسم، صفت، فعل، قید، ضمیر، اداتو(اضافي تورو یا ناخپلواک ټکو)، ارتباطي تورو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ندا تورو، مختاړو او وروستاړو یا مخوندییو او شاوندییو، عددونو، ږغونو(اصوات)او داسې نورو پېژندنه ډېره مهمه او ضروري ده.

په قاموس لیکنه کې د کلام هره برخه یا هره کټګوري ځانته خاص ارزښت لري، چې باید له ټولو باریکییو او جزییاتو سره را غونډ او تشریح سي؛ د مثال په توګه د پښتنو په مختلفو لهجو او سیمو کـې د اصواتو خورا ډېر او بېل ډولونه کاریږي؛ لکه کړپ، کړوپ، خروپ، خـــرپ، دْرَب، دروب، کخ/کیخ، غړ، کښ، شر، بغ، سړ، سغ او په لسګونو نور یا په دري کې بُر، سور، یق، کخ/کیخ، ګرم، ګروم او داسې نور. په انګرېزي کې زیاتره ږغونه پر درو ډلو وېشي:

الف) تقلیدي ږغونه: هغه ږغونه، چې په حقیقت کې د یو ځانګړي ږغ تقلید یا پېښې کوي؛ لکه:
meow, moo, bow-wow, vroom, etc.
ب) سیمبولیک ږغونه: دا ږغونه زیاتره د یو سیټ یا مجموعې په بڼه استعمالیږي، چې ځیني یې قافیې هم لري؛ لکه:

lump, bump, hump, clump
یا د داسې ټکو په بڼه څرګندیږي، چې د تورو په پیل کـې یې یـو راز توری وي (alliteration) لکه:
flick, flash, flip, flop, etc.
ج) نابېره او په زوره چغه(Ejaculation) :
ho-ho, ha-ha, pish, pshaw, etc. (Jackson and Amvela 51.)
دا ډول ټکي باید د ژبې له بېلابېلو لهجو څخه په پوره دقت را ټول او په قاموسو کـې په منظم ډول ثبت سي.

د کلام پر پر دې اجزاوو سربېره، په قاموس لیکنه کې د نورو ګرامري خصوصیتو لکه فـاعلي، مفعــولي، مالکي، اخباري، استفهامي، آلي او داسې نورو حالتو؛ مجعول او مجرد ثلاثي مصدرو، د فعل د لازمي او متعدي ډول د څرنګوالي، د فعل د بېلابېلو زمانو(حال، ماضي او جاري)؛ د بې قاعدې نارینه(مذکر) او ښځینه(مؤنث) حالتو، د بې قاعده مفردو او جمـعي ډولونو، د زمان او مکان د اسمونو، ساده او مرکبو حالتو او نورو ګـرامري مشخصاتو په اړه لنډه یادونه کیږي.

په قاموسو کې د کلام د اجزاوو سمه او دقیقه پېژندنه له دې کبله هم ډېره د پام وړ ده، چې ځیني کلیمې په یوه وخت کې د کلام په څو ډلو پوري اړه لري. لوستونکي باید هــرومرو په دغه راز توپیرونو او باریکییو ښه و پوهېږي؛ مثلاً د «جهان»کلیمه په پارسي، پښتو او ډېرو نورو ژبو کې استعمالیږي، چې د ایتمولوژۍ له اړخه د پهلوي ژبې د «کیهان/ګیهان» له ټکي څخه اخیستل سوې ده (عمید۱: ۸۴۴ او ۳: ۲۰۲۳). دا ټکی د اسم په توګه د نـړۍ، عالم، بشریت، خلګو او داسې نورو په مـانا کاریـږي؛ خو د فاعلي صفت په بڼه د «جهیدن»لـه مصدر څخه د ښورنده، خوځنده، جهنده او متـحرک ماناوي افاده کوي. سربېره پر دغو حقیقي ماناوو دا کلیمه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلامي عرفان په خورا ډېرو اثارو کي د لړزېدونکي، متزلزل، ناپايه دار، فاني، بې بقا ، بې ثباته او داسي نورو په مجازي او استعـــاري ماناوو هم استعمال سوې ده. اسلامي عارفانو په خپلو اثارو کي استدلال کړی دئ، چي په عرفاني ادبياتو کي ناسوت عالَم (مادي نړۍ) ته ځکه د « جهان »صفت ورکړل سوی دئ، چي يو رنګي، ثبات، ټيکاو او بقا نه لري. په خواشينۍ سره د «جهان»دا مانا نه يوازي د عامو خلګو ؛ بلکي د ځينو ليکوالو ، ژبپوهانو او حتا قاموس ليکوونکو له پامه هم لوېدلې ده.

په انګرېزي کي هم داسي ټکي په پېخر دي، چي په عين حال کــي د اسم، صفت، فعل او قيد په بڼو کارېږي؛ مثلاً(hit)د فعل په بڼه د وهلو ، ويشتلو او داسي نــورو پــه مانا کـــارېږي؛ خو د اسم په بڼه برید ، يرغل، وار، حملې، نښتي او داسي نورو تـه وايي.(proceeds)کليمه د اسم د جمعې په حالت کي عايد ، حاصل، دخل، ګټې او داسي نورو ته وايي؛ خو د فعــل په بڼه پر مخ تلو ، دوام ورکولو ، رامنځ ته کېدو ، را ټوکېدو او داسي نورو ته وايي. ”broke“ کليمه د فعل په بڼه، د فعل دوهم يا ماضي حالت دئ؛ خو د صفت په بڼه د بې پيسو ، کنګال، مفلس او داسي نورو ماناوي لري. د”dirty“عامه کليمه د صفت په توګه د چټل، بې نظمــه، تاريک توربخونه، درواغجن، ټګمار، فاسد ، خاين، غوولونکي او داسي نورو په مانا کارېږي؛ حال دا چي د فعل په توګه د تورولو ، ورانــولو ، چټولولو ، بــې نظمه کولو او داسي نـورو پـه مـانا ده.”book“ د اسم په بڼه کتــاب ، کتابچې، البــوم او داسي نــورو تــه وايـي؛ په داسي حـــال کي، چي د فعل پــه حالت کي د نوم ليـــکلو ، نوم ثبتولو ، سازمان ورکولــو ، برابرولــو ، ځان يا چاتــه بېلولو او داسي نورو په مانا دئ. په لاندي مثال کي ”round“ټکی په پــام کــي نيسو ، چي د صفت، اضافه توري، قيد ، اسم او فعل په بېلابېلو بڼو کـارېږي؛ او جــلا جــلا ماناوي لري:

round (adjective) e.g. “a *round* stone.” — *ګيردۍ/ګردۍ* ډبره.

round (preposition) e.g. “*round* the corner.” — نيژدې

round (adverb) e.g. “They all gather *round*.” — دوی ګرده سره را ټوليږي.

round (noun) e.g. “You can buy the next *round*.” — ته کولای سې نوی *رَوَنډ* رانيسې !

round (verb) e.g. “when we *round* the next bend.” — کله چي پر راتلونکي کجګر را *وګرځوو*.

(Jackson and Amvela 22.)

په انګرېزي کي يو بل ګرامري جوړښت هم سته، چي د ”participial phrases“په نامه ياديږي؛ لـــکه: ”The running boy“, “The speeding jet”, “Encourage, we ...”او داسي نور، چي يوه کليمه اصلاً له فعل څخه جوړيږي؛ خو د فعل او صفت په بڼه کارېږي.(Warriner 65)يا يو بل ډول ګرامري ترکيب، چي په انګرېزي کي يې”gerund“ بولي؛ او په حقيقـــت کــي د فعل او”ing“له يو ځای کولو څخه جوړيږي؛ مګـــر د اسم په بڼه استعماليږي؛ لکه”learning“ “drilling”, “swimming”, “seeing”او داســي نور، چـي موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې په پښتو او پارسي کې د اسم مصدر په نامه استعمالوو؛ لکه: کتنګ، وینګ، لیدنګ، ښلونګ، وتنګ، ژړونګ یا تشنګی، سوختګی، ګرسنګی، شرمندګی، ګفتار، کردار، رم، هراس او داسي نور په پښتو او پارسي کي. د دې او داسي نورو حالتو په اړه لوستونکو ته مالومات وړاندي کول؛ او د هغو توضیح او تشریح، د قاموس لیکوونکي د کار ډېره مهمه او ضروري برخه ګڼله کیږي.

په پښتو ژبه کي د افغانستان د علومو اکاډیمۍ «پښتو - پښتو تشریحي قاموس» یوازنی مشرح او مفصل قاموس دئ، چي ګرده را غونډي سوی کلیمې یې د کلام د اجزاوو د نوعیت او بېلابېلو ګرامري جوړښتو له پلوه په ښه توګه معرفي کړي دي. د اروا ښاد علامه رشاد(۱۳۰۰-۱۳۸۳ش) د پتې خزاني په تحقیقي فرهنګ او د خیرالبیان په تحقیقي لغتنامه کي حتا د علومو اکاډیمۍ تر «پښتو - پښتو تشریحي قاموس» هم د کلیمو ګرامري پېژندګلوي ته زور او هر اړخیز پام سوی دئ.

د بې قاعدې فعلو، بې قاعدې جمعو، نادوده ښځینه حالتونو او بې قاعدې صفتو راټولونه او شننه

د بې قاعدې فعلو، بې قاعدې جمعو او نادوده تأنیث حالتو را غونډول او توضیح کول هم د علمي قاموس لیکني له مهمو کارو څخه ګڼل کیږي. لکه څنګه چي پوهېږو په زیاترو ژبو کي د فعلو د بېلابېلو صیغو او د نومو د جمعي د جوړولو دپاره خاص قواعد ټاکل سوي دي، چي زده کړه یې هر چا ته اسانه ده؛ خو په ځینو ژبو کي د ځینو نومونو جمعي او د ځینو شیانو ښځینه نومونه تر عامي قاعدې وتلي وي. داسي بې قاعده حالتونه نه یوازي کم لوستي خلګ؛ بلکي کله کله د لوړي زده کړي خاوندان هم له سترو پېچومو او کړاوونو سره مخامخ کوي. قاموس لیکوونکي باید په ژبه کي دغه راز بې قاعده حالتونه په ډېر غور سره وپلټي؛ او له لازمو توضیحاتو سره یې د یوه دقیق معیار په توګه وړاندي کړي؛ مثلاً په انګرېزي کي ماضي حالت معمولاً د فعلو په پای کي د(d، ed یا t) وروستاړو په زیاتولو سره جوړیږي؛ خو د دې عمومي قاعدې پرخلاف، داسي ډېر فعلونه هم ډېر دي چي له دې قاعدې څخه مستثنأ ګڼل کیږي؛ لکه write، wrote او written چي درې سره حالتونه یې بېل دي. یا leave، left او left چي دوهم (ماضي) او دریم حالت یا وصفي وجه(past participle) یې له لومړي حالت څخه توپیر لري. یا read, cut, put, rid او داسي نور چي حال، ماضي او دریم حالت یې تو له د املا له پلوه یو راز دي. همدارنګه په انګرېزي کي عموماً له نومو سره د"s" یا "es"په زیاتولو سره د جمعي حالت منځ ته راځي؛ لکه: benches, axes, books او داسي نور؛ خو ځیني داسي نومونه هم شته، چي د جمعي حالت یې د دې قاعدې له مخي نه جوړیږي لکه men، women او داسي نور، چي د جمعي په حالت کي یې "a" توري په "e" اوښتی دئ. سربېره پردې په انګرېزي ژبه کي د ځینو نومونو مفرد او جمع خورا عجب و غریب ډولونه لري؛ مثلاً "datum"چي جمع یې "data"(اطلاعات، حقایق) ده. البته ځینو فرهنګ لیکوونکو "data"داسي جمع ګڼلې ده، چي تل په انفرادي بڼه کاریږي. "criterion" هم له دغه ډول بې قاعده اسمونو څخه دئ، چي جمع یې د "criteria"(معیارونه، مشخصات)ټکی دئ. "phenomena" د جمعي صیغه ده، چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

"phenomenon"یې مفرد بڼه ده. د داسي ټکو شمېر ډېر دئ، چي د ټولو یادونه یې بېـــله پلـــټنه او څـــېړنه غواړي. په انګرېزي کي ځینـــي داسي بې قاعدې ټکي هم سته، چي جمـــع یې د مفـــرد په تـــوګـــه استعـــمالیږي ؛ لکه"means" او داسي نـــور. ځیني نور ټـــکي تل د جـــوړه والي په لـــحاظ د جمعـــي په بڼـــه کـــاریږي؛ لـــکه : scissors , shoes, trousers او داســـي نـــور.

په عربي ژبه کي هم د نومو د جمعي حالتونه بېلابېلي بڼې لري. زیاتره نومونه د «ین» او «ات» وروستاړو په زیاتولو سره جمع کـــیږي؛ لکه مؤرخ- مؤرخین، معلم - معلمین، کمال- کمالات، عادت- عادات او داسي نور. ځینـــي نور د دې قاعدې پرخلاف ځانتـــه ځانګـــړي جمعي لري؛ لـــکه: سر - اسرار، شریر- اشرار، شر- شرور، فضیلت - فضائل، علم - علوم. ځیني نور نومونه هم سته، چي له دغو قاعـــدو سره چندان اړخ نه لګوي؛ لکه:«جـــنج»چي د «جنحة/جنـــحه» جمع او «مآخـــذ» چي د «مأخـــذ» جمـــع ده.(Wher 8 & 140)

سربېره پر دې همدا اوس په ایرانۍ پارسي کي د «راه حلها»، «قتل عامها»، «نکته نظرها» او داسي نورو په څېر ناسمي جمعي دود دي، چي سمي بڼي یې«راههای حل»، «قتـــلهای عام»، «نکـــته های نظر/ نکات نظر» دي. د دې تر څنګ په پښتو، پارسي او اوردو کي هم د جمعي ځینـــي صیغې د یکړ یا مفرد شخص د پاره کاریږي؛ لکه: اولاد، مسلمان، طلـــبه، مجاهدین، طوایـــف، شروعات، حواس او داسي نور؛ په داسي حال کي چي اولاد د «ولد» جمـــع، مسلمان د «مسلم» جمع، طلبه د «طالب» جمع، مجاهدین د «مجاهد»جمع، طوایف د «طایفه» جمع، شروعات د «شروع» جمع، حواس د «حس»جمع ده. موږ تل په خبرو او مرکو کـــي له مخاطب څخه پوښتنه کوو: «اولادونه دي ښه دي؟» هیڅکله نه وایو، چـــي «اولاد دي ښه دي؟» دغه راز جمعو په پښتو، پارسي او نورو ژبو کي ځینو جمع الجمعو ته هـــم لاره برابـــره کړې ده؛ لکه: مالیاتها، مجازاتها، امورات، مشکلاتات، مسلمانان، غریبانان او داسي نور.

تر دې چي تېر سو، په قاموس لیکنه کي بـــله ورته مسأله د ځـــینو نـــادوده نـــارینـــه(مـــذکر) او ښځـــینه (مؤنـــث) نومـــو یـــادونه ده؛ مثـــلاً: executive - executrix, gander - goose, fox- vixen, mediator- mediatress/mediatrix او داسي نور(انصاری۵۳-۵۴).

لکه څنګه چي وینـــو په بې قاعده جمعـــــو کي د جمعـــي حالت د خپل مفرد حـــالـــت یو ساده وریانـــتې یا د ژبپوهانو په اصـــطـــلاح اینفلـــیکشنل مارفـــیم(inflectional morpheme) نه دئ. د باقاعده جـــمعو پر خلاف د جمعي دغه راز ډولونه، هر یو د کاملاً بېل او ځانګـــړي حـــالـــت استازیتوب کوی. که څه هم نن سبا په ویـــلو او لیـــکلو دواړو کـــي د دغه راز نـــومـــو ښځینه بـــڼه ډېره لږ استعـــمالیږي؛ خو سره له هغه هم قاموس لیکوونکی باید لوستونکو ته د داسي نومو ټـــول تاریخي بدلونونه او څرنګـــوالی، په روښانه ټکو کي وښيي.(Jackson and Amvela 82)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په انګرېزي کي داسي صفتونه خورا ډېر دي، چي د تفضيلي او عالي صفتو د جوړولو عام قواعد نه پر تطبيقيږي؛ ځکه په دې ژبه کي تفضيلي صفت له ساده صفت سره د "er" او عالي صفت د "est" په زياتولو سره جوړيږي؛ مثلاً د tall (جګ، لوړ) ټکی، چي تفضيلي صفت يې "taller" او عالي صفت يې "tallest" دئ ؛ اما د ځينو صفتو تفضيلي او عالي شکل له دې قاعدې څخه په بشپړه توګه توپير لري؛ مثلاً "bad" چي مقايسه يي صفت يې "worse" او تر ټولو خراب حالت يې "worst" دئ. good (ښه) ټکی هم دا ښه لري، چي تفضيلي صفت يې "better" او عالي صفت يې "best" دئ. (Warriner 14-16 and Thomson36-37)

هغه قاموس ليکوونکي چي د بلي ژبي او انګرېزي يا انګرېزي او بلي ژبي د دوه ژبيز فرهنګ په ليکلو لاس پوري کوي، بايد هرومرو داسي ټکو ته پام وکي؛ ځکه قاموسونه هغه کتابونه دي، چي د لغاتو پر ډول ډول ماناوو سربېره بايد لوستونکي له دغه راز بې قاعدې حالتو او ګرامري باريکييو هم سره اشنا کړي.

په پښتو کي هم د ځينو نومو لکه چوکۍ، خولۍ، ګاډی، هګۍ/اګۍ، ګېډۍ او داسي نورو مفرد او جمع يو راز دي. داسي نومونه چي د ګرامر له پلوه يې «د جنس نوم يا اسم جنس» بولي، تل په مفرد يا يکړ ډول کاريږي. اوبه، بوره، غنم، اوړه، مستې، شيدې او داسي نور شيان ګرده په دې ډله کي راځي. په پاړسي، انګرېزي او نورو ژبو کي هم دغه ډول ټکي د جمعي په بڼه نه استعماليږي. سربېره پردې، فرهنګ ليکوونکی بايد د «مظلوميت» ، «محکوميت» ، «معصوميت» ، «مغلوبيت» او داسي نورو ترکيبي ټکو په جوړښت کي د پاړسي ژبي د مجعول يا جعلي مصدر څرنګوالي ته هم په واضح ټکو اشاره وکي. د پاړسي ژبي قاموس ليکوونکی بايد د توضيحاتو په وړاندي کولو سره همدغه راز روښانه کي چي مقوله، موقوفه، معضله، خالصانه، شاعرانه، حکيمانه، جانانه ، عاشقانه او داسي نور جعل سوي مشتقات اصلاً په پاړسي ژبه کي د عربي ټکو له مخي جوړي سوي دي؛ او په دغه بڼه په خپله اصلي ژبه (عربي) کي دود نه دي (نفيسی، «دستور لغت نويسی،» فرهنګ فارسی عميد ۲۴-۲۵).

ځينو فرهنګونو د لومړي ټوک په پيل او ځينو نورو د الفبايي ترتيب له مخي په متن کي د ګرامر د ډېرو مهمو ټکو ، د ليکني د بېلابېلو نخښو او ځينو نورو ژبنييو مسألو په اړه لنډ ، خو ارزښتناک مالومات وړاندي کړي دي. شک نسته، چي قاموسونه د ژبپوهني يا ګرامر کتابونه نه دي؛ خو سره له دې هم د ګرامر او تنقيط د عامو قواعدو په اړه د لوستونکو ځينو عامو او مهمو پوښتنو ته لنډ جوابونه وړاندي کول، په زړه پوري او ګټور کار دئ. د پاړسي په زړو فرهنګو کي «فرهنګ جهانګيری» ، «فرهنګ جعفری» او په معاصرو پاړسي او عربي قاموسو کي «فرهنګ عميد» ، «المنجد فی اللغة و الاعلام» او ځينو نورو د ګرامر برخي ته هم توجه کړې ده. د پښتو په زړو فرهنګو کي «رياض المحبت» او په نوو فرهنګو کي د افغانستان د علومو اکاډيمۍ «پښتو - پښتو تشريحي قاموس» ګرامري اړخو ته ښه پام کړی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځيني وختونه د يوې کليمې يوه ټاکلې بڼه د خلګو پر يوې خـاصې ډلې دلالت کوي؛ لکـه «علمأ» چې د «عالِم» د کليمې د جمعــي حالت دئ؛ خو زياتره د ديني عالمانو په مفهوم کارېږي؛ ځکه موږ په پښتو او پارسي کې نه وايو: ديني پوهان/ دانشمندان دينی؛ بلکـې د هغو پر ځای وايو: دينــي عالــمان يا ديني علمأ/ علمای دينــي يا علمای کـرام. دا کليمـــه حتـــا په انګرېزي کې هـــم د "Ulama/Ulema" په بڼه کـارېږي. دې ټولو باريکـو لغوي اړخو او اختصاصي ځانګړتياوو ته د لوستونکو پام اړول، تر هر چا مخکې د قامـوس ليکوونکی کار دئ.

## په قاموسو کې د را غونډو سوو کليمو د بېلابېلو مشتقاتو يادونه

په معاصره قاموس ليکنه کې بله مهمه موضوع، د راغونډو سوو کليمو د بېلابېلو مشتقاتو لنډه يادونه او سپړنه ده؛ ځکه په هره ژبه له هغې ډلې څخه په پښتو کې داسې ټکي، ترکيبونه او اصطلاحات خورا ډېر دي، چې په اصل او ريښه کې له يوې مادې څخه راوتلي دي؛ خـو د وخت په تېرېدو سره د بېلو کليمـــو او ترکيبو په بڼه را منځ ته سوي دي؛ مثــلاً ورورولـــي، وروږګلوي، وروري، وروريالنه، ورور وژنه او داسې نور ټول د «ورور» له ټکي څخه را وتلي دي. د «ود»له کليمې څخه، چې اوس زموږ د خلګو په ورځنيو محاورو کې له منځه تللې ده د ويدا، وده، ويـده، ودنه، واده، ودول، ودېدل، ودون، ودوونکی، ودېدونکی، ودېدوني، ودېدون، ودېدنه، ودونه او نورو ټکي راوتلي دي(حبيبي،«د کلـــماتو مـــرګ او ژونـــد،»کابل۲، ۱۰). جـګه غـاړه، لکه غاړه، غاړه غړول، غاړه ايښوول، غاړه اغوستل، غاړه بندول، غاړه خلاصول، غاړه غړی، غاړه په غاړه، لاس تر غاړه او داسې نور ټول هغه اصطلاحات او محاورې، چې د«غاړې» له مـــادې څخه مشتق سوي دي؛ او هر يو يــې جلا مانا لري.

له نېکه مرغه، په پښتو کې د کليمو د اشتقاق لمن ډېره پراخه او غني ده. په زياتره ټکو کښې يې له آره د اشتقاق زوروَره تومنه ګډه ده؛ د مثال په توګه پوهيالی، پوهنيار، پوهنمل، پوهندوی، پوهنوال او پوهاند ټول د پوهې يا پوهني له ريښې څخه را ټوکېدلي دي، چې د پوهنوَر(د شمله ور، متوَر، غموَر او داسې پر وزن)، پوهنغر (د پوهې غر)، پوهنلمر (د پوهې لمر) او داسې نـورو پـــه شان ترکـــيبي ټـــکي هـــم په دې ډلـــه ور ګډېدلای سي. يا په پارسي کې ميخانه، ميکده، می پرست، مـــی فروش، مـــي خـــوار، ميګون، ميګسار، ميګساری او داسې نور چې ګرده د «می»له کليمې څـــخه را ټوکېدلي دي. په اوروپايي ژبو، خاصتاً انګرېزي کې هم د داسې مشتقاتو لمن خورا ارته ده؛د مثال په تــوګـــه:

"liberticide", "liberalizing", "liberalizor", "liberalize" , "liberalism", "liberal " ,
"liberalization", "liberalist", "liberty " , "liberality", "liberate", "liberator", او داسې نـور،
چـــې ټـــول د ازاد په مانـــا د (liber) له لاتيني ټکي څخه راوتلي دي؛ او د پېړيو پېړيو پـــه اوږدو کې يې د خلګو له اړتياوو سره سم بېلابېل بڅې او لمسي زېږولي دي. البته په انګرېزي کې د کليمو بڅې او کورنۍ زياتره په دوو لارو جوړېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- له یوه خپلواک مارفیم (free morpheme) سره د ډول ډول تړلو یا ناخپلواکو مارفیمو (bound morpheme) د یو ځای کېدو له لارې؛ لکه:

state (verb)
stated, stating

په پورتني مثال کې "state" خپلواک مارفیم (تر ټولو کوچنۍ مانا داره واحد ) دئ؛ په داسې حال کې چې په

"stated" کې "ed" او په "stating" کې "ing" تړلي یا ناخپلواک مارفیمونه دي؛ او په انګرېزي کې یې "inflections" یا د کلیمو اوښتي صرفي شکلونه هم بولي.

- له اصلي کلیمې یا خپلواک مارفیم (state) څخه د اشتقاق پر بنسټ؛ لکه په دغو مثالو کې:

stateable, statement, misstate, restate, understate.

په دې توګه اشتقاق هغه لغوي بهیر یا عملیه ده، چې په هغې کې د بېلابېلو ضمیمو (مختاړو او وروستاړو ) په زیاتولو سره له یو موجود ټکي څخه نوي ټکي، عبارتونه او ترکیبونه جوړیږي؛ مثلاً د "resign" له کلیمې سره د "ation" وروستاړی یا د "depart" له کلیمې سره د "ure" شاوندی یو ځای سوی؛ او په وار سره یې د "resignation" او "departure" بېل ټکي منځ ته راوړي دي. (Jackson and Amvela 82)

په عربي قاموسو کې عموماً له یوې ریښې څخه را وتلي مشتقات د هغو تراړونده مصدرو لاندې کاږي؛ لکه: شراب، شارب، شربت، مشاربه، مشروب او داسې نور، چې ټول بې الفبایي ترتیبه د «شرب» تر مصدر لاندې کښل سوي دي (الهنائي الأزوي ۳۸۰؛ Wehr 462)؛ حال دا چې په پښتو او پارسي فرهنګو کې زیاتره مشتق سوي کلیمې هر یوه د الفبې د تورو په ترتیب، د بېلو قاموسي ټکو په بڼه راوړل کیږي. دلته په انګرېزي کې د بېلابېلو کلیمو په جوړښت کې د صرفي ضمایمو د بدلون راوستو ځیني نوري بولګې ښیو، چې اشنایي یې د قاموس لوستونکو ته بې ګټې نه ده:

**Noun**:

| Base form | Stem+plural | Stem+possessive | Stem+plural+possessive |
| --- | --- | --- | --- |
| boy | boy*s* | boy*'s* | boy*s'* |

**Adjective:**

| Base form | Stem+comperative | Stem+superlative |
| --- | --- | --- |
| cold | cold*er* | cold*est* |

**Verb:**

| Base form | Stem+3rd person singular | Stem+ past |
| --- | --- | --- |
| eat | eat*s* | *ate* |

| Stem+participle | Stem+present participle |
| --- | --- |
| eat*en* | eat*ing* |

په دې ټولو حالاتو کې، د ګرامر له پلوه د اړونده ټکو اصلي ډول یا اصلي کټګوري نه اوړي. په بله وینا اسم، صفت او فعل ګرده د پخوا په څېر د اسم، صفت او فعل په بڼه پاتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په انګرېزي کي اشتقاقـــي ضميمې عمدتاً پر دوه ډوله دي:

الف) هغه اشتقاقي ضميمـــې، چي په مونښلولو سره يې د کليمو نوعيـــت يا ډول اليشـــيږي. له دي کبـــله د اونښتونکو ټکو (word class changing) په نامه يـــاديږي؛ لکه په دغو مـــثالو کـــي:

resign (verb)+ *ation* (derivational affix)= resignation (noun)
leak (verb)+*age* (derivational affix)= leakage (noun)
accurate (adjective)+*y* (derivational affix)= accuracy (noun)
free (adjective)+*dom* (derivational affix)= freedom (noun)
fright (noun)+*en* (derivational affix)= frighten (verb)
glory (noun)+*fy* (derivational affix)= glorify (verb)
(Jackson and Amvela 88-89).

ب) هغه کليمې چي له اصلي جوړښت سره يې د ضميمو په زياتولو سره، په ګرامري نوعيـت يا ډول کي بدلون نه راځي؛ لکه:

**Nouns:**

noun + affix= noun
malaria + *anti* = anti-malaria
scholar + *ship* = scholarship

**Verbs:**

verb + affix = verb
join + *ad* = adjoin
agree + *dis* = disagree
judge + *pre* = prejudge

**Adjectives:**

adjective + affix = adjective
social + *anti* = anti-social
kind + *ly* = kindly
possible + *im* = impossible

په انګرېزي کي قيدونه د اسم، **فعل** او صفت په بڼه په نورو اشتقاقي کليمو نه اوړي. په بل عبارت، قيدونه له نورو صرفي ضميمو سره په ګـــډه، بېلي کليمې نسي جــــوړولای. (Jackson and Amvela 90-91).

## په قاموسو کي د مکررو يا تأکيدي ټکو را غونډول

په پښتو، پارسي او ځينو نورو ژبو کي داسي ترکيبونه ډېر دي، چي په يوه کار کي د ټينګار يا تأکيد دپاره په مضاعف يا دوه ځلي بڼه کاريږي؛ لکه: ژر ژر، چټک چټک، کرار کرار، ورو ورو، لړلړ يا په پارسي کي زود زود، تېز تېز، کم کم، آهسته آهسته او داسي نور، چي ټول په يوه جومله کي د استعمال سوي **فعل** څرنګوالی بيانوي. په ځينو نورو ترکيــبو کي د مخکنـــي حالت پر خلاف، دوې بېلي کليمې سره يو ځای کيږي؛ خو بيا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پخواني حالت په څېر په جومله کي د ټينګار مفهوم افاده کوي؛ د مثال په توګه: خبري اتـري، نـاري سوري، اوتي بوتي، سپکي سپوري، کنډوکپر او داسي نور په پښتو کي يا تـاخت و تـاز، ساخت و بافت، تيـر و تار، درهم و برهم، سوز و ګـداز او داسـي نـور په پـارسي کـي يا قـلع و قمع او داسي نـور پـه عربي کـي يـا ”bread & butter“, ”leaps & bounds “, ”all & all“او داسـي نـور پـه انګـرېـزي کـي.

د داسي تأکيدي ټکو مثـالونه نه يوازي په ورځنيو محـاورو؛ بلکي زموږ د ژبي په ادبي اثارو کي هم ډېر زيات دي. قاموس ليکوونکي بايد د ژبي له لغـوي زېرمي څخه د دغه راز ترکيبو د را غونډولو، تشريح کولو او ادبي نظايرو د وړاندي کولو په کار کي، تر وسه وسه زيار و باسي.

## په قاموسو کي د ځينو ناسمو ټکو د کاروَني مثالونه او کره کول

قاموس ليکوونکي بايد د هغو کليمو، ترکيبو او اصطلاحاتو دقيق مثالونه وښيي، چي د ځينو ژورناليستانو، ليکوالو او شاعرانو له خوا په ناسمه بڼه کارېږي؛ د مثال په توګه لوړه/ په اوږد يا مجهول واو/(قسم، سوګند) د پښتو يوه زړه کليمه ده، چي حـتا ځينـي مطبـوعاتيان او ژورناليستان يې هم په تېروتني سره د لوړه/ په معروف يا لنډ واو/ (پـورته، پاس، د کښته خلاف) په بڼه وايي يا بڼه(څېره، جوله، رنګ، ګونه، رخسار) چـي ځيني يې له بڼه (بڼـکه، د مرغانو بڼکه؛ په پارسي کي پَر) څخه هيڅ توپير نه کـوي. سربېره پردې ځيني کليمې او ترکيبونه د مانا له پلوه په ناسمه بڼه کارېږي؛ مثلاً ويل کيږي: «ترينګلي حالات»، «لوړ پـوړي/ جګپوړي چارواکي»، «لامل»او لاملان (جمع) او داسي نور، چي ټول په سمه بڼه او سمه مانا نه کارېږي. زموږ پوه او باخبره لوستونکي پوهېږي، چي«ترينګلی»په پښتو کـي د تريـو تنـدي، عبوس، کنجوس، بد مزاجه، بد خويه، مرچکي، خوشــکتي، بخيل، خړوس، چړوس، سخت، په ماناوو راغلئ دئ(و.ګ: امرخېل او نور، ۱:۲۷۲)؛ خو نن ګورو چـي دا ټکی په ميډيا کي د سياسي او امنيتي حالاتو د صفت په تـوګه د ناوړه، خړپړ، بې ثباته، نا ارامه، خطرناک، ويجاړ، خراب او داسي نورو په مـانـا استعمالېږي. د «پوړ» ټکی هم په پښتو کـي اصلاً د منزل، طبقې، چت او داسي نورو په مانا کارېږي؛ مثلاً خلک وايي:«هغه ودانۍ پينځـه پوړه ده»يا «هغه ودانۍ/ عمارت پينځه منزله يا پينځه پوړه لري»يا ويل کيږي: «پلانی دفتـر په پلاني پوړ کي دئ»او داسي نور؛ خو نن وينو چي په ټوله ميډيا کي د «پوړ» ټکی بې دلـيله د رتبې، درجې، مقام، چوکۍ، واک او داسي نورو په ماناوو کارېږي؛ د مثال په توګه ويل کيږي: «د پلاني هـيواد يا پلاني وزارت لوړ پوړي چـارواکي...» دا ترکيب اصلاً د انګرېزي ژبي له”high-ranking“ يا ”high-level“څخه اخيستل سوی دئ. ايرانيانو د ټکي په ټکي ترجمې له مخي په «بلند پايه»و ژباړه؛ زموږ پارسي ژبو ليکوالو هم په پټـو سترګو د «بلند پايه/ بلند رتبه» په ډول واخيست؛ حال دا چي په دري کي له پخوا څخه د همـدې مفهـوم له پاره د «ذيصـلاح»، «باصلاحيت» او داسي نورو ټکي کارېده، چي زموږ خلګو ته تر«بلند پايه»يا «بلند رتبه» ډېر اشنا، لنډ او اسانه دي. په ډېري خواشينۍ سره پښتنو ژباړونکو هم د ايرانيـانو د همـاغه تحت اللفظي ژباړي پر بنسټ د «لوړ پوړي/ جګپوړي» ترکيب په ناسمه او بې مفهـومه بڼه رواج کړ. دې ښاغلو دا سوچ ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ، چي چارواکي څنګه «پوړ»لرلای سي؟ زموږ خلګ خو په خپلو خبرو او مرکو کي«پوړ»ټکی یوازي د ودانۍ یا تعمیر دپاره کاروي. څونه به ساده، اسانه، لنډ او مانادارهوای،که د«لوړ پوړي/جګپوړي»پر ځای یوازي لوړ، لوی، واکمن او داسي نور ټکي استعمال سي؛ مثلاً د لوړ پوړي یا جګپوړي چارواکي پر ځای لوی چارواکي، لوړ چارواکي، واکمن چارواکي او داسي نور ټکي کار سي، چي نه د پردو د لغوړني او بې خونده ترجمې اغېزه پکښي ګورو ؛ او نه هم ساده خبره په بې ځایه تکلف او پېچلتیا سره بې مقصده اوږده سوې ده. په دې خبره هم ټول پوهېږو ، چي د نوو مانااوو او مفهومونو له پاره کله کله د ژبي پخوانیو ټکو ، عبارتو ، ترکیبواو تعبیرو استعمال جایز او معقول کار دئ؛ لکه د پوهنتون، زېږنتون، درملتون او داسي نور ترکیبي ټکي، چي د انګرېزي ژبي د یونیورسیټي، متېرنیټي هوم، فارمسي له پاره غوره سوه؛ او خلګو په خوشالۍ سره ومنل؛ خو د نوو مانااوو له پاره د هغو کلیمو منل او رواجول ډېر ګران دي، چي له یوې خوا په ژبه کي نوري ژوندۍ کلیمې ولري؛ او له بلي خوا یې خلګ شپه او ورځ په خپله اصلي یا پخوانۍ مانا کاروي. د ځینو ټکو نوي مانااوي، د ښکلا ، سادګۍ، اسانۍ، او معقولیت له اړخه هم د خلګو ذهنونه نسي قانع کولای. حقیقت دا دئ، چي په پښتو او دري کي دا چپه او راسته غوبلونه ټول د هغه بې مانا او غیر علمي خوځښت نتیجه ده، چي د ایرانیانو په نوښت د ژبي د «سوچه کولو»په نامه پیل سوی دئ؛ او زموږ په هیواد کي یې ځیني پردي پال، په پټو سترګو پیروي کوي.

د «لامل» ترکیب هم له دې ډلي څخه یو دئ، چي په دې ورځو کي خورا بې ځایه او بې دریغه کارېږي. ځیني لیکوال، شاعران او ژورنالیستان د«لامل»ظاهري جولۍ ته په کتو سره داسي انګېري، چي ګوندي دا ټکی د پښتو ژبي سوچه او سپېڅلئ ټکی دئ؛ ځکه په هغه کي ظاهراً د عربي یا بلي پردۍ ژبي هیڅ نښه نښانه نه لیدله کیږي؛ په داسي حال کي چي دا ترکیب په حقیقت کي د «له» او «عمل»د یو ځای کېدو څخه جوړ سوی دئ . په کښته پښتنو کي تر اوسه دا ترکیب د«له عمل/ له عمله» په بڼه کارېږي. د اروښاد دوست محمد خان کامل مومند(۱۹۱۵ - ۱۹۸۱م) د تاریخ مرصع په سریزه، تعلیقاتو او حاشیو کي، چي دا اوس زما مخ ته پروت دئ، دا ترکیب په همدې اصلي عربي بڼه خورا ډېر استعمال سوی دئ (و.ګ. د دوست محمد خان کامل مومند په قلم د افضل خان خټک د تاریخ مرصع سریزه، لمنلیکونه او یادښتونه). د دې خوا پښتنو دا ترکیب په مفغنه بڼه (له امله/ لامله) دود کړ؛او د«له کبله» ، «له سببه» ، «له وجې» ، «له علته»او داسي نورو په مانا یې استعمالوي؛ اما په دې وروستیو کلونو کي ګورو ، چي ځینو په اصطلاح «نوښتګرو ژبپوهانو» همدا ترکیب د ترخیم د د معمولو اصولو پرخلاف د«لامل»په بڼه را وړاندي کړ؛ او هر ځای یې د عربي عامل، علت، سبب، وجې او داسي نورو پرځای یې کاروي؛ مګر څوک د دې «نوښتګرییو»په منطق او تعقل چندان نه پوهېږي؛ ځکه لومړی خو د سوو کلونو مروجي او اشنا کلیمې پرځای د نامأنوسي او نابابه ټکي درول هیڅ علمي جواز نه لري. دوهم دا چي د دې ټکي په مفغنه بڼه کي داسي لاسوهنه په هیڅ ډول د منلو وړ نه ده. په دې مانا چي«لامل»په اصل کي یو ټکی نه؛ بلکي له دوو برخو یا دوو ریښو ( له + عمل ) څخه مرکب دئ. د «له»اضافه توری یا ادات د پښتو په خورا ډېرو ترکیبو کي کارېږي؛ لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

له کوره، له ښاره، له کندهاره، له لوري، له پلوه، له مېزه، له سترخانه، له خورو او داسي نور. په پارسي کي ددې مقصد دپاره«از» او په انګرېزي کي د "from" ادات کارېږي. په پښتو ګرامر کي د د ، و ، له، تر، من، ځني، څخه او داسي نورو په څېر ادات یا ناخپلواک توري له بل خپلواک ټکي سره د هغه د همېشنۍ برخي په توګه نسو کارولای؛ مثلاً «ترکوره»، «د /له ښاره»، «د /له هغو څخه» او داسي نور هيڅکله د يوې واحدي کليمې بڼه نسو ويلای. «لامل»هم باید د لامله/ له امله ( له + امل ) په ډول استعمال سي؛ ځکه له خپلواکو کليمو سره د اداتو نه همېشني او بېلېدونکې ترېنت، په خبرو او ليکنو کي لويي ستونزي پېښوي ( په دې برخه کي د نور مالومات دپاره و.ګ. حبيبي، پښتو نثر ته کره کتني ۲۴ او الفت ۲۲ – ۲۷ ).

که چېري«لامل»د يوې واحدي کليمې په توګه د منلو وړ وي، بيا نو «لکبل»، «لخاطر»، «لپلو» او داسي نور هم باید د دې ناوړه قاعدې پر اساس ناسم و نه ګڼل سي؛ مثلاً داسي جومله باید ناسمه و نه بلله سي، که وو ایو: «د پلاني کار یا پلانۍ پېښې لکبل څه ؤ؟» حال دا چي پښتانه په خپلو خبرو او مرکو کي د دغه راز کړکېچنو او بې خونده ترکيبو پر ځای وايي: «پلانی کار ولي وسو؟»، «د دې کار علت یا سبب څه دئ؟»، «د پلاني کار یا پلانۍ پېښې وجه څه ده؟»یا تر ټولو لنډه او غوره بڼه: «پلانی کار یا پلانۍ پېښه ولي وسوه؟»او داسي نور. « په حقله/ په هکله» هم د« له عمله/ له امله»په شان يو بل ترکيب دئ، چي د کښته پښتنو له لاري اوس زموږ په اسانه او بې وله پښتو کي هم ډېر کارېږي؛ خو« په +حقله/ په+ هکله»باید تل د داسي ترکيب په بڼه وپېژندل سي، چي دوې برخي لري. په دې خبره مي هيڅ سر نه خلاصېږي، چي په پښتو کي د نوو لغتو او ترکيبونو په اصطلاح «مبتکر» جوړونکي ولي د خپل ولس پخه، اسانه، او ښکلې ژبه پرېږدي؛ او په لوی لاس له ځانه داسي ټکي او ترکيبونه را باسي، چي د هري ورځي په تېرېدو سره زموږ روانه او خوږه ژبه لا مروړي او ګرانوي؟ ! په خواشينۍ سره په پښتو کي اوس د دغه راز ناوړه بدعتونو شمېر تر حساب تېر دئ.

له دې خبري هيڅوک نټه نه کوي، چي په ټولنه او طبيعت کي له بدلونو او پرمختګو سره ګام په ګام د نوو ټکو، ترکيبو او عبارتو جوړول، نه يوازي زموږ د ژبې؛ بلکي هري ژبې ښکاره او انکار نه منوونکې اړتيا ده. د دې څرګند واقعيت له پوهېدو سره سره، د مأنوسو او اشنا ټکو پر ځای د حق او نا حق نوو ټکو وضعه کول، هيڅ ګټه او منطق نه لري. د علمي او عصري قاموسو ليکوونکي باید د«سوچه کولو»تر نامه لاندي د ژبې د تباهۍ او وژني دغه راز عملونه په روښانه ټکو سره بيان کړي، چي لوستونکي يې په ټولو اړخونو او ځانګړتياوو پوه سي.

## په قاموسو کي د مشهورو تېروتنو د سمو بڼو وړاندي کول

کله کله ځيني ټکي او ترکيبونه په يوه ژبه کي په ناسمه بڼه باب سوي وي، چي مووږ يې په عام ډول مشهوره تېروتنه یا مشهوره غلطي بولو. قاموس ليکوونکی باید د يوه باصلاحيته ژبپوه او لغتپوه په څېر د دغه راز ټکو، عبارتو او ترکيبو د را غونډولو تر څنګ د هغو سم او کره شکلونه هم لوستونکو ته وړاندي کړي؛ مثلاً په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو کي «صورت نيول»، «تصميم نيول»، «تر معالجې لاندې نيول»، «تر مطالعې لاندې نيول»، «پرلاره اچول»، «محکمه کول»، «ځوکړې ماينونه»، «ځو بابه ښوونځي»او په لسګونو نور هغه ترکيبونه دي، چي له نورو ژبو څخه د هو به هو ترجمې له لاري پښتـو ته راغلي دي؛ او زموږ د خوږې او اسانه ژبې له ګرامري او مانوي جـوړښت سره هيڅ اړخ نه لګوي.

ځيني وختونه په ټولنه کي د دوو نيژدې او يو رنګ ټکو يا په بېلابېلو سيمو کي د يوه ټکي د راز راز وريانتېونو ترمنځ په ويلو او کښلو کي ډول ډول تېروتني کيږي. دا هم په واقعـيت کـي ديوه پـوه او مـجرب قاموس ليکوونکي اصالت او رسالت دئ، چي د غه ډول تېروتنو او ګډوډيو ته د خلـګو پام واړوي؛ مثلاً په پښتو کي لوبډيځ او لوېديز، ختيځ او ختيز، کوځه او کوسه، روزګان او ارزګان، ارغسان او ارغستان، ساپی او صافی او په سلګونو نور يا په پارسي کي تصـادم او تصـادف، تيليګرام او تيليګراف، ګزاردن (په ز) او ګذاردن (په ذ) او داسي نور، چـي خلګ يـې زياتره په تېروتني سره يو د بل پر ځای کاروي. پـه انګريزي کي هـم داسي مثـالونه لږ نه دي؛ لکه :canvas (کرباس، کـتان، هغه ټوټه چي انځـورونه پر کښل کـيږي) او canvass (د چا د رايـي يـا ملاتړ غوښتنه، د رايي ورکوونکو د نظرياتو پوښتنه او داسي نور) يا born (زوکـړی، ذاتي، مورزاده) او borne (زغملئ، منلئ، لېږلئ، لرلئ او داسي نور). دوهمـه کليمه (borne) په حقيقت کـي د "bear" د فعل دريم حالت يا وصـفي وجه ده؛ په داسي حال کي چي لـومړی کليمه (born) د صفت په بـڼه کاريږي.

په هره ژبه کي داسي ټکي او ترکيبونه خورا ډېر دي، چي زياتره عام او لږلوستي خلـګ يې په شکلي او مانوي بېلوالي کي له تېروتنو سره مخامخ کيږي. قاموس ليکوونکی بايـد داسي ګډوډی او التباسونه په روښانه ټکو سره تشريح او بيان کړي، تر څو په دې توګه په ژبه کي د خپلسری او ابتذال مخه ونيول سي.

## نيولوجيزم او قاموس ليکنه

بشري تمدن تل د پرمختګ او بدلون په حال کي دئ. هره ورځ د ټولنيز ژوندانه په بېلابېلو ډګرو کي نوي نوي اختراعات او کشفيات کيږي. دا نوي علمي او تخنيکي پرمختګونه له ځانه سره د نوو لغتونو، تعبيرونو، ترکـيبونو او مصطلاحاتو اړتيا را منځ ته کوي.

نيولوجيزم(neologism)يا د نوو ټکو جوړونه د هري ژبې د لغوي زېرمې مهمه، ضروري او پراخېدونکې برخه ده، چي د بشري اړيکو نيژدېوالي او چټـکو ساينسي پرمختګونو يې د بل هر وخت په پرتـله، اړتيا زياته کـړې ده. هغـه قاموسونه، چي د بشري ټولني له سياسي، اجتماعي، فرهنګي، علمي او اقتصـادي بدلونو سره ګام په ګام پرمخـتګ و نه کي؛ او د نـوو پرمختګو او نوو حالاتو پـه رڼا کي بشپړ نسي، په هيڅ وجه نسي کولای د خلګو علمـي او ادبي ستونزي ليري کړي. زاړه قاموسونه لکه څنګه چي مخکي هم يادونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسوه، په چټـکۍ سره د کتابخانو په الماریيو کې بندې کيږي؛ او د اړونده څانګو له خو محدودو څېړونکو پرته يې نور څوک پوښتنه هم نه کوي. دا ځکه چې عام خلک زياتره د هغو نــوو تــکو په ماناوو پسې ګرځي، چې د نوو بدلونوو په اثر، د ټولنيز ژوندانه په بېـلابېلو برخو کې ور سره مخامخ کيږي. له دې کبله بايد قــاموس ليکوونکي ترخپل ټول واک او ځواک پورې پوره کوښښ وکي، چــې په خپلو لغــوي زېرمــو کې د نوو کليــمو، ترکــيبو او اصطلاحاتو را غونډولو او شنني ته هم کلکه توجه وکړي. د همدې مقصد له پاره په پرمختــللو هيوادو کې زياتره هرکال د ژبنيو قاموسو نوې ايډېشنونه چاپيږي. په دې توګه، په نوو قاموسو کې د علومو په ټولو برخو کې نوې جوړ سوې تــکي له علمــي معيارونو سره سم د خلــکو استفادې ته وړاندې کيږي. په دغه راز هيوادو کې د نوو کليمو، ترکيبو او اصطلاحاتو د جــوړولو له لارې د قاموسو بډاينه او بشپړوَنه، همېشنۍ او پرله پسې کار دئ. له بــده مــرغه پــه افغانستان،په تېره بيا پښتو کې د نوو ټکو د وضعه کولو بهير له راز راز پېچومو سره مخامخ دئ. پښتو ژبه د هيواد د ځينو بې غَوْره سياسي رژيمو د واکمنۍ، د سيمې د تاريخي پېښو او فرهنګي جريانو د بېلابېلو اغېزو له امله، په افغانستان کې د ايراني پارسۍ او په پښتونخوا کې د اردو او انګرېزي ژبو تر پراخ او ژور نفوذ لاندې ده. دا نفوذ او اغېزه اوس د يوه بربنډ فرهنګـــي يرغل ګچې ته رسېدلې ده. د همدې دلايلو پر بنسټ، د نړۍ له علمي او تخنيکي پرمختګــو ســره اوړه پر اوړه، په پښتو او دري کې هم د نوو ټکو وضعه کول؛ او د نوو قاموسو له لارې د هغو عامــول او رواجول، د دغو ژبو د ودې او پرمختګ اساسي ضرورت دئ. په راتلونکو بحثو کې، د نوو ټکو د جوړولو، دودولو او ځينو نورو مهمو اړخو په اړه، څه رڼا اچوو.

## قاموس ليکوونکي او د نوو ټکو پېژندنه

مخکې هم اشاره وسوه، چې عام ولس د خپل غريزي او طبيعي عکس العمل پر بنسټ، هرومرو د نوو شيانو او نوو پېښو د پېژندنې له پاره، له يوې لارې يا يوه تدبيره کار اخلي. دا غريزي او طبيعي غبرګونونه کله کله له علمي اساساتو سره سر نه خوري، له دې امله بايد ژبپوهان، خاصتاً لغتپوهان او قاموس ليکوونکي د دغه راز ګډوډۍ او خپلسرۍ په مخنيوي کې مرسته وکي؛ مثــلاً د اينټرنيټ له پـــيدا ايښت سره په پښتو ژبـــه کـــې د انګرېزي ويب سايټ (website) له پاره د «ويبپاڼې»، «جالپـــاڼې»، «اينټرنيټپاڼې»، «ويــب سايټ»، «ويــب» او داسې نورو تـــکي راووته. طبعاً هر لغت جوړونکي خپله وضعه کړې ټکې/ ترکيـــب تر نورو غوره وباله. د دې ټکو ترمنځ د پايښت او بقأ د پاره علمي سيالي پيل سوه؛ او اوس ترځو کـــالو سياليو او ټکرو وروسته ګورو، چې«ويبپاڼه» په افغاني ټولنه کې ترنورو سيالو ترکيبو مشهوره، مقبوله او ګټوونکې بريښي. په دې توګه بايد قاموس ليکوونکي«ويبپاڼه»د يوه عيني، واقعي او منلي نوي ټکي په توګه په خپلو قاموسو کې ثبت کړي، چې عام وخاص يې په خپلو ورځنيو خبرو او ليکنو کې استعمال کړي. البته قاموس ليکوونکي کولای سي، چې د «ويبپاڼې»په تشريح او بيان کې د نورو سيالو ټکو يادونه هم وکي، تر څو لوستونکي د «ويبپاڼې»په مفهوم ښه پوه سي. بايد هېره نه کوو، چې هر نوی وضعه سوی ټکی په قاموسو کې د ثبتولو او ضبطولو وړ نه دئ. په بل عبارت، يوازې هغه ټکي بايد په قاموسو کې د نوو ټکو په توګه وليکل سي، چې د خلکو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځنيو خبرو او مرکو کې پراخ استعمال ولري يا خلګو عملاً په خپلو ورځنيو چارو او اړتياوو کې منلي وي. زموږ ځينو نيولوجيستانو او س د نوو ټکو په نامه داسې ز ېرمې جوړ کړي دي، چې که د ژبې منلو او معياري قاموسو ته لاره پيدا کړي، په ډېر لږ وخت کې به زموږ د ژبې او فرهنګ د ودې پر ځای، د خلګو د سپېڅلې او خوږې ژبې شمزۍ ور ماتې کړي.

که په پښتنې ټولنه کې د ايران د «فرهنګستان» په بڼه، د ژبپوهانو او لغتپوهانو يو سراسري مرکز فعاليت لرلای، بيا نو د قاموس ليکوونکي کار نور هم اسانه کېده؛ ځکه دې مرکز به په پښتنې سيمو کې د نوو ټکو د را غونډولو، توحيد او انسجام چارې پر مخ بيولای؛ او تر پراخو علمي شننو وروسته به يې د وړاندې سوو نوو ټکو له ډلې څخه، تر ټولو غوره د معيار په توګه منلای؛ اما دې لوی برې ته تر رسېدو پورې بايد، د نوو ټکو په جوړولو او رواجولو کې د اسانۍ، سادګۍ، معقوليت او عموميت اصول له پامه و نه غورځوو.

## د نوو ټکو په جوړولو او رواجولو کې د چټکتيا ارزښت

د نوو ټکو او ترکيبو په جوړولو کې بل مهم او ارزښتناک اصل د هغــو په وضعــه کولو او دودولو کې د چټکتيا مسأله ده. که ژبپوهان، ادبپوهان، ليکوال، شاعران، ژورناليستان او په پای کې د ژبې هر مينه وال په چټکۍ سره له پردو ژبو څخه نوو را توکېدلو ټکو او ترکيبو ته په خپله ژبه کې معادل ټکي جوړ نه کې،نو عام خلګ هيڅکله د دوی دې بې غَوْرۍ او ټمبلۍ ته لاس تر زنې نه کښېني. خلګ د نورو ژبو له نوو ټکو سره د مخامخ کېدو پر مهال مجبور دي، چــې له دغو څو لارو څخه يوه غوره کې:

- د نوو ټکو په وړاندې خپل مروَج ټکي ودروي.
- که يې په خپله ژبه کې د نوو ټکو له پاره څه و نه موندل، بيا نو له خپلې پوهــې او تجــربې سره سم، هغو ته د خپلې ژبې نوي ټکي وټاکي.
- د ټولو لارو تر ټرلو وروسته، د ناچارۍ له مخې، پردي ټکي په خپله اصلي او وارد سوي بڼــه ومني؛ د مثال په توګه په افغانستان کې او س عــام خلګ اووه يا اته کسيز موټر ته، چــې پــه انګرېزي ژبه کــې يــې ايم پي وي MPV(Multi- Purpose Vehicle) يا (people carrier) بولي، د «تونيس» ټکی استعمــالوي يا هغــه تېــز رفتار موټر ته چې د بار وړلو د پاره په شا کې تش ځای لري؛ او په انګرېزي کې يې ايستېټ کار (estate car) بــولــي، د «ســراچه» ټکی کاروي. د سرويس (service) انګرېزي ټکی هم له همــدې ډلــې څــخــه دئ، چــې پــه انګرېزي کې د خدمت، چوپړ، مرستې، ترميم، کار، وظيفې، عبادت، مراسمو، کتنې، نظــارت او نورو په مفهوم استعماليږي؛ خو په افغاني پښتو او درې کې د سپرلې وړونکي غټ موټر يا بــس (bus) په مانا دود ده، چې هغه هم په خپل وار سره د خپله اوروپايي کليمه ده. دغــه راز، زموږ خلګو د موبايل (ګرځنده يا بې مزې تليفون) د سيګنل نخښې ته د «آنتن» ټکی غوره کــړی دئ؛ مثلاً په هغو ځايو کې چې د مخابراتي دستګاه او موبايل ترمنځ سيګنل کمــزوری وي، خــلګ وايي: «موبايل آنتن نه ورکوي.» دا او په سلګونو نور ټکي په واقعيت کې د عام ولس د غريـزوي ذهن هستوني او پنځوني دي. په دې نوم ايښوونو کې، لکه څنګه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګورو، د پام وړ ټکـو د لغوي او مانوي اړخو تر منځ هيڅ اړيکې او دلايل نه ليدل کـيږي. سره له دې هــم قــامـوس ليکوونکــی نسي کولای، په دې دليل چې ايم پي وي يا اووه سيټه موټر چيري او «تـونيس» چيري يا ايسټيټ موټر چيري او «سراچه»چيري، د دغه راز ټکو له را غونــډولو او ثبتـــولو مخ واړوي؛ ځکه قاموس ليکوونکی د ټولني د ژبنييو، فکري او فرهنګي ارزښتـــونو د يـوه امانتکار ليکوونکي په توګه وجيبه لري چې ټولي هغه کليمې، عبارتونه، ترکيبونه او اصطلاحات په پوره غوَر سره را ټول او خوندي کړي، چې د ژبې په ادبي او علمي اثارو او ورځينيو محاورو کي باب وي. البته فرهنګ ليکوونکی بايد هېره نه کړي، چې د دغه راز ټکو او ترکيبو د راغونډولو او مانا کولو ترڅنګ د هغو اصلي علمــي او تخنيکـــي نومونــه هم وښيي؛ د مثـال په ډول روښانه کي، چـــي د «آنتن/ انتن» ټکی اصلاً د انتينا (antenna) د لاتيني کليــمې مفغــنه بڼه ده. دغــه رنګــه دا خبــره څرګنده کړي، چي انتينا په حقيقت کي د سيمانو، فــــلزي ميلو او نورو تخنيکي سامانو څخه جوړه سوې آله ده؛ او د راديو، تلوېزون يا بلي مخابراتي وسيلې د اليکټرو مقناطيسي څپو د اخيستني او په مقصد استعماليږي. له دې کبله د موبــايل فون د سيګنل ښوولو د پاره چندان موزون او معقول نه لېږدوني بريښي.

کله چي خلګو د خپلو طبيعي عکـس العملو په لړ کي نوو شيانو او نوو پېښو ته نوي ټکي او ترکيبونه غوره کړه؛ او د پراخ استعمـال په وجه په ټول ولس کي دود سوه، بيا نو د هغو پر ځای د چا خبره د نورو علمي او اکاډيميکو نومونو رواجول د اسمان خاته د ي؛ ځکه خـلګ پــه هيڅ ډول حاضر نه دي، هغه کليمې او ترکيبونه په نورو اليش کړي، چي دوی يې په خــپله پـــه جوړولو کي برخه اخيستې؛ او عملاً د هغـو په کاروَنه کــي هيڅ ربړ او تکليف نــه ګوري. «تونيس»، «سراچه»، «انتن» او داسي نور هغه ولسي نوم ايښووني دي، چـــي اړول يــې پــه اسانه ممکن نه دي.

بې شکه موږ ټول (عام و خاص) بايد د ژبې بډايني او بشپړتيا ته په کلکه اوږه ورکوو؛ خو په دې کار کي بايد له ځانځانی، شخصي ذوق، ذهني قضاوتو او نورو روانـــي - اجتمـــاعي ناروغييو څخه ځانونه وژغورو. پښتو خورا شتمنه او ارته ژبه ده. په خواشينــی ســره د دې لرغوني ژبې ټول علمي، ادبي او هونري اثار لا تر اوسه په بشپړ ډول نــه دي را غونډ سوي. زموږ د لغوي زېرمي په پراخه لمن کي، د نيولوجيزم ډېرو ستونزو ته په اسانی سره د حل لاره موندل کېدای سي؛ خو دا کار په زغم او سړه سينه، پرله پسې علمي څېړنو او پلټنو ته اړتيا لري. هغه نيولوجيستان، چي په خپله ژبه او ادب کي تر هر راز پلټني او ګروېږني دمخه، د ماشين په شان نوي کليمې، عبارتونه، ترکيبونه او اصطلاحات جوړوي؛ او بيــا له خلګو په ټينګه غواړي، چي بې تأمله يې د پخو کــاڼو په توګه په ورځنيو خبرو او ليکنو کي استعمال کړي، په واقعيت کي خپلي ژبې ته تر هغو کسانو لږ زيان نه رسوي، چي د پردو ژبو او پردو فرهنګي جريانو ظالمانه يرغلو ته لاس تر زني ناست وي؛ ځکه په دې کار سره د ولس سپېڅلې، اسانه او خوږه ژبه د يوه يا څو کسانو د شخصي ذوق او ذهني قضاوتو قرباني کيږي؛ په داسي حال کي چي د پردو ژبو او پردو فرهنګي يرغلو په نتيجه کي، د ژبې لغوي زېرمي او لرغونو فرهنګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزښتو ته لوی زیان رسیږي. په دواړو حالتو کي ژبه د ولس د یوه نه بېلېدونکي امانت په توګه، د اشخاصو او دولتو د بې رحمانه لاس وهنو له لوی خطر سره مخامخ کیږي. همدې لویو خطرو ته په پام سره باید ، زموږ نوي ټکي د ولس په ژبه او فرهنګي میراثو کي ژوري ریښې ولري؛ د ټولني عامو خلګو ته اسانه او په زړه پوري وي؛ او په رواجولو کي یې له ناسمو او نامعقولو لارو کار وانخیستل سي.

البته له دې حقیقته هیڅوک سرغړونه نه کوي، چي د نوو ټکو جوړول یا نیولوجیزم زموږ د لرغوني ژبي د ژوندي پاته کېدو له خورا مهمو او اساسي اړتیـــاوو څخه دئ؛ خو سره له هغه هم باید هیڅکله په دې کار کي علمي موازین او اساسات تر پښو لاندي نه کوو؛ د مأنوسو او پېژندل سوو دخیلو ټکو د بې ځایه سوچه کولو پر ځای باید خپل ټول پام هغو نوو ټکو، عـــبارتو، تعبیرو او اصطلاحاتو ته واړو، چي هره ورځ له بېلابېلو لارو، د سېل په شان، زموږ ژبـــي او ادب ته را ننوزي؛ او په پای کي زموږ د لرغوني ژبي بقا له لوي خطر سره مخامخ کوي. ټول شاهدان یو، چي د نړۍ خلګ زموږ پر خلاف په اریانوونکي جدیت او سرعت پرمخ درومي. هره ورځ د علومو په بېلابېلو برخو کي نوي کلیمې، ترکیبونه او اصطلاحات را منځ ته کوي. زموږ پوهان او قلم چلوونکي باید د دغه راز نوو ټکـــو او علمي پرمختګو په پېژندنه کي، تر ګاونډییو ژبو او شاوخوا فرهنګي جریانو یو ګام هم وروسته پاتــه نه وي. مخکي تر دې چي فرهنګي یرغلګر داسي ټکي او اصطلاحات په مروړلي او بې خونده بڼه زموږ ژبي او کولتوري چاپېر ته را ننباسي، باید په خپله ژبه او ادب کي د هغو له پاره په زړه پوري معادل ټکي ولرو. د دې خبري مانا دا ده، چي د ژوندانه په ټولو برخو کي باید د بهرنۍ نړۍ علمـــي، تخنیکي او فرهنګي پرمختګونه له نیژدې و څارو؛ او په هـغو کي نوي ټکـــي، نـــوي اصطلاحات او نوي فکرونه په بشپړې پوهي او هوښیارۍ، یو پلا بیا و ایم په بشپړې پوهي او هوښیارۍ سره، خپلي ژبي ته را ننباسو.

په لغت جوړونه کي د پېښه ګرۍ زیانونه

ایراني لغت جوړونکو له کلونو کلونو راهیسي د پارسي ژبي د سوچه کولو افراطي هلي ځلي پیل کړي دي. هره ورځ د عربي، تورکي، هندي او اورپایي کلیمو د ژباړي په لړ کي د ماشین په څېر پارسي ټکي را باسي؛ او بیا یې په پیاوړي سیاسي، فرهنګي او اقتصادي ځواک سره نه یوازي په ایران؛ بلکي په افغانستان، تاجیکستان او ځینو نورو پارسي ژبو سیمو کي ترویج او خپرولو ته ملاوي تړي. له څه د پاسه د برشو کلو راهیسي اوس د پارسي ژبي او فرهنګ پر شوونیستي ترویج سربېره، د شیعه مذهب د پراخولو او سیاسي نفوذ له پاره لیوني کوښښونه هم، له دې خطرناک جریان سره ملګري سوي دي. دې افراطي تلاښونو نه یوازي زموږ د خلګو روانه او خوږه پارسي (دري) په بې خونده ایراني رنګ لړلې ده؛ بلکي پر پښتو ژبه او ادب یې هم ډېري ناوړه اغېزي ښندلي دي؛ ځکه زموږ ځیني پېښه ګر ژبپوهان، ادیبان، لیکوال او ژورنـالیستان هم نن سبا ، د پښتو ژبي پراخو علمي، ادبي او کلتوري زېرمو ته په شا ګرځولو سره د ړندو په شان د ایرانیـانو وضعه سوي کلیمې، ترکیبونه او عبارتونه هو به هو پښتو ته اړوي؛ او ویاړي چي ګوندي پښتو یې د پارسي، عربي او نورو ژبو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

اغېزو ژغورلې ده؛ په داسي حال کي چي په خپلو ناوړو، زموخته او کړکېچنو تقليدي لغت جوړونو سره يې زموږ د مندو او پلرونو ساده او خوږه پښتو، تر بل هر وخت، په پردو ژبو پوري تړلې ده؛ او په دې ناوړه کار سره يې د هغې د طبيعي ښکلا او ادبي - علمي پرمختګ مخه نيولې ده. دا ښاغلي واضعان په دې نه پوهېږي، چي زموږ نوي ټکي او ترکيبونه بايد هيڅکله له پښتني تومني څخه بې برخي نه وي. هغه ټکي، عبارتونه او تعبيرونه چي بې پښتني روح يوازي د پښتو په يوه بدخونده او لغوړن ظاهري رنګ لړلي وي، هيڅکله پښتني نه ګڼل کيږي. له دې کبله بايد پښتنانه ليکوال، مؤرخان، ژورناليستان او عام خلګ ان د پردو نومونو په ليکلو او تلفظ کي هم د ګاونډيو ژبو پيروي ونه کړي؛ څکه په پاړسي، عربي، اوردو او ځينو نورو ژبو کي د تلفظ او املايي سيستم د نيمګړي جوړښت له امله، حتا په نومو کي هم بدلون راځي؛ لکه په پاړسي کي، چي د مک کرسټل(Mc Chrystal)، پول(Paul)، کلينټن(Clinton)، جګسن(Jackson)، سټيوون(Stephen)او داسي نورو نومونه د «مک کريستال»، «پاوِل»، «کلينتون»، «جګسون»، «ايستيفان» او داسي نورو په څېر تلفظ کوي.

په اوردو کي پاډي اشډان (Paddy Ashdon)، کاترين(Catherine)، کېرولاين(Caroline)، چارلس(Charles)او داسي نور نومونه د «پېډي اېشډان»، «کېترين»، «کېرولاين»، «چارلس» په بڼه وايي. په عربي کي ويکټوريا (Victoria)، ويکي(Vicky)، پريټي(Pretty)او داسي نوري کليمې د «فيکتوريا»، «فيکي»، «بريتي» او داسي نورو په ډول تلُفظ کوي، چي د دغو ټکو له اصلي انګرېزي تلفظ سره ډېر توپير لري.

ايرانيان د توحيد، توبيخ، توضيح، توليد او داسي نورو په څېر کليمې د «ت»په پېښن وايي؛ حال دا چي سمه بڼه يې د «ت»په زْوَر يا فتحه ده. د املاوو دغو څو بولګو او مثالو ته وګورئ، چي ايراني پاړسي ژبو له ځينو پردو ټکو څخه څه جوړ کړي دي: آفريقا، آلمان، آمريکا، الکل، ايتوپي، پروتيين، تيرويېد، تلفن، دُلار، دمکراسي، ژاپن، سيمپاتيک، کپی، کُت و شلوار، کُره، مبل او داسي نور.

انسان هک پک سي، چي د افريقا، المان او امريکا په تلفظو کي خو له لويه سره د«آ»ږغ نسته، نو ايرانيان يې د کوم منطق او دليل له مخي په ليکنه کي له ځانه په کښېباسي؟ اما د خپلي جعل سوي ليکدود پر خلاف يې د «ايمريکا» په بڼه وايي. بله په زړه پوري لا دا چي د اوروپايي ټکو په تلفظ او املا کي د کوم عقل او منطق پر اساس د عربي ژبي له اعراب څخه کار اخسيتل کيږي؟! ټول پوهيږو، چي ايرانيان خو درګرده په پاړسي کي د مأنوسو او اشنا عربي ټکو پر ځای خپلي حق او نا حق پاړسي کليمې دروي، دلته بيا څه وسوه، چي د کليماتو په تلفظ او ليکدود کي د خپلي ژبي پر اساساتو تکيه نه کوي؟ زما په دې خبره سر نه خلاصيږي، چي ايرانيان د«کاپي»، «کوټ/کوت»، «ډيموکراسی/ ديموکراسی» او داسي نورو په شان اوروپايي ټکي ولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د «کپی» ، «کت» ، «دمکراسی»په بڼه لیکـي ؛ خو د «کوپي» ، «کوټ» ، « دیموکراسی» په بڼه يې وايي. په پارسي ژبه کي د «و» او «ی»په کارولو سره دا ستونزه ، په ډېري اسانۍ سره له منځه ځي !

عربان که د کلیمو په تلفظ او لیکدود کي له اِعراب څخه کار اخلي ، دا خو د هغــوی د ژبي نه بېلېدونکې ځانګړتیا ده. موږ پښتنو ، پارسي ژبو او داسي نورو خلګو ته د اوروپايــي ټکــو په تلفظ او املا کي د عربي اِعــراب د کار اخیستني اړتـیا څه ده؟ په بله وینا ، پر مـوږ پښتنو او دري ژبو چا اېښي دي ، چي کوټ/کوت (coat) د «کـټ/کـت» په بڼه ولیکو ؛ اما د «کوټ/کوت »په بڼه يې و وایو. په اوسنۍ پارسي کي د «تخت»په مانا د «کت» کلیـــمه اوس بېخي مړه ده ، نـو ځکه خلګ د «کورتۍ»یا «بالاپوښ»او داسي نورو په مفهوم د «کت» له کلیمې سره د هغه په التباس چندان نه پوهېږي ؛ مګر په پښتو کي خو د کُټ(پوښاک ) او کټ(تخـت)یــو راز لیکل د مانا له پلوه لـــویه سرخوږي او ګډوډي پېښوي ؛ ځکه پښتو ژبي خـــو د پارسي پر خلاف د «کټ/کت» کلیمه تر اوسه په ژوندۍ بڼه خوندي کړې ده.

زموږ د ژبـــي فینـــالوژیـــک خصوصیتونه هیڅکله له دغه راز تلفظونه او املاوو سره سمون نه لري. د همـدې استـدلال پربنسټ پښتنو ته نه ښايي ، چي د داسي نومونو په تلفظ کي هم د نورو ژبــو پرناسمو لارو پــل کښېږدي؛ ځکه پښتو د دغه راز نومونو په اصلي او کره تلفظ کي د ږغپوهني د اساسـاتو له پلوه هیـــڅ مشکل او ستونزه نه لري. موږ چي د انګرېزانو په ډول«کوټ» وېلای او لیکلای سو ، څه اړتیا لرو چي د ایرانیانو او نورو مقـلدانو د ناسم تــلفظ او ناسمي املا په پیروۍ«کت»و وایو او لیکو ؟که د ایرانیانو کاپي تر اصل اسانه او کره وای ، بیا يې په ویلو او لیکلو کي هیڅ عیب او نیمګړتیا نه لیدل کېده ؛ مګر اوس قضیه کاملاً سرچپه ده.

هماغسي چي په وینګ او لیکدود کي د پردو بې ځايه پیروي له علمي ارزښتونو سره اړخ نه لګوي ، په پټو سترګو د پردو د هري نوي کلیمې ، ترکیب او اصطلاح منل هم هیڅ معقول او منطقي تادا و نه لري. زموږ په نوو ټکو ، ترکیبو او اصطلاحاتو کي باید تر ډېره حده زموږ د خپلي ژبي جوهر او اصالت ګډ وي. که نه نو په پردي رنګ لړلي ترجمه سوي ټکي د ګتي پر ځای تاوان رسوي. موږ باید په دې کار کي د راڼده چلند او پېښه ګرۍ پر ځای له خپلو ادبي او علمي اثارو ، لغوي زېرمې ، فرهنګي میراثو او تر ټولو مخکي سلا مشورې څخه کار واخلو. د دې ټـولو باریــکو او حساسو علمي مسألو چاڼ کول او روښانه کول ، د عصري قاموس لیکني له مهمو اصولو څخه ګڼل کیږي.

## څوک باید د نوو ټکو د جوړولو واک ولري؟

دا خبره علمي اساس نه لري ، چي نوي ټکي باید هرومرو د ژبپوهــانو یـا نـورو مسلکي کسانو له خوا وضعه سي. که د نوو ټکو وضعه کول یوازي د ژبپوهانو مسوولیت وګڼو ؛ او نورو کسانو ، په تېره بیا ادبپوهانو ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکوالو ، شاعرانو او داسې نورو مینه والو ته پــه دې بهیـــر کــې د ورګډېدو اجازه ورنکوو ، نو په هغه حالت باید شعر او شاعري هم یوازې د ادیبانو کار وبولو ؛ ځکه ادیبان تر هر چا د شعر او شاعرۍ په لفظي او مانوي اړخونو ښه پوهېږي؛ مګر عملاً ګورو ، چې ډېر ادبپوهان او ادبـي منقدین له خپلې پراخې علمي پوهې او مسلکي تجربو سره سره، حتا د شعر ویلو استعداد هم نه لري. ځیني ځیني یې د قافیې، عروضو ، بدیع او بیان په زور د کاغذ پر مخ څه نا څــه کاږي؛ خو په خواشینۍ سره چې د زیاترو په ادبي او هونري هستونو کې د نوښت، خلاقیت او خوند چندان نخښه نه مالومیږي.

شک نسته، چې ژبپوهان او لغتپوهان د نوو ټکو په جوړولو او غوره کولو کې تر نورو فرهنګیانو او عامو خلګو ډېره پوهه او مهارت لري؛ خو سره له دې هم د دې خبرې مانا دا نه ده، چې څوک د یوه تحصیلي ډیپلوم په استناد د ژبپوهنې او نیولوجیزم ټول واک یوازې او یوازې په خپـلو لاسو کـــې واخلي؛ ځکه ژبه د خلګو مال دئ؛ او هیڅ پوه او متخصص د دې حق نه لري، چې د خلګو ژبه او فرهنګي ارزښتونه د خپل شخصي ذوق او ذهني قضاوتو تابع کړي. کـه لوستو کسانو ، یوازې د پوهنتونو د تحصیلي ډیپلومو په وړاندې کولو سره د خلګو پر ژوندانه د حکومت کولو حق موندلای سوای، نو تر هر څــه مخــکې به طبیبـــانو حــق لرلای، چې ناروغانو ته د زړه په غوښت دارو درمل تجویز کړي؛ په داسې حال کې چې د نړۍ تر ټولو لوړ او لوی طبیب هم دا حق نه لري، چې په خپلو طبي لارښوونو ، مشـورو او نسخو کې د طبابت له منلو اصولو او قواعدو څخه سرغړونه وکي. دغه راز، که یوازې تحصیلي سندونو لوستو کسانو ته د خپلسرو پرېکړو انحصاري حق ورکولای، نو قاضیانو او څارنوالانو به بې هیڅ بیرې او اندېښنې د تورنو کسانو په ژوند د لوبو کولو حق لرلای؛ اما په عمل کې ګورو ، چې حقیقت داسې نه دئ. هیڅوک د نافذو قوانینو او مقرراتو له چوکاټه دورې هورې پښه نسې ایستلای. په دې نړۍ کې هیڅوک د خپلسرۍ او زورواکۍ حق نه لري. د نـوو الفـاظو د جوړولو مسأله هم کټ مټ همداسې ده. ژبپوهان او لغتپوهان هم په دې بهیر کې د شخصي ذوق او ناروا لاسوهنې حق نه لري. د همدې استدلال له مخې باید د ټولنې هر وګړی (لوستی یا نالوســتــی) په بشپړې ازادۍ سره د لغت جوړولو په بهیر کې فعاله او چټکه برخه واخلي. دا خبره هم بـاید په ډېر ټینګار او تأکید سره وویل سي، چې د نوو ټکو په منځ کې چاڼ او وروستۍ پرېکړه به د سلیم ذوق، ژور منطق، سادګۍ، اسانۍ او ښکلا د اصولو له مخې کیږي نه د تحصیلي کاغذو له مخې. د هر چا په وضعه سوي ټکي کې چې دا ځانګړتیاوې او مشخصات را غونډ سوي وه، هغه باید د ټولو له منـځه ښه او غوره و پېژندل سي. په دې توګه ، د لغت جوړونې په بهیر کې تر ټولو لـوی پوهاند او استـاد یوازې هغه څوک دئ، چې په خپلو نوو لغـــت جوړونو سره د خلــګو علمي، ادبـي او ذوقي تنده ماته کړي.

په پای کې دا خبره هم د یادونې وړ ده، چې په قاموسو کې باید د نوو ټکو د جوړېدو او رواج کېدو تقریبي تاریـــخ تــــه هـــم لـــنډه اشاره وســـي. د انګـر یـــــزي ژبــــــي په معـــاصرو قـــامــــوسو کـــــي "Chambers 21st Century Dictionary" د نوو ټکو د جوړېدو تقریبي تاریخ ته هم جــدي پـام اړولئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دئ.

## پورټمېنټيونونه(Portmanteau/Portmantean)

پورټمېنټيونونه هغه ټکي دي، چي د دوو بېلو ټکو ړغونه او ماناوي سره يو ځای کوي؛ او نوي ټکي ځني جوړوي؛ لکه په دغو مثالو کي:

*br*eakfast+lu*nch*: brunch
*ch*annel+tu*nnel*: chunnel
*d*ove+h*awk*: dawk
*mo*tor+ho*tel*: motel
*sh*eep+g*oat*: shoat
*s*lang+*language*: slanguage (Jackson and Amvela 101).

د داسي ټکو را ټولول او شننه هم د نوي قاموس ليکني له مهمو او ګټورو اړخونو څخه ګڼل کيږي. په پښتو او پاړسي کي د کليمو د يو ځای کېدو او لنډېدو مثالونه ډېر دي؛ خو په دغه بڼه تر اوسه د نوو ټکو د جوړولو څه روښانه څرک نه ليدل کيږي.

## په قاموس ليکنه کي د کليمو د شکلي يووالي او مانوي بدلون د پېچلتيا بېلابېل اړخونه

لکه څنګه چي د دې ليکني په ځينو نورو برخو کي هم يادونه سوې ده، ژبه د يوه ژونـدي او خوځنده ټولنيز مخلوق په توګه تل د بدلون او اوښتون په حال کي ده. ځيني کليمـې يــې د زماني په تېرېدو سره مري؛ او پرځای يې د زامنو، لمسيانو او کــړوسيانو په بڼــه نــوي نوي نسلونه سترګي غړوي. ځيني ټکي يې د لغوي تطور په بهير کي پخــوانــۍ ماناوي له لاسه ورکوي؛ او پر ځای يې نوي ماناوي خپلوي. کله کله داسي هم پېښيږي، چي بېلابېل لغــتونه پخوانۍ ماناوي هم ساتي او د هغو تر څنګ ځيني نوري ماناوي هم اخلي. په تېرو بحثــو کي مو د دغه راز بدلونو ځيني بولګي په توګه کړي. دلته د هغو ټکو د ځينو مثالو او نمــونو پــه اړه لنډي خبري کوو، چي د ايتيمولوژۍ او تاريخي تګلوري په لحاظ بېل؛ خــو د خــپل ظاهــري جوړښت پر بنسټ د يوې واحدي کليمې په څېر پام اړوي؛ او پېژندنه يې د ليکسيکوګرافۍ له نظره ډېر مهم او ارزښتناک کار دئ.

### ۱- هومنيمونه يا مشابهات(Homonyms)

هومنيمونه يا مشابهات هغه ټکي دي، چي په ليکلو کي يو راز؛ مــګر په مانا کي سره بېــل دي؛لکه کوټه (خونه، هوتاک)، کوټه(له هګۍ اچولو لوېدلي چرګه)، کوټه(خره، دلۍ، د خاورو، پارو يا نورو شيانو لويه ذخيره)،کوټه(ډېر، زيات، په پېخر، چي زياتره په مجازي مانا استعماليږي)، کوټه(يو ډول سپي)، کوټه (ګلپ، ناچله، ګډ سوی، منسوخ، له چلنده لوېدلئ) او په سلګـونو نور ټکي. دغه حالت ته، چي دوه يا څو ټکي د ليکدود يا تلفظ له پـلوه يوه بڼــه ولـري، تشابه (homonymy) ويله کيږي. متشابه ټکي زياتره په دوو بڼــو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدل کیږي:

### الف) هوموفونونه(Homophones)

همږغه مشابهات هغه ټکي دي، چي په وینګ یا تلفظ کي یو ډول؛ خو په مانا کي سره بېل وي؛ لکه کوټ(چي اوس په پښتو کي د کورتۍ، نیم تنه یي پوښاک یا بالاپوښ په مانا کاریږي) او کوټ(کلا)، لور(د وښو رېبلو وسیله، په پارسي کي داس)او لور(خوا، پلو، طرف)یا په پارسي ژبه کي شادی(خوښي، خوشالي) او شادی (بیزو، میمون)، شور(تریو، ترُش، د خوږ ضد)او شور(خوښي، خوشالي، ږوږ)، رَمَق/د ري او میم په زور/ (وروستۍ سولګۍ/ سلګۍ، ځګندن، وروستۍ ساه)او رَمَق/د ري او میم په زور/(د رمې معرب، چي په پارسي کي جوړ سوی دئ، یاني د پسو رمه، مېوه ورکول، زېږول، زغمل) یا د انګرېزي ژبي دغه ټکي:

heir/air(هوا/وارث)؛

bare/bear(لرل/ یږ، خرس)؛

bank/bank (د سمندر، رود یا ولې غاړه/ د پیسو ساتلو ځای)؛

to/two/too(ډېر/ دوه/ اضافه توری یا ناخپلواک ټکی)؛

no/know(پېژندل/ نه، یا)؛

write/right/rite(مراسم/ حق/ لیکل) او په لسګونو نور، چي هر یو یې د تلفظ په لحاظ، له یو راز والي سره سره، بېله ریښه او بېله مانا لري.(Jackson and Amvela 72.)

### ب) هوموګرافونه(Homographs)

هوموګرافونه یاني هغه دوه یا څو ټکي چي یوه املا؛ خو بېلي ماناوي(ځیني و ختونه مختلفي ریښي او مختلف تلفظونه)ولري؛ لکه خوندي(ساتلئ، محفوظ) او خوندي(خواهران)، توره(سپلاوه، شمشېر) او توره(تور رنګه، د سپین ضد)، زړه(قلب، دل) او زړه(تېره، پخوانی، سابقه، ګذشته) په پارسي کي دَر/د دال په زوَر/(ور، دروازه) او دُر/د دال په پېښ/(مرغلره/ ملغلره، ګوهر)، سحر/د سین په زوَر کي او د ح په زوَر/(سهار، ګهیځ)او سِحر/د سین په زېر/(جادو، طلسم، منتر)یا په پارسي او هندي کي سر/ د سین په زوَر/(د انسان د بدن پاسنۍ برخه، د هر شي پیل)، سر/د سین په زېر/(راز، پټه خبره)، سر/د سین په پېښ/(هغه بوټ، چي سرېبرنه برخه یې له تارو اوبدل سوي وي)، سر/د سین په پېښ/(په هندي کي اواز، ږغ، موسقي، آهنګ، نغمه او داسي نور)، سر/د سین په پېښ/(په هندي کي هغه څه، چي د خدایانو خوښ وي؛لکه قرباني)، سر/د سین په پېښ/(په پارسي کي د کب یا ماهي هغه ډول چي د توري بڼه لري)، سر/د سین په زور/(هغه نل یا نی، چي کمانه او غشی ځني جوړوي)، سر/د سین په زوَر/(په هندي کي خوځنده، متحرک، روان)، سر/د سین په زوَر/(په هندي کي زیاتي اوبه، جهیل، ډنډ)، سر/د سین په زېر/(په هندي کي خوشالي او خوښي کول) او داسي نور(عمید۲: ۱۴۰۸او پلاټ ۲۴۸–۲۵۰) یا په هندي، اوردو او ځینو نورو هندي الاصله ژبو کي لوټ/په لنډ یا معروف واو/(چور، چپاو، غلا، غیرمنصفانه معامله)

(c) ketabton.com: The Digital Library

،لوټ/په اوږده یا مجهول واو/(بانکي نوټ، د پیسو لوټ) او لوټ/د لام په زَوَر/(جاروتل، بیرته را ګرځېدل، مینه، عشق).

په انګرېزي کيbark(غپل)او Bark(د وني خوَر یا پوستکی)؛ fair(ښایسته، ښکلی، روښانه، ، کم رنګه ، د توربخون ضد)، fair(د سوداګرۍ نندارتون، په شمالي امریکا کـې کارنیــوال او د ښاروییو ګنج)، fair(عادلانه، منصفانه، معقول)او د دې ټکي نوري ماناوي، ټول د هوموګرافو له ډلي څخه دي.

که څه هم د هومونیمو د دواړو ډولونو پېژندنه او راغونډول په لغت پوهنه او قاموس لیکنه کې ډېره ارزښتناکه موضوع ده؛ خو سره له دې هــم ژبپوهان او لغتپوهــان د هومونیمو د پېژندنــې او پــه قاموسو کې د هغو د اوډنې په اړه یو راز نظر نه لري. ځینو هومونیمونه هغه لغتونه ګڼلي دي، چې د ریښو یا ایتیمولوژۍ له پلوه بېل؛ خو د تلفظ له پلوه یو ډول وي؛ لکه په دغو مثالو کې:
کوټ(کورتۍ، بالاپوښ) او کوټ(کلا ، حصار) یا په پاړسي کي شادي(خوښي، خوشــالي) او شادي(بـیزو، میمـون)، یا په انګرېزي ژبـه کېbank(د پیسو خونـدي کـولو ځای)او bank(د دریاب، رود او ولـې غـاړه)، bark(غپل)او bark(د وني یا درختـي خوَږ/ پوسـتـکی)، peace (سوله، امـن) او piece (ټوټه، برخه، شمېر ، غړی او داسي نور)، strike (اعتصاب،کاربندي، هړتال)اوstrike(وهل، ضربه، وارکول او نوري ماناوي)، pole(اوږد ډانګ یا سیخ) او Pole (پولنډی، د پولنډ اوسېدونکی) ،may (ممکن)او May(د می میاشت)، tear(څیـرل)او tear (ژړا ، ژړل)، bear (زغــمل، وړل، لـرل، منـل... )او bear(یـږ،خرس)او پـه لسګـونو نــور(مقایـسوي یا تاریخــي مېتود). ځیني نور ژبپوهان او لغتپوهان باورلري، چي په هومونیمو کې نه یوازي هغه ټکي شاملېږي، چي تلفظ یې سره ورته؛ خو د ریښو په لحاظ سره بېــل وي؛ بلکي هغه لغتونه هم هومونیمونه بلل کیږي، چي تلفظ یې یــو راز وي؛ او د کلیمــو د ماناوو د تاریخي تطور او مورفالوجیکو بدلــونو په نتیجــــه کي منـــځ ته راغــلي وي(د سترکتوریالیزم/ سترکچریالیزم مېتود)(د نور مالومات دپاره و.ګ. هلالي ۲۱). په دې ډله کې تور(د سپین ضد)، تور(تومت/تهمت، اتهام، الزام)، تور(جال، دام)، کوټه(خره، خرمن، دلۍ، د هرشي لویه ذخیره)،کوټه(ډېر، زیات، په پېخر)، برېښ(د پښتنو یوه قبیله)او برېښ(سرتــېری یا تېروني یار)؛ په پاړسي کي شاهد(کتوونکی)، شاهد(په مجازي مانا محـبوب، معشوق، نګار، یار) او شاهد(په جزایي او حقوقي دعوو کي د قضیې اثباتوونـکی یا ردونکی)یا په انــګرېزي کي digest(هضمول)، digest(دراغونډو سوو مالوماتو د مانـــاوو او استنبـــاطاتو اروېدل او شنل او حتا digest(د خبرو او منظمو ادبي خپرونو لنډه مجموعه یا لنډه بڼه) او د دې کلیمــې نوري ماناوي، چي ټولي په حقیـقت کي له یوې ریښې او یوې مادې څخه راوتلي دي؛ خو د زمانې په تېرېدو سره یې بېلابېل مفهومونه ټکو پرځای او جلا ماناوي خپلي کړي دي. له دې امله د ژبپوهانو دوهمه ډله غوره ګڼي، چي داســي کلیمو ته باید د هومنیمس(homonymous) پر ځای ذومعانیــن (polysemous) کلیمې و وایو(د نور مــالومات

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پاره و. ګ.: هلالي ۲۴).

په هره ژبه له هغې ډلي څخه په پښتو کي، کله کله د مشابه ټکو د ويلو پر مهال د اوريدونکي په ذهن کي د مانا لويه ګډوډي او التباس پېښيږي؛ لکه په دغو جوملو کي:

د احمد کوټ ډېر اوږد ؤ/ دئ. دلته د «کوټ» ټکی د مانوي التباس اساسي سبب دئ؛ ځکه په مخکنۍ جومله کي د «کوټ» ټکی په دوو بېلو ماناوو (لباس او کلا) سم او معقول دئ. څوک وار دواره نه پوهېږي، چي ويوونکي د «کوټ» کليمه په څه مقصد او مانا استعمال کړي ده. کـه څوک ووايي: «د پلاني کوټ (پوښاک) لوی دئ.» دا جومله ببخي سمه ده. دغه راز که څوک و وايي: «د پلاني کوټ (کلا/ قلعه) ډېر لوی دئ.» دا جومله هم په بشپړه توګه سمــه او دقيقه ده. (که څه هم د کورتۍ يا بلاپوښ په مفهوم د کوټ coatکليمه له انګـــــريزي ژبي څخه را غلــې ده؛ خو له عمرونو راهيسي زموږ په ژبه کي په پراخ ډول کارېږي.) يا دا دوې جوملې، چي په هغو کي د مشابه ټکو کارونه، د مانا له اړخه لويه ګډوډي او ستونزه پېښوي:

۱- کوم *لور* ښه دئ؟ ياني کومه خوا، کوم طرف، کوم لوری او داسي نور.

۲- کوم *لور* ښه دئ؟ ياني د ربېلو کومه وسيله (چي په پارسي کي يې داس بولي) ښه ده؟

د پښتو په ځينو لهجو کي، د دغو درو ټکو په وينګ او کښنګ کي د ګډوډۍ او التباس له کبله، د هغو د مانا په پوهېدو کي لوی مشکل پېښيږي:

- خوله (دهن)

- خوله (عرق)

- خوله (کلاه)

اصولاً د درو سرو ټکو په تلفظ کي د خج له پلوه ښکاره توپيرونه سته، چي که روښانه نه ســي لوستونکي ته د مانا په پوهېدو کي ډېر ګران پرېوزي. د دې له پاره، چـي له لومړيو دوو ټـکو سره د دريم ټکي (خوله =کلاه) التباس له منځه يو وړل سي، ښه دا ده چـي دا ټکی د «خوله» پر ځای «خولۍ» و وايو. په انګــريزي کي هم داسي پېچومي او مشکلات خورا زيات دي؛ مثلاً:

The *route* was very long.

The *root* was very long.

په لومړۍ جومله کي د *لاري يا مسير* اوږدوالي ته اشاره سوې ده؛ په داسي حال کي چــي په دوهمه جومله کي د وني يا بوټي د *ريښې* په اړه خبري کيږي. يا په دې دوو انګــــريزي جوملو کي:

Helen didn't see the *bat*( animal).

Helen didn't see the *bat* (wooden implement).

لکه څنګه چي ګورو، په لومړۍ جومله کي د "bat"کليمه د ځکالـــي(ښــاپېرک/ شـوپرک/ يا خفاش) په مانا ده؛ او په دوهمه جومله کي د هغه لرګين اوزار/ افــزار په مانا ده، چـي په کـريکيټ کي استـعماليږي. سره له دې چـي داسي ټکي زيــاتره د پــام وړ شرايطو او حالاتو تر څنګ، د اړونده مشابه ټکو د ګرامــري ډول يــا نوعيت(word class) پر بنسټ سره بېلوي؛ خو په عمل کي د لويو مانوي التباسو او ګډوډيو سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د داسي ټکــو حساسو مانوي توپيرونو ته پام اړول، د هر پــوه او مجــرب قاموس ليکوونکي د کــار مهمـــه برخـــه ده(.Jackson and Amvela 72-73)

د مشابه ټکو په اړه عامه پرېکړه دا ده، چې د ظاهراً يوه رېښه لرونکو ټکو دپاره بېل قاموسي سرټکي ولرو. له همدې سببه د اکسفورډ د کوچني قاموس په نهــم چــاپ(COD9) کي د ږغ (sound) دپاره څــلور مشابه ټکي راغــلي دي، چــي له بېلا بېــلو ژبو څخـــه اوس په جــلا جــلا ماناوو، په انګـــرېـــزي کـــي بــاب دي. په ځينو مواردو او حالاتو کي حتا هغه مهال هم څو ټکي مشابه ګڼـل کيــږي، چــي وروستــی رېښه يې کــټ مټ يو راز؛ خو دوهمي ژبي ته يې د ننوتو لاري بېلي وي؛ مثلاً "mite"کليمه د يــو ډول حشرې پــه مانا د زړې انــګرېزۍ(Old English) له "mite" ټکــي څخــه را ټوکېدلې ده، چي هغه هم په خپل وار سره، له جرمنــۍ ژبي څخه اخيستـل سوی دئ. د «کوچنۍ پيسې»يا «کوچني حيوان»مانا يې هم جرمنــۍ رېښــه لري؛ خو منځنۍ انګــرېزۍ ته د کښته منځنۍ جرمنۍاو بيا منځنۍ هالنډۍ د "mite"له لاري ننوتی دئ.

په ځينو حالاتو کي حتا هغه ټکي هــم د مشابه ټکو په توګه ګڼل سوي دي، چي د رېښو په منځ کي يې اړېکی فرضي ښه هم ولري؛ لکه د څړولو (graze)ټکی چــي په( ا.ل.ق.۹ ) کي دوه سر ټکي لري. لــومړی يې د څارويو له خوا د وښو په څړولو اړه لري، چي رېښه يې د "grasian" ټکي ته رسيږي. دوهــم يې پوستکي/ پوټکــي ته وايي، چي ښايي رېښه يــې د زړې انګرېزۍ د"graze"ټکي يو ځانګړی استعمال وي. په داسي حالاتو کي دا خبره روښانه نه ده، چي ولي دغه راز دوه ټکي د يوې کليمې دوې بېلي ماناوي يا په بلـــه ويـــنا دوهمـــه مانا د لومړۍ مانا امتداد او پراختيا نه بلل کيږي؟

د قاموسو اوسنيو استعمالوونکو ته رېښه پېژندنه د مشابه ټکو د تشخيص او بېلولو يو طبيعي معيار يا اساس نه دئ؛ خو قاموس ليکوونکي ته د لغتــو د ناباوري ښو او مانـــاوو د فرضـــي او تصوري توپيرو په پرتله ډېر باوري او مشخص اساس دئ. هماغسي چي مخکــي هــم يــادونه وسوه، د مشابه ټکو د توپير کولو دپاره يو بل اساس او تاداو د کــلام د اجزاوو له مـــخي د کليمو بېـــلول دي، چي د هغو پر بنسټ په مختــــلفو ډلــو يا کټګوريو پوري تړلي لغتونه، په خپله د بېلو قاموسي سرټکو اړتيا په ګوته کوي. د همــــدي معيار له مخي د لانګمــــن په انګرېزي قاموس (LDEL 1991) کي د"skin"کليمې د اسم او فعـــل دپاره دوه بېل سرټکي ثبت سوي دي.

په دې اړه بله مهمه مسأله دا ده، چي قاموس ليکوونکی بايد د هغو ټکو لفظي او مـــانوي ښنني ته هم پوره پام وکي، چي د يوې ژبي تر پولو دباندي په بېلابېلو ژبو کي د اواز يا املا د ورته والي په سبب د ګډوډۍ او التباس موجبات برابروي؛ مثلاً «دود» په پارسي او پښتو کي د لوګي په مانا کاريږي؛ خو په هندي او اردو کي يې د «دودھ»په بڼــه د شيدو په مـــانـــا استعمالوي يا د بيپيټ(buffet) انګرېزي ټکـــی، چـــي د وهــلو يا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټکولو په مـانا دئ؛ خو املا يــې د بوپې(buffet)له هغه فرانسوي کليمې سره يو راز ده، چې ځانته د خوړو اخيستو پـه مانا کاريږي. له دې دوو مثالو څخـه مالوميږي، چې د مشابهاتو بېلابېل ډولـونه (هوموفونونه او هموګرافونه) نه يوازې د يوې ژبې په محدوده؛ بلکې کله کله د دوو يا څو ژبو تر منځ هم لويـې املايي يا مانوي ګډوډۍ پېښوي. ځينو فرهنګ ليکوونکو، له هغې ډلې څخه د انګــريزي ژبې د چېمـــبرز قـاموس مؤلفانو، د دغه راز التباسو او مغالطو د ايسته کولو دپاره، خونده ور او په زړه پوري توضيحات وړاندي کــړي دي(و.ګ.: Chambers 21st Century Dictionary)

په اوسنيو قاموسو کي زياتره هڅه کيږي، چې د لغتو تاريخي ريښو او مانـوي تطور تـه پــه پام نه کولو سره، ټول مشابه (homonymous) ټکي د بېلو يا جلا ټکو څېر وکښل سي. البته دا کار لوستونکو ته د کليمو د پام وړ ماناوو په موندنه کي ډېر ګټور او مرستنـدوی دئ؛ خــو د لغتو د اتيمولوژۍ او شکلي - مانوي بدلونو له پلوه ځينو ګډوډييو او سرخوږييو ته لمن وهي.

د مانوي بدلون پر دې بولګو او مثالو سربېره، چې د عربي او پښتو تر منځ د کليمو د مانوي بدلون ځيني اړخونه بيانوي، په پښتو کي هم د کليمو، ترکيبو او اصطلاحاتو د مانوي تحول خورا ډېر مثالونه لرو. دلته د يوه مثال يادونه بې ګټي نه ګڼو. د افغانستان د علومو اکاډيمۍ په« پښتو - پښتو تشريحي قاموس»کي د «تور»دغو دوو مشابه ټکو ته ځای ورکړل سوی دئ:

[1]تهمت(تومت)، افترا، الزام.[2]متهم، مجرم، هغه څوک چي د کوم جرم مرتکب شي.[3]قصور، ګناه.[4]ترهه، د زړه وسواس.[5]د مرغانو نيولو يو ډول جال(امرخېل اونور،۱ټ: ۷۴۴).

د«تور»د بېلابېلو ماناوو په لړ کي دريمه مانا ياني قصور او ګناه بېله مانا نه ده. قصور او ګونا په مانا کي له تهمت، الزام، افترأ او اتهام سره هيڅ توپير نه لري. دا ټولي کليمې په خپلو منځو کي مترادفي دي. ځيني خلګ د يوه تورن يا متهم کس په باره کي وايي:«د پلاني تور څه ؤ؟» ځيني وايي:« قصور يا ګونا يې څه وه؟» د قاموس د دې برخي ليکوال بايد تر هر څه مخکي له حقوقي پلوه د « متهم»او«مجرم»د دوو بېلو اصطلاحاتو ترمنځ جدي توپير ته پام کړی وای؛ ځکه په حقوقو کي«متهم»هغه څوک دئ، چي د يوه جرم يا ګونا په کولو تورن وي؛ مګر تور يا اتهام يې تر اوسه د يوې قانوني محکمې له خوا نه وي زباد سوی؛ په دا سي حال کي چي«مجرم» هغه څوک دئ، چي لګېدلئ تور يې د يوې واکمني قانوني محکمې له خوا ثابت سوی وي. له دې کبله«متهم» او «مجرم»له حقــوقــي لحاظه يو راز خلګ نه دي. که څوک په تېروتني سره د «متهم» او«مجرم»د حقوقي اصطلاحاتو ترمنځ توپير و نه کړي، ښايي خلګ پر دې تېروتني سترګي پټي کړي؛ ځکه قاموس ليکوونکی حقوقپوه نه دئ، چي د حقــوقو او نورو علــومو د ټــولو اصطلاحاتو په باريکو توپيرونو پوه سي(که څه هم بايد تر وسه وسه کوښښ وکي، چي د دغه راز ټکو په مانا او بيان کي تل له اړونده نافذو قوانينو يا نورو منصوصو حقوقي تعريفونو څخه استفاده وکي، نه دا چي هغو ته د ځينو لغت جوړونکو په څېر، له ځانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعریفونه وټاکي ) ؛ مګر د «تور» په بېلا بېلو ماناوو کې له تومت (تهمت ) او الزام سره د جال یا دام د ماناوو یو ځای کول په ښکـاره دا ښیي ، چې «د پښتو - پښتو تشریحي قاموس» د دې برخې لیکوال د قاموس لیکنې مهم اصل ته هم پام نه دئ کړی. دا دوې بېلې ماناوې باید د «تور» په دوو بېلو قاموسي سرټکو کې بیان سوې وای. په بل عبارت ، د مرغانو د جال په مانا د «تور» ټکی باید د یوې بېلې قاموسي کلیمې په توګه ثبت سوی وای.

د تراه/ترهه ، وسواس یا اندېښنې په مانا د «تور» کاروَنه ډېره نادره برېښي ، چې قاموس لیکوونکي باید دا نابابه او نادره مانا د پښتو ادب د یوه مشهور او باوري ماخذ په ښوولو سره مستنده کړې وای. که د «تور» ټولو ماناوو ته په ځیر سره پام وسي ، له ورایه مالومېږي چې د ټولو ماناوو په منځ کې نیژدې او منطقي اړیکی سته ؛ او ګرده ماناوې په واقعیت کې له یوې ریښې او یوې مادې څخه راوتلې دي ، چې هغه د تور (د سپین ضد ) ټکی دئ. همدې کلیمې د خلګو له مانوي انګېرنو سره سم ، د زمانې په تېرېدو سره ، بېلا بېلې ماناوې موندلې دي. ځینو ماناوو تر اوږده نسبي استقلال وروسته ، په پای کې د جلا کلیمو په بڼه سر پورته کړی دئ ؛ لکه د جال یا دام په مانا د «تور» ټکي کاروَنه ، چې له تومت (تهمت ) ، افترأ ، متهم او مجرم څخه کاملاً بېله ښکاري.

د تور رنګ او تومت ترمنځ اړیکی له ورایه څرګند دئ ؛ ځکه تومت یوازې هغه مهال منځ ته راځي ، چې د چا پر سپینه لمن توره لکهٔ یا داغ پیدا سي. په بله ژبه ، د انسان ښک شهرت یا نامه ته زیان ورسیږي. د دې استدلال له مخې به ښه دا وي ، چې «تور» د پښتو ژبې په قاموسو کې د دوو مشابه ټکو په بڼه وکښل سي. په لومړي کې يې پر اصلي او حقیقي مانا (تور رنګ ) سربېره ګرده مجازي یا اصطلاحي ماناوې ؛ لکه تومت ، افترأ ، الزام ، اتهام ، متهم ، تورن او داسې نورې را غونډې سي ؛ او په دوهم کې د جال یا دام په مفهوم د یوې بېلې کلیمې په بڼه وړاندې سي. که چیرې ایتېمولوژیکې څېړنې دا حقیقت په ډاګه کړي ، چې د «تور» دا مانا هم له هماغه اصلي او پخوانۍ ریښې (تور رنګ ) څخه را ټوکېدلې ده ، بیا هم دا مانا تر ډېره حده بېله او علیحده برېښي. د بېلوالي او استقلال دلیل يې هم دا دئ ، چې له اصلي او پخوانۍ مانا څخه د لیرې والي په سبب د زمانې په تېرېدو سره نور له خپل بایولاجیکي / بیولوژیکي مور او پلار سره په یوه جامه کې ښه نه ایسي.

څرنګه چې لیدل کیږي ذو معانین یا پالیسمیس ټکي د اوږده لغوي او مانوي ( معنوي ) تطور په بهیر کې کله کله خپله څېره په هومنیمو یا مشابه ټکو هم اړوي. په دې مانا چې د یوې کلیمې یوه یا څو ماناوې د نسبي خپلواکۍ تر موندلو وروسته ، په پای کې د یوې بېلې کلیمې په توګه سر را پورته کوي ؛ لکه کوټه (ډېر ، زیات ، سوا ، په پېخر ) چې په حقیقت کې له کوټه (خرهَ ، خرمن ، دلۍ ، د خاورو ، امبارو یا نورو ورته شیانو لویه کوټنۍ ) سره یوه ریښه لري ؛ خو اوس ګورو چې خلګ يې د هر شي د ډېروالي او زیاتوالي په مانا استعمالوي ؛ مثلاً یوه نجلۍ خپلې همزولې ته وایي: «زه کوټه کالي لرم.» یا «ورور مې کوټه چاکلېټ راکړه.» دلته «کوټه» د ډېروالي او زیادښت په مانا ده ، که څه هم له خرمن ، خرې ، امبار / انبار ، ډېران ، کوټنۍ او داسې نورو سره نېغ په نېغ ارتباط لري. له دې کبله باید په پښتو قاموسو کې د یوه بېل سرټکي په توګه ثبت او تشریح سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوروپایي ژبو په ګډون د نړۍ په زیاترو ژبو کې د واقعي مشابه او ذومعانین ټکو د پولو ښېلوالی اسانه کار نه دئ. کله کله واقعي مشابه لغت د پالیسمیس یا ذومعانین په بڼه او کله کله هم د هومنیمو یا مشابه ټکو په ډول سرښکاره کوي. پروفیسر جکسن او پروفیسر امویله هم د ځینو وتلو ژبپوهانو او لغتپوهانو د نظریو په استناد کاږي، چې د پالیسیمي او هامنیمي ترمنځ د بېلولو روښانه کرښه نشته. په دې لاره کې لوی مشکل د دې خبرې اِبهام او تاریکي ده، چې د کلیمو ماناوې باید څونه ښېلوالی او جلاوالی ولري، ترڅو په قاموسو کې د بېلو ټکو په توګه وپېژندل سي؟ (Jackson and Amvela 22)

د «عملي قاموس لیکنې دپاره د آکسفورډ لارښود» مؤلفانو - سو آټکینز او مایکل رنډېل د پالیسیمي د بېلابېلو ډولونه په ډله کې، ددغو نومونو یادونه هم کړې ده:

Regular Polysemy, Semantic Polysemy, Semantic Transfer, Regular Meaning Shift, Semi-Productive Polysemy and Lexical Implication rules.

په انګرېزي کې د پالیسیمي دوه مثاله:

Put the *can* in the recycling bin.[دلته "*can*" د لوښي په مانا کارسوی دئ]

Did he eat the whole *can* ? [دلته "*can*" د محتویاتو په مانا دئ]

He dropped the *glass* and broke it. [دلته"*glass*" د لوښي مانا لري]

She drank six *glasses* that evening. [دلته"*glass*" دهغه دمحتویاتو مانا لري]

(Atkins and Rundell 139)

په ځینو قاموسو کې یې هموګرافو ته پرله پسې نومرې یا شمېرې ورکړې وي؛ او هغه په روښانه ډول ښیي، چې په راتلونکو لیکو کې د پام وړ ټکي ځیني نوري مانوې هم بیان سوي دي.

## هیپونیمونه(Hyponyms)او هایپنیمونه(Hypernyms)

لکه څنګه چې پوهېږو په طبیعت کې د ډېرو اسمو ، زیاترو فعلو او ځینو صفتو ترمنځ په یوه ځانګړې ډله یا کټګورۍ پورې د تړښت له پلوه خاص اړیکی لیدل کیږي. د شیانو او پدیدو ترمنځ دې ډول صنفي او ګروهي اړیکو ته د ژبپوهني په اصطلاح هایپانمي(hyponymy)او د دغه راز اړیکو لویو او کوچنیو یا اصلي او فرعي ډلو ته هیپونیمونه(hyponyms) او هایپنیمونه(hypernyms) یا سپراورډینېټونه (superordinates)وایي.

په هیپونیمو کې یو ټکی د بل داسي ټکي پر ځای کاریږي، چې مانا یې تر هغه محدوده او په هغه کې مشموله وي؛ لکه غاټول، نسترن یا ریدی چې د ګل هیپونیمونه دي یا مېز او چوکۍ چې د فرنېچر هیپونیمونه دي؛ ځکه ګل په واقعیت کې داسي پراخ او عام مفهوم دئ، چې غاټول، نسترن، ریدی او داسي نورو ګلان ټول په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کنبي شامل دي. په فرنېچر کي هم مېز، چوکۍ او داسي نور شيان ګړده داخل او شامل دي. بالعکس د غاړول، نسترن، ريدي او داسي نورو محدوده مانا په يوازيتوب سره د ګُل عام او اَرت مفهوم نه احتوا کوي. په دې ډول هيپونيم د کوچني او محدود مفهوم له پاره د عام ټکي استعمال دئ. په هايپنيمو يا سپراورډينېټو کي د هيپونيمو پر خلاف، يو ټکی د بل داسي ټکي پر ځای استعماليږي، چي تر هغه پراخه او عامه مانا ولري؛ لکه حيوان کليمه چي د سپي، زمري، پړانګ، پيشي او داسي نورو هايپنيم يا سپراورډينېټ دئ يا په انګرېزي کي د "vehicle"کليمه د "automobile", "train","chariot", "airplane" او "dogsled"هايپنيم يا سپراورډينېټ دئ. د همدې تعريف له مخي ،هايپنيم يا سپراورډينېټ د هيپونيم پر ضد د کوچني، محدود او مشمول مفهوم له پاره د عام ټکي يا عام مفهوم کارول دي. (دې مسألې ته وروسته له يوه بله اړخه هم لنډه کتنه کوو.)

قاموس ليکوونکو ته د هيپونيمو او هايپنيمو د پوهېدو ارزښت په دې کي دئ، چي د بېلابېلو شيانو (حيواناتو، نباتاتو، صنعتي او تجارتي پيداورو) او رازراز طبيعي- اجتماعي موجوداتو او پېښو په تعريف کي بايد د بېلابېلو ډلو او کټګوريبو تر منځ حساس صنفي او ګروهي اړيکی په غوَر او دقت سره بيان سي( دا کار که څه هم په ويلو کي اسان برېښي؛ خو په عمل، په تېره بيا د صفتو او قيدو په حالت کي کله کله ډېر ګران او ستونزمن کار دئ) که نه نو د هغو تر منځ مشترکي پولي ګډوډيږي؛ او په تېروتني سره د يوه شي نوم بل شي ته ورکول کيږي.

## کوهيپونيمونه(Co-hyponyms)

په قاموس ليکنه کي دا خبره ډېره مهمه ده، چي د کوهيپونيمو او سيننيمو(مترادفو ټکو) تر منځ روښانه توپير وسي. په پخوانيو فرهنګو کي بې د صفتو تعريف د کوهايپنيمو په وسيله کاوه؛ خو اوسني فرهنګونه زياتره کوښښ کوي، چي دا نيمګړتياوي ليري کړي. سره له دې هم په دې کار کي لوی مشکل دا دئ، چي په ټولو حالاتو کي د يوې ډلي يا ټولګۍ تعبير(genus expression) موندنه ګران کار دئ؛ ځکه په صفتو کي د هيپونيمو د مراتبو لړۍ په ندرت سره موندل کيږي. په نتيجه کي وينو، چي د هر شي او هري پېښي په اړه د اړتيا وړ هيپونيمونو(سپراورډينېټونو) تر لاسه کول ناممکن حالت ته رسيږي؛ لکه په دغه مثال کي:

strange: [1]unusual, peculiar, surprising, eccentric, novel, unfamiliar, alien, foreign, unaccustomed(Atkins and Rundell 135).

مخکنی مثال ښيي، چي کوهيپونيمونه د صفتو په بڼه راوړل سوي دي.

## هايپانمي او ميرنمي(Hyponymy and Meronymy)

هايپانمي او ميرنمي د حسي اړيکو هغه جوړې دي، چي د مراتبو د لړۍ(hierarchy) پر بنسټ سره يو ځای سوي وي. په ژبه کي ځيني ټکي عامي ماناوي لري؛ حال دا چي ځيني نور هماغه شي ته په اشاره کولو سره تر ډېره حده، مشخصي ماناوي افاده کوي؛ د مثال په توګه «ونه/درخته» او «ناجو» دواړه کېدای سي د عين

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي د یادوني دپاره استعمال سي؛ خو «ناجو» د «وني/درختي»په پرتله د پام وړ مفهوم، ډېره ښه او مشخصه پېژندګلوي کوي. په حقیقت کي«ونه/درخته»د هغو شیانو دپاره استعمالېدای سي، چي«ناجو»نه وي؛ مګر د وني توب اساسي ځانګړتیاوي لکه لوی بوټی، تنه، ښاخونه، ونه او ناجو پاڼي او داسي نور، له ځانه سره وساتي.(Jackson and Amvela 117-118)

دواړه د عمومیت او مشخص والي د هایراکۍ(سلسله مراتبو )د اړیکو په مرسته سره تړلي دي. په دغه راز ګډو روابطو کي د نوعیت یا ډول اړیکی بیانیږي؛ ځکه د وني ډول یا نوعیت یو دئ. دې ارتباط ته لکه څنګه چي مخکي هم یادونه وسوه، په ژبپوهنه کي هایپانمي(hyponymy) وایي. د دې پرخلاف په میرنمي (meronymy) کي د دوو ټکو تر منځ اړیکی د «برخي ارتباط» دئ؛ مثلاً د پښي او ګوتي درد په حقیقت کي یوې پښي ته اشاره ده؛ خو د ګوتي درد د هغه د ځای یا موقعیت پېژندني ډېره مشخصه او دقیقه لاره ده. ګوته په واقعیت کي د پښې یوه برخه ده.

په قاموس لیکنه کي ډېر ځله د بېلابېلو ټکو تر منځ د هایپانمي او میرنمي اړیکی لیدل کیږي. البته د شیانو، اشخاصو او بېلابېلو موجوداتو تر منځ د ډول یا نوعیت اړیکی(هایپانمي)د برخو تر اړیکي(میرنمي) زیات لیدل کیږي. هایپانمي اړیکی د طبیعي موجوداتو او پېښو په تصنیف یا خپل خپل کولو پوري نه محدودیږي؛ مثلاً د بېلابېلو خپلونو او کټګوریيو دغه ډول مثالونه د انسانانو په لاسي مصنوعاتو کي هم موندل کیږي. دلته د مسألې د لا زیاتي شنني او اسانه پوهېدو دپاره د انګرېزي ژبي یو مثال وړاندي کوو، چي موږ ټول د ژوندانه په ورځنیو چارو کي په بېلابېلو بڼو ور سره مخامخ یو. لوښی یا ظرف په مجموعی ډول پر څو ډوله دئ:

الف) غوټه یا بوخڅه/ بوخچه(bag)

ب) دبلی یا قوطۍ(tin)

ج) بکس یا صندوق/ صندوخ(box)

د) بېرل/ بېلر(barrel)

هـ) دېګ یا کټو(pot)

غوټه یا بوخچه په خپل وار سره، پر درو ډولو وېشل کیږي:

الف) کڅوړه یا خلطه/ خریطه(sack)

ب) ګوډانه، کوچنۍ کڅوړه یا بېلېدونکی جېب(detachable pocket)

ج) د پیسو ایښوولو یا پیسو ساتلو ډېر کوچنی جېب، امیاني، بټوه، پټاکیدانه(purse)

بکس هم په پر دوه ډوله دئ:

الف) کرېټ(crate)

ب) بسته(case)

بسته هم په خپل وار سره، پر دوه ډوله ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف) د کتابو یا اسنادو د خوندي کولو او وړلو راوړلو بسته(briefcase)
ب) د کالو ساتني یا وړلو راوړلو بسته(suitcase)
بېرل/ بېلر هم په خپل روڼ، پر دوه ډوله دئ:
الف) کوچنی بېرل(keg)
ب) د الکولي مشروباتو د تخمُرکولو لوښی(cask)

د بېلابېلو شیانو د مختلفو ډولونو او بېلابېلو برخو د سمي پېژندنې دپاره قاموس لیکوونکو ته ښایي، چي د هایپانمي او میرنمي په مسألو سر خلاص کړي. هر شی تر هغه مهاله په کره او دقیقه بڼه نه پېژندل کېږي، چي له نورو همډوله، همجنسه او همشکله شیانو څخــه جلا نسي. همدغه راز، د شیانو د بېلابېلو برخو د پام وړ موقعیت د دقیقي پېژندنې دپاره هم باید د انساني اناټومۍ په څېر، د هغو سم او کره نومونه په ګوته سي. که په مخکنیو مثالونو کي، قاموس لیکوونکی، د یوه شي یو ډول د بل ډول پر ځای وښیي یا د هغو دوه یا څو ډولونه پــه خپلو منځو کي سره ګډوډ کړي، بېله شکه به لوستونکــي د هغو په پوهېدو کــي، له لــوی سرخوږي او جدي ټېروتني سره مخامخ کړي.

میرنمي له کُل سره د اجزاوو یا له اصل سره د فروعــــاتو او برعکــس اړیــکی منعکسوي؛ مثلاً د بایسکل یا مــوټرسایکل د څرخ په اجــزاوو(برخو)کي د هغــه سیمان(spokes)شامــل دي.دغه رنـــګه، د کـــلیسا پـــه فرعي اجزاوو یا برخو کي مرکزي تالار(nave)؛ د ماجت/ مسجد په برخو کي حجره، محراب، منبر او نوري برخي؛ د ودانۍ په برخو کي خوني، دهلېز، پخلنځی، تشناب، غولی او نوري برخي؛ د کتاب په برخو کي د هغه مخــونه، پوښ او نوري برخي؛ د لاسو او پښو په برخو کي ګــوتي، نوکان او داسي نور شامل دي. یا په سرچپه بڼه د یوه څرخ سیمــان او نــوري برخــي؛ د یوه ماجت محراب، حجــره، مــنبر او نوري برخي؛ د یوه کتاب مخونه، پوښ او نــوري برخي؛ د یوې ودانۍ خوني، دهلېز، پخلنځی، تشناب، غولی او نوري برخي؛ د یوې کلیسا مرکزي تالار(nave)او نوري برخي؛ د لاسو او پښو نوکان، ګــوتي او نوري برخــي په وار سره د څرخ، مــاجــت، کتاب، ودانــۍ، کلیسا او لاسو او پښــو کُل جوړوي.(Atkins and Rundell 135.)

## شبه میرنمي(Quasi-meronymy)

شبه میرنمي له یوې ډلي، یوې ټولۍ، خلګو یا یو غونډ شیانو سره د هغو د غړو اړیکی منعکسوي. دا ډول اړیکی په حقیقت کي له کُل سره د اجزاوو کمزوری ارتباط ښیي؛ لکه قومي اړیکی؛ مثلاً د یو چا په اړه ویل کېږي: هغه څوک چي په پلاني قام یا قبیلې پوري تړلئ دئ.

د هایپانمي او میرنمي له هر اړخیزي شنني څخه دې نتیجې ته رسیــږو، چي د راغونډو سوو کلیمو، عبارتو، ترکیبو او اصطـلاحاتو په لا دقیق تصنیف او چاڼ کي د قاموس لیکوونکو کوښښ، د پام وړ ماناوو په پېژندنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او چټکه موندنه کي، له لوستونکو سره ډېره مرسته کوي.

## کولوکېشن(Collocation)

په خبرو اترو او ادبي اثارو کي کله کله دوه ټکي د يو بل تر څنګ يا يو بــل ته نيـږدې راوړل کيږي. د دې دوو ټکو تر منځ داسـي مانوي(معنـوي) اړيکې موجود وي، چي پــه حقيــقت کي يو ټکى د بل د مانا له پوهېدو سره مرسته کوي؛ مثلاً چيري چي چاى جوشه (kettle) استعمال سي، له هـغه سـره جــوخت د ايشېــدل (boil) د کاروَني احتمال هــم تـر سترګو کيږي. دا دوې کليـمې ښايي له نحـوي پــلوه بېلابېلي بڼې ولري؛ لکه په دغو مثالو کي:

subject+ verb = (kettle+boil)
verb + object = (boil+kettle)
adjective + noun = (red+wine). (Jackson and Amvela 131)

په پښتو کي هم د داسي ټکو شمېر لږ نه دئ، چــي په خــبرو او ليکنو کــي زياتره د جوړو (pairs)په بڼه کاريږي؛ مثلاً(شين+ اسمان يا اسمان + شين)، (کور+ودان)، (اور+ سوځېدل)، (شين + پتې)، (ســرې + شونډې)، (ســور+ ســالو)، (زريني+وړانګي) او داسي نور يــا په پارسي کــي(هوا + تند)، (دريا+ خروشان)، (آب/هوا+ سرد)، (حمام + ګرم) او داسي نور. د دغه رازصفتو او اسمو ترېنت او يو ځايوالى په حقيقت کي د کولوکېشن اړيکى بيانوي. البته په ګرامر کي هم د ځينو ټکو د يو ځاى ظهور پراخ مثالونه لرو؛ لکه په دغو انګريزي مثالو کي چي هيڅکله يو له بله نسي بېلېداى:

refer *to*, fond *of*, fear *of*, rely *on*, etc.

هغه څه چي په قاموس ليــکنه کي د غــوَر او تعمق وړ دئ، د ځينو ټکو تر منځ د خاصو سيمانټيـکي اړيـکو تشخيص او پېژندنه ده. د کليمو په سيمانټيکي جوړښت کي د بدلون او اوښتون ځينــي نور مثالونه او ډولونــه هــم سته، چي قاموس ليکوونکي بايد د لغوي زېرمو په راغونډولو او تشريح کولو کي، د هغو بېلابېلو اړخو ته دقيق او هر اړخيز پام وکي.

کله کله داسي هم پېښيږي، چي په يوه جومله کي د يوه ټکي د متضادې يا معکوسي مانا په نفي کولو سره يوه خبره يا پرېکړه مثبته ښه اخلي؛ مــثلاً« غورمه/ قورمه ترخه نه ده»، «کوچنيان بد نه دي»، «هوا لا تر اوسه نه ده توده سوې» او داسي نور. په لومـړۍ جومله کي له ورايه ګورو ، چي د «ترخه نه ده» عبارت په حقيقت کي د غورمې/ قورمې خوږوالــي ته اشاره ده؛ په دوهمه جومله کي د کوچنيانو ښه والي او روغتيا ته ګوته نيول سوې ده؛ او په دريمه جومله کي هم د لومړيو دوو په شان د هوا د سړښت بيان راغلئ دئ. دې حــالت ته په ژبپوهــنه کي لايټټيز(litotes) وايي، چي په حقيــقت کي د يوه عمل د اغېزمنيا او ارزښت د لړلو له پاره استعمالیږي ؛ او پېژندنه يې په قاموس ليکنه کي هم له ضروري موضوعاتو څخه ګڼل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هره ژبه کې د فصاحت او بلاغت د ځرګندولو په خاطر داسې لاري چاري استعمالیږي، چې هر یوه یې په خپله خاصه بڼه او ځانګړې ډول د کلیمو او ترکیبو پر مانوي اړیکې لــویه اغېــزه ښندي. دغــه راز صنایعو، نخښو او نوښتګرۍ ته چې شمېر یې خورا زیــات دئ، په انګرېزي کې د رېتوریــک ډیوایسیز(rhetoric devices) اصطلاح کاروي، چې د قاموس لیکــوونکي د کار یوه برخه ده. د قاموسو مؤلفان بایــد نه یــوازي دغــه راز ټکي، عبارتونه او ترکیبونه په پوره غور سره را غونډ، بلــکې د فرهنــګونو په مــتن کي یې هم سم او کـــره استعمال ته دقیق پام وکي.

## د کلیمو د مانوي بدلون ځیني نور ډولونه: میټونمي/ میټانمي، سینیکډک/ سینَکډیکي...

په ژبپوهنه کي داسې حالات او موارد، چي په هــغو کــي یو شی د بــل اړونــده شي په وسیله و نومــول سي، د میټونمي یا میټانمي(metonymy)په نامه یادوي؛ او یــو د بــل پــر ځای کارېــدونکو ټکــو ته میټنیمونه (metonyms)وایي؛لکه تاج (crown) کلیمه، چي د پاچا یا ملکې او توره (sowrd) چــي د پوځي ځواک پر ځای کارېږي. په ژبه کــي د داسې ټــکو سمــه پېژندنه او پر ځای کاروَنه هم د قاموس لیکني د علمي مېتودولوژۍ نه بېلېدونکــې برخه ده. سربېره پردې، د بېلابېلو کلیمو د ماناوو او استنباطاتو په اوښتو کي بل راز مانوي بدلونه هــم پېښیږي، چي په هغو کي کله کله برخه یا جزء د کُل یا ټول پر ځای(لکه کُل د پسرلي دپاره) یا بالعکس ټول یا کُل د جُزء یا برخي پرځای(لکه قانون د پولیس د منصبدار دپاره)، خاص د عام پر ځای(لکــه د ستــوني پرېکول د وژلو دپاره) یا بالعکس عام د خاص پر ځای(لکه غــل د جیب وهوونکي دپاره) یا د شیانو ترکیبي اجزاوي د هغو د بشپړ او واحد جوړښت پر ځای(لکه پولاد د توري یا ستېرینګ د موټر دپاره)کـــارېږي. داسي حالاتــو ته د ژبپوهــني په اصــطــلاح سینیکډک/ سینَکډیکي (synecdoche)وایي ،چي له میټونمي سره نیژدې او ټینګ اړیکی لري؛ او پېژندنه یې قــاموس لیکوونکي ته نه یـــوازي په زړه پوري؛ بلکي ضروري ده.

## د متضـــادو ټکو یو ځای والـی(Combination of Antonyms)

متضاد ټکي د استعمال د موقعیت له پلوه زیاتره په یوه جومله یا څو نیژدې جوملو کي لیدل کیږي؛ مثلاً «د ***ژوند*** او ***مرګ*** مسأله»، «له ***سره*** تر ***پایه***»، «***اوږد*** او ***لنډ***»، «***دوست*** او ***دوښمن***»، «***ژوندی*** یا ***مړ***»یا په پاړسي کي«از ***صبح/بام*** تا ***شام***»، «***تاریکی*** و ***روشنی***»، «***زن*** و ***مرد***»، «***پیر*** و ***جوان***» او داسي نور.

په ژبو کي ځیني ټکي او ترکیبونه له آره تــل په متضاده بڼه کاریږي؛ او مقصــد یې تر ډېره حده پر یوه خاصه مسأله ټینــګار کول وي؛ مثلاً خلګ وایي:«پلاني دا تبصره په ***پټه*** وکړه ***نه په عامه***»یا«پلانــی دا مرسته ***یوازي زما سره*** کوي، ***نه له هرچا سره***» او په پای کي دا ځانګړتیا ، چي متضاد ټکي زیاتره د یوه ټاکلي حالت بدلېدو ته د اشاري په بڼه کارېږي؛ د مثــال په توګه ویــل کیـږي: «مــوږ یم پر لسو بجو پرانیستل کـیـږي؛او پـــر څلــورو بجــو تــړل کـیـږي.»(Jackson and Amvela114)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو، پارسي او نورو ژبو کي هم ځيني کليمې په خپــل ذات کي متضــادي او متناقضې ماناوي افاده کوي؛ مثلاً په پښتو او دري کي «چالاک» له يــوې خوا چــټک، چُست، چــابک، کوښښي، تکړه او داسي نورو ته وايي؛ او له بلې خوا همدا کليمه د مُزور، رند يا هغــه چا په مفهوم کاريږي، چي په پوهه، مهارت، هونرمندۍ او ناروا لارو چارو سره، په هر ډول شرايطو او حالاتو کي د ځان په گټه کار کوي. د پارسي په پخوانيو متنو کي «زبان دراز» ترکيب د نارينه وو دپاره د فصيح، بليغ، مستدل او داسي نورو په مفهوم کار سوی دئ؛ خو اوس گورو، چي همدا ترکيب د نارينه وو، او ښځودوارو، په تېره بيا ښځو دپاره د بې شرم، بــې حيا، سپين ســترگي، رډ، گستاخ، سليطه او داســي نورو په مفهوم کاريــــږي. داسـي مالوميږي، چي د «زبان دراز» پخوانی مفهوم اوس تقريباً په ټولو حــالاتو کي د نوي مفهوم تر اغېزې لاندي راغلئ دئ؛ او دا پخپله د عين کليمې يا ترکيب د متضادو اړخونو يو مثال بيانوي. په انگرېزي کي هم د دغه ټکو او ترکيبو شمېر لږ نه دئ؛ د مثال په توگه د "wicked" کليمه اصلاً د ناوړه، بد، زشت، مــضر، شيطان، ازار رسوونکي او داسي نورو په مفهوم ده؛ خو په عــاميانه خــبرو او مرکو کـــي د عالي، غوره، غښتلي، پياوړي، کارپوه، عالمانه او داسي نــورو په مفهوم استعماليږي. دغه راز په انگرېزي کـــي "howling" کليمه هم د سپي يــا لېوه د درد او عذاب د اوږدې چغې په مــانا استعماليږي؛ او هم د کټ کټ خندېدو په مفــهوم، چي دا دواړي ماناوي هم په خپلو منځو کي د مانوي تضــاد مسأله په گوته کوي. د هندي او اوردو ژبو «کل» کليــمه د پرون او سبا دواړو په مانا کاريږي، چي دوه جلا او متضاد مفاهيم دي(و.گ. پلاټ ۸۴۰).

زياتره داسي انگېرل کيږي، چي انتيمي (antonymy) يوازي د هغو ټکو تر منځ ليــدل کــيږي، چي د گرامر له پلوه د کلام په يوه يا عين ډلې پوري اړه ولري؛ خو له دې کـــبله چــي انتيمي په حقيقت کي د دوو يا څو بېلو ټکو تر منځ د مانوي اړيکو بيان دئ، نو ځکه دا امکان هم ليري نه دئ، چي د کلام په بېلابېلو اجزاوو يا جلا جلا کټگوريو پوري د ترلو ډلو تر منځ هم اړيکې څرگند کړي؛ لکه:

*Lighten* our *darkness*, we pray.
She remembered to *shut* the door, but left the window *open*.
(Jackson and Amvela 114)

په مخکنيــو دوو جوملو کي وينو، چي متضاد ټکي د کلام د بېلابېلو اجزاوو تر منځ مانوي اړيکې بيانوي.

## په انگرېزي کي د متضادو ټکو ډولونه

په انگرېزي کي متضاد ټکي عموماً پر درو ډلو وېشي، چي ځيني مثالونه يې په دې ډول دي:

- درجه لرونکي متضاد ټکي (Graded Antonyms)

هغه متضاد ټکي، چي د بېلو ټولگيو يا درجو پر اساس سره جلا کيږي؛ لکه:

beautiful او ugly، hot او cold، cheap او expensive او داسي نور.

داسي متضاد ټکي زياتره په خبرو کي د پرتله کولو دپاره کاريږي؛ لکه:

My arm is *longer*/*shorter* than you.

(c) ketabton.com: The Digital Library

I love a *good book* more than a *meal*.

- متباین یا متمم انتهیمونه(Contradictory or Complement Antonyms)

هغه متباین یا متناقض ټکي، چي د يو بل د متمم په توګه کاريږي؛ لکه:
"asleep" او "awake" ، "alive" او "dead" ، "on" او "off"، "true" او "false" او داسي نــور.
په داسي متضادو ټکو کي د درجې خبره هيڅ ځای نه لري؛ د مثال په تــوګه يــو خوځنده موجود بايد يا ژوندی وي مړ. هيڅوک د پرتلې په بڼه داسي نه وايي، چي پلانــی تر پلاني مړ يا ژوندی دئ. په دغه راز متضادو ټکو کي د مقايسې يا پرتلې امکان نه ځايیږي. دغه رنګه د بربڼنا سويچ هم يا بايد روښانه وي يا مړ.

- سرچپه يا اړولي انتهيمونه(Converse Antonyms)

په دغه راز متضادو ټکو کي، ديوه ټکي استعمال سمدلاسه د بل متضاد ټکي مانا بيانوي؛لکه:
below او above ، after او before، sell او buy او داسي نور. په دغو دوو جوملو کــي د دې ډول متضادو ټکو دوه اړخيز اړيکی ښه مالوميږي:

Lydin *bought* the car from Kristen.
Kristen *sold* the car to Lydin. (Jackson and Amvela 116)

ځينو نورو مؤلفانو د انتهمي ډولونه په دې ډول هم نومولي دي:

الف) متممه يا مکمله انتهمي(Complementary Antonymy)

متممه يا مکمله انتهمي د دوو متضادو حالتو تر منځ داسي اړيکی بيانوي، چي د تفضيــلـي (مقايسه يي) او عالي صفتو په مرسته نسي تشريح کېدای. په داسي حالاتو کي داســي نه ويل کيږي، چي پلانی لږ ژوندی (slightly alive)يا نسبتاً مړ(rather dead)دئ. له دې امله، په دې برخه کي عمومي فارموله دا ده:

- که ژوندی وي، نو مړ نه دئ.
- که مړ وي، نو ژوندی نه دئ.
- که ړوند وي، نو بينا نه دئ يا نسي ليدلای.
- که په سترګو ويني، نو ړوند نه دئ.
- که لګېدلئ وي، نو خطا سوی نه دئ.
- که خطا سوی وي، نو يې نخښه نه ده ويشتې.(Atkins and Rundell 142)

ب) قطبي انتهمي(Polar Antonymy)

په دې ډول انتهمي کي، متضاد ټکي يو د بل مقابلو قطبونو ته اشاره کوي؛ خو د متضادو ټکو په دې ډول کي، اړيکی تر متممي يا بشپړي انتهمي ډېر پېچلئ دئ؛ او په دې فارموله کــي څرګندیږي:

- که ښه نه وي، نو بد نه دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- که بد نه وي، نو ښه نه دئ.
- که ښوزله وي، نو شتمن نه دئ.
- که تاریک وي، نو روښانه نه دئ.
- که ډېر ښه نه وي، نو لږ بد دئ.
- که ډېر بد نه وي، نو لږ ښه دئ.
- که ډېر روښانه نه وي، نو لږ تاریک دئ.
- که ډېر تاریک نه وي، نو لږ روښانه دئ.
- که ډېر ښوزله نه وي، نو لږ شتمن دئ.
- که ډېر شتمن نه وي، نو لږ ښوزله دئ.

## ج) سمتي يا اړخ لرونکې انټنمي (Directional Antonymy)

په دې انټنمي کې، لکه څنګه چې له نامه یې ښکاري، د متضادو ټکو هغه کوچنۍ ډولونه راځـــي، چې د مختلفو اړخونو استازیتوب کوي؛ لکه شمال چې د جنوب په مقابل لوري کې پروت دئ یا لوړ چې د کښته مخالف دئ یا مخ چې د شا مــخالف لوري ته اشـاره کوي. نارینه او ښځه، مقعر او محدب، لوړ او کښته، پیل او پای، زانګو او ګـور، تړل او پرانیستل، پراخ او تنګ، تودوخه او سړښت او داسې نور هم د اړخ لرونکو متضادو ټکو بېلابېل مثالونه دي. (Atkins and Rundell 143)

## په قاموسو کې د ځینو متلو را غونډول او تشریح کول

د نړۍ په زیاترو ژبو کې، د زمانو په تېرېدو سره د متلو پراخې او ارزښتناکې زېرمې جوړې سوي دي، چې را غونډول یې د هغو ژبو د روزونکو او پالوونکو ستره او مهمه وجیبــــه ګڼله کېږي. لکه څنګه چې ژبه د یوه ژوندي ټولنیز مخلوق په توګه تل د بدلون او تحول په حال کې ده، د نورو ټکو، تعبیرو او ترکیبو په شان یې متلونه هم د پیدا ابینت، ودې او مرګ بېلابېل پړاونه تېروي. یو متل مري او پرځای یې یو یا دوه نور متلونه زېږي. که څه هم نن سبا په زیاترو ژبو کې، د متلو د خوندي کولو او هر اړخیزې شنني د پاره بېلې مجموعې او قاموسونه لیکل سوي دي؛ خو سره له دې هم د ژبې د مفصلو او تشریحي قاموسو په تألیف کې، د ځینو متلو د ثبتولو او سپړلو مسأله د ډېر اهمیت وړ ده.

دا حقیقت اوس هرچا ته څرګند دئ، چې ژبنۍ قاموس د ژبې له ګردو اړخو لکه ګرامر، لیکلي او شفاهي ادب، موسیقۍ، هونر، علمي او مسلکي اصطلاحاتو، فکري او دیني اعتقاداتو او نورو ژبنیو، ادبي او کولتوري ارزښتونو سره نه شلېدونکې اړیکې لري. له همدې سببه باید د تشریحي قاموسو مؤلفان د ژبې اصلي ویوونکو ته د لغوي زېرمې او نورو ادبي - علمي موضوعاتو ترڅنګ د متلو په راټولو او تشریح کولو کې هم بشپړ زیار وباسي. په پارسي، انګرېزي او نورو ژبو کې هم داسې متلونه خورا ډېر دي، چې یادونه یې د ژبو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشریحي او مفصلو فرهنګو کې بې ګټې نه ده. که متلونه په قاموسو کې د هغو تر مرکزي او محوري ټکو لاندې وکښل سي، په موندلو کې به يې ربړ او سرخوږی نه پېښيږي؛ مثلاً د «مینځه» تر ټکي لاندي «خواره دي سي مینځه، چي د مینځې کالي مینځي» او له «ډول» سره دا متل «چي ډول دي سو په ځنګ، د وهلو يې څه ننګ؟!» وکښل سي. البته په اختصاصي قاموسو کې د متلو راغونډول او ثبتول په يوازي سر د مسألې بشپړحل نه دئ. بايد د هغو مفهوم او د استعمال ځای هم په اسانه او روښانه ټکو سره بيان سي.

د هري ژبې په ادبي اثارو کې هم کله کله له متلو څخه استفاده کيږي. په پښتو او پارسي نظم کې د متلو را وړل يو ښېل ادبي صنعت دئ، چي «ارسال المثل» يې بولي؛ لکه عبدالعظيم رانيزي، چي "د ګور شپه نه په کور کيږي" متل په يوه بيت کې دا سې راوړی دئ:

«د ګور شپه چېري د چا نه په کور کيږي»

غم د چا په خوشـــحالۍ کلــه بدليږي

(ښنوا، ارسال المثل)

کله کله د يوه بيت په هره ميسره کې ښېل ښېل متل راوړل سوی وي، چي په ادبي صنعت کې يې «ارسال المثلين» بولي؛ لکه د خوشحال خان خټک (۱۰۲۲-۱۱۰۰هـ ق) په دې بيت کې:

«وايي چي له ځـانه په اولاد وي پېرزوينه»

«خدای په کارواني په اصلي والـــي اوبه»

(ښنوا، ارسال المثلين)

که څه هم نن سبا، د ژبې متلونه زياتره د ځانګړو قاموسو په بڼه چاپيږي؛ خو سره له هغه هم د ژبو په مفصلو او مشرحو قاموسو کې، د متلونو را غونډول له ډېرو ګټورو او ارزښتناکو کارو څخه دئ.

## په قاموسو کې د ژبنيو اصطلاحاتو، محاورو او عبارتو راوړل او سپړل

د قاموس ليکني يو ښېل مهم اصل د پام وړ ژبې د ښېلا ښېلو محاورو يا ژبنيو اصطلاحاتو را غونډول او توضيح کول دي؛ ځکه په هره ژبه کې د زماني په تېرېدو سره له يوې مادې يا يوې ريښې څخه دونه محاورې او اصطلاحات جوړ سوي او لا پسې جوړيږي، چي را غونډول او شنل يې د ژبې د هر اړخيزو او مفصلو قاموسو لوستونکو ته ډېر ګټور او په زړه پوري دي؛ لکه «خبره تر غاښو لاندي کول»، «سر نه ګرځول»، «سر نه خلاصول»، «سر نه ګرَول»، «غوږ نيول»، «تر غوږ تېرول»، «خوله پرېکول»، «په غوښو کې هډوکي لټول»، «خاشې ماتول»، «سترخان په پښه ښوول»، «پر پزه مچ نه پرېښوول»، «له مچ سره سبلاوه ګرځول»، «پزه په هوا نيول» او سلګونه نور، چي هر يو يې په خپل جغرافيايي چاپېر او خپلو ځايي ويوونکو کې، ښېلي ماناوې او مفهومونه لري. په خوشالۍ سره په پښتو کې د دغه راز محاورو او ژبنيو اصطلاحاتو لمن دونه پراخه ده، چي که د پښتنو په ټولو سيمو کې، د روزل سوو مسلکي کسانو له خوا په پوره زيار او زغم سره را ټول او بيا د ژوندييو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثالو په وړاندي کولو سره په روانه ژبه تشریح سي، خبره به یې بې شکه څو ځوکه پنډو قاموسو ته ورسیږي. دا کار په حقیقت کي د پښتو ژبې د بې ساري لغوي استعداد، ستري مانوي پانګي او ترهر څه مهم د دې لرغوني ژبې په بېلابېلو ټکو کي د اشتقاقي وړتیا د پراخوالي او زیاتوالي په مانا دئ. د دې واقعیت د زبادولو د پاره دلته یوازې د مثال په بڼه د هغو محاورو او اصطلاحاتو یادونه کوو، چي په پښتو کي د «اوبو» له مادې څخه راوتلي دي:

اوبه کول (مځکه یا څاروي اوبه کول، ویلي کول)؛ اوبه لرل (په ټپ کي زوه یا التهاب، په پخو خوړو، مېو یا سبو کي اضافي اوبه)؛ مال اوبه کول (د مال یا سامان آلاتو خرڅول)؛ خوله اوبه اوبه کېدل (له ډېري اشتها خوله د اوبو ډکېدل)؛ اوبه اخیستل (د وجود ټپ ته اوبه ننوتل، د چا سپکاوی یا بې عزتي کول)؛ اوبه ایستل (له ټپ یا خوړو څخه د اوبو وتل)؛ اوبو پر سر اخیستل (په ربړو او کړاوو کي ډوبېدل)؛ اوبو پرسر اخیستل او ځک ته لاس اچول (د بېلابېلو ستونزو او پېچومو پر مهال د ژغورني د پاره، له هر چا څخه مرسته یا هري ممکني وسیلې ته لاس اچول)؛ اوبو راوړی (بې وسه او بې کسه، داسي بې واکه او ناتوانه، لکه اوبو چي راوړی وي)؛ د مخ اوبه تویېدل (د چا سپکاوی یا بې عزتي کول)؛ اوړه او اوبه کېدل (روغه او جوړه، توافق، سازګاري)؛ اوبه غلبېلول (له ناوړو شرایطو یا ناوړو کسانو سره ګوزاره کول، د ستونزو او اختلافاتو زغمل)؛ اوبه خړول (د کسات یا غچ اخیستني د پاره پلمه جوړول، برید کولو ته تیاری کول)؛ اوبه خړول او ماهیان نیول (د حالاتو خړپړتیا ته لمن وهل او له هغو څخه ناروا ګټه اخیستل)؛ اوبه په ځړول (په بې غیرتۍ او شاګرځولو سره د ځان او دوست سپکول او شرمنده کول)؛ اوبه په سترګو کي درېدل (پړتیا، شرمنده کېدل)؛ اوبه په غاړه کي ښکارېدل (د ښکلو لطافت، ښایست او نازکوالي ته اشاره)؛ اوبه تر ورخ تېرېدل (کار تر کار تېرېدل، مهم فرصت له لاسه ورکول)؛ تر پر وړو لاندي اوبه تېرول (په پټه یا چالاکۍ سره د یوه کار کول)؛ اوبه درول/ اوبه درېدل (سپکېدل، بې عزته کېدل)؛ اوبه ډم وروړل (د کار په پیل کي سم فکر نه کول او په پای کي له ستونزو او کړاوو سره مخامخ کېدل)؛ اوبه په ډانګ نه بېلېدل (د شخړو او ناخوالو له کبله د خپلوانو، عزیزانو او ملګرو نه بېلېدل)؛ اوبه ډم کېدل (د بې پروایۍ او ناپامۍ په وجه د مشکلاتو او ناخوالو ډېرېدل)؛ اوبه سرې کول (اوبه تودول)؛ تر اوبو تړی پوري ایستل (په چم او ټګۍ برګۍ سره د چا تېر ایستل او ځورول)؛ تر اوبو د مخه ګاولي ایستل (د یوې مسألې یا پېښې په اړه تر وخت د مخه پرېکړه کول، بې ځایه اندېښنه او تلوسه)؛ له سترګو اوبه وتل (بې شرمي، بې حیایي، د چا په وړاندي سپکاوی او بې عزتي)؛ تېري اوبه نه جاروتل (د تېر وخت یا تیري سوي موقع بیرته نه راستنېدل، د ښه فرصت له لاسه وتل)؛ په چا پسي اوبه پاشل/ شیندل (چا ته په سفر کي د خیریت او سلامتۍ غوښتنه کول)؛ اوبه تر سر تېرېدل (په پېچومو او مشکلاتو کي ډوبېدل)؛ اوبه اچول (درناوی کول، سرکښته کول)؛ اوړو او اوبو غوندي زده کول (د یوه مضمون یا کار په زده کړي کي زیات تمرین او مهارت)؛ خوله له اوبو ډکېدل (د مصلحت پر اساس، له حقیقت ویلو ډډه کول)؛ اوبه ډېرول (د مېلمنو د ناڅاپي راتګ پر مهال د اوبو په مرسته د ښوروا یا نورو خوړو ډېرول)؛ اور او اوبه (د دوو متضادو شیانو یا اشخاصو را غونډول)؛ په ربنکۍ اوبه را ایستل (چاته د هغه/هغې د اقتصادي ببوزلۍ یا ببوسۍ په سبب، پېغور ورکول) او داسي نوري محاورې او اصطلاحات، چي ګرده مخ یا شا ته د «اوبو» له مادې سره د یوې ببلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کليمې د موښلولو په مرسته جوړ سوي دي؛ او هره اصطلاح يې د استعمال بېل ځای او جلا مانا لري(د نور مالومات له پاره و.ګ. نوري ۱۰-۱۲ او حبيبي،«د پښتو لوی سيند به څنګه ليکل کيږي؟» ۲). دا اصطلاحات زياتره د پښتو په لوېديځه (لوېديزه) لهجه کي کارېږي. کېدای سي د پښتو په نورو لهجو کي د «اوبو»له مادې څخه ځيني نوری محاورې او ژبني اصطلاحات هم راوتلي وي، چي هر يو يې د بېل مقصد او بېلې مانا دپاره استعمال سي. سربېره پر دغو پراخو ژبنيو اصطلاحاتو د پارسي ژبې له «آب» مادې څخه هم په پښتو کي ځيني ترکيبونه جوړ سوي دي، چي د خلګو په ورځنيو خبرو او مرکو کي کارېږي؛ لکه: آبداره (عزتمن، پتمن، د وقار او حُرمت څښتن)؛ بې آبه (بې عزته، بې پته، بې حُرمته، سپک)؛ آب و عزت او داسي نور.

د دغه رنګه ترکيبو، محاورو او اصطلاحو د ماناوو سمه پېژندنه د پښتو ژبې هر زده کوونکي او ويوونکي ته ډېره ضروري ده. که څه هم په ځينو ژبو کي د محاورو يا ژبنيو اصطلاحوو د پېژندني دپاره له اوږدو زمانو څخه بېل قاموسونه کښل سوي دي، چي پر خپل ځای ډېر ستر او ارزښتناک کار دئ؛ خو سره له دې هم د ژبې په مشرح او مفصل فرهنګ کي د ځينو مشهورو او عامو ښو راوړل او سپړل، د ريښه پېژندني او ډول ډول شکلي او مانوي تطوراتو له پلوه بې ګټې خبره نه ده. د پښتو ژبې ځيني محاورې او اصطلاحوي له نن څخه تقريباً اويا کاله مخکي د هيواد د مخکښ او نوميالي فکلوريسټ، متن سموونکی، قاموس ليکوونکي، اديب او شاعر - اروښاد محـــمد ګل نوري (په ۱۳۵۲ش کي مړ) له خوا را غونډې سوي دي، چي په خپل وخت کي ډېر لوی او په زړه پوري کار ؤ. بېله شکه اويا کاله ډېر اوږد عمر دئ. زموږ ژبې په دې اوږده موده کي د ودې او پرمختګ ډېر اوږده پړاونه او مزلونه وهلي دي. له دې کبله دا برخه هم زموږ د نورو ژبنيو قاموسو په شان، پرمختيا او بشپړتوب ته اړتيا لري.

اروښاد محمد ګل نوري په پښتو قاموس ليکنه کي هم د قدر وړ زيار ايستلئ ؤ؛ مګر په خواشينۍ سره چي نه چا سم پېژندلئ او نه يې هم قدر کړی دئ. ويل کيږي، چي اروښاد نوري په واقعيت کي د هغه دوه جلدي «پښتو قاموس» اصلي مؤلف هم دئ، چي څو لسيزي مخکي يې د خپلي لور- طيبو په کومک او همکارۍ تأليف کړی ؤ؛ او د «نوراللغات» نوم يې پر ايښی ؤ؛ خو د پښتو ټولني د هغه مهال واکمنانو پر خپلسر د «پښتو قاموس» په نامه چاپ کړی دئ؛ او اروښاد نوري يوازې د مؤلفانو د ډلې يو غړی بللئ دئ) (و.ګ. نوري).

د پښتو ژبې په انګرېزي څېړونکو کي جګړن جورج واټرز ګيلبرټسن هم د عارف الله خان يوسفزي، علي اکبر خان کندهاري او محمود اپرېدي په مرسته په خپل پښتو - انګرېزي قاموس کي د پښتو ژبې خورا ډېري ژبنۍ اصطلاحوي او محاورې را غونډې کړې دي. په دې قاموس کي پر پښتو محاورو او ژبنيو اصطلاحاتو سربېره، ځيني پښتو ټکي او متلونه هم راغلي دي، چي د پښتو او انګرېزي ژبې زده کوونکو ته په يوه ډول، خورا په زړه پوري کتاب دئ. و.ګ:

A Dictionary of the Pakkhtoo Idiom

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو کې د داسې ژبنيو اصطلاحاتو او محاورو شمېر زرونو ته رسېږي، چې ځينې يې د خلکو د ورځنيو مکالمو ترڅنګ، په ادبي اثارو کې هم د مجاز او کنايې په بڼه کارېږي. په بېلابېلو ماناوو ،له يوې ربښې څخه د غه راز پراخو اصطلاحاتو او محاورو راوتل، پښتو ژبې ته دنړۍ په مهذبو او متمدنو ژبو کې، لوړ او ارزښتمن ځای ورکړی دئ.

«فرهنګ نظام»د پارسي فرهنګو په ډله کې هغه فرهنګ دئ، چې د دغې ژبې خورا ډېرې محاورې او ژبنې اصطلاحات يې خوندي کړي دي؛ لکه فلان نخود هر آش است(ياني په هر کار کې لاسوهنه کوي) ؛ همان آش است و همان کاسه(ياني په شرايطو او حالاتو کې بدلون نه دئ راغلئ) ؛ آش همسايه روغن غاز دارد( ياني د نورو شيان او کارونه تر خپلو ښه ښکاري) ؛ آش دهن سوزی نيست(ياني مهم شی نه دئ)او داسې نور، چې ګرده د «آش» له مادې څخه را ټوکېدلې دي(شاد ج١: ٨١).

اروا ښاد ډاکټر عبدالحکيم هلالي په خپل علمي او ګټور اثر«پښتو قاموس ليکنه»کې د ژبنيو اصطلاحاتو د وېش په اړه د روسي ژبپوه -و. و. وينګرادف نظريې راوړې دي، چې لنډه يادونه يې دلته بې ګټې نه ده. ددې روسي ژبپوهاند له نظر سره سم، ژبني اصطلاحات د مانوي جوړښت له پلوه پردرو ډلو يا ګروپو وېشل کېږي:

«په لومړي ګروپ کې هغه ژبني اصطلاحات داخلېږي، چې معنا يې د ترکيب د اجزاوو له معنا لاس ته نه راځي او اصطلاحي معنا يې د ترکيب د اجزاوو پر معنا متکي نه وي؛ لکه د پښتو ژبې دغه ژبني اصطلاحات: په سترګو ننوتل، پرسپين ډاګ غابن وتل. په دوهم ګروپ کې هغه ژبني اصطلاحات راځي، چې معنا يې د ترکيب د اجزاوو پر عمومي معنا متکي وي؛ لکه د پښتو ژبې دغه ژبني اصطلاحات: د پايڅې رګ پالل؛ هر سړی پرخپله ټيکی اور اړوي؛ دی د کراستې ملا بند دئ؛ پر بدو اوښتل. په دريمه ډله کې هغه ژبني اصطلاحات راځي، چې اصطلاحي معنا يې په تحليلي ډول د ترکيب د ټولو غړو د معناوو سره ارتباط لري(لکه د پښتو ژبې دغه ژبني اصطلاحات: پښه پر پښه اړول؛ باڼو پر باڼو ايښوول؛ اوږه کښل؛ بګړۍ د سره لوبدل... » (د بشپړ مالومات دپاره و.ګ: هلالي ١٠٩-١١٠).

يو بل روسي ژبپوهاند - ن.م. ښانسکي د وينګرادف پر درو ډلو يوه بله ډله هم ورزياتوي؛ او په دې حساب د روسي ژبې اصطلاحات پر څلورو ډلو وېشي. د ده په عقيده، په څلرمه ډله کې هغه ژبني اصطلاحات راځي، چې که څه هم د ترکيب هر غړی يې په خپله اصلي مانا استعمالېږي؛ او د ترکيب عمومي اصطلاحي مانا يې د جوړونکو غړو مجموعه ده؛ خو دا ترکيبونه د استعمال پر مهال تل خپل اصلي ترکيبي شکل خوندي کوي؛ او بې اليشبدو کارېږي؛ لکه په پښتو ژبه کې دغه ترکيبونه: د اوبو شين ډنډ ؛ د سينما ټکيس...(هلالي ١١١). يو بل روسي ژبپوهاند -ب. ن. ګلوين هم د وينګرادف پر وېش يوه بله ډله ورزياتوي، چې د آيډيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

(Idiom)پــه نامه يې يادوي(هلالي١١١). د دغو نظريو پر خلاف، پــه روسي ژبپوهنه کې پر مخکنييو څلورو ډلو سربېره، ټول هغه ترکيبونه هم د ژبنييو اصطلاحاتو په ډله کې راځي، چې خپل ترکيبي ثبات يې تر يوې انــدازې ساتلئ وي؛ او تل د مشخصو ترکيبو په شکل استعمـــالېږي؛ لکه متلونه، مقولې او عام عبارات (هلالي١١١).

## په قاموسو کې د متلو، ژبنييو اصطلاحاتو او عامو عبارتو د اوډولو لارې

د متلو، مقولو، ژبنييو اصطلاحاتو او عامو عبارتو تر منځ په انګرېزي، پارسي، پښتو او نورو ژبو کې هم کله کله د پولو بېلول اسان کــار نه دئ. ژبنــي اصطلاحات د نــورو ژبو په څېر په انګرېزي کې هم خورا پـــراخــه زېرمه لري، چې د آيډيمو (Idioms) تر عـــنوان لاندې څېــړل کيږي؛لکه: 'a wet blanket'(هغـــه څوک، چې د نــورو د ساتېري فضا ورانــوي)؛'Pyrrhic victory' (هغه بـــرى، چې په لوړه بــيه پــرېوتــي وي)؛ 'under wire' (پر وخت برابر، پر موقــع بــرابــر)؛ 'to eat a humble pie'(بخښنه غوښتل، د تېروتني منل)؛'Crocodile tears'(د چم يا ټګــې اوښکي تويول، د خلکو غولول) او په سلګونو نور.

پروفيسر جګسن او پروفيسر امويله په قاموسو کې د ژبنييو اصطـــلاحاتو د څرنګوالي او ځای ځايګي په اړه داسي کاږي: «ژبنييو اصطلاحاتو هيڅکله په قاموسو کې د بېـل سرټکي ځای نه لره. ښايي نــه د هـــغو د اوړدوالي په وجه، بلکې له دې کبله چې په فرهنګــو کې د هغو مـوندنه اسانه نه ده. قاموسونه د اصـــطلاحاتو د اوډلـــو په بـــاره کې بېـلابېلي کړنـــلاري لـري. د انګرېزي فرهــنګو له ډلـې څخه په لانګــمېن قاموس (LDEL, 1991, xiv)کـې، په دې اړه خورا پېچلې او مروړلي کړنلاره غوره سوې ده. په دې مانا، چـــې يـوه اصطلاح تر هر څه مخکې، په خپل ترکيب کې له لومړني اسم سره يو ځای اوډل کيږي.که يې په ترکيب کې اسم نه لره، بيا له صفت سره يو ځای ليکل کيږي. کـه يې په جوړښت کـې صفت هم شامل نه وي، بيا نو تر لـــومړني قيد لانـــدې راځي. که يې په ترکيب کـې قيـد هم شامل نه ؤ، بيا نو تر لومړني فعل لاندې او که يې فعل هم نه لره، بيا نو د خپل ترکيب تر لومړنۍ کليمې لاندې(هر څه چې وه)اوډل کيږي. البته هر چيري چې په قاموسو کې ژبنۍ اصطلاح ځای مومي، بايد د کراس ريفرينس په بڼه، د اصطلاح په جوړښت کې تر نورو جوړونکو ټـــکو لاندې هم و اوډل سي.»(Jackson and Amvela 209)

په اوسنۍ انګرېزي کې دا دود دئ، چې د فعلو تر شا قيدونه او اضافه توري مونښلوي؛ او په دې توګه له جوړسوي ترکيب څخه بېلې ماناوې تر لاسه کوي، چې د ګرامر په اصطلاح، عبارتي فعل (phrasal verb) ورته وايي؛ لکه:

give away(له چا سره خيانت کول.٢چاته څه ورکول).

give in(تسليم کېدل، ماته منل).

give off(توليدول.٢د بوی يا بخار ايستل).

(c) ketabton.com: The Digital Library

give on /give into(۱بېول.۲پرانیستل.۳مخته، څېرمه).
give out(له منځه تلل، ماتېدل، پای ته رسېدل.۲اعلانول.۳وېشل.۴بهر ایستل).
give over(۱درول، لاس اخیستل، پرېښوول.۲لېږدول، و ځانګړي کار یا مقصد ته بېول).
give up(۱پرېښوول، ترک کول، په یوه کار کې د ماتې یا ناکامۍ منل.۲ځان یوه ځانګړي کار یا داعیې ته ګومارل او داسې نور).(Thomson & Martinet 315; Robinson 566-67)

هغه عبارتي فعلونه(Phrasal Verbs)چې د فعل او قید له یوې برخې یا قید او اضافه توري له یو ځای کېدو څخه جوړ سوي وي، زیاتره تر اړونده فعلو لاندې اوډل کېږي؛ خو ځیني قاموسونه له داسې فعلو او قیدو سره د یو بېل قاموسي سرټکي(headword)په توګه چلند کوي؛ ځکه چې داسې فعلونه ځیني مهال له خپلو اصلي فعلو څخه ګرسره جلا ماناوې لري.(Jackson and Amvela 209)

په معاصرو انګرېزي قاموسو کې معمولاً هغه اصطلاحات او عبارتي فعلونه، چې هریو یې بېله مانا افاده کوي، معمولاً تر اصلي مادې لاندې کاږي؛ او په ځینو حالاتو کې یې له اسانه مثالو سره په جوملو کې هم استعمالوي. د پښتو مشرح او مفصل فرهنګ هم باید د ژبو په ټولو لهجو کې دغه راز ارزښتناکې زېرمې را غونډې؛ او په اسانه ټکو سره یې توضیح کړي. په دې کار سره به بې شکه له یوې خوا د پښتو ژبې ستره لغوي او اصطلاحي پانګه له زیانمن کېدو او هېرېدو څخه وژغورله سي؛ او له بلې خوا به په اسانۍ سره، د پښتو ژبې ټولو مینه والو ته فرصت ورکړل سي، چې د بېلابېلو لهجو په ورځنیو محاورو او مرکو کې کارېدونکې ټکې او عبارتونه له ژوندیو مثالونو سره زده کړي. د خلګو دا نیژدېوالی او پیوستون به په پای کې د یوې منلې معیاري ژبې په رامنځ ته کولو کې هم ستره ونډه واخلي. په قاموسو کې د ژبنیو اصطلاحاتو د اوډني او ترتیب په اړه هم په ژبپوهانو او فرېزیپالوژیستانو کې بېلابېلې نظریې وړاندې سوې دي، چې د فرېزیپالوجۍ/فرېزیپالوژۍ له مهمو موضوعګانو څخه ګڼل کېږي(د بشپړ مالوماتو د پاره و.ګ. هلالي ۱۱۳-۱۱۷).

په پښتو، پاړسي او نورو ژبو کې له یوې ریښې څخه راوتلې محاورې او ژبنۍ اصطلاحوې په بېلابېلو بڼو ثبت سوې دي. ځینو قاموس لیکوونکو دا ډول اصطلاحات تر بېلو سرلیکونو لاندې ثبت کړې دي؛ په داسې حال کې چې ځینو نورو بیا د خپل ترکیب تر اصلي او مرکزي ټکي لاندې اوډلي او مانا کړې دي. نن سبا په معاصر قاموسو کې ژبنې اصطلاحات او عبارتونه زیاتره تر هغه اصلي یا مرکزي ټکي لاندې کاږي، چې د شکل او مانا په لحاظ له پام وړ اصطلاحاتو سره نه شلېدونکې اړیکې ولري؛ مثلاً «مال اوبه کول»، «تر اوبو د مخه ګاولي ایستل»، «اوبه په ستوني کې مالومېدل»، «تږی تر اوبو پرې ایستل» او داسې نور ګرده په قاموس کې د «اوبه» تر اصلي یا مرکزي ټکي لاندې راوړل کېږي یا په انګرېزي کې د "Pyrrhic victory" اصطلاح د "Pyrrhic" او د "Crocodile tears" اصطلاح د "Crocodile" ټکي په پای کې کښل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انګرېزي ژبې په ځينو اختصاصي قاموسو کې يې، د متلو او ژبنيو اصطلاحاتو د اسانه موندنې دپاره، هره ژبنۍ اصطلاح يا متل د هغو ترټولو ترکيبي برخو لاندې راوړې دئ؛ مثلاً "Actions speak louder than word" متل د "actions" , "louder" , "speak" او "word" تر قاموسي ټکو لاندې، په جلا جلا ډول تکرار سوی دئ.(Simpson 1, 140, 209, 250)

په اختصاصي فرهنګو کې د متلو، ژبنيو اصطلاحاتو او بېلابېلو عبارتو په اسانه موندنه کې د ځو ځايه يادوني يا کراس- ريفرينس لاره تر ټولو غوره او عملي لاره ده؛ اما د ژبې په عمومي تشريحي قاموس کې له ټولو ترکيبي برخو سره د يوه متل يا يوې اصطلاح ځو ځلا يادونه، نه يوازي سرخوږونکی، بلکې په اقتصادي لحاظ هم نامطلوب کار دئ. له دې کبله يې له اوسني دود او بايدې سره سم، يوازي تر هغه ټکي يا مادې لاندې کارېږي، چې د اتيمولوژۍ له پلوه اړيکي يا نيژدې والی سره لري؛ لکه په مخکنيو مخونو کې چې د «اوبو» له مادې څخه د ځينو را ټوکېدلو محاورو او اصطلاحاتو، لنډه يادونه وسوه.

## په قاموسو کې د ترکيبي ټکو د بېلابېلو ډولو را غونډول او شنل

د هرې ژبې په قاموس ليکنه کې، بله مهمه او ارزښتناکه مسأله د ترکيبي ټکو يا مرکباتو پېژندنه او را غونډول دي. په زياترو ژبو له هغو څخه په پښتو، پارسي، عربي او انګرېزي کې د مرکباتو شمېر دونه ډېر دئ، چې له را غونډولو او شنلو څخه يې د مرکبو ټکو جلا لوی او پنډ قاموسونه جوړېدای سي. مرکب او ګډ ټکي زياتره په دوو بڼو جوړېږي:

الف) کلمه چې يوه خپلواکه کليمه(base) له يوه يا ځو اشتقاقي عناصرو سره يو ځای سوې وي (complex word) لکه: ناسم(نا+ سم)، اتلواله(اتل + واله)،زړورتيا (زړور+ تيا )، مينه ناک (مينه+ناک) او داسې نور په پښتو کې يا نارسايي(نا+ رسايي)، ګلزار(ګل + زار)، معجزه آسا (معجزه + آسا )، بتکده (بت + کده )او داسې نور په پارسي کې يا impossibility(im-, possibil,-ity), Unlikely(Un-,like, -ly), vitality(vit-,-al,-ity) او داسې نور په انګرېزي کې، چې د بېلابېلو ژبو (لاتيني ، يوناني، فرانسوي او اسپانوي) ډول ډول اشتقاقي عناصر (derivational elements) د مخوندې او شاوندې په بڼو له خپلواکو ټکو سره يو ځای سوي ؛ او په ګډه يې بېل مرکب ټکي جوړ کړي دي.

ب) هغه مرکب ټکي، چې د دوو يا ځو بېلو کليمو له يو ځای والي څخه جوړ سوي وي؛ لکه کوروداانه (کور+ودانه)، خواتوری(خوا+توری)، سرلوړی(سر +لوړی)، سرتېر(سر + تېر) او داسې نور په پښتو کې، يا ميهن دوست(ميهن + دوست)، دلخراش(دل + خراش)، خاطر جمع(خاطر + جمع)په پارسي کې يا blackboard (black+board), blackbird (black+bird), teapot (tea+pot) او په سلګونو نور په انګرېزي کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په انګرېزي کـي مرکب ټکي پر ځینو فینالوجیکي/ فونولوژیکي توپیرونو سربېره، په لیـکـدود کـي هم د پام وړ توپیرونه او بېلوالی لري. د فینالوژۍ له پلوه په زیاتره دوه کلیـمه یـي مرکـبو ټکو کي خج پر لـومړۍ څپـه وي؛ لـکه: eMERgency plan, RePUBlican Party, TEApot, BLACKbird او داسـي نـور. انګلیسي وېوونکي د(white house)او(WHITE house)پـه دوو ترکیبي بڼو کي، د تلفظ له پلوه ښکاره توپیر کوي. د لیکدود له پلوه هم ټول مرکب ټکي یوه بڼه نه لري. ځـیني یې د یـوې کلیـمې پــه بڼــه لیکل کیږي ؛ لکـه: blackboard, teapot, blackbird او داسي نور(Solid Compounds)ځیـني نور مـرکب ټکـي د یـوې بېلوونـکي نخښي (هایفـن)پــه وسیــلـه سره بېـل سوي وي؛ لکـه: bridge-builder, mud-walled, body-blow او داسي نور (Hyphenated Compounds)او په پای کي دریمه ډلـه مرکـبات هغـه ترکیبي ټکي دي، چي ترکــیبي برخــي یـې یو له بــله بېـــلي کښل کــیږي؛ لکــــه: coffee cup, blue sky, Army depot او داسي نور(Open Compounds). دا خبره د یادوني وړ ده، چي د بلي هري ژبــي په شان، په انګرېزي ژبه کي هم د مرکبو ټکو په اړه د تلفظ تر توپیرو د لیکني توپیرو ته ډېر پام کیږي. سره له دې هــم د ترکیبو په لیکلو کي تر اوسه د کومې پخې او ثابتې قاعدې پر ځای، شخصي ذوق او سیلقه چلیږي. لکه څنګه چي businessman, business-man, business man;wine bottle, wine-bottle او داسي نـور تر اوسه، په بېلابېلو بڼو لیدل کیږي (په دې برخه کي د نور مالومات له پاره د اینټرنیټ د غـــه لینک وګـــورئ: (encyclopedia.com/complex and compound words)

پــه انګرېزي کي داسي کلیمې هم ډېري دي، چــي د ترکیب او یو ځای والي دواړه شکلونه پکښي راغــــلي وي؛ لکه: "hot-blood*edness*" چي په هغه کي د "hot" او "blood" د دوو اصلي کلیمــــــو تر څنګ د "ed" او "ness" دوه وروستــاړي هم تر ستـــرګو کــیږي. پــه "biographical"، "lexicography" او داسي نورو ترکیبونو کي هم د دوو بېلو اصلي ټکو پر یو ځای کېدو سربېره، یو شاوندی هم لیـــدل کیږي. په انګرېزي کي دا راز ترکیبي ټکو ته "Compound-Complex Word" وایي، چي کله کله د یـوه هایفن ( - ) په مرسته سره بېلیږي.

## په انګرېزي کي د ترکیبو بېلوَنه

دا خبره جوَته ده، چي په انګرېزي کي ترکیبونه تل له دوو یا زیاتو ریښو(کلیمو )څخه جوړ وي؛ مګر سره له دې هم حتمي او ضروري نه ده، چي د هغو جوړونکي ریښې (کلیمې) باید د کلام په یوه برخه یا یوې کټګورۍ پوري تړلې وي.که د یوه ترکیب دواړي ریښې د کلام په یوه برخه یا یوې کټګورۍ پوري اړه ولري؛لکه(اسم + اسم یا فعل + فعل ) نو داسي انګېرل کیږي، چي نوی جوړېدونکی ترکیب به هم د کلام په یوه برخه یا یوه ډول پوري اړه ولري؛ او د هغې ډلې د یوه ساده غړي په توګه به کار کوي. د عمومي قاعدې په توګه د یوه ترکیب د جوړونکو یا متشکله اجزاوو وروستۍ برخه، د هغه ترکیب مجموعي نوعیت یا کټګوري په ګوته کوي. په راتلونکو کرښو کي د بېلابېلو ترکیبو فارموله او ډولونه وړاندي کیږي:

### د اسم ترکیبونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هره ريښه( هر ډول کليمه ) + اسم = اسم

د ترکيب لومړۍ برخه کېدای سي اسم، فعل، صفت يا قيد وي؛ خو دوهمه برخه بايد هرومرو اسم وي. په داسي حالاتو کي تر لاسه کېدونکی ترکيب تل د اسم بڼه لري؛ لکه په دغو مثالو کي:

اسم + اسم: text-book, arm-chair, ash-tray

فعل + اسم: pick-pocket, dare-devil

صفت + اسم: hard-cover, blue-collar, black-bird

قيد + اسم: down-grade, back-talk, after-thought

## د فعل ترکيبونه

هره ريښه ( هر ډول کليمه ) + فعل = فعل

ياني که په يوه ترکيب کي اسم، صفت، فعل او قيد له يوه فعل سره و موښلي، نو تر لاسه کېدونکی نوی ترکيب هم خامخا د فعل بڼه لري؛ لکه په دغو مثالو کي:

اسم + فعل: house-keep, brain-wash, baby-sit

فعل + فعل: drop-kick, dive-bomb

صفت + فعل: white-wash, sweet-talk, dry-clean

قيد + فعل: over-do, down-grade

## د صفت ترکيبونه

هره ريښه يا هره کليمه (بېله فعله ) + صفت = صفت

اسم + صفت: sea-sick, ox-eyed, earth-bound

صفت + صفت: south-west, metallic-green, blue-green

قيد + صفت: off-white, near-sighted

## د قيد ترکيبونه

قيد + قيد = قيد

قيد + قيد: through-out, in-to

## د خاص اسم ترکيبونه

فعل + قيد: د اسم ترکيب

فعل + قيد(اشتقاق ): drive-in, blast-off

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ترکیبو دا ډله یوازنۍ ډول دئ، چي په انګرېزي کي د عامي قاعدې پیروري نه کوي.

په پښتو کي سپین مخی، ورانکار، سرټمبه، سرزوره، خپلسره، کاغذ باد، ټوکمار، لاسلیک، پوهنځی، غمخور، اناري سور، ژړ نارنجي او داسي نور؛ په پارسي کي سنګدل، سیاه دل، جستجو، ګفتګو، دوربین، دوراهی، آبپاش، آبګردان، بتکده، ایستګاه او داسي نور د دغو ډلو څو بولګې دي. البته په ټولو ژبو کي د قاموس د پاره د را غونډو سوو موادو (corpus) د شننې او څېړنې په بهیر کي کله کله ډېره ګرانه وي، چي د اصطلاحي ترکیبو (Idiomatic Compounds) او نا اصطلاحي ترکیبو (Non-Idiomatic Compounds) تر منځ توپیر وسي.

## په انګرېزي قاموسو کي د مرکباتو او عبارتو ترمنځ توپیر

په انګرېزي کي د مرکباتو او عبارتو تر منځ د فینالوژیکو، نحوي او مانوي اساساتو له مخي توپیر کوي:

۱- د تلفظ پر بنسټ توپیر: لکه په black 'board' عبارت کي، چي دواړي متشکله کلیمې په پیل کي خج لري؛ او د دواړو ټکو تر منځ تړاو لیدل کیږي. په داسي حال کي، چي په black-board' مرکب ټکي کي یوازي د لومړی برخي په پیل کي خج لیدل کیږي؛ او په ترکیب کي د دواړو جوړونکو ټکو تر منځ د اواز له اړخه څه تړښت نسته. دغه راز په hard 'cover' عبارت کي بیا هم د هري کلیمې په سر کي خج ګورو؛ حال دا چي په hardcover' ترکیبي حالت کي یوازي یو لومړنی خج لیدل کیږي. په تلفظ کي دا بدلونونه، عبارت او ترکیب ته بېل بېل شکلونه ورکوي.

۲- د نحوي خصوصیتو پر بنسټ توپیر: د مرکباتو د جوړونکو برخو تر منځ ګرامري اړیکی کله کله روښانه نه دئ؛ نو ځکه په مرکباتو کي زیاتره د پرېکون یا انقطاع (intruptibility)، د کلیمو د اوډني یا ترتیب (word order)، تعدیل یا بدلون (modification) او صرفي ضمیمو منلو (inflectibility) مسألو ته زیات پام اړول کیږي. ټول مرکبات او د هغو جوړونکي برخي د پرېکون یا انقطاع وړ نه دي؛ مثلاً "dare-devil" ترکیب د "dare the devil" په عبارتي بڼه نسي استعمالېدای.

په ترکیب کي د کلیمو اوډنه یا ترییب په دي مانا دئ، چي د یوه ترکیب بېلا بېلي برخي د یو بل په وړاندي څه ډول موقعیت لري؟ په انګرېزي کي اصلاً د اسم + صفت یو ځای والی عادي خبره نه ده؛ خو سره له دي هم په ځینو ترکیبو؛ لکه sea-sick او داسي نورو کي کارېږي. بالعکس، په انګرېزي کي د فعل + ادات (verb + preposition) ترکیب عامه خبره ده؛ خو سره له هغه یې هم د اسم د پاره کارول نا بابه ښکاري؛ مثلاً "splashdown" چي اسم دئ؛ او یوازي په ترکیبي بڼه کارېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تعدیل یا اوښتون مفهوم دا دئ، چې د یوه ترکیب د مانا د تعدیل دپاره له نورو ټکـو څخه کار اخیستل کیږي . له دې کبله چې ترکیب یو واحد یونیټ دئ، نو ځکه د هغه متشکله برخې په خپلواک یا بېل ډول نه تعدیلیږي. سره له دې هم ترکیب کېـدای ســې په مجمــوعي بڼه د نورو ټــکو په مرسته بــیان سي؛ مثلاً "air-sick"نه د "hot air-sick"او نـه هـم د "air-very sick"پــه بڼه ویل کېـدای سي، چې تود ه(hot)هوا بــیان کړي؛ او د ناروغۍ یادونه وکي. په انګرېزي کې معمولاً وایـــي: John was seriously air-sick په دغه جو مـــله کې د "seriously"کلیـمه په واقعـــیت کــې ټول ترکیب تعریفوي نه د ترکیب لومړی عنصر یا لومړۍ برخه(air) .

۳- په ترکیبو کې صرفي ضمایم اخیستنه(inflectibility): د یوه قاموسي ټکي په تــوګه، ترکـــیبونه د خپــلو ګرامري کټګوریو له مخې ببلابېلې صرفي ضمیمې مني؛ خو د هغو متشکله عناصر په جلا بڼه وروستاړي یا مختاړي نه مني؛ لکـه "bottle-neck"چې یو اســم دئ؛ او د "bottles- necks"په بڼه نسي ویل کېدای. په داسي ترکیبو کې یوازي وروستــی عنــصر د جمعي دپاره وروستاړی قبلوي؛ او تل د "bottle-necks"په بڼه استعمـالیږي. "finger-prints" , "ash-trays", "dish-washers"او داسي نــور ټــول د دې ډول بدلــونو نور مثـــالونه دي.(Jackson and Amvela 93-94)

۴- په ژبنیبو اصطلاحاتو د اوښتو له مخې توپیر: ترکیبونه له مانوي اړخه دا ځانګړتیا لري، چې د خاصي مانا په تر لاسه کولو سره، زیاتره د ژبنیبو اصطلاحاتو (Idioms)بڼه غوره کوي. یوازې په ډېرو نادرو حالاتو کې د ترکیبو مفهومونه د تحت اللفظي یا هو به هو مانا پر بنسټ د هغو له متشکله عناصرو څخه مشتق کیږي؛ او په زیاترو مــواردو کې د هغــو د لړه تر لړه یوه جوړونکي عنصر مانا پټــه او مبهـــمه پاتیږي؛ د مثـــال په ډول "dustbin"یوازې د خاورو او خځـلو ټولولو ته ځانګړې یا محدود نه دئ. یا توره تخته(blackboard) چې کېدای سي د توروالي پر ځای سپین یا زرغون رنګ ولري؛ او د لرګي پر ځای له فلز یا کوم بل شي څخه جوړه سوې وي. د همدغو خصوصیاتو په رڼا کې، چې ګرده په یوه وخت کې عمل کوي او ترکیـــب ته یو پـــیاوړی اجرایي واک او ځواک ورکوي، له عبارت سره د ترکــــیب د بېــلوالي او توپیر کرښه کښل کیږي.
(Jackson and Amvela 94)

## په قاموسو کې د منحوتو ټکو را غونډول

په پښتو او پاړسي کې د ترکیبي ټکو پر پراخې زېرمې سربېره، ځیني ترکیبي ټکي لومړی سره ګډ سوي؛ او بیا د زمانو په تېرېدو سره ترخیم یا لنډ سوي دي. د امتزاج او تخفیف دې عملیې ته د ژبپوهني په اصطلاح«نحت» ویل کیږي؛ لکه: نبخه(نه + یم + خبر) ، خدابښکه(خدای + ښه پوهېږي + که) ، خدام(خدا + می داند ) ، مچم(من + چه + می دانم) او داسي نور، چې را غونډول او تشریح کول یې په ژبنیبو قاموسو کې ډېره ضروري او مهمه خبره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په پښتو او پارسي کي د مرکبو او مخلوطو ټکو د املأ ځرنګوالی

په پښتو او پارسي کي هم د انګرېزي ژبي په شان د مرکبو او مخلوطو ټکو په اړه بېلابېل ليکدودونه باب دي، چي لنډه يادونه او شننه يې دلته بې ګټي نه ده:

- ځيني کسان ترکيبي او مخلوط ټکي يو له بله بېل کاږي؛ لکه لمن ليک، لاس ليک، ګفت و ګو، جست و جو، علاقه مند، سرمايه دار او داسي نور. لکه ځنګه چي ګورو، د ترکيبي ټکو په دې ډول املا کي، بې شکه د مرکبو ټکو مورفالوژيک او ايتيمولوژيک جوړښت روښانه ښه لري. د املا دا ښه له لوستونکو سره مرسته کوي، چي د ترکيبي ټکو د بېلابېلو برخو اصل او نسب په اسانۍ سره وپېژني؛ اما په دې دود کي د ځينو مرکبو او مخلوطو ټکو په بېلولو سره، د هغو مانوي جوړښت ته لوی زيان رسيږي؛ او حتا په ځينو حالاتو کي يې د مانا پېژندنه د معما په څېر ګرانيږي؛ لکه پوهنځی، پوهنتون، نبخه، خدانبکه، خدام، مچم، او داسي نور؛ ځکه د دغه راز منحوت ټکو په جوړښت کي د ګډوالي (امتزاج) او لنډون (ترخيم) دواړو عمليو برخه اخيستې ده. ځيني مرکب ټکي په حقيقت کي له دوو او ځيني نور له داسي درو برخو جوړ سوي دي، چي هره جوړونکي برخه يې په بېلوالي کي خپله اصلي او حقيقي مانا نسي افاده کولای. له دې سببه يې يو ځای ليکل، ډېر پر ځای او ګټور کار دئ.

- ځيني کسان د مخکني دود پر خلاف د لمنليک، لاسليک، جستجو، ګفتګو، دانشجو او داسي نورو په څېر ترکيبي ټکي، د يوې کليمې په ښه کاږي. داسي کسان په حقيقت کي د تلفظ د اړتيا او اسانۍ پر اساس د هغو مورفالوژيک او ايتيمولوژيک جوړښت ته پام نه کوي؛ ځکه په وينګ کي د دغه راز ترکيبي ټکو جلا جلا ادا کول درونډوالی او ګراني پيښوي. له دې کبله يې د زمانو په تېرېدو سره ورو ورو د يوې کليمې رنګ او جوله اخلي. بله مهمه خبره دا ده، چي په ځينو مخلوطو او ترکيبي ټکو کي ټولي شاملي برخي په ګډه پر يوه واحد مفهوم دلالت کوي، چي په دې توګه يې بېل بېل ليکل د پام وړ مانا ته زيان رسوي؛ د مثال په توګه (لاس + ليک) دواړي کليمې په ګډه د امضا، توشيح يا دستخط مانا رسوي، چي په انګرېزي کي يې "sign", "signature","autograph" او داسي نور بولي. دلته د «لاس» او «ليک» دوو بېلو کليمو ته په جلا جلا ډول، هيڅ اشاره نسته. که په دري کي «پدرکلان»، «خسربره»، «مادراندر»، «جستجو»، «دانشجو» او داسي نور ترکيبونه سره بېل کوو، بيا نو د ترکيب د دوو يا څو جوړونکو کليمو هره برخه پر هغه مانا دلالت نه کوي، چي په ترکيب سوې ښه کي نغښتې ده؛ ځکه مرکبي ښې ټولو ترکيب سوو کليمو (خپلواکو يا نا خپلواکو) ته نوې مانا او نوی مفهوم ورکړی دئ. دلته د يوې استثنا يادونه ضروري ده؛ او هغه دا چي که د يوه ترکيب د دوو يا څو برخو له يو ځای کولو ځخه د هغو په لوستلو او پېژندنه کي ستونزه پېښه سي، بيا نو د هغو ګډ ليکل نه يوازي بې ګټي، بلکي ناسم کار دئ؛ لکه پاکزړی (پاک + زړی)، لويخېتی (لوی + خېتی)، سپينمخی (سپين + مخی)، بدردخور (به درد + خور)، بعلاقمندانيشان (به + علاقمندان + شان)، ګلګلونکفنها (ګلګلون + کفن + ها) او داسي نور، په پښتو او پارسي کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې توګه ګورو ، چې د مخونديو او شاوندي په مرسته له اصلي کليمو سره تړل سوي ټکي لکه پوهنتون، پوهنځی، درملتون، بنتون، کونډتون، زړورتيا ، ملګرتيا ، پښتونواله، اتلواله، همصنف، همسنګر، همراز ، همدم ، غيرقانوني، لامزروع، عدم کفايه او داسي نور په پښتو ، پارسي او عربي کي يو ځای ليکل نه يوازي غوره، بلکي ضروري بلل کيږي. بې شکه، دا ډول مرکبات له هغو ترکيبي ټکو څخه بېل ګڼل کيږي، چي له دوو يا درو بېلو خپلواکو کليمو څخه جوړ سوي وي؛ لکه: لاس ليک/ لاسليک، لمن ليک/ لمنليک، جست و جو / جستجو ، ګفت و ګو / ګفتګو او داسي نور. د دغه راز مرکبو ټکو په يو ځای يا جلا ليکلو کي، هماغسي چي مخکي اشاره وسوه، بېلي ګټي او نيمګړتياوي نغښتي دي. د پښتو او پارسي په ګډون په زياترو ژبو کي د مرکبو ټکو د بېلابېلو ډولونو د ليکدود په اړه تر اوسه څه پخه او ثابته قاعده نه ده ترسترګو کيږي. د داسي ترکيبي ټکو په ليکلو کي تر ټولو ښه او معقوله لار هغه ده، چي ليکوونکو او لوستونکو ته د ليک او لوست په چارو کي اساني پيښه کړي.

## د ژبي د زړو يا نابابه ټکو را غونډول او مستند کول

مخکي مو دې خبري ته اشاره وکړه، چي ژبي د بېلابېلو طبيعي او غيرطبيعي عواملو له کبله تل د تغيير او تحول پړاونه تېروي. د بدلون او اوښتون په بهير کي ځيني کليمې، عبارتونه، محاورې او اصطلاحات په مؤقتي يا دايمي بڼه له پامه لوېږي؛ او په پای کي ورو ورو د نابودۍ او مرګ خوا ته درومي. په پښتو ادب کــي هم د داسي ټکو شمېر ډېر زيات دئ، چــي يو وخت د تېرو پښتونو(نسلونو )په ورځنيو خبرو او ډول ډول فرهنګي اثارو کي په پراخه ګچه باب وه؛ مګر اوس د بېلابېلو دلايلو له مخي د خلګو په محارو او مرکو کي له استعماله لوېدلي دي؛ لکه: ود ، ميرځی، ميرخمن، لونل، ګروهېدل، دروهېدل، لل، سخ، سرولين، اسپرين، کاسير، کرندر، کنبايل، کوني کبر، ګهنده/ ګانده ، نرسيبی، لرمل، ترمل، برمل او په سلګونو نور. دا ډول زاړه يا متروک (archaic)ټکي زموږ د لرغوني او سپېڅلي ژبي ډېره لويه او ارزښتناکه پانګه ده، چي په پوره غوَر او ځير سره بايد د پښتو په تشريحي او مفصلو قاموسو کي خوندي سي؛ ځکه دغه راز زاړه او نابابه لغتونه نه يوازي د ژبي او ادب پوهانو ته د بېلابېلو لغوي څېړنو په اړه مهم او په زړه پوري مواد برابروي، بلکي د نوو مفاهيمو په نوم اينبوولو او نيولوجيزم کي هم له هغو څخه پراخه ګټه اخيستله کيږي.

## د پښتو د زړو يا متروکو لغتو د راټولو او مستند کولو ګټي

د پښتو په ټولو تشريحي قاموسو کي د دې ژبي د زړو او نابابه ټکو خوندي کول او د قاموسو له لوستونــکو سره د دغه راز ټـــکو د مانا په سمه او اسانه پېژندنه کي مرسته کول، په ټينګه دا غوښتنه کوي، چي قاموس ليکوونکي بايد ټول پخواني او لږ پېژندل سوي ټکي د پښتو نظم او نثر له معتبرو اثارو څخه د لنډو ويناوو يا نورو ډولونو په وړاندي کولو سره، مدلل او مستند کړي. د افغانستان د علومو اکاډيمۍ په«پښتو - پښتو تشريحي قاموس» کي د ځينو پخوانيو او نابابه ټکو د سمي پېژندني د پاره، د پښتو ادب له ځينو منظومو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

منشورو اثارو څخه، يو ونيم ويناوي او اقتباسونه د شواهدو په توګه وړاندي سوي دي؛ خو په خواشينۍ سره چي دا کار په دوه دليله بشپړ نه دئ:

- لومړي دا چي د شواهدو او مدارکو شمېر ټول ټال ډېر لږ دئ. په دې قاموس کي زموږ د لرغوني ادب ډېر داسي لغتونه، تعبيرونه او ترکيبونه تر سترګو کيږي، چي د استناد دپاره يې هيڅ تاريخي، ادبي او علمي سند نه دئ راوړل سوی؛ د مثال په توګه لرمل، برمل، ترمل، ګانده، ميرڅي، ميرڅمن او داسي نور.

- دوهم دا چي د پخوانيبو او زړو ټکو د استعمال مثالونه بايد د بېلابېلو دورو په تاريخي، ادبي، ديني او علمي اثارو کي ولټول سي. دا کار به له يوې خوا د را غونډو سوو ټکو د مستند کولو لمن پراخه کړي؛ او په دې توګه به لوستونکي د پښتو ادب له راز راز اثارو سره اشنا کړي؛ او له بلي خوا به له مختلفو اړخونو څخه د پښتو ژبي د بېلابېلو علمي اثارو د مقايسه يي څېړني دپاره هم ډېر ګټور مواد برابر کړي. په تېرو بحثو کي مو د پراخو بولګو او مثالو په وړاندي کولو سره يادونه وکړه، چي بېلابېلي کليمې د زمانې په تېرېدو سره شکلي او مانوي بدلونونه مومي؛ مثلاً «مرسته»، «دېګان»، «کالي»، «برېخ»يو وخت په يوه مانا کارېده؛ اوس يې يا پخوانۍ ماناوي له منځه تللي دي يا يې د پخوانيبو تر څنګ نوي ماناوي هم تر لاسه کړي دي يا نمازديګر، مازديګر، مازيګر/ ماځيګر او داسي نور ټول د کليمو په ظاهري بڼه کي د اوښتون او بدلون داستانونه بيانوي. له دې کبله دا خبره ډېره په زړه پوري برېښي، چي د زړو ټکو په شننه او سپړنه کي د مختلفو ادبي پېرونو له اثارو او ماخذو څخه پراخه ګټه واخيستله سي. دغه راز مقايسه يي شننه قاموس ليکوونکو او په نتيجه کي ټولو لوستونکو ته دا شرايط او امکانات برابروي، چي د ځينو زړو او مړو کليمو له حدسي او قياسي ماناوو څخه د هغو دقيقي او ډاډمني ماناوي تر لاسه کړي.

د همدې دليل پر بنسټ په هغو ژبو کي، چي قاموس ليکنه اوږد تاريخ نه لري، د نابابه او نادرو ټکو د روښانولو دپاره د ژبي له ادبي او علمي اثارو څخه د مستندو او ژونديبو مثالو را ټولول نه يوازي ارزښتناک؛ بلکي ډېر ضروري کار دئ. دا ځکه چي د هري ژبي قاموس ليکوونکي په پيل کي ځيني زاړه او نابابه ټکي د هغې ژبي په ادبي او علمي اثارو کي د بېلابېلو شاعرانو، اديبانو، مؤرخانو او نورو ليکوالو د استعمال سوي متن له مخي، د قياس په ډول مانا کوي. په داسي مواردو او حالاتو کي ښه دا ده، چي اوسني او راتلوونکي قاموس ليکوونکي د پخوانيبو قاموس ليکوونکو پر فرضي او قياسي ماناوو د بشپړي اتکا پر ځای، په خپله د ژبي په ادبي، تاريخي او علمي اثارو او د خلګو په ژونديبو محاورو او مرکو کي څېړني او پلټني وکي. د لغتپوهني په بهير کي داسي هم پېښيږي، چي له لرغونو اثارو څخه اخيستل سوي قياسي ماناوي له اوسنيبو مروَجو ماناوو سره، سل په سل کي سر نه خوري. کله کله د پخوانيبو اثارو په کتابت او استنساخ کي تېروتني او لاسوهني هم د حدسي او قياسي ماناوو په څو رنګۍ او ناباورۍ کي لوی لاس لري. د پارسي ژبي د «غياث اللغات» مؤلف - غياث الدين محمد بن جلال الدين بن شرف الدين رامپوري، د ژبي په ادبي، تاريخي او علمي اثارو کي د خپلي ژوري پلټني او څېړني پر ځای، ډېر ټکي او ترکيبونه له نورو فرهنګونو لکه«فرهنګ رشيدی»، «سراج اللغات»، «شرح نصاب»، «منتخب اللغات»، «برهان قاطع» او داسي نورو څخه اخيستي دي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابو القاسم پرتو «واژه یاب: فرهنگ برابر های پارسی واژگان بیگانه»د پارسي ژبې د اوسني عصر له دغه ډول قاموسو څخه دئ، چي له مختلفو زړو قاموسو لکه«فرهنگ آنندراج»، «برهان قاطع»، «فرهنگ پهلوی»، «غیاث اللغات»، «فرهنگ عمید» او داسي نورو څخه یې پراخ ټکي اخیستي دي. البته له پخوانیو اثارو او منابعو څخه کار اخیستنه ډېره گټوره خبره ده؛ خو د نوو اثارو مؤلفان باید نه یوازي په خپلو لیکنو کي د مخکنیو لیکوالو تېروتني، نیمگړتیاوي او کمزورۍ تکرار نه کړي؛ بلکي د هغو د کار ټول ناسم او کمزوري اړخونه په علمي، معقول او منصفانه ډول انتقاد هم کړي (و.گ. غیاث اللغات). هغه قاموس لیکوونکي چي د لیکني او څېړني په کار کي د تحقیق پر ځای د تقلید لاره غوره کوي، کله کله په خپلو اثارو کي داسي تېروتني هم تکراروي، چي پېړۍ پېړۍ مخکي پخوانو قاموس لیکوونکو او لیکوالو د ماخذو او منابعو د نه بشپړتیا یا ځینو سرسري پلټنو په لړ کي کړي دي.

د پښتو ډېر نابابه او متروک لغتونه اوس هم په بشپړه توگه نه دي را ټول سوي. ما څو کاله مخکي د پښتو د عارف شاعر - علي محمد مُخلص (تر ۱۰۷۹هـ ق پوري په باوري توگه ژوندی) د دیوان د اکاډیمیک متن د برابرولو کار ته ملا وتړله. د دیوان په متن کي مي داسي لغتونه، ترکیبونه، تعبیرونه، سیمبولونه او اصطلاحات و مونده، چي ځیني یې د افغانستان د علومو اکاډیمۍ په «پښتو - پښتو تشتریحي قاموس» کي نه دي راغلي. سربېره پر دې، د پښتو په هر منظوم او منثور اثر کي داسي ټکي لېږنه دي، چي په خواشینۍ سره یې د پښتو ژبنیو قاموسو ته تر اوسه لاره نه پیدا کړې. دا ارزښتناکي لغوي زېرمي د هري ورځي په تېرېدو سره له سترگو نیهامیږي؛ او په پای کي په بشپړه توگه له منځه ځي. په داسي شرایطو او حالاتو کي، دا بې شکه د سترگه ورو او باریکبینو څېړونکو کار دئ، چي د پخوانیو موندنو په دوام د پښتنو په بېلابېلو تاریخي مېنو کي په دغه راز پټو لغوي زېرمو پسي وگرځي؛ را غونډي یې کي؛ او په علمي بڼه یې د قاموسو او نورو خپرونو له لاري خپراوي او رواجولو ته ملاوي وتړي.

د هري ژبې له هغې ډلي څخه د پښتو د زړو او متروکو لغتو سمه او کره پېژندنه په ریشتیا سره ډېر ربړ او خواري غواړي. دا ځکه چي د پخوانیو اثارو په کتابت او استنساخ کي کله کله تېروتني او عمدي لاس وهني سوي دي؛ او کله کله هم د زماني د تېرېدو او بېلابېلو اقلیمي بدلونو په سبب، ډول ډول زیانونه رسېدلي دي. دې ټولو عواملو په گډه د زړو ټکو، ترکیبو او اصطلاحاتو په سمه پېژندنه کي، لوی مشکلات او کړاونه پېښ کړي دي. له دې امله، ډېره ضروري ده، چي د پښتو ژبې ټول زاړه او متروک مواد د بېلابېلو منابعو او ماخذو په رڼا کي په دقت سره وشنل سي. دلته موږ د خروار په بڼه څو نمونې وړاندي کوو، چي د پښتو ژبې په تر ټولو بشپړ، علمي او عصري فرهنگ (د افغانستان د علومو اکاډیمۍ پښتو- پښتو قاموس) کي یې د دقیقو او کره ماناوو د پوهېدو له پاره هیڅ سند او مدرک نه دئ وړاند ي سوی؛ او په دې توگه یې لوستونکو ته د دغو ټکو د سمو او دقیقو ماناوو په پوهېدو کي، ډېره گراني پېښه کړې ده.

اپوټه(پ.پ.ت.ق.۱:۱۲):

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ټکی د حمید بابا(تر ۱۱۴۸ ق پوري په باوري توګه ژوندی )په کلام کي داسي کار سوی دئ:
څه به ستا په وراشه نه خاندي وګړي
اپوته ګفتـــګوی کم نه دئ تر سانګه
(د حمید ماشوخېل د دیوان خطي نسخه)

ارګه(پ.پ.ت.ق.۱:۳۸ ):
پربېږده ما په عاشقۍ کي ورېی تږی
ته ناصح ورځه په ډکـــه ګېډه ارګه
(د حمید ماشوخېل د دیوان خطي نسخه) بونه(پ.پ.ت.ق.۱: ۳۲۷ ):
دا ټکی د حمید بابا په یوه بیت کي داسي راغلئ دئ:
چي یې څوک په خوب کي و ویني ونه مري
یاره ستــــا د ښېلــتانه هسي بـــونه دي
(د حمید ماشوخېل د دیوان خطي نسخه)

څول څول(پ.پ.ت.ق.۲: ۱۰۹۷ ):
د حمید مومند په دیوان کي د دې ټکي د استعمال یوه بولګه:
عیب ګویۍ خلقو ، حمید هسي څول څــول کړ
لکه وریی سپي چي کښېباسي په ښکار خولې
(د حمید ماشوخېل د دیوان خطي نسخه)
مرسته (پ.پ.ت.ق.۴: ۲۸۲۷ ):
البته د مرستي په نوې مانا(کومک، بسپنه، مدد ، تعاون، معاونت، اعانه، چنده) هر څوک پوهېږي؛ خو د پخوانۍ او نابابه مانا پوهېدنه یې بې ادبي شواهدو ، اسانه کار نه دئ. د خوشال خان خټک په دېوان کي د دې کلیمې پخوانۍ مانا(هیله، آرزو ، اومید ، طلب، غوښتنه، ارمان،لټون، کوښښ او داسي نور ) داسي لولو:
اوس مي بیا مونده په کور کي
چه دایم یـــې وم په مـــرسته
(د خوشال خان خټک د دیوان نسخه)
د مقصود ګوهر په لوی دریاب کي پربوت
غواصان پکي غوټې وهـــې په مرسته
(د خوشال خان خټک د دیوان نسخه)

مندته(پ.پ.ت.ق.۴: ۲۹۱۲ ):

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ټکی د حمید بابا په یوه بیت کي داسي راغلئ دئ:
چه پیـــدا شوه نشپاتي زمـا د کُـفر
اخیستای نه شي په خوله د غره مندتي
(د حمید ماشوخېل د دیوان خطي نسخه)

د فاضل استاد- اروانباد علامه عبدالشکور رشاد(۱۳۰۰-۱۳۸۳ش)«د پټي خزانې فرهنګ» او «د خیرالبیان لغتنامه»هغه دوه فرهنګونه دي، چي له خپل کوچني حجم سره سره یې د پښتو ادب په دوو ارزښتناکو اثارو(پټه خزانه او خیرالبیان)کي راغلي ټکي زموږ له لرغوني ژبي څخه د بېلابېلو شواهدو او بولګو په وړاندي کولو سره، په ډېره علمي او دقیقه بڼه مستند کړي دي. د علامه رشاد دا دوه کوچني فرهنګونه د قاموس لیکني د نوي مېتودلوژۍ له پلوه، په افغانستان کي د خپل وخت تر ټولو عصري او علمي فرهنګونه ګڼل کیږي(و.ګ. رشاد، د پټي خزانې فرهنګ او رشاد، د خیرالبیان لیکدود او لغتنامه). البته د اروانباد دوست شینواري (۱۳۰۴-۱۳۷۲ش) په «زړه پانګه» کي هم د پښتو د زاړه ادب ډېر خواره واره ټکي خوندي سوي دي، چي پر خپل ځای ګټور او په زړه پوري علمي- تحقیقي اثر دئ.

په پخوانیبو پارسي فرهنګو کي«فرهنګ رشیدی»او په معاصرو پارسي فرهنګو کي د علامه علي اکبر دهخدا «لغتنامه»او د ډاکټر محمد معین«فرهنګ فارسی»تر نورو پارسي ژبو فرهنګونو د بېلابېلو ماخذو او منابعو په ښوولو سره د را غونډو سوو ټکو، ترکیبو او اصطلاحاتو د مستند کولو اصل ته ډېر پام کړی دئ، چي حتا په ځینو ځایونو کي یې د اروپایي ژبو تر ډېرو مفصلو او مکملو قاموسو هم ډېر زیار ایستلئ دئ.

که څه هم د هري ژبي په ادبي او علمي اثارو کي، د قاموسي ټکو د استعمال د نظایرو ښوول، ډېر لوی او ارزښتناک تحقیقي کار دئ؛ خو د دې خبري مانا دا نه ده، چي د قاموس لیکني نور ټول ضروري اصول او قواعد یوازي د لغتو په مستند کولو کي خلاصه سي.

### د پخوانیبو ټکو د اصلي او نوو ماناوو بېلول او جوتول

په پښتو ادب کي داسي ټکي ډېر دي، چي زموږ پخوانو ادیبانو، شاعرانو، مؤرخانو او نورو لیکوالو په یوه مانا استعمال کړي دي؛ خو په دې وروستیبو کلو کي زموږ ځینو لیکوالو او شاعرانو د پردو ژبو د اغېزو یا ځینو نورو عواملو له کبله هغو ته بېلي ماناوي او مفاهیم جوړ کړي دي؛ مثلاً «نوموړی»له دغه راز ټکو څخه دئ، چي له څه مودې راهیسي په بېلابېلو لیکنو او خپرونو کي د غایب مفرد شخص له پاره د اشاري ضمیر په توګه کارېږي؛ په داسي حال کي چي د پښتو د منځنۍ دورې د ځینو پیاوړو او مشهورو شاعرانو په کلام کي دا ټکی د نامتو، نومیالي، مشهور، مسما، نامدار، وتلي، نوم ګټلي، نوموتي، نومَوَر، نامي او داسي نورو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مانا راغلئ دئ. د پښتو د عرفاني شاعرئ ځلانده ستوري- علي محمد مخلص(تر ۱۰۲۹ ق پوري په باوري توګه ژوندی) په يوه بيت کي، د الله سبحانه و تعالی بې مثله ذات ته داسي خطاب کوي:

دا کتاب تا تمام کړی ته دانا ، ګويا ، **نومورې**
زه مظهر د ستا د عِلم ته صاحب د عِلم و رأی يې !
(د علي محمد مخلص د ديوان خطي نسخه)

د پښتنو د توري او قلم بابا - خوشال خان خټک(۱۰۲۲ - ۱۱۰۰هـ ق) په يوه بيت کي دا ټکی، په دغه مانا داسي راوړی دئ:

هيڅ در نه پوهېږم که رښتيا وايې که پېچمي
ماو ته دي خوله ده په خندا **نومړې**

بل ځای وايي:

بيا په کوم توکي داسي بې قولي کړې !
تا و ماته سپينه خوله نه ده **نومړې**

تر علي محمد مخلص او خوشال خان خټک وروسته، د پښتو ادب لسان الغيب شاعر- رحمان بابا( ۱۰۴۲ - ۱۱۲۸هـ ق) هم په يوه بيت کي د «نومورې» ټکی د «نومړ» او «نومړي» په بڼه، په کټ مټ همدې مانا کار کړئ دئ:

که د سرو زرو سړی وي خو چه مړ شي
نه يې نوم ثوک په خوله اخلي نه **نومړ** شي
(د رحمان بابا د ديوان خطي نسخه).

رحمان بابا ، بل ځای د «نومورې»ټکی په همدا مانا ، داسي بيانوي:

ستا له رحمه به زه ولي نوميدي کړم
چه دي ځان دئ د رحيم په نام **نومړئ**
(د رحمان بابا د ديوان خطي نسخه).

د افغاني فرهنګ د معاصري دورې وتلي او منلي استاد - اروا ښاد علامه حبيبي ( ۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰م– ۱۳۶۳ ش/ ۱۹۸۴م) هم په خپل مشهور اثر (د پښتو ادبياتو تاريخ)کي دا ټکی د پخوانو ليکوالو او شاعرانو په څېر په هماغه اصلي مانا داسي راوړی دئ:

«تر اوستا وروسته دوهم مهم نوم د دې کتاب د راوړونکي، زرتشرا يا زردشت دئ چه دا سړی د بخدي د آرئيايانو يو **نومورې** ديني مبلغ او موسس دئ.»(حبيبي، د پښتو ادبياتو تاريخ۹۰ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وړاندې سوو شواهدو او مدارکو له مخې اوس له وړایه مالومیږي، چې «نوموړی»یا «نوموړ»کلیمه په واقعیت کې د نامدار، نومیالي، نومَوَر، نامي، مشهور، معروف، مسما او داسې نورو په مانا کار سوې ده. اوس هم ځینې پښتانه په خبرو او مرکو کې دا تکی په خپله اصلي مانا کاروي؛ مثلاً وایي:«پلاني په سخاوت او مړانه کې نوم وړی دئ.» په داسې مواردو کې ښه لار دا ده، چې پخوانۍ مانا پر خپل حال پرېږدو؛ او د نوې مانا پر ځای هغه تکي استعمال کوو، چې زموږ په خلګو کې دود دي. ما هیڅکله له عامو خلګو څخه نه دي اورېدلي، چې ووایي:«نوموړي داسې و ویل یا نوموړي داسې وکړه...» زموږ خلک په خپلو سپېڅلو خبرو او مرکو کې وایي:«هغه یا هغې داسې و ویل؛ هغه/هغې داسې وکړه.» هغه(د غایب نارینه دپاره)، هغې(د غایب ښځینه دپاره)او هغوی(د غایب جمعي دپاره، چې نارینه او ښځینه دواړه پکښې شامل دي)په ټولو پښتو لهجو کې پراخ استعمال لري.

دې دلایلو ته په پام سره، د داسې پېچلو ماناوو ښېلول او سپینول، تر هر چا مخکې د علمي قاموسو د مؤلفانو کار دئ، چې د پخو او مؤثقو اسنادو په ښوولو سره، اصلي او جعلي ماناوې بېلې کړي. البته د هغو کلیمو حساب او کتاب له دې ډلې څخه جلا دئ، چې د تاریخي بدلونو په ترڅ کې یې پر پخوانۍ مانا سربېره نوې مانا/ماناوې هم اخیستې وي؛ لکه مرسته، کالي، دهګان، برېخ او داسې نور.

## د پښتو د ځینو سیمه ییزو تکو عامول او رواجول

د پښتو د متروکو او زړو تکو تر څنګ، د پښتنو په غرو او رغو کې لا تر اوسه د داسې تکو، ترکیبو او اصطلاحاتو شمېر خورا ډېر دئ، چې په بېلابېلو ښارو کې یې اوسېدونکې پښتانه ښه نه پېژني؛ لکه کاوړ(قهر، خروښ)، پمبی(آخور)، مزدک(مسجد، ماجت)، زغنجر(ناروغ، مریض)او په سلګونو نور. سربېره پر دې، په پښتو کې ځینې نور تکي هم سته، چې د پښتنو په ټولو سیمو کې باب نه دي؛ لکه نربګۍ(هغه ښځه چې د نارینه غوندې غټه مټه، تبکه پکه وي، نرګټه)؛ نرښځوکی، نرښځک/نرښځی(مخنث، خنثی، ایجړا)؛ سیوک(د سین په زېر او د واو په زْوَر)یانې کمزوری، کم جانه، ضعیف البنیه، سوځېدلئ؛ شپوه/شوه(ځوړ، مخ پر کښته، زغمل، سترګې پټول، اغماض)؛ چخړن/چیخړن، چخړک(هغه څوک چې سترګې یې چخړې کوي)؛ پتڼ(پتنګ، بورا، پروانه)؛ ورشو(شنه مځکه، شین کورم، شینبلې، شینګیا، څر ځای)؛ او بجه(مځکه، مېنه، خاوره، ټاټوبی، ملک)؛ څرَټه(لویه لنګوټه،د ویاړ او سرلوړۍ په بڼه لویه بګړۍ)؛ دروه/دروهه(ټګي برګي، چم، چل، غولونه)؛ لړه(جنګ، جګړه، شخړه، شر، فساد، ناارامي)؛ رډ(سپین سترګی، بې شرمه، سرکښ، سرټمبه)؛ پټه(خج په وروستۍ څپه)یانې زینه/ځینه، پوړۍ؛ تبک(جګ، نېغ)؛ ګرګه(لویه ډبره، زیان؛ تاوان، ضرر)، ګوسه(ډبره، تیږه)؛کاره(لویه ډبره، غټه تیږه)؛ کرکنډه(ډبره، تیږه)، بتاره(ګُرز، د جنګ کولو وسیله، یو کوتک ډوله وسله، چې د دوښمن د وهلو له پاره غټ سر لري)؛ بکرۍ(بکره، چقماق/چخماق، د اور اخیستو ډبره)،نینګل(چاته هیله یا تمه کول، له چا څخه مرسته یا کومک غوښتل)؛ کرښپل(د پله کرښه یا نخښه)؛ ګړُوب(نړېدلئ، چپه، وران)؛ بګاښ/بوګاښ(د مخالفو کسانو تر منځ سوله یا منځګړیتوب کول؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

بور(په اوږده یا مجهول واو یا نسواري رنګ)؛ تاپې(تاکلی وخت، موسم)؛ شـوډنګ(نادوده، ناوړه او شرمناک عمل)؛ لګه درګه(ګډوډي، بې نظمي)؛ انډوخر(بدمستي، خرمستي، ګډوډي، بې نظمي، لټپېر)؛ ډری(پوزخند، ملنډې)؛ کجګر(کونج، دوراهي، مـوړ)؛ ایسیت(سبب، بابت، عامل، وجه)؛ پېخر(ډېر، زیات، زښت، پرېمانه)؛ نیامت(قصد، نیت، هوډ)؛ بڼه(رنګ، څېره)؛ جوله(قیافه، د مخ ظاهري جوړښت)؛ تلولی(وارخطا، پرېشانه، نګران، اندېښمن)؛ پیشتکی(هغه څوک چې په کسبي توګه له ونو څخه مېوې شکوي)؛ ګوډانه(له ونو یا درختو څخه د مېوو ټولولو خاصه کڅوړه)؛ اینګه(هغه ښځه چې د پلرګنۍ په استازیتوب له ناوي سره د واده په شپه ملګرې وي)؛ اینکی(د ودېدو په شپه د پلار له کوره د وتو پر مهال د ناوې ژړا)؛ رینګی/رینګـټ(د کوچنیانو پرله پسې او اوږده ژړا)؛ ناټک(خندنۍ نندارە، ملنډه، ټوکه، پوزخند)، متار، کراسته، ایداد، وټه، اهاړ او په سلګونو نور هغه ټکي دي، چې زیاتره د پښتو په لوېدیځه لهجه، په تېره بیا کندهار او شاوخوا سیمو کې ډېر استعمالیږي؛ او ځینو ځینو یې د بېلو قاموسي ټکو په بڼه تر اوسه، د ژبې زیاترو قاموسو ته لاره نه ده موندلې. داسې ټکي د پښتو په نورو لهجو کې هم تر انده پاس دي.

د پښتو ځیني لیکوال، شاعران او څېړونکي کله کله په خپلو ادبي او تحقیقي اثارو کې دغه راز کلیمې او ترکیبونه کاروي، چې متأسفانه د نورو سیمو پښتانه هغو ته د پردیتوب او نااشنایي په سترګه ګوري. د دې دپاره، چې دغه او دې ته ورته کلیمې د پښتنو په ټولو سیمو او لهجو کې په بشپړه توګه وپېژندلې سي، لازمه ده چې د پښتنو په ټولو رغو او رغو کې ژوري او هر اړخیزې پلټنې وسي؛ او داسې ارزښتناکي زېرمې په ډېر غوَر او دقت را غونډې؛ او بیا د پښتو ژبې په لویو او مشرحو قاموسو کې، له اړونده مثالو او نظایرو سره، لوستونکو ته وښوول سي. که د داسې سپېڅلو پښتو ټکو په را غونډولو او ضبطولو کې پرله پسې هڅې ونسي، د زمانو په تېرېدو سره به د هغو د ویوونکو او کاروونکو دایره ورځ په ورځ تنګه؛ او په پای کې به د پښتو د نورو متروکو او هېرو سوو ټکو په دود، یو په بل پسې له لاسه وزي.

## په قاموسو کې د ځینو سیمو او ځینو ځانګړو ډلو له ژوندانه سره تړلي ټکي

لوی استاد - اروابناد علامه حبیبي(۱۲۸۹ش/۱۹۱۰م-۱۳۶۳ش/۱۹۸۴م)د قاموسي موضوعاتو او توکو په ډله کې د هغو ټکو یادونه هم کوي، چې د خلکو په یوه خاصه ډله کې ویل کیږي؛ لکه د کندهار ښځې چې د تعجب پر ځای وایي: یو(په اوله ضمه او معروف واو)یا کوچنیان چې وریجې ممې(په دوه زورکیه)بولي یا پېښوریان، چې د هډو(په اوله فتحه، دوهمه ضـمه او مجهول واو)کلـیمه ډېره استعمالوي، یا خودښکه چې ځینـي کندهاریان یې د قسـم یا تهدید دپاره وایـي(حبیبي، «د پښتو سیند به څنګه لیکل کیږي؟»، ۳).

## په پښتو ژبه کې د اشخاصو ځانګړي نومونه

هر ژبه او فرهنګ خپل خاص اعلام او نومونه لري، چې لیکل یې د ژبو په مفصلو او مشرحو قاموسو کې له ضروري مسألو څخه ګڼل کیږي. په پښتو کې هم میسری خان، رېدی خان، ببرک، زمرک، خوازک/خواځک،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارک، ژړک، پوپل، هوتک او په سلګونو نور هغه سپېڅلي نومونه دي، چي يادونه يې د ځانګړو قاموسو تر ليکني او تأليف پوري، د پښتو په عامو او هر اړخيزو قاموسو کي هم بې ګټي نه ده(حبيبي،«د پښتو سيند به څنګه ليکل کيږي؟»، ۳ ). البته په پرمختللو ټولنو کي د هغو اشخاصو د نومو دپاره ځانګړي قاموسونه هم جوړ سوي دي، چي په يوه خاصه ژبه، فرهنګ، دين يا فکري جريان پوري تړلي وي.

## په پښتو قاموسو کي د افغاني انسابو لنډه پېژندګلوي

پښتني ټولنه له بېلابېلو قبيلو ، خېلو او پښو څخه جوړه سوې ده. په خواشينۍ سره د دې مځکي دوښمنانو د تاريخ په اوږدو کي د پښتنو له قبيله يي تعدد او بېلوالي څخه په وارو وارو ناوړه ګټه اخيستې او لا يې اخلي. دا استعماري لوبې به تر هغه مهاله جاري وي، چي پښتانه د لوړ سياسي شعور په ښوولو او د ټينګو اجتماعي ، فرهنګي او اقتصادي اړيکو په رامنځ ته کولو سره د يوه غښتلي او يو موټي قومي جوړښت په توګه عمل و نه کي. بې شکه د دې مسألې د تاريخي او سياسي اړخو شننه اوږده څېړنه غواړي؛ خو د قاموس ليکني له پلوه د پښتنو د قومي جوړښت پر علمي او تحقيقي اړخ لنډي خبري، د دې ليکني له مهمو موضوعاتو څخه ګڼل کيږي.

که څه هم د انسابو او شجرو علمي سپړنه د جينيالوجي/ جينيالوژۍ د ماهرانو او محققانو کار دئ، چي له نېکه مرغه يې په دې وروستيو کلو کي زموږ ټولني ته پراخ او ګټور اثار وړاندي کړي دي. سره له دې هم د پښتو ژبې په مشرح او مفصل قاموس کي د پښتني قبيلو ، خېلو او پښو د نسبي اړيکو او تاريخي بدلونو په اړه د ځينو ضروري مالوماتو او توضيحاتو را غونډول، د پښتو ژبې، ادب او تاريخ لوستونکو ته له ګټي او دلچسپۍ خالي نه دئ؛ ځکه لوستونکي ګوري چي په پښتو ادب او تاريخ کي د بهلول او سکندر له نومو سره د لودي، د شېرشاه(شېرخان، فريد خان)له نامه سره د سوري، د مېرويس نيکه له نامه سره د هوتک، د احمد شاه بابا له نامه سره د ابدالي وروسته دُراني، د خوشال خان له نامه سره د خټک، د حيمدبابا له نامه سره د مومند (ماشوخېل)، د ميرزا حنان له نامه سره د بارکزي، د پيرمحمد او شمس الدين له نومو سره د کاکړ او ځيني نورو له نومو سره بېل قبيله يي لقبونه او تخلصونه مل دي. زموږ سياسي او ادبي تاريخ له دغه راز نومو سره نه شلېدونکى پيوند لري. په يوه اداري فرمان سره د داسي قبيله يي نومو او تخلصو د استعمال بندول په اساسي توګه زموږ د قبيله يي وروسته پاته والي مخه نسي نيولاى. په افغانانو کي د قبيله يي نفاق او شقاق له منځه وړل تر هر څه مخکي زموږ ټولو څخه دا غوښتنه کوي، چي د خپل هيواد د ورونو قومو تاريخ په دقيق ډول ولولو . دا کار په لومړي سر کي د پښتو ژبې د قاموس ليکوونکي کار دئ، چي د لنډو خو ګټورو او ارزښتناکو مالوماتو په وړاندي کولو سره د خلګو ذهنونه روښانه کړي. د افغانستان د علومو اکاډيمۍ په پښتو - پښتو تشريحي قاموس کي د پښتنو د ځينو قبيلو ، خېلو او پښو يادونه راغلې ده؛ مګر له بده مرغه په دې برخه کي هم له اړتيا سره سم کار نه دئ سوی. ځيني قبيلې په داسي بڼه بيان سوي دي، چي لوستونکي ته د هغې قبيلې د پېژندني په اړه ډېر څه نه ورکوي؛ مثلاً هوتک ته کښل سوي دي:«هوتک د پښتنو ستره قبيله ده.»(امرخېل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور، ۴: ۳۰۵۵) په دې تعریف کې ببله شکه د جامعیت او مانعیت هیڅ ځرک نه لیدل کیږي؛ ځکه په پښتنو کې پر هوتکو سربېره، ډېري نوري ستري قبیلې هم سته، چې هوتک نه دي. د لویوالي یا کوچني والي صفت هیڅکله پښتني قبیلې یو له نسي بېلولای. دلته باید لږ تر لږه د دې قبیلې د مشر یا بنسټ ایښوونکي (هوتک بابا) د پلار او نیکه، نسبي اړیکو، لومړنۍ مېنې، تاریخي مهاجرتو، او سنییو ټاټوبو او ډېموګرافیکي موندنو په اړه څه ناڅه توضیحات وړاندي سوي وای؛ ځکه په قاموسو کې د پښتنو د لویبو او کوچنییو قبیله یي واحدونو یادونه یوازي او یوازې د هغو د علمي او تاریخي پېژندني په هیله کیږي. له دې امله، په قاموسو کي هغه تعریفونه د وخت او ځای له ضایع کولو پرته بل هیڅ ګټه نه لري، چې د دغه راز قبیله یي نومو په دقیقه او علمي پېژندنه کي لازمه مرسته و نه کي.

## د تاریخي او جغرافیایي ځایو نومونه

مخکي مو د ځینو سیاستوالو، لیکوالو، مؤرخانو، ژورنالیستانو او نورو کسانو له خوا د ځینو جغرافیایي نومو د تحریف او مسخ کېدو ځیني مثالونه وړاندي کړه. دلته د لوی استاد - اروانښاد علامه حبیبي (۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰م–۱۳۶۳ ش/ ۱۹۸۴م) د تاریخي څېړنو او سپړنو په رڼا کي د ځینو نورو تاریخي او جغرافیایي نومو د الیشولو ځیني نوري نمونې یادوو، چي قاموس لیکوونکي یې په ارا ټولولو او کره کولو کي، لویه برخه او مسوولیت لري.

قاموس لیکوونکي باید په خپلو اثارو کي د هغو لرغونو تاریخي ځایو نومونه هېر نه کړي، چي په خواشینۍ سره اوس د ورک کېدو په حال کي دي؛ د مثال په توګه «پختیا» چي د اوسنۍ «پکتیا» پخوانۍ بڼه ده. کله چي یونانیان په پخوانو زمانو کي زموږ خاوري ته راغله، نو هغوی د خپلي ژبي د اړتیا له مخي زموږ مقامي یا ځایي نومونه په خپله بڼه واړول. له دې ایسیته چي یونیانو په خپله ژبه کي د «ښ او خ» ږغونه نه لرل، نو «پښتون» یې د «پکت» یا «پکتویس»، «باختر» یې د «بکتر»، «پختیا» یې د «پکتیا» او «پښتونخوا» یې د «پکتیکا» په نامه یاده کړه (حبیبي، «د پخوانو نومونو خپل پخوانۍ ډولونه،»، هنر ۱-۲، ۳-۴). د یونانیانو تر وتلو او فرهنګي نفوذ وروسته دا دئ ګورو چي موږ اوس پښتون، باختر، پښتونخوا ټول په خپلو اصلي بڼو وایو. یوازنۍ تاریخي نوم، چي په دې لړکي یې خپله پخوانۍ جوله الیشه کړې ده، د «پختیا» نوم دئ، چي پرځای یې د یونانیانو له وخته راپاته نوم «پکتیا» دود دئ. هندیان هم د «ښ/خ» تلفظ په «کهـ» کوي. له دې امله «خانپور» د «کهانپور» په بڼه وایي. عربو دیارلس سوه کاله مخکي د خپلو فتوحاتو په زمانه کي زموږ ډېر ځایي نومونه معرب کړه؛ د مثال په ډول «ګرمسېر» یې «جروم»، «سردسېر» یې «صدود»، «سکستان» یې «سجستان»، «سمنګان» یې «سمنجان»، «ګورګان» یې «جوزجان»، «غرستان» یې «غرجستان»، «ګرزیوان» یې «جرزیوان» کړه (حبیبي، «د پخوانو نومونو خپل پخوانې ډولونه،»، هنر ۱-۲، ۳-۴.) په افغانستان کي د «غور»، «غرچه»، «غلچه»، «غلجي»، «ګردېز»، «ګریش» او داسي نورو نومونه د «غر» له کلیمې سره مشترکه ریښه لري، چي په سنسکریت کي د «ګیري»، په لرغونې پارسي کي د «ګر»، په خورده اوستا او هوم یشت کي هم د «ګیري» په بڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلې ده. سربېره پردې زموږ د لرغوني هیواد یوه مشهوره برخه هم پخوا غرستان بلل کېده، چې عربي جغرافیا لیکوونکو او مؤرخانو هغه په «غرجستان» یا «غرشستان» یا «غرج الشار» واړوله؛ او د پارسي ادبیاتو مؤرخانو هم د هغو په پیروۍ «غرجستان» کښلئ دئ. په سراج التواریخ کي یې د دې مځکي تاریخي نوم (اجیرستان یا وجیرستان) د «حجرستان» په ډول معرب کړی دئ. سبزوار یا سفزوار زموږ د هیواد د تاریخي جغرافیې یو بل مشهور نوم دئ، چي اوس یې خلک «شینډنډ» بولي. قاموس لیکوونکي ته ښایي، چي زموږ د خاوري د تاریخي جغرافیا د دغه راز نومو ترمنځ تاریخي اړیکی څرګند کړي. که د «پختیا» بیرته رواجول اوس د ببلابېلو بدلونو له کبله ګران او ان ناممکن برېښي، نو د دې خبري سپیناوی لږ تر لږه حتمي او ضروري دئ، چي د پښتو ژبې فرهنګ لیکوونکي په خپلو اثارو کي د «پکتیا» اصلي او زړه بڼه (پختیا) هم لوستونکو ته وښیي.

لوی استاد - اروابناد علامه حبیبي (۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰م–۱۳۶۳ ش/ ۱۹۸۴م) زموږ د هیواد د تاریخي ځایونو او اشخاصو په نومو کي د ببلابېلو جغرافیا لیکوونکو ، مؤرخانو او شجره پېژندونکو ډول ډول تېروتنو ته په پام سره، د هغو د سمولو په اړه خورا په زړه پوري بیان راوړی دئ، چي دلته یې لنډه یادونه بې ګټې نه ده:
«۱- که یو ځای یا یو سړی په زړو آثارو کي ضبط وي، د هغه مقامي یا اصلي شکل دي وساتل سي، لکه د سجستان پر ځای سکستان، د بقلان پر ځای بغلان، د فروان پر پروان.
۲- که د یوه ځای نوم په پخوانو آثارو کي مونده نسي، نو دي د خلګو اوسنی تلفظ معتبر وګڼل سي، لکه د قلات پر ځای کلات، د حجرستان پر ځای اجرستان یا وجیرستان، د پقمان پر پغمان، د علیشنګ پر ځای الیشنګ، د طورخم پر ځای تورخم، د تورغندي پر ځای توره غونډۍ، د کوتل تېره پر ځای تېره کوتل او داسي نور.»

د پښتو ژبې د معاصري فرهنګ لیکني مدقق او سترګه ور استاد - اروابناد علامه حبیبي، وروسته د همدې موضوع په تړاو زیاتوي: «د کندهار غربي خوا ته مشهور ځای پنجوایي دئ، چي تر اوسه په همدغه نامه ودان پاته دئ. په عربي جغرافیایي کتابو کي دا نوم پنجوای سو. وروسته میرزایانو هندي رنګ ورکئ او پنجابیي (پنجبهایي) یې ځني جوړ کړ (حبیبي، «د پخوانو نومونو خپل پخواني ډولونه،»، هنر۱-۲، ۳-۴).
ارزګان، قندهار، ارغستان، زمینداور او په لسګونو نور هم د هغو تحریف سوو او مسخ سوو نومو مثالونه دي، چي په پوهې یا ناپوهۍ سره عربي یا پارسي رنګ ور کړل سوی دئ.

ځینو مؤلفانو د تاریخي او جغرافیایي نومو په راغونډولو کي د افراط لاره غوره کړې ده؛ هر چیري چي یې کوم تاریخي نوم لیدلئ دئ، هغه ته یې په فرهنګ کي ځای ورکړی دئ؛ لکه د ایران علامه دهخدا چي په خپله لغتنامه کي یې د مبالغې او افراط لاره اخیستې ده (نفیسی، «دستور لغت نویسی،» فرهنګ فارسی عمید **۲۵**).

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن سبا د نړۍ په بېلابېلو هېوادو کې د تاریخي جغرافیا د نومو د پاره ځانګړي قاموسونه لیکل سوي دي، چې په هغو کې د يوه هېواد يا ټاکلي تاريخي - جغرافيايي حوزې زاړه نومونه را غونډ سوي دي؛ د مثال په توګه«د لرغوني او منځنيو پېړيو هندوستان جغرافيـايي قـاموس»له دغه راز اثارو څخه دئ. د تاريخي جغرافيې په دې ارزښتناک اثر کې، د هند د پخوانيو او منځيو پېړيو هغه تاريخي او جغرافيايي نومونه تشريح سوي دي، چې د هند پر بېلابېلو اثارو سربېره يې د پښتو، پاړسي او داسي نورو ژبو په ادبي، تاريخي او جغرافيايي هستونو کې هم پراخه يادونه سوې ده. و.ګ:

(The Geographical Dictionary of Ancient & Medieval India)

په افغانستان کې د داسي تاريخي او جغرافيايي نومونو د پلټني او پېژندني د پاره د افغانستان تاريـخي او سياسي ګازيټـير ډېر ارزښتناک اثر ګڼل کېږي. و.ګ:

(Historical and political gazetteer of Afghanistan edited by Ludwig W, Adamec, 6 Vol.(Graz, Austria: Akademische Druck-u.Verlagsanstalt, 1972-1985).

لکه څنګه چې د ژبو په عامو قاموسو کې د ټولو تاريخي او جغرافيايي نومو را ټولول، معقول کار نه برېښي، همدا ډول د هر شاعر، ليکوال، مؤرخ، هونرمند او داسي نورو نوميالييو د نومو او اثارو ذکر هم د ژبي په عام قاموس کي چندان منطقي او پرځای کار نه دئ؛ ځکه د داسي نومو شمېر په هره ژبه کي ترحساب وتلئ دئ. له دې سببه د ژبي په عامو قاموسو کي اکثراً د ټولو علمي، فرهنګي او سياسي شخصيتو له يادوني ډډه کېږي. د پښتو ژبي په عامو قاموسو کي هم بايد يوازې د پښتو ژبي د مشهورو مفکرانو، عارفانو، پوهانو، مؤرخانو، اديبانو، شاعرانو، هونرمندانو او نورو لويو علمي او فکـري شخصيتو د نومو او اثارو لنډه يادونه وسي. په انګـرېزي ژبه کي زياتره د تاريخـي شخصـيتو د پېژندنـي له پاره د څـوک، څـوک دئ؟(Who's Who?) په نامه ځانګړي قاموسونه تأليف سوي دي، چي څېړونکـی کولای سي د پام وړ تاريخي کسانو په اړه مفصل مالومات ترلاسه کړي. د افغـانستان د تاريخي او سياسي شخصـيتو د پېژندني د پاره د پوهاند لوديـګ. و. ادمېک په زړه پوري اثر(د افغانستان تاريخي او سياسي څوک، څوک دئ؟)له مؤرخانو او څېړونکو سره ډېره مرسته کولای سي. و.ګ:

Historical and Political Who's Who of Afghanistan and its First Supplement to the Who's Who of Afghanistan: Democratic Republic of Afghanistan by Ludwig W. Adamec.(Graz, Austria: Akademische Druck-u.Verlagsanstalt, 1979.

## د تاريخي اماکنو او انسابو سمي املاوي

لکه څنګه چي مخکي هم لنډه اشاره وسوه د نوو علمي فرهنګو مؤلفان بايد د تاريخي اماکنو، قومو او انسابو نومونه هم په سمه او کره املا ثبت کړي؛ او په دې توګه لوستونکي هغو ناسمو املايي بڼو ته متوجه کړي، چي د نورو ژبو د ناسمو تلفظو او املايي کمزوريو له کبله زموږ ژبي او ادب ته رانوتي او دود سوي دي؛ د مثال په توګه کندهار، روزګان، ارغسان، سپېروان، زنګاوات، الينګار، اليشنګ، ورکزی، ساپی، ساکزی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسي نور هغه نومونه دي، چي تر اوسه پوري زموږ په ورځنيو مطبوعاتو کي د قندهار، ارزګان، ارغستان، سفيدروان، زنګاباد/ زنګی آباد، علينګار، عليشنګ، اورکزی، صافی، اسحاقزی په بڼو ليکل کيږي. توره باس (طره باز)، توروياڼا، غاټول(خاتول)او داسي نور ټکي هم د ناسمو املاوو او تلفظو په لړ کي له خپلي اصلي پښتني ختي څخه بې برخي سوي دي. د داسي مشهورو تېروتنو شمېر خورا ډېر دئ، چي ان لوستي او پوه پښتانه يې هم د نورو د ناسمو املاوو په پيروی په غلطه او تېروتلې بڼه کاروي. که په پښتو کي د نوي مېتودولوژی له مخي جوړ سوي قاموسونه زموږ د هېواد د تاريخي ځايو، اشخاصو او انسابو نومونه په سم او دقيق ډول وليکي، نو به نه يوازي پښتانه بلکي د پاړسي، عربي او خاصتاً انګرېزي ژبي ژورناليستان، ليکوال او مؤرخين هم د دغه راز ټکو په کاروَنه کي له تېروتنو سره نه مخامخ کيږي؛او په دې توګه به راتلونکو نسلونو ته د تاريخي موادو واقعيت په تحـــريف سوي او ناوړه ډول نه رسيــږي. پــــه دې ورځو کـــي د پښتونخـــوا د ســـــوات د ناکـــراريو پـــه وجـــــه د « مينګـــوري »نـــوم د خبـــري وسايـــلو لـــه لاري خـــورا ډېـــــــر اروبـــــدل کيـــــږي. د هغـــــــي سيمـــــــي ځايـــــي خلــــک دا نـــــــوم «مينګوَره»/Mingawára/(دګاف په زورکي او د واو په زوَر)تلفـــــظ کـــوي؛ خو د نورو سيمــــــو، پــــه تېره بيا لوېديځو هيوادو د تلوېزوني چېنلو خـــبريالان يې د خپــــلو ژبنيو ستونزو له مخـــــي « مينـــګُـــورَه » /Mingorá/ (په اوږده يا مجهول واو ؛ د رې په زْوَر) تلفـظ کـوي، چي له اصلي بومي تلفـــظ سره توپير لري. تاسي وګورئ، چي خپـــلو او بهرنيو ژورناليستانو زموږ د ننګرهار«توره بوړه» په څه شوډنګ لړلې ده. ايراني راديوګاني او تلوېزونونه خو يې« تورا بورا»بولي؛ ځيني نور يې د« توره بورا » او ځيني نور يـې« تـــوره بوره » تلفظوي. شاعران، ژورناليستان او نور ليکوال که داسي تېروتني وکړي، ښايي پوهان او محققان يې چندان و نه کړي؛ خو که د دغه راز تېروتنو وبا قاموس ليکوونکی هم ورسيږي، بيا نو په ټولنه کي له څو ګوتو په شمېر څېړونکو پرته، هيڅوک له دې ناروغيو ځان خوندي نسي ساتلئ. تاسي وګورئ د علومو اکاډيمۍ په پښتو-پښتو تشريحي قاموس (۳: ۱۸۳۴) کي هـم د سودان (د شمال ختيځي افريقا هـيواد ) نـوم د انګرېزي ژبي د مروَج تلفظ په دود د «سوډان»په بڼه ياني په «ډ» سره کښل سوی دئ، چي د سودانيانو له اصلي او ځايي تلفظ سره ډېر توپير لري. ښايي زموږ قاموس ليکوونکی په دې حقيقت نه وي پوهېدلئ، چي انګرېزان د خپلي ژبنۍ اړتيا له مخي هر ځای «د»په«ډ» اړوي؛ دا ځکه چي په خپله ژبه کي د «د» ږغ نه لري. له دې امله«لندن»ته«لنډن» او«سودان» ته «سوډان» وايي؛ په داسي حال کي چي سودانيان د انګرېزانو پر خلاف په خپله ژبه کـي د «ډ» ږغ نه لري. انګرېزان او امريکايان که «افغانستان»ته«افګانيستان»او «اسلام آباد» ته «ايزلام آباد»وايي، دا خو د دوی د ژبي ځانګړتيا او نيمګړتيا ده. موږ بايد د کوم دليل او ضرورت له مخي، په پټو سترګو د هغو پېښې وکوو؛ او په دې توتي ډوله تلفظو سره، خپلو ښکلو نومو ته د بهرنيانو لغوړنه بڼه ورکوو؟! زموږ قاموس ليکوونکی د«سودان»پر ځای د«سوډان»په ليکلو سره، په لوی لاس لوستونکو ته ناسمه لارښوونه کوي. د دې پر ځای چي د مسألې اصل او ريښه په ډاګه کړي، د ناسمو مالوماتو په وړاندي کولو سره ذهنونه مغشوشوي. د همدې اصل له مخي بايد د «دشت مرګو» ، «کوتل تيره» ، «درۀ خيبر» او داسي نورو پر ځای هم د هغو اصلي او سم ډولونه ياني«مرګو دښت» ، «تيره کوتل» ، «خيبر دره»او داسي نور و وايو او وليکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه جغرافيايي نومونه چي له بېلابېلو ژبو سره د تړاو پر بنسټ په څو بڼو باب دي؛ لکه بلجيم او بلژيک، بروکسل او برسلز، ناروې او نروژ، کوپينهاګ او کوپينهېګن، دينهاخ او هېګ او داسي نور هم هغه باريکي خبري دي، چي په قاموسو کي بايد د ځينو ضروري توضيحاتو په وړاندي کولو سره روښانه سي. سربېره پر دې، د تاريخ په بېلابېلو پړاوو کي د ځينو هيوادو او سيمو نومونه له يوه دوله بل دول ته اوښتي دي؛ لکه فارس او ايران، روديزيا/روديشيا او زيمبابوې (د افغانستان د علومو اکاډيمۍ پښتو - پښتو تشريحي قاموس د خپل دوهم ټوک په (۱۵۱۲- ۱۵۱۷) مخو کي د دې هيواد د نوي نامه هيڅ يادونه نه کوي؛ په داسي حال کي چي د ۱۹۸۰م کال تر اپرېل وروسته د روديزيا نوم د زيمبابوې په جمهوريت اليش سوى دئ. د پښتو - پښتو تشريحي قاموس ګټور او په زړه پوري تاريخي مالومات بايد د نوو بدلونو په رڼا کي بشپړ سوي واى)، شام او سوريه، ميينمار او برما، سيلون او سريلانکا/شريلانکا، يثرب او مدينه او ډېر نور.

## د کليمو لغوي ماناوي او جغرافيايي مفاهيم

ځيني وختونه قاموس ليکوونکي له داسي ټکو سره هم مخامخ کيږي، چي پر لغوي اړخ سربېره، جغرافيايي او تاريخي ارزښت هم لري؛ لکه کوټه، اوبه، دوشنبه، توبه او داسي نور. له لغوي پلوه، کوټه او اوبه د پښتو دوه ډېر عام او پېژندل سوي لغتونه دي؛ خو لومړى ټکى(کوټه) د اوسني پاکستان د بلوچستان مرکز، چي په پخوا زمانو کي يې«شال»يا «شالکوټ»باله؛ او انګرېزان او اوردو ژبي يې«کويټه»بولي. او دوهم ټکى(اوبه) د هرات ختيځ لور ته په چشت کي د يوه ځاى نوم دئ، چي عرب مؤرخانو په خپلو اثارو کي په«اوفه» معرب کړې ؤ(حبيبي، «د پښتو سيند به څنګه ليکل کيږي؟»، ۷.) توبه هغه عربي کليمه ده، چي په عربي، پارسي، اوردو، پښتو او ډېرو نورو ورته ژبو کي په پراخه توګه کارېږي؛ خو «توبه»پښتو قاموس ليکوونکو ته د تاريخي جغرافيايي له پلوه هم ډېره مهمه او ارزښتناکه ده؛ ځکه«توبه» د کندهار جنوب ختيځ لوري ته په جنوبي پښتونخوا کي د کوړک له غره سره د پښتنو يوه تاريخي سيمه ده، چي لوى احمد شاه هوري ومړ. دوشنبه هم هغه نوم دئ، چي تر اوسه د هفتې يا اونۍ د يوې ورځي په توګه پر پارسي ژبو خلګو سربېره د دې خوا په پښتنو کي هم استعماليږي؛ اما قاموس ليکوونکى بايد هرومرو د دوشنبې تر لغوي مانا، رېښي، تلفظ او نورو ځانګړتياوو وروسته، د تاجيکستان د پلازميني يا مرکز په توګه د هغه جغرافيايي او تاريخي اړخ هم له ياده ونباسي. روه(په لغوي مانا غره يا هسکي سيمي ته ويل سوې ده؛ خو د تاريخي جغرافيا له پلوه د پښتونخوا په مانا کار سوې ده)، باختر(په لغوي مانا د لمر لوېدو ځاى ته ويل کيږي؛ خو د تاريخي جغرافيا له پلوه هغه لقب دئ، چي د پردو له خوا بلخ ته ورکړل سوى ؤ)، خراسان(له لغوي لحاظه د لمر ختو ځاى ته ويل کيږي؛ خو د تاريخي جغرافيايي له لحاظه هغه نوم ؤ، چي ايرانيانو تر اوسني افغانستان مخکي زموږ د هيواد له پاره کاروه)هم له هغو نومو څخه دي، چي پر عامه لغوي مانا سربېره، د يوې خاصي جغرافيايي محدودې په مانا هم استعمال سوي دي. د داسي ټکو شمېر خورا ډېر دئ، چي قاموس ليکوونکي بايد د ژبنيو ځانګړتياوو تر څنګ، د هغو جغرافيايي اړخو ته هم ټينګ پام وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په قاموسو کې د افغاني، سیمه ییزو او نړی والو مشاهیرو پېژندګلوي

لکه څنګه چې په نوي قاموس لیکنه کې د یوې ټاکلې فرهنګي، فکري او جغرافیایي حوزې د تاریخي اماکنو یادونه ضروري او ګټوره ګڼل کیږي، په همدې ډول د مشهورو سیاسي، اجتماعي، فکري، علمي او ادبي څېرو لنډه پېژندنه هم مهمه مسأله ده. د پښتو ژبې مفصل او تشریحي قاموس باید له ډېر لرغونو زمانو څخه تر معاصرو وختو پورې د شېرشاه سوري، پیر روښان، اخوند درويزه، مېرويس نيکه، احمدشاه بابا، خوشال خان خټک، رحمان بابا، سید جمال الدین افغاني، علامه محمود طرزي، امیرامان الله خان، علامه عبدالحی حبیبي، استاد سید ګل پاچا الفت او داسي نورو لویو افغاني سیاسي، علمي او ادبي شخصیتو ژوند او کارنامې لوستونکو ته ورو وپېژني. په دې لړ کې باید حتا زموږ د ګډې، ادبي، علمي او فرهنګي حوزې ځینو نورنومیالي؛ لکه ابوریحان البېروني، فردوسي، سنایي غزنوي، مولانا جلال الدین بلخي رومي، شېخ سعدي شیرازي، شېخ عزیزالدین نسفي، حافظ شیرازي، شېخ احمد کابلي سرهندي، میرزا عبدالقادر بېدل او داسي نور هم له یاده و نه ایستل سي؛ ځکه چې د دغه راز نامتو ادبي، عرفاني، فکري او علمي شخصیتو نظریې او اثار په پښتو ادبیاتو او پښتني تاریخ کې ژورې ریښې لري. همدغه راز په دې ډله کې د ځینو نړی والو نوموَړو ادبي او علمي څېرو لکه پوشــکین، تولستوی، ماکسیم ګورکي، شېکسپېر، چارلس ډیکینز، ګویته، هوګــو او داسي نورو د ژوندانه او اثارو لنډه پېژندنه هم بې ګټې نه ده.

په بېلابېلو ژبنیو قاموسو کې د دغه راز ارزښتونو او ښېګڼو د رانغاړلو دپاره له مختلفو لارو چارو څخه استفاده سوې ده؛ مثلاً په انګرېزي کې د سیاسي، علمي او ادبي مشاهیرو پېژندګلوي اوس له ځینو دایرة المعارف ډوله قاموسو (لکه د آکسفورډ شل جلدي انګــرېزي قاموس) پرته، زیاتره د ژبې د عامو فرهنګونو پر ځای د خاصو پوهنغونډو (دایرة المعارفو) په پاڼو کې موندل کیږي. په نورو ژبو کې هم له دې مسألې سره یو راز چلند نه دئ سوی؛ مثلاً د علامه دهخدا په لغتنامه کې د پارسي ادب او اسلامي علومو د مشاهیرو په پېژندنه کې د مبالغې او افراط لاره غوره سوې ده، چې دې کار تر ډېره حده د هغه ارزښتناکي لغتنامې ته د ادبي تاریخ او ژبني پوهنغونډ بڼه ورکړې ده. د ډاکټر محمد معــین په شپږ جلدي فارسی فرهنګ کې د دې مقصد دپاره د لغتو د پراخي زېرمي تر څنګ، یو بېل ټوک ته ځای ورکړل سوی دئ. دغه راز، ډاکټر محمد معــین د «برهان قاطع» پینځم ټوک یوازې د هغه قاموس د بېلابېلو موضوعاتو په اړه خپلو تعلیقاتو ته بېل کړی دئ. د حسن عمید د فارسی فرهــنګ په درې جلدي دوره کې د ادبي، علمي او فکري مشاهیرو د پېژندګلوی اړخ ته چندان پام نه دئ سوی. په پښتو قاموسو کې د افغانستان د علومو اکاډیمۍ پښتو - پښتو تشریحي قاموس یوازنۍ عصري او اکاډیمیک فرهنګ دئ، چې د کتاب په بېلابېلو ټوکونو کې یې د الفبا د تورو په ترتیب د ځینو ادبي، علمي، فرهنګي او سیاسي مشاهیرو پېژندني ته څه نا څه ځای ورکړی دئ؛ مګر په دې برخه کې د راغونډو سوو شخصیتو شمېر د لوستونکو تر اړتیاوو ډېر لږ دئ. ژبني قاموسونه باید په دې برخه کې د اعتدال لاره غوره کې؛ ځکه په دې کار کې د افراط لاره، قاموس د پنډوالي له پلوه په پوهنغونډ یا دایرة

(c) ketabton.com: The Digital Library

المعارف اړوي، چې ښايي هر څوک يې د رانيولو وس ونه لري؛ او د تفريط لاره يې هم په حقيقت کې د لوستونکو زياتېدونکو اړتياوو ته د شا کړځولو په مانا ګڼل کيږي. د همدې استدلال له مخې بايد د ځانګړو قاموسو او پوهنغونډونو تر ليکلو پورې د مشهورو سياسي، علمي او ادبي مخکښانو پېژندګلوي، د ژبې په مشرحو او مفصلو فرهنګو کې هم له قلمه و نه لوېږي.

## په قاموسو کې زموږ د سيمې د بېلابېلو نژادي او قومي ډلو، دينو، مذهبو، فکري او عرفاني لارو پېژندګلوي

دا خبره هر چا ته ښکاره ده چې پښتو ژبه، ادب او تاريخ زموږ د سيمې له ژبنی، فکري او فرهنګي حوزې سره نه شلېدونکې اړيکې لري. زموږ په تاريخي او ادبي اثارو کې زياتره د تاجک، اوزبک، چغتايي، عرب، سلجوقي، تېموري، صفوي، قاجاري، مغولي، بلوڅ، نورستاني، پشه يي او داسي نورو تاريخي او ايتنيکي واحدو نومونه کارېږي، چې د هغو مفصله څېړنه د انتروپالوجی/ انتروپولوژۍ او اتينوګرافی کار دئ؛ خو د هغو د لغوي او تاريخي مفاهيمو په اړه رڼا اچول، د ژبو د تشريحي قاموسو د ليکوالو له کار او هڅو سره مستقيم ارتباط لري. همدا رنګه زموږ په پراخه فکري او کولتوري حوزه کې بېلابېلو دينو، مذهبو او تصوفي لارو ژوري ريښې ځغلولې دي، چې د هغو لنډه علمي پېژندنه د پښتو ادب مينه والو ته ډېر ضروري او په زړه پورې مالومات ګڼل کيږي.

## په پښتو او پارسي قاموسو کې، د اسلامي عرفان او فلسفي تفکر د مهمو اصطلاحاتو راغونډول او شنل

پښتو او پارسي ادبيات لکه څنګه چې مخکې هم اشاره وسوه، له اسلامي عرفان سره ټينګ او نيژدې تړاو لري. زموږ ډېرو مفکرانو، عرفاني مخکښانو، اديبانو او شاعرانو په خپلو اثارو کې د اسلامي تصوف او عرفان پر بېلابېلو موضوعاتو او اړخو خورا ژور بحثونه کړي دي. اسلامي عرفان هم د نورو علومو په څېر د مسايلو او مباحثو د شنني د پاره ډول ډول اصطلاحات، ترکيبونه او تعبيرونه کاروي، چې د هغو له زده کړې او پوهېدو پرته د عرفاني او فلسفي نظريو هضم ډېر ګران کار دئ. که څه هم د عرفاني اصطلاحاتو، سيمبولو او تعبيرو د بشپړې او هر اړخيزې څېړنې د پاره له ډېرو کلونو راهيسې ځانګړي قاموسونه ليکل سوي دي؛ مګر سره له دې هم بايد د پښتو او پارسي په لويو او مشرحو فرهنګو کې د داسې اصطلاحاتو، تعبيرو او سيمبولو را ټولولو او سپړلو ته لازمه توجه وسي؛ د مثال په توګه بحرحيوان، آب حيوان، محيط بحر، ذات، صفات، شريعت، حقيقت، معرفت، وحدت الوجود، وحدت الشهود، د روح عالم، د مثال عالم، د لاهوت عالم، د ملکوت عالم، د ناسوت عالم، د وحدت عالم، د کثرت عالم، کشف، الهام، سماع، تجلی/ تجلا، ظاهر، باطن، ظاهري پوهه، باطني پوهه، حجاب، تعلق، حضور، غيبت، جمعيت، تفرقه، نفي، اثبات، فنا، بقا، وجود، عدم، ممکن، مستحيل، جوهر، عَرَض، خوف، رجأ، تزکيه، حُليه او سلګونه نور زموږ په بېلابېلو عرفاني او فلسفي اثارو کې خورا ډېر تکرار سوي دي. قاموس ليکوونکی بايد د دغه راز ژورو عرفاني او فلسفي اصطلاحاتو، تعبيرونو او تأويلونو مستند مثالونه زموږ د نظم او نثر په مختلفو اثارو کې وښيي؛ او بيا يې د کراس - ريفرينس په مرسته له نورو اړونده يا نيژدې اصطلاحاتو سره يو ځای لوستونکو ته ور وپېژني؛ مثلاً

(c) ketabton.com: The Digital Library

د «وحدت الوجود»د مانا او پېژندنې په پای کې د لوستونکي پام د «وحدت الشهود» اصطلاح ته هم واړوي؛ ځکه د نوي او علمي مېتودولوژۍ په رڼا کې د قاموس لیکوونکي رسالت او مسوولیت یوازې د را ټولو سوو ټکو په مانا کولو او تشریح کې نه ختمیږي. یوه او مجرب قاموس لیکوونکی باید د اړونده، متقاربو، همډوله او متضادو ټکو د پېژندنې او شننې په مقصد هم د قاموسو د استعمالوونکو ذهنونه روښانه کړي. په حقیقت کې د دغه رنګه بشپړو مالوماتو په وړاندې کولو سره لوستونکي د پام وړ ټکې د ښې پېژندنې د پاره ارزښتناک مواد تر لاسه کوي، چې ښایي له کراس ریفرینس پرته یې، کله د مخامخ کېدو او موندنې امکان تر ګوتو نه کړي
.

پـه قاموسو کې د پېژندل سوو ملي او بین المللي مخففاتو را غونډول او تشریح کول
په نوي او علمي قاموس لیکنه کې، بل مهم اصل د پام وړ ژبې په ادبي، علمي او فرهنګي قلمرو کې د مشهورو نړېوالو مخففاتو راغونډول او تشریح کول دي. البته په پښتو او پاړسي ژبو کې تر اوسه د مخففاتو استعمال ډېر باب نه دئ؛ خو په اوروپایي ژبو، په تېره بیا انګرېزي ژبه کې دد غه راز اختصاراتو یا لنډو نخښو کاروَنه ډېره پراخه او عامه ده. د نورو ژبو ویوونکي هم په بېلابېلو بڼو د اوروپایي ژبو له مخففو نخښو سره لاس او ګرېوان دي. له دې کبله بې ګټې نه ده، چې د لیکنې په دې برخه کې د انګرېزي ژبې د ملي او بین المللي مخففاتو په اړه څو لنډ ټکي وړاندي کړو. په انګرېزي ژبه کې اصلاً د کلیمو لنډي یا مخففي بڼې پر درو بېلو ډولو وېشي
:

الف)سرتوري یا الفبیتیزم(Alphabetism): په الفبیتیزم کې لکه څنګه، چې له نـامه یې ښکاري د بېلابېلو ترکیبو د هر ټکـي د سر تـوری د الفبـا د تورو د یوي لړۍ په شان، په جـلا جـلا بڼه تلفظ کــــېږي؛ لکه: I.M.F., E.U., B.B.C., A.M., P.M. او داسې نور.

په افغانستان کې د الفبیتیزم دود ډېر پخوانی او عام نه دئ. یـوازي پـه دې وروستیبو څو لسیزو کې د ځینو ګوندونو او دولتي ادارو د اوږدو او بې خونده نومو د لنډولو دپاره، په لیکنو کې له دې قاعدې څخه کار اخیستل کېده؛ لکه ا.ډ.ج. (د افغانستان ډیموکراتیک جمهوریت) ح.د.خ.ا. (حزب دیموکراتیک خلق افغانستان )او داسې نور.

ب)د یوي کلیمې په بڼه سرنومونه(Acronyms): د بېلابېلو ټکو د سرتوري، چې ګرده په ګډه د یوي کلیمې په څېر ویل کیږي؛ لکه: NATO, SEATO, UNESCO, ECO, UNO او داسې نور.

د افغانستان په دواړو رسمي ژبو(پښتو او دری)کې د اکرینمو کاروَنه ډېره محدوده ده. یوازې د ګوتو په شمېر څو بولګې لرو؛ لکه: اګسا(د افغانستان د ګټو ساتونکې اداره؟)، کام(کارګري استخباراتي مؤسسه؟)، خاد (خدمات اطلاعات دولتی)او څو نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج)د مرکبو ټکو لنډون یا انقباض(Contraction):

په دې ډله مخففاتو کې دوه یا څو لغتونه د یوه یا څو تورو په ایسته کولو سره یو ځای کیږي ؛ لکه: don't, wouldn't, can't او داسي نور.(Atkins and Rundell 165)

پروفیسر جګسن او پروفیسر امویله په خپل اثر کې د انګرېزي ټکو د لنډولو ځیني نور ډولونه داسي په ګوته کوي:

الف) د کلیمو د ځینو برخو لنډوَنه(Clipping):

کلیپینګ یا د کلیمو جزیي لنډوَنه د لغت جوړولو داسي وسیله ده،چي په هغې کي د لغت د تـنـې یوازي یوه برخـه ساتلـه کـیږي؛ او نـوري برخـې یـې ایسته کـیږي؛ لـکه لـه"*lab*oratory"څخه د "lab" لومړنۍ برخه یا له "aero*plane*"او "tele*phone*" کلیمو څخه په وار سره د "plane" او "phone" وروستـۍ برخي یـا له "in*flu*enza" څـخه د "flu" منځنۍ برخه ساتله سـوې ده. په هـمدې ډول دي د "bra"، "bus"، "car" او "mob" کلیمي چـي د "brassiére"، "omnibus"، "motorcar" او"mobile vulgus" لنـډ شکلونه دي.(Jackson and Amvela 102)

ب)شاجوړوَنه(Back Formation):

په شاجوړونه یا بک فورمېشن کي له هغه زاړه لغت څخه نوی لغت جوړوي، چي په تېروتني سره له هغه څخه مشتق ګڼل کیږي؛ مثلاً بنايي و ویل سي، چي د"peddle"او"televise" فعـلونه په وار سره د "er"او "ion" ورستاړو تر لنـډولو وروسته د "peddler" او "television" له ورته نومو څخه اخیستل سوي دي.(Jackson and Amvela 102)

داسي حالـتونه هم سته، چي الفـبیټیزم(Alphabetism)، اینیشلـیزم(Initialism) یا ابریویېشنونه (Abbreviations)او اکرینمونه(Acronyms)په ګډه سره یو ځـای کیږي؛ لکه: VP(Vice President) چـي د "veep"په بڼـه تلفـظ کـیږي.(Jackson and Amvela 103)

ج)د بې خجه واول حذفول(Aphetic Form):

د کلیمو د لنډولو په دې ځانګړی ډول کـــي، د هغو لومړنی بې خجه واول له تلفظ څـــخه لوېږي ؛ لکـه: "scuse me"چي د "excuse me"یا "cause"چي د "because"دپـاره د تلفـظ د لـنډ شکل په توګه کاریږي. د دغه راز مخففاتو انګیزه لنډوالی، اسانه یادوَنه او کلـه کله د یـوه اوږده او بې خونده ترکیب پر ځای د پاسته او په زړه پوري مخفف ټاکل دي.(Jackson and Amvela 102-103)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو او پارسي کې هم د ځينو ټکو بعضې توري په تلفظ کې د روندوالي او ګرانۍ له کبله، له تلفظ څخه لوېدلي دي؛ لکه: ګرسره (ګردسره)، وسرۍ (وستري)، خلرم (څلورم)، نم (نهم)، کم (کوم)، واله (واخله)، دِله (دلته)، چې (چې يې)، مې (مې يې)، بې (به يې)، کې (که يې)، بخو (بخور)، شتر (اشتر)، شکم (اشکم)، ديګر (نمازديګر)، پيشين (نمازپشين)، شهبال (شاه + بال)، شهپر (شاه + پر) او داسي نور.

## په قاموسو کې د طبيعي او اقليمي پيداوارو نومونه او تصويري بيان

د ځينو ژوو، خوړو، بوټو، مېوو، سبو، دارو درملو او داسي نورو ځانګړو شيانو پېژندنه زياتره د هغو د خصوصياتو او نښو نښانو په مرسته اسانه وي؛ ځکه دغه راز موجودات په حقيقت کې د مشخصو اقليمي او محيطي شرايطو پيداوار دي. ياني هغه څه چي په هند او افريقا کې پيدا کيږي، ښايي په افغانستان او ځينو ورته اقليمي او محيطي شرايطو کې و نه موندل سي. البته په يوه ژبه کې د راز راز طبيعي او جغرافيايي موجوداتو د پېژندني له پاره د خاصو نومونو نسته والی د هغې ژبې د لغوي فقر او ادبي بېوزلۍ په مانا نه دئ؛ ځکه داسي نومونه د انسانانو د مانوي بشپړتابه او فکري نبوغ ښکارندوی نه، بلکې د هغو طبيعي او اقليمي شرايطو زېږنده دي، چي د ځای، هوا او اوبو په بېلوالي سره توپير مومي. داسي ټکي هم په حقيقت کې د هغو لغتو په شان دي، چي د يوه ځانګړي ملت له تاريخي دودونو او وياړنو يا په بله ژبه ادبي او تاريخي اثارو سره نه شلېدونکې تړاو لري؛ لکه اوربل، پلو، شمله، بګړۍ، ګودر، شپېلۍ، نوګريځي/ نکريځي، ايلبند، ننواتي او په سلګونو نور، چي کېدای سي د نورو ژبو او نورو ملتو په ادبي او کولتوري اثارو کې يې چندان څرک نه وي؛ خو د پښتنو د ژوندانه او ادب نه بېلېدونکې برخه ده. بالعکس د نورو ولسونو په ژبو او کولتوري ميراثو کې هم داسي ټکي، ترکيبونه، تعبيرونه او اصطلاحات خورا ډېر دي، چي د پښتنو په ملي فرهنګ کې يې تر اوسه چندان نښه نښانه نه ليدل کيږي. همدا سبب دئ، چي د بېلابېلو سيمو خلګ د نا اشنا محيطي او اقليمي پيداوارو په نومو ښه نه پوهېږي؛ او د دقيقه پېژندنه يې کله کله ان د يوې اوږدې مقالې د ليکلو په مرسته هم ګرانه وي.

دې ستونزو ته په پام سره، په معاصره قاموس ليکنه کې دا خبره ګټوره او حتا ضروري برېښي، چي د دا ډول طبيعي او اقليمي موجوداتو نومونه په ځينو مشترکو او بين المللي ژبو هم وکښل سي؛ او له امکاناتو سره سم د هغو تصوير هم وړاندې سي؛ مثلاً که د ايرانۍ پارسۍ د «شنبليله» ټکي د توضيح د پاره په دري کې «اولبه»، په پښتو کې «ملخوځې»، په هندي کې «ميتهي» او په انګرېزي کې "febygreek" وکښل سي، نو له لوستونکو سره به بې شکه د دې کليمې په سمه او اسانه پېژندنه کې ډېره مرسته وکي.

د انګرېزي ژبي متل دئ، چي وايي: يو تصوير/ عکس د زرو کليمو ارزښت لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

(A picture is worth a thousand words). ځینو د تصویر ارزښت تر دې لا هم لوړ ښوولئ دئ؛ او وايي: یو تصویر د لسو زرو کلیمو ارزښت لري(One picture is worth ten thousand words) . نو ځکه دا خبره ناځاپي نه ده چې عکسونه، انځورونه، ډیاګرامونه او نور تصویري بیانونه (graphic illustrations)په حقیقت کې د بېلابېلو ټکو د تفسیر او بیان دپاره، د زیاتو خبرو او څرګندونو اړتیا له منځه وړي. دا کار که څه هم زیاتره د مبتدیانو او لږ لوستو کسانو د استفادې په مقصد کیږي؛ خو عملاً د قاموسو ټولو کار اخیستوونکو ته ګټه رسوي.(Atkins and Rundell 192)

د اینټرنیټ په عصر کې د عکسونو، انځورنو او نورو تصویري څرګندوونو ستونزه تر ډېره ځایه لیري سوې ده. دې اصل په زیاترو اینټرنیټي فرهنګونو او پوهنغونډونو او هغو فرهنګو او پوهنغونډونو کې، چې د ډېوي ډي په بڼه برابر سوي دي، تر ډېره حده عملي جامه اغوستې ده؛ او ورځ په ورځ د لا پراخېدو په حال کې دئ (و.ګ. ویکیپیډیا، اینسایکلوپیډیا بریټانیکا، اینسایکلوپیډیا اینکارټا، اکسفورډ اینسایکلوپیډیا، ورلډ بوک اینسایکلوپیډیا او داسې نور).

تر دې ځایه مو د نوي قاموس لیکنې د لویو او ارزښتناکو اصولو په اړه ځیني یادوني وکړې؛ خو د دې علمي څانګې د لیکنې یا ژباړې اصول او قواعد هیڅکله دلته نه ختمېږي. قاموس لیکنه هم د هري بلې علمي څانګې په شان، له نوو ټولنیزو بدلونو او پرمختګو سره ګام په ګام بشپړتیا او پرمختیا مومي. دې واقعیت ته په پام سره باید پښتانه، ژبپوهان، لغتپوهان او قاموس لیکوونکي هم په نه ستړې کېدونکې توګه، د پښتو قاموس لیکنې د خوځنده بهیر د لا زیات سمبالښت، نوي والي او علمي بډاینې له پاره خولې توی کړي.

## ماخذونه او منابع


آشوری، داریوش. فرهنگ سیاسی.چاپ ششم.تهران: مراورید، ۱۳۵۲.

افغانی نویس، عبدالله. افغان قاموس.کابل: پښتو ټولنه، ۱۳۳۵- ۱۳۳۲.

افغانی نویس، عبدالله. لغات عامیانهٔ فارسی افغانستان.کابل: ریاست مستقل مطبوعات، ۱۳۴۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الحسینی المدنی التتوی، لعبدالرشید بن عبدالغفور. فرهنگ رشیدی. بتحقیق و تصحیح محمد عباسی.۲ج. تهران: کتابفروشی بارانی، ۱۳۳۷.

الفت،ګل پاچا. لغوي څېړنه.کابل: پښتو ټولنه، ۱۳۲۱.

الهنائي الأزوي، علي بن الحسن. المنجد فی اللغة و الاعلام.بیروت: دار المشرق،۱۹۹۴.

امرخېل، څېړنوال عزیزالله، او نورو. د پښتو - پښتو تشریحي قاموس.۴ټ. د میدیوتیک مرکز او ډنه او چاپ.کابل: د افغانستان د علومو اکاډیمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز، ۱۳۸۳.

انصاری، مسعود. روش نو در دستور زبان انگلیسي.تهران: مؤسسۀ مطبوعاتی فرخی، ۱۳۴۵.

بدخشی، شاه عبدالله. د افغانستان د ځینو ژبو او لهجو قاموس.۲ټ.کابل: پښتو ټولنه، ۱۳۳۹.

برهان تبریزی، محمد حسین بن خلف.برهان قاطع. به اهتمام دکتر محمد معین.۵ج. تهران:امیر کبیر،۱۳۶۲.

بړېځ، محبت خان، نواب. ریاض المحبت. Or4490.بریټیش کتابتون.لندن. ( خطي نسخه ) .

بړېځ، الله یار خان. عجایب اللغات. Or4491. بریټیش کتابتون.لندن.(خطي نسخه) .

بېنوا ، عبدالرووف. ادبي فنون.کابل: پښتو ټولنه،۱۳۲۲.

پرتو ، ابوالقاسم. واژه یاب: فرهنگ برابر های پارسی واژگان بیگانه.۳ج. تهران: از انتشارات اساطیر، ۱۳۷۳.

پښتو اکاډیمي، پېښور پوهنتون.پښتو ژبه.۸ټ. پېښور: پښتو اکاډیمي،۱۹۷۰.

تالقانی، نورالله. فرهنگ اصطلاحات نوین.کابل: ریاست عمومی امور سیاسی اردوی ج. د. ا.، ۱۳۵۹.

جعفری لنگرودی. محمد جعفر.فرهنگ حقوقی. تهران: ابن سینا ،۱۳۳۴.

جعفری لنگرودی. محمد جعفر. ترمینولوژی حقوق.تهران: ابن سینا ،۱۳۴۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حییم، سلیمان. فرهنگ جامع فارسی - انگلیسی. ۲ج. طهران: کتابفروشی یهودا بروخیم و پسران، ۱۳۵۱. ج۱.

حبیبي، عبدالحی، پوهاند. پښتو نثر ته کره کتني. کابل: د افغانستان د علومو اکاډیمۍ د ژبو او ادبیاتو علمي او تحقیقي مرکز، پښتو ټولنه، ۱۳۶۰.

---. «د پخوانو نومونو خپل پخواني ډولونه.» هنر ۱-۲ (۱۳۶۰): ۳-۴.

---. د پښتو ادبیاتو تاریخ. ۲ټوکه. کابل: د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځی، ۱۳۲۵. ۱ټ.

---. «د پښتو ژوندي کلمات په پخوانۍ فارسي کښې.» کابل ۳۱ (۱۳۴۰): ۲۱-۲۴.

---. «د پښتو سیند به څنګه لیکل کیږي؟» وږمه ۱-۲ (۱۳۴۵): ۱-۲.

---. «د پښتو لغاتو د تحقیق لاري.» کابل ۲ (۱۳۲۳): ۲-۴.

---. «د پښتو لغوي تطور.» کابل ۲۷۹-۲۸۱ (۱۳۲۹): ۱۲۷-۱۴۲.

---. «د کلماتو مرګ او ژوند.» کابل ۱۰ (۱۳۲۴): ۱-۳.

خانلری کیا، زهرا. فرهنگ ادبیات فارسی دری. تهران: بنیاد فرهنگ ایران، ۱۳۳۱.

خټک، خوشال خان. دیوان. Or.4229-Foll.511. لندن. برټیش کتابتون. (خطي نسخه).

دارمیستتر، جېمز. د دارمیستتر پښتو څېړني. فارسی کوونکی: سید قاسم ریشتیا، پښتو کوونکي: عبدالحی حبیبي او عبدالرؤف بېنوا. کابل: پښتو ټولنه، ۱۳۲۲.

داعی الاسلام، سید محمد علی. فرهنگ نظام. ۲ج، چاپ دوم. تهران: دانش، ۱۳۶۲.

دهخدا، علی اکبر. لغت نامه. تهران: دانشگاه ملی تهران، ۱۳۳۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رامپوری، غیاث الدین محمد بن جلال الدین بن شرف الدین. غیاث اللغات. بکوشش منصور ثروت.تهران: امیر کبیر، ۱۳۶۳.

رحمـان بابـا ، عبدا لرحمان، سربنی. دیوان. or 4493.بریټیش کـتابتـون.لنـــدن. (خطـي نسخه).

رحيمي، محمد هاشم او نور. پښتو ـ انګليسي قاموس.پېښور: مؤسسهٔ نشرات آريانا ، ۱۹۹۹.

رشاد ، عبدالشکور، پوهاند. « د خيرالبيان ليکدود او لغتنامه» خير البيان د بايزيد روښان. کابل: د کابل پوهنتون د ادبياتو او بشري علومو پوهنځی، ۱۳۵۳.

---. د پټي خزانې فرهنګ. دوې برخې.کابل: د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځی، ۱۳۶۲.

روښان، بايزيد ، انصاري، اورمړ. خير البيان د بايزيد روښان. کابل: د کابل پوهنتون د ادبياتو او بشري علومو پوهنځی، ۱۳۵۳.(عکسي چاپ).

زاهدی، حسين. فرهنگ انگليسی-فارسی خيام. تهران: کتابفروشی خيام، ۱۳۵۰.

زيار، مجاور احمد ، پوهاند ، ډاکټر. دری- پښتو فرهنګ.کابل: د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځی، ۱۳۶۳.(ګستتنري چاپ).

شاد ، محمد شاه. فرهنگ آنندراج. زير نظر دکتر محمد دبير سياقی.۷ج. ، چاپ دوم،تهران: کتابفروشی خيام، ۱۳۶۳.

عطايي، محمد ابراهيم. د قبايلي سيمو حقوقي، جزايي او تعاملي قاموس. کابل: د افغانستان د علومو اکاډيمي، ۱۳۵۷.

عميد ، حسن.فرهنگ عميد.۳ج. ، چاپ دوم،تهران: امير کبير ، ۱۳۶۵.

غوثی، محمد عارف. قاموس اقتصاد.کابل: از انتشارات مجلهٔ اقتصاد رياست عمومی اتاق های تجارت کابل، ۱۳۴۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قلندر مومند ، صاحبزاده، حبیب الرحمان او فرید صحرائی. دریاب. پېښور: این ډبلیو ایف پي ټېکسټ بک بورډ، ۱۹۹۴.

کاکړ، لعل محمد او عبدالحی حبیبي. سپېڅلي پښتو. کندهار: طلوع افغان، ۱۳۱۸.

کامل مومند ، دوست محمد خان. «مقابله، تصحیح او نوټونه.» تاریخ مرصع تألیف د افضل خان خټک. پېښور: یونیورسیټي بُک ایجنسي، ۱۹۷۵.

گوهرین، دکتر سید صادق. فرهنگ و تعبیرات مثنوی. اثر جلال الدین محمد بلخی. ۹ج، چاپ دوم. تهران: کتابفروشی زوار، ۱۳۲۲.

مخلص، علي محمد. دیوان. or 6756. بریټېش کتابتون. لندن. (خطي نسخه).

معروفی، دیپلوم انجنییر خلیل الله. به کهنهٔ خود بساز که نو دیگران گران است (۹) وجوه تمایز تفارق «فارسی ایران» با «دری افغانستان». www.afgazad.com

مومند ، ماشوخېل، عبدالحمید. دیوان. B.M.Or.2804-Foll.119. برټیش کتابتون. لندن. (خطي نسخه).

مومند ، محمد گل خان، وزیر. پښتو سیند. ۲ټ، کابل: عمومي چاپخانه، ۱۳۱۲.

معین، محمد ، دکتر. فرهنگ فارسی. ۲ج. تهران: امیر کبیر، ۱۳۲۳.

نجفی، ابوالحسن. فرهنگ فارسی عامیانه ۲ج. تهران: نیلوفر، ۱۳۷۸.

نفیسی، سعید ، استاد. «دستور لغت نویسی.» فرهنگ عمید. ۳ج، چاپ دوم، تهران: امیر کبیر، ۱۳۲۵.

نفیسی، سعید ، استاد. فرهنگ فرانسه- فارسی. تهران: انتشارات صفی علیشاه، ۱۳۲۴.

نفیسی، میرزا علی اکبر خان، دکتر، ناظم الاطبا. فرهنگ نفیسی. ۵ ج. تهران: کتابخانهٔ خیام، ۱۳۵۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نوري، محمد ګل. پښتو قاموس[چې د ځینو افغان لیکوالو او څېړونکو په استناد یې اصلی نوم نوراللغات ؤ] .۲ټ.کابل: پښتو ټولنه، ۱۳۳۳.

.... د پښتو اصطلاحات او محاورې.کابل: پښتو ټولنه،۱۳۲۰.

نیک آیین، امیر. واژه نامۀ سیاسی و اجتماعی. ایران: حزب تودۀ ایران،۱۳۵۰.

هلالي، عبدالحکیم، څېړنوال، ډاکټر. پښتو قاموس لیکنه.کابل: پښتو ټولنه،۱۳۵۴.

هوتک، محمد. پټه خزانه. به تصحیح و تحشیه و تعلیقات عبدالحی حبیبی.کابل: پښتو ټولنه، ۱۳۲۳.

هوتک، محمد. پټه خزانه. به تصحیح و تحشیه و تعلیقات عبدالحی حبیبی. دوهم چاپ.کابل: د پوهني وزارت،۱۳۳۹.

Adamec, L. W. Historical and Political Gazetteer of Afghanistan. 6Vol.(Graz, Austria: Akademische Druck-u.Verlagsanstalt, 1972-1985.

Adamec, L. W. Historical and Political Who's Who of Afghanistan and its First Supplement to the Who's Who of Afghanistan: Democratic Republic of Afghanistan. Graz, Austria:Akademische Druck-u.Verlagsanstalt, 1979.

Apperson, G.L. Dictionary of Proverb. Hertfordshire: Wordsworth, 1993.

Aryanpur, Abbas & M. Aryanpur. The English-Persian Collegiate Dictionary. 2 Vols. Tehran: Amir Kabir Publication Organization, 1992.

Atkins, Sue, B.T. & Michael Rundell. The Oxford Guide to Practical Lexicography. Oxford: Oxford University Press, 2008.

Bellew, H.W. A Dictionary of the Pukkhto or Pukshto language.London:W.H. Allen & Co., 1867.

Clari, Michela & Martyn Bark. Collins Robert French Dictionary. New York: HarperCollins, 2000.

Clark, J.O.E. A Dictionary of English Idioms. London: HarperCollins, 1988.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Coulson, J., Prof. C.T. Carr & L. Hutchinson. The Reader's Digest Great Encyclopaedic Dictionary. 3 Vols. 2nd ed. London: The Reader's Digest Association, 1964.

Cruse, D.A. Lexical Semantics. Cambridge: Cambridge University Press, 1986.

Dorn, B. "Glossary." subjoined to 'A Chrestomathy of the Pushtu or Afghan Language'. (St. Petersburg: St. Petersburg's Imperial Academy of Sciences, 1847) pp.387-617.

Gifis, S. H. Law Dictionary. New York: Barron's Educational Series Inc., 1992.

Gilbertson, G. W. A Dictionary of the Pakkhtoo Idiom. Assisted by Ārifullah Khān Yusafzi, Alí Akbar Khan Kandahāri and Mahmúd Apredí. 2 vols. (Hertford: Stephen Austin & Sons, 1932.

Gilmour, Lorna, Editor. Collins Thesaurus. Glasgow: HarperCollins, 2005.

Gilpin, Alan. Dictionary of Economic Terms. 2nd ed. London: Butterworths, 1970.

Jackson, H. & E. Z. Amvela. Words, Meaning and Vocabulary: An Introduction to Modern English Lexicography. 2nd Ed. New York: Continuum, 2007.

Jary, David & Julia Jary. Dictionary of Sociology. Glasgow: HarperCollins, 1991.

Nundu Lal. The Geographical Dictionary of Ancient & Medieval India. 2nd Ed. New Delhi: Oriental Books Reprint Corp., 1971.

Pass, C., B. Lowes & L. Chadwick. Dictionary of Business. Glasgow: HarperCollins, 1991.

Pass, C., B. Lowes & L. Davies. Dictionary of Economics. London: Collins, 1988.

Platts, J. T. A dictionary of Urdu, classical Hindi, and English. London: W. H. Allen & Co., 1884.

Raverty, H.G. A Dictionary of the Puk'hto, Pushto, or Language of the Afghans. London: Longman & Co., 1860.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Robinson, Mairi. Editor in chief. Chambers 21st Century Dictionary. Edinburgh: Chambers, 1996.

Saifulin, Murad. A Dictionary of International Law. Trans. from Russian, Moscow: Progress, 1986.

Simpson, John. The Concise Oxford Dictionary of Proverbs. Oxford: Oxford University Press, 1985.

Terrell, P., V. Schnorr, W. V.A. Morris, R. Breitsprecher, ed. by Horst Kopleck & Maree Airlie. Collins German - English Dictionary (Unabridged).4th ed. Stuttgart, 1999.

Thomson, A. J. & A. V. Martinet. A Practical English Grammar. 4th ed. London: Oxford University Press, 1985.

Thomson, Della. The Oxford Dictionary of Current English. 9 th ed. Oxford: Clarendon Press, 1995.

Walker, M. B. et. al. Dictionary of Science and Technology. Hertfordshire: Wordsworth, 1995.

Warriner, John E., M. E. Whitten and F. Grifith. English Grammar and Composition. New York: Harcourt Brace & World, Inc., 1958.

Wehr, Hans. A Dictionary of Modern Written Arabic. Ed. by J. Milton Cowman, 3rd. ed. Beirut: Librairi du Liban, 1980.

---. Dictionary of Legal Terms. London: Brockhampton, 1997.

---. English to English and Urdu Dictionary. New edition. Lahore: Ferozsons, n.d.

Websites and Web/CD based Dictionaries:
Bible, New International Version (www.biblegateway.com)
http://www.Urdu Dictionary.com
http://www.Urdu Word.com
http://www.worldbook.com/
http://www.britannica.com/
http://www.oxfordreference.com
http://en.wikipedia.orgwiki/Wikipedia
http://onlineslangdictionary.com/
http://www.peevish.co.uk/slang/

(c) ketabton.com: The Digital Library

http://www.cockneyrhymingslang.co.uk/
http://www.probertencyclopaedia.com/slang.htm
Collins Concise English Dictionary (1995)3 rd ed. revised, HarperCollins.
Collins English Dictionary and Thesaurus (1992) Reference International.
Collins English Dictionary (2003), HarperCollins.
Collins Compact English Dictionary (1994) 3rd ed. HarperCollins.
Collins COBUILD Dictionary (2003), HarperCollins.
encyclopedia.com/complex and compound words
Cambridge Dictionary
Chambers Reference Online
The Concise Oxford Dictionary (Ninth Edition) on CD-ROM (1996), Oxford University Press.
The Concise Oxford Dictionary (Eleventh Edition) on CD-ROM (2004), Oxford University Press.
Collins English Dictionary – Complete and Unabridged 6th Edition 2003. © William Collins Sons & Co. Ltd 1979, 1986 © HarperCollins Publishers 1991, 1994, 1998, 2000, 2003.
encyclopaedia encarta
Longman Dictionary of Contemporary English
Macmillan Dictionary
Merriam-Webster's Online Dictionary
Online Etymology Dictionary (www.etymonline.com)
Online Urdu Dictionary
Oxford Talking Dictionary
Random House Dictionary, © Random House, Inc. 2009.
The American Heritage Dictionary of the English Language, Fourth Edition copyright ©2000 by Houghton Mifflin Company. Updated in 2009.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**